د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبان ها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

په دې گڼه کې:

- د مولوي فرید د شاعرۍ شننه
- د علومو اکاډمۍ د خپرو شویو تحقیقي متونو کره کتنه
- په جرمني ژبه د پښتو آثارو د نومیالۍ ژباړونکې «انگرید فون هایسلر» یاد
- د ژبې او څېړنې ترمنځ اړیکې
- د پښتو گړنو ژبنۍ او مفهومي څېړنه
- د کتابتون کتلاک او د ادبي اثارو موضوعي ډلبندي

او نور...




- دري میاشتنۍ
- دربیمه دوره
- کال: ۱۴۰۴ لمریز
- د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
- کابل - افغانستان

۳


ژبني، ادبي او فولکلوري دري میاشتنۍ څېړنیزه مجله
کابل
۱۴۰۴ لمریز کال، ۳ گڼه

# Kabul
## Quarterly Journal

Establishment year: 1931
Research and Scientific Publication of
Afghanistan Science Academy

Afghanistan Science Academy
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shahr-e-Now, Kabul, Afghanistan.
0202201279

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

معاونیت بخش علوم بشری

مرکز زبانها و ادبیات

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

ژبنۍ، ادبي او فولکلوري درې میاشتنۍ څېړنیزه مجله

د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز

د ۱۴۰۴ ل کال درېیمه ګڼه

## يادونه

- ✓ مقاله دې له يوې رســـمي پتې څخه چې په هغې کې د ليکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټيلېفون شمېره او بريښناليک پته وي، د علومو اکاډمۍ ادارې ته را ولېږل شي.
- ✓ رالېږل شوې مقاله بايد پوهنيزه ـ څېړنيزه، بکره او له منل شويو علمي معيارونو سره برابره وي.
- ✓ رالېږل شوې مقاله بايد په بله خپرونه کې نه وي خپره شوي.
- ✓ د مقالې سرليک بايد لنډ او له منځپانګې سره سمون ولري.
- ✓ مقاله بايد د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډيز ولري او د څېړنې پو ښتل شوې پو ښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز لنډيز بايد د يونسکو په يوې ژبې ژباړل شوی وي.
- ✓ مقا له بايد د سريزې، اهميت، مبرميت، موخې، د څېړنې پوښـــتنې، د څېړنې روش، پايلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.
- ✓ مقاله بايد د ليکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املايي او انشايي تېروتنې ونه لري.
- ✓ د مقالې حجم حد اقل يې ۷ مخه او حد اکثر يې ۱۵ معياري مخونه وي، د فونټ ســايز ۱۳، د کرښــو ترمنځ فاصله بايد (Single) وي او ادارې ته دې سافټ او هارډ کاپي دواړه را ولېږل شي.
- ✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لايحې له مخې د يوې مقالې د تائيد او رد واک لري.
- ✓ د رالېږل شويو مقالو شننه او څېړنه د ليکوالو فکري زېږنده ده، ليکوال ته بويه چې سپيناوی يې په خپله وکړي، اداره يې په سپيناوي کې کوم مسئوليت نه لري.
- ✓ د مجلې له چاپ شويو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.
- ✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته ليکوال ته نه ورکول کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسئول مدیر:** څېړندوی خالد تکل

**کتنپلاوی:**

څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي

څېړنپوه دوکتور عبدالظاهر شکیب

څېړنپوه دوکتور رفیع الله نیازی

څېړنپوه محمد آصف احمدزی

**چاپ ځای:** ستاره همت مطبعه. کابل ـ افغانستان

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، توره باس خان واټ،

کابل، شهرنو، د شاه بوبو جان کوځه

**د اړیکو شمېرې:**

۰۷۸۱٦٦٦٦٦٢- ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹

**د مجلې برېښنالیک:** magazinekabul@gmail.com او info@asa.gov.af

**د کلني ګډون بیې:**

په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| مخګڼه | لیکوال | سرلیک | ګڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | څېړنپوه محمد آصف احمدزی | د مولوي فريد د شاعرۍ شننه | ۱ |
| ۳۴ | څېړندوی احسان الحق کبير | د علومو اکاډمۍ د خپرو شويو تحقيقي متونو کره کتنه | ۲ |
| ۷۰ | دوکتور محمد زرين انځور | په جرمني ژبه د پښتو آثارو د نوميالۍ ژباړونکې... | ۳ |
| ۸۳ | پوهنمل رحمت الله حکيمي | اسلامپاله او برمپاله شاعري | ۴ |
| ۹۷ | څېړندوی شوکت الله عمر | د ژبې او څېړنې ترمنځ اړيکې | ۵ |
| ۱۰۸ | څېړندوی مروت درد | د پښتو ګړنو ژبنۍ او مفهومي څېړنه | ٦ |
| ۱۲۷ | څېړندوی محب الله همتيار | د ويينو او ريوتو ګنجۍ ته کتنه | ۷ |
| ۱۴٦ | څېړنوال دوکتور عبدالاحد منګل | په پکتيا کې د ولسي فورمونو ولسي نومونه | ۸ |
| ۱٦٦ | څېړندوی بشرمل زرغون | د مولوي شېرګل رشيد کامه وال د شاعرۍ لغوي خوا | ۹ |
| ۱۷۸ | پوهندوی ګل رحمن رحماني | د کتابتون کتلاک او د ادبي آثارو موضوعي ډلبندي | ۱۰ |

څېړنپوه محمد آصف احمدزی

# د مولوي فرید د شاعرۍ شننه

# دراسة تحليلية لشعر المولوي فريد الدين

د سازنده وینه روانه وي په رګ د ساز کې
ته هم په شعر د فرید کې ملا فرید لټوه
ملا فرید

الأستاذ محمد آصف احمدزی


## الملخص

يتناول هذا البحث شخصية المولوي فريد الدين محمود، الذي يُعَدّ إلى جانب كونه عالِمًا دينيًا، صاحبَ ثقافةٍ واسعة وموهبةٍ شعريةٍ بارزة، فضلًا عن كونه شخصيةً مجاهدةً ومبارزة. وقد عبّر في شعره عن الأوضاع السياسية والاجتماعية والتحولات الفكرية التي شهدها عصره، متخذًا من اللغة الشعرية أداةً للتعبير عن مواقفه ورؤيته لقضايا الأمة. وتركّز هذه الدراسة على تحليل المضامين الشعرية في نتاجه الأدبي، حيث تتسم قصائده بطابعٍ ثوري ونَفَسٍ نقدي واضح، وتعكس آلام المجتمع وهموم الأمة، مع التطرق –بقدرٍ مناسب– إلى الجوانب اللفظية واللغوية، بما يبرز القيمة الأدبية والفكرية لشعره ضمن سياقه الزمني والثقافي.



## لنډیز

مولوي فرید الدین محمود پر دې سربېره چې دیني عالم دی، د پراخې مطالعې او ښې شاعرانه قریحې څښتن دی، ترڅنګ یې مجاهد او مبارز شخصیت هم دی. نوموړي د خپل عمر لیدلي کتلي سیاسي او ټولنیز او نور حالات د شعر په ژبه څرګند

کړي دي. په دې مقاله کې د نوموړي د همدې شاعرۍ منځپانگې ته کتنه شوې چې شعرونه یې انقلابي، انتقادي محتوا لري او هم د ملت او امت د دردونو منعکسوونکي دي. د شعرونو لفظي خوا یې هم څه ناڅه څېړل شوې ده.

## سریزه

شاعر هغه حساس او باریکبین شخص دی چې د ټولنې حقیقتونه، لطافتونه او عواطف په هنري ژبه بیانوي. زموږ هېواد افغانستان د تېرې لمریزې پېړۍ له نیمایي راهیسې د همدې پېړۍ تر وروستیو پورې د مختلفو پېښو شاهد و؛ د نړیوالو زبرځواکونو تر ځار لاندې و او په همدې موخه یې په دې لرغوني او تاریخي هېواد پرله پسې مستقیم یرغلونه وکړل او هم زموږ د ځینو واکمنانو د خامیو او له سیاسي تدبر او حکمت څخه د کار نه اخیستنې له امله مو هېواد ویجاړ او خلک دربدر شول؛ خو له دې ټولو ناخوالو سره سره د دې ټاټوبي اصلي بچیانو د استعمارگرو پر وړاندې ځانونه سپر کړل او هېواد یې د بهرنیانو له شتون څخه پاک کړ. د همدغو مبارزو او لوړو ژورو یو عیني شاهد شیخ فریدالدین محمود دی چې د شاعرانه قریحې په لرلو سره یې د همدې او نورو اړوندو مسایلو او هم زموږ د ټولنې نورو ناخوالو او اړخونو ته په خپلو شعرونو کې تبارز ورکړی دی.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د هر شاعر د شعرونو معنوي او ژبنۍ خوا څېړل په کار دي، ترڅو د شعر بېلابېل اړخونه یې څرگند شي او هم د ادبي تذکرو او ادب‌تاریخ لیکوالو ته په دې اړه لازم مواد برابر شي. دغه لیکنه همدا موخه تعقیبوي.

## د څېړنې پوښتنې

۱- د مولوي فرید د شاعرۍ منځپانگه په کومو محورونو راڅرخي؟
۲- د نوموړي د شاعرۍ لفظي ښېگڼې او ځانگړتیاوې کومې دي؟

## د څېړنې میتود

دغه لیکنه د توصیفي- تحلیلي میتود پر اساس مخ ته وړل شوې ده.

## د مقالې متن

هر کلام په تېره شاعري لفظي او معنوي ښېګڼې او مزاياوې لري. په لفظي برخه کې د تورو پر موسـيقيت او د کلمو پر انتخاب او موزونيت او په معنوي برخه کې د کلام پر منځپانګې، پيغام، احساس، عاطفې او فکر بحث کېږي.

په دې ليکنه کې پورتنۍ مسـألې ته په پام سره د پښـتو ادب د اوسـمهال د يوه روحاني او ديني عالم پر شـاعرۍ تم کېږو چې هغه د شـيخ‌الحديث مولوي فريد الدين محمود شاعري ده. نوموړی په ۱۳۷۳هــ.ق (غالباً ۱۳۳۲هــ.ش/ ۱۹۵۳م) کال د پکتيکا د مرکز ښرنې د ملايانو په کلي کې زېږېدلی دی.

په دې وروستيو کې (۱۴۴٦هـ.ق/ ۱۴۰۴هـ.ش کال) د ده د شاعرۍ کليات «د ملا فريد شـعري جونګ» په نوم چاپ شـوی چې اکاډميسـين دوکتور سـيد محي الدين هاشـمي پرې سريزه ليکلې او د تدوين او چاپ زيار کار يې هم ده مخ ته وړی دی. دا کليات پنځلس مخيز ليکلړ او د ښاغلي ها شمي اته مخيز تقريظ لري، ورپسې د کلياتو لومړۍ برخه د «ديوان» تر سرليک لاندې (۱- ۱۳۴مخ پورې) او بيا دويمه برخه د «متفرقات» تر عنوان لاندې (له ۱۳۷- ۲۳۵مخ پورې) او په پای کې د شـاعر ژوندليک راغلی دی.

لاندې پر همدې شـاعرۍ بحث کوو چې لومړۍ يې محتوايي او بيا يې لفظي اړخ څېړو.

### أ) منځپانګيزه/ معنوي برخه

کليات تر (بسم الله الرحمن الرحيم) او حمد او ثناء وروسته پر دې حمديه کلام پيل شوی:

الهي توفيق د حمد سبحاني را
ذاکر زړه ذاکره ژبه جنتي را
چې کاغذ دې په ثنا صفت انځور کړم
ماته ګوتې او قلم د فردوسي را
(فريد، ۱۴۰۴: ۱)

دا حمديه کلام، انسان د الله تعالی عظمت او لويي ته لا ډېر متوجه کوي.

د ملا فريد د شـاعرۍ منځپانګه متنوع او رنګارنګ ده، هم يې انقلابي او انتقادي

شــاعري کړې، هم یې ســیاسي او د امت د کړاوونو د بیانولو او هم طنزیه او عشــقي شاعري.
لاندې د هرې یوې برخې لنډ جاج اخلو:

## انقلابي شاعري

زموږ پر وطن چې ښــکېلاکګرو د خپلو شــومو اهدافو لپاره یرغلونه کړي، نو په مقابل کې یې افغان مجاهدینو په ســنګر کې پر مخامخ جګړې سربېره قلموالو او شــاعرانو ژبنۍ او قلمي مبارزه هم کړې ده، ځینو بیا د ســـنګر او قلم دواړو مبارزه کړې ده، چې یو له هغو څخه مولوي فرید الدین محمود دی. کله چې په ۱۳۵۸هـــ.ش کال کې په افغانســتان کې سرو متجاوزینو ناتار پیل کړ، نو ولس یې په مقابل کې ودرېد او مبارزه یې ورسره شروع کړه چې مولوي محمود هم د همدغو وختونو په اړه انقلابي شاعري کړې ده، نوموړی وایي:

د کمون د لاس ظلمونه به افشاء کړم
کړم به زه په ټوله سیمه انقلاب ګډ
ای په خوب ویده ملته را بیدار شه
په ګلشن[1] دې شو کمون خانه خراب ګډ
(فرید، ۱۴۰۴: ۳۷)

* * *

اسلامي پاڅون نیولی سور سنګر دی
شرق و غرب طاغوت به ټوله کړي لمن بیا
د غفلت له خوبه ویښ شو اوس بیدار یو
نور مو نه شي غولولی هېڅ دښمن بیا
افغاني میندې دې پېژني طاغوته
په غیرت به قرباني کړي مال او تن بیا
(فرید، ۱۴۰۴: ۷- ۸)

* * *

[1] اصل: ګلش

حريت مې نمايان دی په هر څه کې
هر غليم ته مې ښودلی خپل کمال
دا خبره ما په هر دښمن منلې
چې زه نه د چا غلام يم، نه دلال
ډېر قوي پهلوانان مې دي مات کړي
په ما نه رسي طاقت د هر شغال
خدای له يو فرعونه خلاص کړم چې کمون و
اوس مې بيا وژني په بل ظالم دجال
زه ځپلی يم هر وخت انقلابونو
يو ساعت دې نه آرام کړم نه خوشحال
(فريد، ۱۴۰۴: ۷٦- ۷۷)

شاعر د داود خان د واکمنۍ پر مهال د کمونستانو د بې‌باکيو او بې‌دينيو، د شوروي اتحاد د يرغلگرو په مقابل کې او له ۲۰۰۱م کال وروسته د امريکا پر مشرۍ د ناټو او څو ځلوېښتو هېوادونو د اشغال په مقابله کې ښه په شور او زوږ سره شاعري کړې ده. د هغوی مقابلې ته يې ولس هڅولی او د سنگر مجاهد يې ستايلی دی.

## د مهاجرت يادونه

د شوروېانو تر تجاوز وروسته ميليونونه افغانان د دين د ساتنې او د خپل ټاټوبي د آزادولو په خاطر د خپل کور، کلي او کروندې پرېښودو ته مجبور کړای شول، د هجرت لاره يې ونيوله، پښتونخوا او گاونډيو هېوادونو ته مهاجر شول، همدې ته په اشارې سره نوموړی کاږي:

زما هدف د قربانۍ دين د اسلام دی
ما داو کړي په اسلام دی سر و مال
هم په دا شوم مهاجر په شاړو دښتو
هم په دا شوم تر قدم لاندې پايمال
(فريد، ۱۴۰۴: ۷۷)

## انتقاد او غندنه

شاعري چې د خپلې ټولنې زېږنده ده، هغه ناخوالې او نیمګړتیاوې چې د شاعر تر سترګو کېږي، د اصلاح او سمون په پار يې نقدوي؛ د شیخ فرید هم د خپل ولس او ټولنې کمزوریو ته پام شوی او هغه یې غندلې دي، وايي:

تش په خوله دعوه کوې چې زه ژوندی یم
ای د خړ سېلاب په مخکې مرده کب
ماته سپینه او صفا خبره وکړه
ته د چا د لاس نوکر یې بې‌منصب
(فرید، ۱۴۰۴: ۱۳)

* * *

مهربان چې په یو بل له ځانه نه وي
بې فایدې د مؤمنانو اخوت
(فرید، ۱۴۰۴: ۱۷)
دا فتنې او فسادونه چې خواره دي
دا غلط غلط رسمونه او عادات...
په عالم کې یې هر ځای خواره واره کړه
بد اخلاقه بد عادته مخلوقات
(فرید، ۱۴۰۴: ۱۸)

* * *

د مرګي په کټ کې پروت دی مسلمان لټ
د ستم څپو لاهو کړ په طوفان لټ
سر تر نوکه یې زبېښلی لکه نی کړ
لا خندا کړي بې وقوفه په تاوان خټ
د فالج په رنځ اخته وايي لا ښه یم
لټوم به حکیمان او طبیبان پټ
(فرید، ۱۴۰۴: ۲۰)

* * *

ځان دي خپل، وطن دي خپل، واک دې د بل دی
د پردو د لاس نوکره الغياث
(فريد، ۱۴۰۴: ۲۳)
* * *

راته ښکاري ستا هدف او ستا مرام پوچ
ستا نعره د ازادۍ او ستا پيغام پوچ
هر يو لفظ دې مهمل او بې معنی دی
لکه زړی چې خالي وي د بادام پوچ
د الف په ځېر په اصل کې ساکن يې
تش په توره غولوې ساده عوام پوچ
(فريد، ۱۴۰۴: ۲٦)
* * *

کله ځان راته فرنگ کله جرمن کړې
کله وايم په مذهب د امريکا لاړ
کله وايم د پاريس يا د ايټلي[1] ده
حق حيران يم چې په دا او که په ها لاړ
دا چې فرق يې له اغياره سره نه شي
خدای خبر مخ په گړنگ که په دريا لاړ....
نه پښتون سره اوس هغه حماسه شته
چې اواز يې په څلور کونجه[2] دنيا لاړ
چې د دين په لاره تلل ورته عيب ښکاري
مخ يې ورک شه که په خوله د اژدها لاړ
(فريد، ۱۴۰۴: ۴۴)
* * *

[1] اصل: اټلي.
[2] اصل: کنجه

نصیحت چې دې اثر نه کړي ناصحه
د توتي په شان ګویان که شې نو څه؟
شاه‌سوار د تخیل که دې ستومان شي
غټ لیکوال د غټ دېوان که شې نو څه؟
(فرید، ۱۴۰۴: ۲۸)

ملا فرید د خپل وخت پر واکمن نظام او واکمنانو بې‌درېغه ګوزارونه کړي او هغوی یې خپلو ناسمو پالیسیو او سیاستونو ته متوجه کړي دي.

## سیاست

سیاست او دین سره نه جلا کېدونکي دي، همدا ده چې د دیني عالم تل د ټولنې حاکمې طبقې او حاکم نظام ته پام وي، بې‌غوریو ته یې متوجه کوي او آن پر نړیوالو سیاستونو یې نظر وي، د هغوی نارواوې او مظالم د قلم په ژبه بیانوي. په دې سره خپل ولس راویښوي، سیاسي شعور یې لوړوي او تنبیه کوي یې. مولوي محمود همدا مسایل په ځلونو بیان کړي دي، وایي:

ډېر یې تا غوندې وهلي په دوستۍ کې
دا بد ذاته جادوګره الغیاث
غړمبهار د امریکا په غوږو اورې
که دې نه کېږي باوره الغیاث
په برهان او په دلیل دې پروا نه کړي
د ویټو تاج یې په سره الغیاث
په خلیج کې یې خېره شوه در څرګنده
الحذر له دا خطره الغیاث
(فرید، ۱۴۰۴: ۲۳)

* * *

دا مذهب او فیصله د استکبار ده
چې یو روس بل امریکا ده څنګ په څنګ
اتحاد جماهیر و شوروي دی
یورپي برادري د زړه خدنګ

د وارسا او ناټو چې کوم تړون دی
يوه حربه، يوه يې ضربه ده يو يې جنګ
(فريد، ۱۴۰۴: ۷۴)

نړيوالو کړکېچونو او سياستونو ته په کتنې سره څرګندوي:

برتانيه، المان، فرانس ده او که روم دی
چين او روس بل امريکا راته معلوم دی
د افغان ورانې جونګړې تر ميونده
د فرنګ د ظلم نښه او رسوم دی
پاک و هند ته چې لا اوس هم بدن مفلوج دی
د جمو کشمير پښتون لانجه يې نوم دی....
د فرانس ظلم و ستم الجزائر کې
نوشته په زړه د هر عاجز مظلوم دی
هر تاړاک جوړ د ايټلي د بادارانو
د ليبيا په دښتو شاړو کې معلوم دی
افريقا د روم فرانس له لاسه ګوره
وچ کوګل پرېشان پرېشان ژاړي سرګوم[1] دی
چين ته ګوره څه يې وکړه ترکستان کې
چې لا اوس[2] هم توري شپې ګالي محکوم دی
د ويتنام په څېر يې څو څو قتل عام کړه
دا د چين يو تاديبي قتلان هجوم دی....
عربي نړۍ پرته په رنځ رنځوره
پرې نازل د امريکا قهر اتوم دی
په دنيا کې جهنم ده امريکا ده
نوم يې ورک شه، نوم يې ورک شه، نوم يې شوم دی
الامان ګوره ستي ورباندې نه شې

[1] دا کلمه «سرګم» ليکل کېږي، خو دلته به د قافيې لپاره «سرګوم» ليکل شوې وي.
[2] اصل: لاؤس.

لاعلاجه امریکا نار سموم دی
لنډه دا د شرق و غرب دا فیصله ده
اسلامي امت په دوه بلاکه مقسوم دی
بحر هند خلیج فارس یې نه لوربړي
بل طرف سویز کانال بحر قلزوم دی
(فرید، ۱۴۰۴: ۱۲۹- ۱۳۰)

له پورتنیو بیتونو ښکاري چې ویناوال یې پر نړیوالو سیاستونو پوره اګاهي لري، د نړۍ متجاوزو زبرځواکونو او د هغوی ظلمونو ته چې په مسلمانو ولسونو یې کړي او کوي یې، متوجه دی؛ هغه که د افغانستان خبره ده، که په الجزایر د فرانسې مظالم وو، که پر لیبیا د ایټالیا تاړاکونه وو او که په ترکستان د چین له خوا راغلې تورې شپې دي، شاعر د نړیوالو دا ناوړه سیا ستونه او د سیسې په ښه انداز ښکاره کړي دي.

## د امت په درد دردمن شاعر

شیخ فرید الدین چې ټول عمر یې د خپل وطن د سرلوړۍ او خپلواکۍ ګټلو لپاره وقف کړی، ترخنګ یې په نړۍ کې د مسلمانو پر مظلومیت اوښکې تویې کړي، وایي:

په اسلامي امت ظالمه ستمګره نړۍ
د ملا فرید له خولې په زړه کې پټ رازونه کاږي
(فرید، ۱۴۰۴: ۱۴۰)

* * *

پاڼه تکه ژېړه د مسلم ملت په څه شوه
ولې سوځېدلی په مجمر کې لکه عود یې
(فرید، ۱۴۰۴: ۱۱۳)

* * *

په سرو وینو یې لړلی دی خچن لاس
د مسلم ملت تړلی په رسن لاس
کل بدن زخمي زخمي وینې ترې څاڅي

اسلامي امت نيولې ده اغزن لاس

ټول يې وويشل په ډلو هېوادونو

د لادينه مذبذبو په شکمن لاس

اروپا له امريکا سره په ګډه

هر طرف ته غزولی دی پمن لاس

(فريد، ۱۴۰۴: ۱۸۵)

شاعر د عراق په فلوجه ښار کې د ۱۳۸۳ل کال پېښو ته په اشارې سره کاږي:

اسلامي نړۍ په وير باندې اخته ده

هره خوا دې دربدره وينمه خوا ژوند

نن يزيد د زمانې په فلوجه کې

د بمونو په انګار کې د غوغا ژوند

را په ياد که د يزيد په زمانه کې

په لسم د محرم د کربلا ژوند

لوی هدف د دوی غربي ديموکراسي ده

مکمله آزادي او بې حيا ژوند

د يورپ د لنډغرو په کار نه دی

د مسلم امت د پت او د حيا ژوند

زوړ تهذيب او تمدن بايد بدل کړي

له تا غواړي د لادينه امريکا ژوند

نه جنت مني نه حشر پس له مرګه

بس غربي ديموکراسي او د دنيا ژوند

(فريد، ۱۴۰۴: ۳۴)

د مظلومې اسلامي نړۍ ويرجن او ماتېجن حالت داسې بيانوي:

وريت مسلم امت د سپي رقيب له لاسه

ځکه وايم په ظالم د رب لعنت زه

چې په سره کفن ياران يې له ما بېل کړه

مبتلا يم هر ساعت په مشقت زه

(فرید، ۱۴۰۴: ۱۰۴)

یا:

د مسلم ملت په کور جوړه غوغا ده
که آسیا که افریقا شي زړه مې ډک دی
ځانځاني کې مبتلا عرب عجم کړل
کور په کور ژړا ژړا شي زړه مې ډک دی
اسلامي امت واحده کلمه ده
تفرق دې ولې راشي زړه مې ډک دی
کفر واړه یو ملت دی دا حدیث دی
روس او چین که امریکا شي زړه مې ډک دی
شرق و غرب که هر څو یو بل سره غندي
ما او تاته یو سلا شي زړه مې ډک دی
اسرائیل د دواړو ګډه ملېشه ده
دا خبره به رښتیا شي زړه مې ډک دی
ټول عرب یې ناقراره قتل عام کړل
جوړ ګیدړ راته بلا شي زړه مې ډک دی
(فرید، ۱۴۰۴: ۱۳۰)

د پورته شعر په وروستیو بیتونو کې مولوي فرید له نن څخه څه باندې څلوېښت کاله مخکې اسرائیل د غرب ملېشه ګڼلې چې له څلورو لسیزو وروسته اوس (۱۴۰۴هـ.ش) عملاً د ده همدا وړاندوینه د فلسطین په غزه کې مشاهده شوه چې پر هغوی له غربي ملاتړه د برخه‌منو صهیونستانو نادودې د یویشتمې پېړۍ د بشر-حقونو د نارو په ګرداب کې ګورو، د غزې د مسلمان ولس فر یادونه اورو، خو د اسلامي نړۍ د واکمنانو په ګډون هیچا یې داد ته رسیدګي ونه کړه.

مولوي فرید د مسلمان امت د یووالي ارمانجن دی، وایي:

ربه یو کړې د مسلم د انقلاب صف
ښایسته او منظم ښکلی شباب صف
د وحدت او اخوت په یوه معنا کې

نغښتي نغښتي که امت لکه اصحاب صف
د ایثار او محبت روح ورله ورکړه
عالمگیر او بې نظیر که لا جواب صف
د بلال او د عمار د مینې سوز را
په جذبه د ابوذر کړه انتخاب صف
د اول قرن خالد، حمزه، حیدر را
هم قوي کړه په عمر ابن خطاب صف
ایوبي صلاح الدین له خدایه غواړم
چې مضبوط کړي د اَحَدُ په یو طناب صف
د طارق په شان غښتلي شاهځلمي را
چې کړي جمع ټول امت په یوه خطاب صف...
زه فرید په دا ژړېږم ولې نشته
یو امام او یو ملت په یو محراب صف
(فرید، ۱۴۰۴: ٦٦)

مولوي فرید د امت د سرلوړۍ راز په دې کې بولي چې شهادت یې آرزو شي او یو بل صلاح‌الدین او سید جمال‌الدین یې په برخه شي، وایي:

شهادت د هر شهید ژوند د امت دی
شهادت کې د دارینو سعادت دی
(فرید، ۱۴۰۴: ۲۲۱)

* * *

چې صلیب ته ایوبي غوندې عبرت شم
د رنځور امت علاج مې په نصیب کړې
(فرید، ۱۴۰۴: ۲۱۱)

* * *

نن یو بل صلاح الدین ته ضرورت دی
برخوردار مو له محمود بت شکن کا
د مسیح په دم یې ببرته را ژوندی کړه

چې په یوه چغه پاره پاره کفن کا
بیا سید جمال الدین راته ډالۍ کړه
په نافه یې بېرته دا وطن ختن کا
(فرید، ۱۴۰۴: ٦)

د امت په درد دغه دردمن شـــاعر، که له یوې خوا د امت د سرلوړۍ لپاره فریادونه کړي دي، ورسره ترځنګ یې دا غوښـتنه کړې چې دا سرلوړي د سرونو نذرانه کولو او د صلاح الدين ایوبي په څېر تورې او د سید جمال‌الدین افغاني فکر ته اړتیا لري.
هغه د اسلامي امت واکمنانو او ځوانانو ته په خطاب کې وایي:

د حرم موزیک یو نوی ساز آغاز کړ
راته ښکاري د موزیک شو تار غلط
هم عرب ځلمي بې خونده هم عجم شو
یو له بله د یو بل دی کار غلط
تمدن کې یا یهود یا نصارا شو
د اغیار غېږې ته تښتي یار غلط
(فرید، ۱۴۰۴: ٦٠)

د امت پر وړاندې د شرق و غرب د دسیسو په باب کاږي:

یو ملت، یو مو کعبه، یو محمد دی
یو قرآن، یو مو الله دی یو مو ننګ
نشته فرق د تور و سپین او سره ترمنځه
ټول عرب، عجم، حبش د موټي چنګ
که هر څو دعوه د حق کوې باطل ده
فرقه‌جو که ځان ته ووایي پتنګ
نشته خط او جغرافیه ټوله دوکه ده
دسیسه د شرق و غرب ده رنګ په رنګ
که حدود د ترک و شام مصر و یمن دي
بس همدا زما پیغور دی زما ننګ
کلابند محاصره ټول ځان په ځان دی

که مالک د تاج و تخت دی که ملنګ

(فرید، ۱۴۰۴: ۷۴)

* * *

د مسلم امت د فکر لوټ ماران دي

شرق و غرب کفر و الحاد ټول خاص و عام

څوک يې ښکار کوي په جال د عیاشۍ کې

چا په نوم د فحاشۍ خپور کړی دام

ناواقف له حقیقته په کې ګیر شي

ټپ وزری د هوا هوس غلام....

په ورو ډلو ټپلو يې تقسيم کړې

تش په نوم لبنان، يمن، مصر او شام

یوه ذره قدرت مسلم قام سره نشته

که ملک دی، که رئيس دی تش په نام

دا د سوي زړه آهونه درته وايي

خفه مه شې که صدر يې که امام

(فرید، ۱۴۰۴: ۷۹، ۸۰)

* * *

دا یو ګډه دسیسه د شرق و غرب ده

چې په یو بله بهانه کړي مسلمان وريت

د مظلوم او مسلمان ژوند ډرامه ده

په لیدو يې ګرېوان تر، سینه سوزان وريت

(فرید، ۱۴۰۴: ۱۵)

* * *

په پای کې اوسنیو واکمنانو ته په خطاب کې وايي:

د امت په ارمانونو لوبې مه کړه

دا یوه ستره بدنامي ده او ضلال دی

(فرید، ۱۴۰۴: ۲۴۶)

* * *

ربه ته ځنې په امن په امان کړې
همه واړه مسلمین او مسلمات
(فرید، ۱۴۰۴: ۱۸)

**د وطن او اسلامي نړۍ پر وياړمنو اشخاصو ويرنې او تاريخي پېښې**

مولوي فريد په خپلو ا شعارو کې ځينو هغو پېښو ته ا شارې کړې چې زموږ د وطن د مظلوميت غږ دی چې دا په خپله د تاريخ يوه برخه ده. د شــوروويانو په مقابل کې له ګڼو هېوادونو په تېره بيا له عربي نړۍ څخه مســلمانان په افغان جهاد کې د برخې اخيـستو او د خپل دَين د اداء کولو په خاطر راغلي وو چې يو په کې د ا سلامي نړۍ سرلاری شيخ عبدالله عزام (رحمه الله) و. د ده په هڅو په سلګونو عرب ځوانان جهاد کولو ته تشــويق او افغانســتان ته راغلل. ګڼ شــمېر يې شــهيدان شــول او پاتې يې غازيان. د دغو عربانو مخکښ عبدالله عزام په سنګر کې د عملي جهاد کولو ترڅنګ په پېښــتونخوا کې د افغان جهاد په ګټه او ننګه علمي او فرهنګي فعاليت کاوه، د جهادي ګوندونو د مشــرانو د يووالي کوښښ يې کاوه چې بالاخره د نړيوال استکبار له خوا په نښه او له خپلو دوو زامنو سره شهيد کړای شو. مولوي فريد يې په ياد کې کاږي:

د لمانځه په قصد روان وې د ناولي لاس هدف شوې
ښه پوهېږم د کفارو، ټول کارونه هسې شان دي
اې پردېسه مجاهده، ای شهيده، ای شهيده!
د جهاد په سنګرو کې، دا نارې ستا د هجران دي
د وړو بچو په منځ کې، محمد بل ابراهيم وو
مسافر عزام شهيد شو، خفه ځکه افغانان دي
د سنګر د زمرو شور شو، څومره ښکلي مېلمانه وو
د جنت حورو نارې کړې، څومره ښکلي شهيدان دي
(فريد، ۱۴۰۴: ۱۳۱)

د اســلامي امت دغه نامتو شــخصــيت او د افغانانو خواخوږی شــيخ عبدالله عزام د ۱۹۸۹م کال د نومبر په ۲۴مه په شــهادت ورســېد او د پښــتونخوا د جلوزو کمپ د

«هجرت‌کلي» د مهاجرينو په لويه هديره کې خښ کړای شو.

شـيخ فريد دغه راز په خپلو اشـعارو کې د بت‌شـکن محمود غزنوي ژوند پېښـې (د کلياتو په ۱۹۷ مخ کې)، په هېواد کې په کمونسـتي دوره کې د قلعه‌جواد د کورنۍ د شـهادت (د کلياتو په ۱۹۲ مخ کې)، د حضراتو پر کورنۍ شـويو مظالمو (د کلياتو په ۱۰۳ مخ کې) او د جهادي شخصيت مولوي نصـــرالله منصور (د کلياتو په ۱۰٦ مخ کې) پر شهادت ويرنې ويلې دي.

## ماشومانو ته نصيحت

د يوه هدفمند شـخص هڅه دا وي چې هم خپل ځان اصـلاح کړي او هم خپله کورنۍ او ټولنه او که کله همدغسې يو څوک د شـاعري کولو وړتيا ولري، نو په خپلو هنرمندانه او ساده الفاظو سره هغوی ښېگڼو ته رابولي او له بدگڼو يې ډډې کولو ته هڅوي. خوږژبی شاعر شيخ فريد ماشومانو ته وايي:

نصيحت درته کومه ماشومانو
ای د مور و پلار تازه تازه گلانو
ښه ماشوم د مشرانو احترام کړي
ښه ماشوم مني خبر د استاذانو
همېشه به مور و پلار ورته دعاء کړي
ښه ماشوم ته وي امېد د قريبانو
ښه ماشوم پاک او پرېولی لکه گل وي
لرې گرځي له چټلو هلکانو
له کتابه له قرآنه سره پام کړي
وي کارونه يې د کلکو مؤمنانو
(فريد، ۱۴۰۴: ۲۱۱)

## طنزيه کلام

ادبيات چې غواړي ټولنه سمې لارې ته سوق کړي او خلک خپلو نادودو، سرغړونو او سرتمبگيو ته متوجه کړي، يوه غوره لار يې د طنز په ژبه هغه په گوته کول دي. په طنز کې ټولنيزې ناخوالې په ظرافت سره بيانېږي. مولوي فريد هم د طنز په ژبه د خپلې ټولنې مفاسد او معايب په نښه کړي، وايي:

زموږ وطن شو هسپتال د لېونو
لگېدلی دی شمال د لېونو
لور له لوره لېوني سپي راچاپېر شو
شوم اخته په لوی جنجال د لېونو
په فېشن کې یا هندو او یا فرنگ دی
هسې خوی او هسې خیال د لېونو
په عادت د قوم لوط باندې عادت شو
ورک شه، ورک شه، بد افعال د لېونو
لکه سپي د بې حیاء مرام دپاره
شي را جمع ټول ارذال د لېونو
(فرید، ۱۴۰۴: ۸۹- ۹۰)

نوموړی د ډیموکراسۍ اصلیت د طنز په ژبه داسې بربنډوي:

په حجاب کې پټه لاړه پوهنځي ته
کړم حیران یې بې پړوني واپسي
ارتینه به دې د بل زلمي هوس کا
ته به ژاړې په دا خپله بې وسي
بس له دین څخه منکر او سیکولر شه
خور و لور سره کوه بوالهوسي
نر له نر سره په هر کار کې آزاد دی
لواطت وي او که بله ناکسي
که له سپي سره نکاح ترې عورته
دا نظام یې باید وکړي دادرسي
بیا یې هم لا اسلامي بولې ظالمه
تو لعنت شه په دا هسې پالیسي
(فرید، ۱۴۰۴: ۱۵۲)

## عشقي اړخ

پر شــيخ فريد الدين د عشــق څپې هم راغلي چې هغه يې په شــعرونو کې له ورايه ښکاري، خپل محبوب ستايي او په بې‌پروايو يې فرياد کوي، وايي:

ياره ستا خمارو سترګو مستانه کړم
سپين رخسار دې زه په شمعه پروانه کړم
څومره تېز څومره ځيرک لري ويشتل کړې
زه آهو د لويو غرو تا نشانه کړم
قتلول د سړي هم په يو بهانه شي
زه دې ښکار صنم په کومه بهانه کړم
هيڅ خبر نه وم له هجره له وصاله
مبتلا دې په نيمګړې يارانه کړم
دا محراب که مخ د يار که بت خانه ده
چې لېوال يې په محراب په بتخانه کړم
د لاله د ګل حلقه ده که سرې شونډې
چې مشغول يې په حيرانه افسانه کړم...
د جنت حورې غلمان به ترې قربان کړم
که په خُم د ميو ډکه پيمانه کړم
(فريد، ۱۴۰۴: ۸۳، ۸۴)

* * *

هېڅ رقيب زموږ له ميانه خبر نه و
ما کړه ستا په يارانه کې تله خاموش
چې به ډله د رقيب درسره نه وه
ما به تاته په حيا کاته خاموش
(فريد، ۱۴۰۴: ۵۴)

* * *

هوډ مې کړی دی د صبر له دا ښکليو
کړه زما هوډ او زما قسم محفوظ

د هغه یوسف د مینې پیاله راکړه
چې وي لاس کې یې باده قدم محفوظ
(فرید، ۱۴۰۴: ۴۲)

* * *

که زما یوسف څوک راولي محفل ته
بیا به ونه کړي قیصه د زلیخا څوک
د لاسو په ځای به زړه قطرې قطرې کړې
په غیرت که سم سینګار کړه محبوبا څوک
(فرید، ۱۴۰۴: ۷۲)

عشق او عاشقي که هغه حقیقي وي او که مجازي، په انسان کې عاطفي اړخ پیاوړی کوي، بل انسان ته په درنښت لا ډېر قایلېږي چې په دې سره په ټولنه او معاشره کې خوږوالی، همدردي او محبت زیاتیږي.

مولوي فرید د دې شعري جونګ د منځپانګې په اړه یوه یادښت کې لیکي: «دا شعري جونګ کوم داسې اثر یا تصنیف نه دی چې د کومې ټاکلې موضوع یا هدف لپاره لیکل شوی وي، بلکې دا د ویناوال د ۵۵ کلونو د ژوند د حالاتو، انقلابونو، افکارو، تخیلاتو، جذباتو، حقایقو، تحولاتو، غمیزو، افتخاراتو، تصوراتو، تأثراتو او... یوه عجیبه غونډې (سفرنامه او مجموعه) ده چې د ویناوال د ژوند لوړېژورې په کې انعکاس شوې دي. نو له درنو لوستونکو څخه مې دا خواست دی چې دا د پنځه پنځوسو کلونو حقایق، کشمکش او انقلابونه دې ټول په نظر کې ونیسي، بیا دې هغه مطالعه کړي او ویناوال دې د عفوې او ګذر په ډالۍ ونازوي.»

## ب) لفظي برخه

د کلام لفظي ښننه بېلابېل موضوعات رانغاړي چې دلته د مولوي محمود د شاعرۍ یوازې ځینو لیکنیو او لفظي ښېګڼو، ربړو او ځانګړنو ته اشاره کوو:

- شـــاعر له ولس او خلکو سره پاتې شـــوی شـــخص معلومیږي، ځکه ډېرې دا سې کلمې یې په ا شعارو کې شته چې سوچه پښتو دي، ډېرې عامې نه دي چې دا په خپله د دې دیوان ښېګڼه ده چې د پښتو ژبې بډایه وییزه زېرمه په کې

خوندي شــوې ده. د دې کلیاتو دا ډول کلمې لاندې د الفبې د تورو په ترتیب په نښــه شــوي چې ترڅنګ یې په لیندیو کې د کلیاتو د صــفحې شــمېره او بیا په کلیاتو کې د کلمې موخنه معنا راوړل شوې ده.

**اکونی** (۲۴۳ مخ): کونی، خوســکی، د ځارویو یو بچی، چکونی هم ور ته وايي، څکوړی، سکوړی، سخی، سخوټی.

**الواق** (۸۲، ۱۳۳ مخونه): نظر، دید.

**اوکښې** (۲۲۷ مخ): «اوکښه» اوکشي ته وايي، خو له دې کلمې په کلیاتو کې هدف «وکښل» دی چې د لیکلو او انځورولو معنا لري.

**ایلیا** (۱۹۹ مخ): د بیت المقدس پخوانی نوم دی.

**بابرا** (۴۲ مخ): بُورا.

**باړی** (۱۳۴ مخ): کور سره نږدې د کر ځمکه یا باغچه.

**بالین** (۵ مخ): بالښت.

**بتول** (۲۱۴ مخ): دا نوم مریم (رضي الله عنها) ته کارول کېده.

**بسمل** (۲۳۹ مخ): قربان شوی، حلال شوی.

**بلواله** (۱۵۰ مخ): د بل څا خبره.

**بنډې** (۱۳۲ مخ): فرېب، ټګي، دوکه، مکر، چل؛ جمع: بنډې.

**بهاڼ** (۲۴٦ مخ): بیوڼ، بیاڼ، بیاڼ ګی، د اس بچی.

**بوټپانه** (۱۴۵ مخ): هغه څوک چې له غرونو څخه بوټي او لرګي راکښته کوي.

**پاړی** (۱۳۴ مخ): د هوسۍ یا غرڅنۍ یو ډول.

**پنه** (۲۴۳ مخ): اوبونه، اوبه ورکونه، خړوبونه.

**پوړنده** (۲۱٦ مخ): ګرمه ایره، توده ایره، توده خاوره، توده شګه، پسته خاوره.

**تاړی** (۱۳۴ مخ): ۱- (اســمِ صــوت) چکچکې، لاســونه پړکول؛ ۲- پیوند ، اړم، د دروازو د تختیو یا د پلونو پشتۍ.

**تپ** (۲۳۵ مخ): ښکاري سپي ته د ښکار پسې کولو او د ښکار موندلو پسې هڅولو ته مخصوص اواز.

**تراره** (۱٦۸، ۱۹٦ مخونه): ۱- وېره، ببره، ډار، ترهه؛ ۲- ناقراري، ناکراري.

**ترمیاني** (۷۸ مخ): ترمنځ، تر مابین.

**تر یاق** (۸، ۲۰، ۷۰، ۱۰۹، ۱۱۸، ۱۳۳، ۲۰۰ مخونه): یو ډول دارو دي چې د هر راز زهرو دفع پرې کېږي.

**ترنګه** (۱۹۷ مخ): تنګی.

**تو که** (۲۰۸ مخ): ۱- تو قه، توقره، شـــېتی، پرپری، د جوارو وړی چې دانې ترېنه رژېدلي وي؛ ۲- قسم، توګه، ډول.

**ټکلی** (۹۴ مخ): ککوړی، د باجې ریکارډ، د ګراموفون ککوړی.

**حدی** (۱۱۵ مخ): ترمی، د رمې د څرولو لپاره د شپون غږ.

**خټ** (۲۰ مخ): ۱- د خاورو پانډ یا غونډی.

**خدنګ** (**۷۴** مخ): ناوک، غشی، تیر.

**خشنګه** (۲۴۷ مخ): شوخ، ګستاخ.

**چوچوټی** (۲۴۳ مخ): چرګوړی، چرګوټی، چوچک.

**چودانه** (۷۸ مخ): یو ډول لرګی دی چې رباب ترې جوړیږي.

**چوکه** (۲۰۸ مخ): ۱- لښته؛ ۲- ببډی ۲- لږه اندازه.

**د ندو کار** (۱۳۸ مخ): ۱- ډیاره، تورتم؛ ۲- د دوړو ډ که ورځ، له خړو لړو نه جوړه غړوسکه وریځ.

**ډنډې** (۱۳۲ مخ): د ډنډ کلمې مؤنثه بڼه.

**ډوری** [d□uráy] (۲۲۸ مخ): قبر، ګور، مړستون.

**زغن** (۲۱۵، ۲۱۷ مخونه): ټپوس، موږک باز.

**ژړانده** (۲۰۴ مخ): ۱- ژړنده؛ ۲- سانده.

**ساړی**(۱۳۴ مخ): ساړي، ساري، د هند او پاکستان د ښځو یو ډول خاص لباس دی چې له ښکلي وریښمن ټوکر څخه چې ښکلي ګلان پرې نقش وي جوړیږي.

**سروجي**[1] (۱۲۷ مخ): د عربو یوه ســیمه ده چې هغې ته منســوبې تورې په همدې نوم یادیږي.

**سروپږدی** (۲۳۵ مخ): بالښت، تکیه.

---

[1] په کلیاتو کې سروجنی کښل شوی چې ناسم دی.

**سمونپال** (۲۱۲ مخ): سمونپلوی، سمون غوښتونکی.

**سول** (۱۱۰ مخ): ۱- سوځول؛ ۲- حرص، ډېره زیاته طمع.

**سولۍ** (۱۷٦، ۱۹۳ مخونه): سېلۍ، توند باد.

**سوټک** (۲۱٦ مخ): د جوارو وړی.

**شوختري** (۲۳۹ مخ): جنګي، جګړه‌مار.

**قُره** (۹۴ مخ): قېنچ، مکېز.

**کانه** (۱۴۵ مخ): ۱- بد ازمیښــت، عجیبه او غریبه پېښــه، ناڅاپي پېښــه؛ ۲- ټکه، مصیبت.

**کاړۍ** (۱۳۴ مخ): کاره، کارۍ، ټوکرۍ، له لښتو جوړه ټوکرۍ.

**کچکاله** (۵۰ مخ): مات شوی لوی خاورین لوښی.

**کوټخه** (۲۳۵ مخ): څپرۍ، کوډخه، کودۍ، جونګړه، چوپړۍ، خونه، څپر.

**کوړه** (۱۲۲، ۲۱۵، ۱۳۴ مخونه): دلۍ، کوټه، خرې، ډېر شیان چې سره غونډ شوي یا سر پر سر پراته وي.

**کوکه** (۲۰۸ مخ): ۱- ناره، چیغه، د زور چیغه او ژړا؛ ۲- په زوره او جګ اواز سره ناره.

**لټکه** (۱۷۲ مخ): دوه سرۍ، لنډۍ، کورمار، یو ډول مار، لنډۍ منګور.

**لړاق** (۹، ۸۲، ۹۸، ۱۳۰ مخونه): ناقراره، الوېزان، پرېشان.

**لړان** (۱۵، ۳۵ مخونه): پرېشان، ناقراره.

**ملال** (۲۰۵ مخ): خپه، غمګین، غمجن، چورتي.

**ملاهي** (۱۵۹ مخ): د لهو و لعب وسایل او آلات.

**ملوکه** (۲۰۸ مخ): ملکه، محبوبه، معشوقه.

**ملول** (۲۱۴ مخ): غمجن، خپه.

**ملونې** (۱۸٦ مخ): قیزه، کیزه، ملونه، واګې.

**ناړ** (۹۴ مخ): د غنمو یا وربشو دروزه، دروځه، دریزه، ناړګوړه.

**ناړۍ** (۱۳۴ مخ): ناړ.

**ناشیزه** (۷۱ مخ): بد اخلاقه مېرمن.

**ناوک** (۱۴۲ مخ): غشی، تیر، خدنګ.

**نتار** (۴۰ مخ): ناتار.

**نواله** (۹۱ مخ): نمرې، نوړی، کپه.

**هل هل** (**۱۰۴، ۱۰۵**، ۱۰۹، ۱۱۸، ۱۷۸ مخونه): وژونکی زهر، زهر قا تل. په دهخدا کې راغلي چې «هلهل» د «هلاهل» مخفف دی او دا هغه زهر دي چې هیڅ تریاق (یو ډول دارو) ورسره مقاومت نه شي کولی.

**وکښون** (۱۲٦ مخ): ۱- باسونکی، خارجوونکی؛ ۲- شړونکی، بهرکوونکی.

**ینډه** (۱۳۲ مخ): د مردکیو یا توشـــلو د لوبې اړوند اصـــطلاح ده. مثلاً وایي: زما مردکی ینډه شوه.( قاموسونه ټکی کام، وېبپاڼه؛ فرید، ۱۴۰۴، مرکه؛ قاموس نور)

● د ملا فرید په شـاعرۍ کې په پراخه کچه عربي کلمې اسـتعمال شــوي او لامل به یې همدا وي چې دی د دیني علومو عالم دی، نو حتماً له عربي ژبې او لغاتو سره یې سروکار دی، نو یې په شعر و شاعرۍ کې دې لغتونو سرایت کړی، لکه: ارتعاش، افلاس، اقرب، الناس، بطحا، تا ئب، جلا بب، خناس، را غب، عجائب، عجول، عضب، غائب، غالب، غراس، کاتب، کاذب، مرحب، مساغ.

په دې کلیاتو کې په سلگونو دا ډول کلمې کارېدلې دي.

● د دې دیني عالم په شـاعرۍ کې څو داســې کلمې او اصـطلاحات کارول شــوي چې د ده د شـاعرۍ ځانګړنه یې بللی شـو، لکه: د «قاف تر قافه» او «هل هل» اصطلاحات. لاندې بیتونه یې د شاهد په توګه ولولئ:

معطر دي **قاف تر قافه** په ګیسو شو
څه به وایم چې حجاز دی یا یمنه
(فرید، ۱۴۰۴: ۹۳)

په خزان باندې بهار او چمن راغی
**قاف تر قافه** رقیبان په زړه خنجر خوري
(فرید، ۱۴۰۴: ۱۱۳)

* * *

که د ستا په لاس **هل هل** د چا روزي شي
حاجت نشته د شرابو جام جم ته
(فرید، ۱۴۰۴: ۱۰۴)

که فريد ته سماوي نظام **هل‌هل** شي

شم مخمور دی په **هل‌هل** د اسلام زه

(فريد، ۱۴۰۴: ۱۰۵)

د هغه رنځور به څه طبيب علاج کا

چې ترياق يې په نظر **هل‌هل** راځي

(فريد، ۱۴۰۴: ۱۰۹)

ای فريده چې **هل‌هل** ته ترياق وايې

ترياقي دا هسې چېرې وي غلط شوې

(فريد، ۱۴۰۴: ۱۱۸)

ديموکراسي زهر **هل‌هل** ده د انسان د پاره

د هر رښتوني امتي او مسلمان دپاره

(فريد، ۱۴۰۴: ۲۲۷)

دا چې گمان کړې بې وقوفه په **هل‌هل** د ترياق

دا چې بدمرغه کله يو او کله بل شي نطاق

(فريد، ۱۴۰۴: ۱۷۸)

- په پښتو کې «ستا» کلمه مفرد مخاطب ته کارول کېږي، خو د دغه شاعر په زياتره شــاعرۍ کې دا کلمه د دال په زياتولو سره «د ســتا» په بڼه په خپله لهجه کارول شوې ده، بېلگې يې دا دي:

بل **د ستا** په څېر په غاړه زنار نشته

(فريد، ۱۴۰۴: ۹۷)

ټول خوبان **د ستا** د حسن په حلقه کې

(فريد، ۱۴۰۴: ۱۰۱)

چې **د ستا** داد و کرم وربانديې وشي

(فريد، ۱۴۰۴: ۱۰۲)

تل خو داسې نه وي چې **د ستا** په برخه فال شي

(فريد، ۱۴۰۴: ۱۱۴)

که **<u>د ستا</u>** په سینه کوږه لونګین دی
(فرید، ۱۴۰۴: ۱۲۲)

په پورتنیو ځینو بیتونو کې ښـایي «دسـتا» د «دا» او «سـتا» ترکیب وي چې اشـاري ضمیر دی.

● په پښتو ژبه کې (سړی) لرو، خو له دې کلمې څخه د مؤنث جوړولو نوښت خوشحال خان خټک کړی دی، مولوي فرید هم همدې موضوع ته پام شوی او د (سړې) کلمه یې استعمال کړې ده:

ماته سپینه او صفا خبره وکړه
ښاپېرۍ یې که ملکه که **سړې**
(فرید، ۱۴۰۴: ۱۲۱)

● په دې شـاعرۍ کې کله کله له عامیانه لفظونو څخه اسـتفاده شـوې چې لیکنۍ اصـلي او معیاري بڼه یې په پام کې نه ده نیول شـوې او ښـایي دا چار د شعري ضرورت پر اساس شوی وي. لاندې یې وګورئ:

ښه دې پېژنم خوبا حرام نمکه
ملا فرید باندې بېجا نازونه **<u>مکه</u>**...
بوالهوس وایي راځه چې ځو میلې ته
مور و پلار ته په دروغو بانه **<u>وکه</u>**
(فرید، ۱۴۰۴: ۲۵۲)

د (مکه، وکه) معیاري لیکنۍ بڼه: (مه کړه، وکړه) ده.

● سره له دې چې د دې کلیاتو چاپ بختوره چاره او په پښتو ادب کې غنیمت او ګټوره زیاتونه ده، ځکه دا زموږ حماسي، د جهاد او سـنګر، له یرغلګرو سره د مقابلې او مبارزې شـاعري ده، خو متأسـفانه تر چاپ مخکې یې د ایډېټ چارې دقیقې نه دي ترسره شـوي، ځکه ګڼې ټایپي او املایي سـتونزې په کې شـته او هم په کې کله کله سـپیسـونه (spaces) نه دي مراعات شـوي چې د کلیاتو د لوسـتلو مطالعه ورسره ټکنۍ کېږي. که د کلیاتو له سریزې، (یاګانو) چې ډېرې

يې نه دي مراعت شــوي او نورو کوچنيو املايي تېروتنو نه تېر شـــو، لاندې د شـعرونو هغه کلمې راوړل شـوي چې د يوې کلمې يو يا څو توري په کې ناسـم يا رد و بدل ليکل شوي دي چې له امله يې پر بيتونو پوهاوی ستونزمنوي. دا کلمې په کلياتو کې د مخونو د شمېر په ترتيب دا دي:

| گڼه | ناسم | سم | په کلياتو کې د مخ شمېره |
|---|---|---|---|
| ۱. | توقيق | توفيق | ۱ |
| ۲. | شمائيل | شمائل/ شمايل | ۸ |
| ۳. | غريبه | غرېوه | ۱۷ |
| ٤. | تجاشي | نجاشي | ۲۸ |
| ۵. | حسې | هسې | ۳۲ |
| ٦. | پخولا | پخلا | ۳۲ |
| ۷. | غنميت | غنيمت | ۳٦ |
| ۸. | غندليب | عندليب | ۳٦ |
| ۹. | گلش | گلشن | ۳۷ |
| ۱۰. | وبده | ويده | ۳۷ |
| ۱۱. | فرغون | فرعون | ۳۷ |
| ۱۲. | قفنس | ققنس | ۴۱ |
| ۱۳. | کنجه | کونجه | ۴۴ |
| ۱٤. | نطير | نظير | ۴٦ |
| ۱۵. | شهدانو | شهيدانو | ۴۷ |
| ۱٦. | دورط(لمنليک کې)دورې | | ۴۸ |
| ۱۷. | شرينه | شيرينه | ۵۵ |
| ۱۸. | فزغ | فزع | ۵۸ |
| ۱۹. | بدرعی | بدرۍ | ۵۸ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۰. | ابوذز | ابوذر | ٦٦ |
| ۲۱. | ستاعت؟ | ساعت | ٦٧ |
| ۲۲. | ځرګند | څرګند | ٦٩ |
| ۲۳. | ورکوونکي | ورک کوونکي (ګم کننده) | ٧٦ |
| ۲٤. | ستار | ستا | ۹۱ |
| ۲۵. | ارزال | ارذال | ۹۰ |
| ۲٦. | دیوس | دیوث [اوس دغه کلمه پښتو کې ډېر ځله دووس کارول کېږي] ۹۰، ۱۳۹، ۱۴۷، ۱۵۰، ۱۵۲ | |
| ۲۷. | منګلې | منګولې | ۹۲ |
| ۲۸. | سنګار | سینګار | ۱۱۵،۹۲ |
| ۲۹. | څریکه | څرېکه | ۱۰۰ |
| ۳۰. | وراڅه | وارڅه | ۱۰۷ |
| ۳۱. | پردسیه | پردېسه | ۱۱۱ |
| ۳۲. | سبخ نکته | سنج نکته | ۱۱۳ |
| ۳۳. | حیصه | حصه | ۱۳۱،۱۱۷ |
| ۳٤. | زاندانونو | زندانونو | ۱۱۷ |
| ۳۵. | زخمت | زحمت | ۱۱۹ |
| ۳٦. | نیم | نه یم | ۱۲۱ |
| ۳۷. | سروجنی | سروجي | ۱۲۷ |
| ۳۸. | پیج وخم | پېچ و خم | ۱۲۷ |
| ۳۹. | رصیت | وصیت | ۱۳۱ |
| ٤۰. | مخفلونو | محفلونو | ۱۴۲ |
| ٤۱. | صجدم | صبحدم | ۱۴۴ |
| ٤۲. | روایښ | راویښ | ۱۴۴ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٤٣. | جاودانه | جاويدانه | ۱۴۸ |
| ٤٤. | مخافظين | محافظين | ۱۴۹ |
| ٤٥. | فام | پام | ۱۵۲ |
| ٤٦. | سکولرو | سيکولرو | ۱۵۵ |
| ٤٧. | جاهير (لمنليک کې) | جماهير | ۱۵۷ |
| ٤٨. | الذکذ (لمنليک کې) | الذکر | ۱۶۰ |
| ٤٩. | طراحن | طواحن | ۱۶۳ |
| ٥٠. | ظواحک | ضواحک | ۱۶۳ |
| ٥١. | څگر | ځيگر | ۱۶۵ |
| ٥٢. | ساروان | ځاروان | ۱۶۶ |
| ٥٣. | ورحما بينهم (ستونزه په زور او زېر کې) | رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ | ۱۷۰ |
| ٥٤. | انتم طلقاء(ستونزه په زور او زېر کې) | أَنْتُمُ الطُّلَقَاءُ | ۱۷۰ |
| ٥٥. | واعتصمو | وَاعْتَصِمُواْ | ۱۷۳ |
| ٥٦. | ولا تنازغو | وَلَا تَنَـٰزَعُوا | ۱۷۳ |
| ٥٧. | فتفشلوا(ستونزه په زور او زېر کې) | فَتَفْشَلُوا | ۱۷۳ |
| ٥٨. | نکته سبخ | نکته سنج | ۱۷۴ |
| ٥٩. | بهترن | بهترين | ۱۸۱ |
| ٦٠. | انا فتحنا(ستونزه په زور او زېر کې) | إِنَّا فَتَحْنَا | ۸۳ |
| ٦١. | سيد جماالدين | سيد جمال الدين | ۱۸۳ |
| ٦٢. | څه | ځه | ۱۸۷ |
| ٦٣. | ايشارو | اشارو | ۱۸۷ |
| ٦٤. | طلاطم | تلاطم | ۱۸۹، ۱۹۰، ۲۲۲، ۲۵۳ |
| ٦٥. | لا تقنطو(ستونزه په زور او زېر کې) | لا تَقْنَطُوا | ۱۹۱ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٦٦. | مؤسسس | مؤسس | ۱۹۲ |
| ٦٧. | خوندې | خویندې | ۲۰۲ |
| ٦٨. | الرجال قوامون(ستونزه په زور او زېر کې) | الرِّجَالُ قَوَّامُونَ | ۲۰۳ |
| ٦٩. | منیه | مینه | ۲۱۱ |
| ۷۰. | ښاح | ښاخ | ۲۱۱ |
| ۷۱. | زوړوره | زړوره | ۲۱۱ |
| ۷۲. | مشفیقو | مشفقو | ۲۱۲ |
| ۷۳. | خیر لانام | خیر الانام | ۲۱۴ |
| ۷٤. | بدلنمه | بدلمنه | ۲۱۷ |
| ۷۵. | سباون | سباوون | ۲۲۱ |
| ۷٦. | غفت | عفت | ۲۲۴ |
| ۷۷. | په خولا | پخلا | ۲۲۵ |
| ۷۸. | زړورورو | زړورو | ۲۲۸ |
| ۷۹. | مړتون | مېړتون | ۲۲۹ |
| ۸۰. | مړاو | مړو | ۲۲۳ |
| ۸۱. | مطعون | ملعون؟ | ۲۲۴ (مطعون هم سم دی چې له طعنې څخه اخیستل شوی) |
| ۸۲. | کښپاستم | کښېناستم | ۲۳۷ |
| ۸۳. | واړوو | واړاوه | ۲۳۸ |
| ۸٤. | القایده | القاعده؟ | ۲۳۸ |
| ۸۵. | خائین | خائن | ۲۳۸ |
| ۸٦. | ذوالاجلاله | ذوالجلاله | ۲۴۲ |
| ۸۷. | دینا؟؟ | دنیا | ۲۴۵ |
| ۸۸. | رفعنا لک(ستونزه په زور او زېر کې) | رَفَعْنَا لَکَ | ۲۵۳ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۸۹. | کودتاه | کودتا | (ژوندلیک) |
| ۹۰. | امارات | امارت | (ژوندلیک) |

- په کلیاتو کې د ۱۰۴، ۱۰۵ مخونو درې شعرونه تکرار دي، ځکه په ۴۷ او ۴۸ مخونو کې هم دا شعرونه شته چې بیا راوړل یې اضافي دي.

## پایله

- ✓ د پښتو ادب تر معاصرې ادبي دورې د مخکینیو ادبي دورو زیاترو دیني عالمانو په خپلو شعرونو کې عرفاني، تصوفي، عقیدوي جلوو او اخلاقي محورونو ته ډېر پام کړی او هغه یې د شعر په ژبه وړاندې کړي دي، خو د معاصرې دورې دیني علماوو په خپلو اشعارو کې پر پورتنیو موضوعاتو سربېره د اوسنیو شرایطو مطابق سیاسي او اجتماعي مسایل هم منعکس کړي دي، د وخت نظامونه او واکمنان یې د خپلو شعرونو نښه ګرځولي چې ښه بېلګه یې د مولوي فرید الدین محمود شاعري ده.
- ✓ د ملت او امت په کړاو دردمن او غمجن دغه شاعر د قلم په ژبه د نني افغان او مسلمان د زړه ځړیکې په خپل کلام کې ځرګندې کړې دي، هغوی یې یووالي او د لادینو متجاوزو مقابلې ته په یوه صف کې درېدو ته رابللي دي. خو دریغه چې د زیاترو مسلمانو ولسونو واکمنان د غفلت درانه خوبونه زنګوي او یا دا چې د نړیوال استکبار د دسیسو ښکار شوي دي.
- ✓ د ملا فرید د شپېتمو کلونو شاعري تر ډېره د محمد داؤد خان واکمنۍ د بې‌باکیو، د کمونېزم پر ضد غبرګونونو، د شورویانو مقابلې ته د مجاهدینو د هڅونې او د افغانانو او مسلمانانو یووالي ته تر ډېره اشارې لري؛ تر اتیایمو کلونو وروسته شاعري یې بیا انتقادي اړخ لري او زیاتره جهادي شاعري ده.
- ✓ نوموړي د حماسي، انقلابي شاعرۍ ترڅنګ عشقي نړۍ ته هم سر ورښکاره کړی، ځینې یې د حقیقي عشق چې له الله تعالی او د هغه له دین سره مینه ده، جلوې دي او ځینې اشعار یې د مجازي مینې سترګکونه وهي.

- ✓ د مولوي فريد الدين محمود له شــعرونو ښــکاري چې دی د پراخې مطالعې څښتن دی؛ هم د ديني، سياسي او اجتماعي مسايلو او هم د پښتو او فارسي ژبو د شاعرانو د شعرونو مطالعه لري. هغه په خپلو اشعارو کې د ځينو شاعرانو شعرونه تضمين کړي او يا يې شاعران په نامه سره ياد کړي دي.

## وړانديزونه

- ❖ د دې کلياتو د بياځلي چاپ پر مهال دې، هغه کلمې چې املايي ستونزې لري، په ښه او کره ليکنۍ بڼه دې يې وليکل شي.
- ❖ په کلياتو کې تکراري شعرونه دې حذف شي.
- ❖ د تدوين له اصـولو سره سـم دې د کلياتو په پای کې لغتنامه ور اضـافه شي او د ټولو هغو نااشــنا عربي او دري ژبو او د ســوچه پښــتو کلمو معناگانې پيدا او په کې درج شي.

دا ليکنه د شيخ فريد په دې بيتونو پای ته رسوم چې وايي:

هر شاعر گوته په غاښ ورته نيولې
د فريد دغه کاړه واړه بيان ته
(فريد، ۱۴۰۴: ۲۵۱)

* * *

ای فريده په انشاء دې آفرين شه
نشته دا رنگه لذت په انگبين کې
(فريد، ۱۴۰۴: ۱۲۰)

* * *

بس په دې کړه قصه ختمه ای فريده ناتمامه
ليکوالان به ځينې ډک کړي څو څو جلده کتابونه
(فريد، ۱۴۰۴: ۱۷٦)

## مأخذونه

١- محمود، فريد الدين. (١۴٠۴ل). د ملا فريد شـــعري جونګ، سريزه، تدوين او چاپ زيار: سيد محي الدين هاشمي: کابل.

٢- محمود، مولوي فريد الدين. ٧۴ کلن، ديني عالم، مرکه کوونکی: محمد آصـــف احمدزی، کابل، د مرکې نېټه: ١۴٠۴/٨/١٢ل.

٣- قـاموســونـه ټکی کـام. لاسرســـی: https://qamosona.com/j/، [مراجعـه: ١۴٠۴/٦/۵ل].

۴- واژه ياب. لاسرسی:
https://vajehyab.com/dehkhoda/%D٩٪٨٧٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨٧٪D٩٪٨٤-٣?q=%D٩٪٨٧٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨٧٪D٩٪٨٤، [مراجعه: ١۴٠۴/٦/٩ل].

۵- قاموس نور، لاسرسی:
https://qamus.inoor.ir/ar/٣F٠٤L/%D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨٧٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨٧٪D٩٪٨٤، [مراجعه: ١۴٠۴/٦/٩ل].

څېړندوی احسان الحق کبیر

# د علومو اکاډمۍ د خپرو شویو تحقیقي متونو کره‌کتنه

# (۱۳۸۱- ۱۴۰۰هـ ل)

# A critical Review of the Published Textual Editions of Academy Sciences (۲۰۰۱- ۲۰۲۱)

Asistant Prof. Ehsanulhaq Kabir


## Abstract

A research text in textual studies is defined in contrast to a popular or commercial edition. It refers to a text prepared from one or multiple manuscripts through various methods of emendation and verification. Such texts typically include the researcher’s introduction, marginal notes, critical apparatus, glossaries, and necessary explanatory notes. Just as critical evaluation reveals strengths and weaknesses and contributes to the advancement of knowledge, textual criticism likewise examines edited works, bringing to light both their merits and deficiencies.

Between ۲۰۰۱- ۲۰۲۱, the Academy Sciences of Afghanistan (ASA) compiled, revised, and published a range of texts; however, these texts had not been subjected to systematic critical assessment. The present study undertakes such an evaluation, applying the principles of textual criticism to those texts. Consequently, this critique elucidates the degree to which these texts conform to established textological standards, identifies their strengths and deficiencies, and assesses whether re-compilation is

necessary in the future. Particular attention is given to the introductions, marginal notes, and glossaries, measuring the extent to which they align with the established norms of textual research. Each text has been meticulously examined to uncover the application of textological principles within them.

## لنډیز

تحقیقي متن د متنپوهنې اصطلاح ده چې د بازاري متن په مقابل کې استعمالېږي هغه متن ته ویل کېږي چې له یوې یا څو نسخو څخه د تصحیح د بېلابېلو روشونو څخه په استفادې برابر شوی وي. له دا ډول متونو سره د متن څېړونکي سریزه، لمنلیکونه، نښلونې، وییپانګه او نور اړین وضاحتونه مله وي. دا چې کره کتنه د ښېګڼو او بدګڼو د رابرسېره کولو او د علومو د لا پرمختیا په برخه کې مرسته کوي، نو متنپوهنه هم د تدوین شویو متونو کره کتنه کوي، د ځواک او کمزورۍ ټکي یې په ګوته کوي. علومو اکاډمۍ له ۱۳۸۱- ۱۴۰۰ل کال پورې بېلابېل متون تدوین، تصحیح او خپاره کړي وو، خو کره کتنه یې نه وه شوې؛ نو په دې لیکنه کې د دغو متونو متنځېړنیزه کره کتنه شوې ده. له هغو اصولو چې متنځېړنه یې د خپلو تدوین شویو متونو د کره کتنې لپاره کاروي ګټه اخیستل شوې ده. د دغو اصولو په پایله کې دا په ګوته شوي چې دغه متون څومره د متنځېړنې له اصولو سره برابر تدوین شوي، ښېګڼې او نېمګړتیاوې یې کومې دي، په راتلونکي کې یې د بیا تدوین اړتیا شته او که نه؟ سریزې، لمنلیکونه او وییپانګې یې څومره د متنځېړنې له اصولو سره برابرې دي. د دې چارې لپاره هر متن په دقت لوستل شوی او د متنپوهنې اصول په کې پلټل شوي دي.

## سریزه

د تدوین چارې ډېره اوږده مخینه لري، آن د یونان له وخت څخه راپیل شوي. په یونان کې چې کوم پخواني متون وو، هغه تدوین شول او دا چارې همداسې لاتیني او نورو ژبو ته هم لاره وکړه او پخواني متون تدوین شول، چې په غرب کې د انجیل د متونو تدوین تر ټولو ډېر مشهور دی، ځکه د انجیل زیاتره نسخې تحریف او تیت شوې وې. ځینو دیني پوهانو دغه نسخې راټولې او له سره یې د انجیل نوې کتابونه تدوین کړل. د چاپ د صنعت په رامنځته کېدو سره د کتابت د نورو چارو ترڅنګ د تدوین

چارې نورې هم چټکې او عامې شوې او ختيځپوهانو د عربي، پښتو، هندي، پارسي، ترکي او... ژبو متون تدوين او چاپ کړل، چې په دې سره د همدې ژبو د پوهانو هم د متونو تدوين ته پاملرنه زياته شوه.

د متونو تدوين که څه هم اوږده مخينه لري، خو متنپوهنه بيا ځوانه پوهه ده. د متونو له تدوين ډېر وروسته پوهانو هڅه وکړه، چې د متونو د تدوين او تحقيق په برخه کې ځينې اصول وټاکي او لارې چارې ترتيب او تنظيم کړي، ترڅو وکولای شي چې په راتلونکي کې پوهان له دغو تجربو په استفادې د متونو په تدوين کې له ښوېدنو څخه وژغورل شي. د تدوين مخينه که څه هم د شته شواهدو له مخې موږ غرب ته بيايي، خو په متنپوهنه کې بيا شرقي پوهان په ځانگړي ډول عرب متنپوهان له ټولو نه مخکې دي، هغوی چې د متونو د تدوين لپاره کوم اصول او لارې چارې بيانوي تر غربي پوهانو ډېرې موډرنې، مؤثرې او د متونو په تدوين کې ارزښتمنې او د عملي کولو وړ دي. په پښتو کې د متونو د تدوين سيمې ته د چاپ له صنعت سره سم راغلی، خو زموږ پوهانو د گاونډيو متن‌څېړونکو نه په تقليد په عنعنوي بڼه پيل کړې دي. د متنپوهنې اړوند د تېرې (۱۴هجري لمريزې) پېړۍ په څلوېښتمو کلونو کې ځينې اثار راوژباړل شول او بيا پسې ځينې وليکل شول، خو تر اوسه هغه تقليدي او عنعنوي متن‌څېړنه لا ختمه شوې نه ده او لا هم په پښتو کې په عنعنوي شکل متون تهيه کېږي، چې له ډېرو نيمگړتياوو سره- سره خپرېږي. د دغې چارې د قانونمندۍ او اصولي کولو لپاره له موږ سره تر ټولو ښه لاره د کره‌کتنې ده، چې په پښتو کې متني کره‌کتنه زياته شي تر څو متن څېړونکي خپلو نيمگړتياوو ته متوجه شي او په راتلونکي کې کره تحقيقي متون وڅېړل شي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

دا چې د پښتو ټولنې او بيا وروسته د علومو اکاډمۍ په ايجاد سره له دغه بنسټ نه د پښتو ډېر متون تدوين او چاپ شول، چې د ټولو څېړل يې د دې څېړنې له حوصلې وتلی چار دی، خو د همدغه بنسټ پر کومې زماني مقطع چې زه کار کوم (۱۳۸۱-۱۴۰۰ل)، په دغه وخت کې د علومو اکاډمۍ خپاره شوي تحقيقي متون تر اوسه پورې ارزول شوي نه دي، که څه هم پر ځينو يې تقريظونه هم ليکل شوي، خو په هغو کې هم د متني کره‌کتنې برخه تر ډېره نيمگړې ده. د دې علمي- څېړنيز کنفرانس اهميت

په دې کې دی چې مور وکولای شو، خپل کارونه وارزوو، تر څو کمزوري او د ځواک ټکي یې وپېژنو او په راتلونکې کې د تحقیقي متونو په تدوین کې له هغو نه ګټه واخلو. د دې موضوع مبرمیت په دې کې دی چې په کمي او کیفي لحاظ به مو شل کلن اثار ارزولي وي. د ادبپوهانو په وینا کره‌کتنه د ادبیاتو په وده کې مهمه ونډه لري، نو زه هم د دغې قاعدې له مخې غواړم چې په دې کره‌کتنې کې همدغو موخو ته ځان ورسوم.

## د څېړنې موخه

• په تېرو دوو لسیزو کې له علومو اکاډمۍ څخه د خپرو شویو تحقیقي متونو د څرنګوالي او څومره‌والي څېړنه.

• د دغو تحقیقي متونو د کار ارزونه؛ چې څومره د متنپوهنې له اصولو سره برابر تدوین شوي.

• په راتلونکې کې له متنپوهانو سره مرسته؛ چې وکولای شي د تحقیقي متونو په برخه کې له دغې کره‌کتنې څخه ګټه واخلي او خپل کړی کار د دې په اصولو کې وارزوي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. د علومو اکاډمي په تېرو شلو کالونو کې څو تحقیقي متون چاپ کړي؟

۲. په تېرو شلو کالو کې له علومو اکاډمۍ څخه خپاره شوي تحقیقي متون څومره د متنپوهنې له اصولو سره برابر تصحیح شوي دي؟

۳. د دغو متونو د بیا تصحیح او یا چاپ اړتیا څومره ده؟

## د څېړنې میتود

په دغه علمي- څېړنیز کنفرانس کې له توصیفي- تحلیلي او د اړتیا په صورت کې له انتقادي میتود څخه کار اخیستل شوی او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

مخکې تر دې چې خپلې اصـلي موضـوع ته راشـو، غواړم د متنپوهنې اړوند ځینې ا صطلاحات تعریف او تـشریح کړم چې دا به له مور سره د ا صلي مو ضوع په وړاندې کولو کې مرسته وکړي.

## متن

د متن په اړه لغت‌پوهان وايي:

پښتو- پښتو تشريحي قاموس: متن ($ma\,tan$) نر. م. ۱) د کتاب عبارت، د کتاب د منځ اصل عبارت؛ ۲) د حاشيې ضد. (پښتو- پښتو تشريحي قاموس، څلورم ټوک، ۱۳۸۳: ۲۸۴۷مخ)

فرهنگ دهخدا کې يې کښلي: متن: کراړه او سخته ځمکه. ج، مِتان... مجازاً د کتاب د عبارت په معنا چې شرح کولای يې شي. (دهخدا، ۱۳۷۷: ۲۰۲۲٦م) څټ. د يو شي منځ. د کتاب اصلي عبارت، رساله او مکتوب؛د شرح او حاشيې مقابل. (فرهنگ معين، ۱۳۸۱: ۱٦۲۲مخ)

لغت پوهان حاشيې د متن له کتار نه وباسي، د هغوی په نظر هغه څه چې د حاشيې په مقابل کې دي هغه متن دی، خو په عام مفهوم نه شو کولای چې حاشيه متن و نه گڼو. محمد معصوم هوتک د ويکي پيډيا په مرسته د متن په اړه وايي: ((د ادبي تيورۍ له مخې، متن د سمبولونو يوه پرله‌پوري او سره تړلې مجموعه ده چې د يو راز معلوماتو پيغام رسوونکې وي.)) (هوتک، ۱۳۹۰: ۳۰مخ)

سرمحقق زلمی هېوادمل «د متنپوهنې ميتودولوژي» په لکچرنوټ کې د پروفيسور قدوس جاويد په حواله ليکلي دي: ((متن Text د سمبولونو په وسيله جوړ شوي هغه ژبني او ادبي جوړښت ته وايي چې د هر ډول واقعي، کردار او يا نظريې پر بنسټ تشکل مومي او د نثر و نظم له هر صنف سره تعلق درلودای شي.»))( هېوادمل، ۱۴۰۲: ۱مخ)

که له پورته تيوريکي خبرو تېر شو؛ متن په يوې ژبې کې د هغې ژبې د ليکنيو سيمبولونو او د اوازونو د گرافيمونو هغه زنځير ته وايي چې يوه معنا او مفهوم له ځان سره ولېږدوي.

### د متن ډولونه

ادبپوهانو متن له بېلابېلو اړخونو په بېلابېلو ډولنو وېشلی دی، دلته به موږ له هغو ټولو وېشنو څخه تېرو شو، يوازې هغه ډولونه چې له متنپوهنې سره اړه لري پر هغو به بحث وکړو. سرمحقق زلمي هېوادمل په خپلو درسي لکچرونو کې متن له څو اړخونو په بېلابېلو ډولونو وېشلی دی ((متن په عام ډول دوه ډوله لري: منظوم متون او منثور متون.)) (هېوادمل، ۱۴۰۲: ۴مخ)

ادپوهان يوازې د متن پر پورته دوو ډولونو باندې بسنه نه کوي، بلکې پر نظم او نثر سربېره د متن نورو ډولونه هم راپېژني. په دې اړه استاد هېوادمل د عليگړهـ مسلم پوهنتون د استاد سيد محمد هاشم نظر را اخيستی: ((له نظم و نثر سربېره: فرهنگونه، اعداد او ارقام، نقشې،

فهرستونه، نوملیکونه او بیبلوګرافی هم په متونو کې شماري)). (هېوادمل، ۱۴۰۲: ۴مخ)
پر عام سربېره په خاص ډول هم موږ متون په دوو ډولونو وېشلای شو، خاص ډولونه یې یوازې په متنپوهنه کې تر بحث لاندې نیول کېږي او د متنپوهانو لپاره ارزښت لري. متنپوهان د متونو له دغو دوو ډولونو څخه یو ډول ته بازاري متون او بل ته یې تحقیقي متون وايي.

**بازاري متون:** د متن څېړونکو او متنپوهانو له نظره بازاري متون هغه آثار دي چې د کتابونو د تاجرانو له خوا د تجاري مقاصدو په منظور بې له تحقیقه چاپېږي او بازارونو ته یې د خرڅلاو لپاره وړاندې کوي. مقدمې هم نه لري؛ د شاعر او لیکوال په باب یې معلومات ورسره نه وي چاپ شوي.

**تحقیقي متون:** چې له یوې نسخې، دوو نسخو او ډېرو نسخو د تصحیح له بېلابېلو روشونو په استفادې برابرېږي. له تحقیقي متونو سره مقدمې، شرحې، حاشیې، تعلیقات، لغتنامې او د لوستونکیو د پوهاوي لپاره نورې اسانتیاوې هم ملې وي. (هېوادمل، ۱۴۰۲: ۴مخ)
د متونو نور ډولونه هم ښودل شوي، خو دلته زموږ ورسره کار نشته، ځکه په اړه یې له څه لیکلو تېرېږو د ډېرو معلوماتو لپاره وګورئ د سرمحقق زلمي هېوادمل «د متنپوهنې میتودولوژي» لکچرنوټ.

**متنپوهنه**

د متن د تحقیق، تدوین، د متن د څرنګوالي د څرګندولو، تصحیح او سمون د روشونو او اصولو مجموعې ته متنپوهنه وايی. یا په بله وینا: متنپوهنه هغه پوهه ده چې د متونو د تحقیق، نقد او بیا احیا اساسات او لارې چارې سره تنظیموی او بیانوي. (هېوادمل، ۱۴۰۲: ٦مخ)

**متن څېړنه**

هغه پوهه ده چې د متن پوهنې د ټاکلو معیارونو او اصولو له مخې د یوه متن عملي او تطبیقي کارونه په عملي توګه سر ته په کې ورسېږي. یا په بله اصطلاح د یوه متن د سم او علمي تحقیق او څېړلو لپاره متنپوهنه اساسات او مقررات ټاکي او د دغو اساساتو او مقرراتو د عملي کولو خوا متن څېړنه جوړوي.(روهیال، ۱۴۰۱: ۱۲٦مخ)

**متن څېړونکی**

متن څېړونکي ته مصحیح او مدون هم وايي. هغه مسلکي شخص چې د متن پوهنې د ټاکلو اصولو او مقرراتو د علمي کولو وړتیا ولري او د همدغې وړتیا تر څنګ ځینې نورې اړونده پوهې ولري تر څو یو زوړ متن د اصولو او مقرراتو سره برابر چاپ ته اماده کاندي.(روهیال،

۱۴۰۱: ۱۲٦مخ)

متن څېړونکی د متن په مقابل که نه «علمي ایډیټر» دی او نه «منشي او لیکوال» بلکې هغه امین دی چې د اثر له مخې د زمانې او کاتبانو د تصرفاتو گردونه لرې کړي او له هغو موندنو چې د اثر د لیکوال د ژوند، حالاتو، ژبې او باورنو په اړه یې لري، د علمي ضوابطو په چوکاټ او امانتدارۍ سره متن هغسې لکه مؤلف چې کښلی او یا هغه ته ورته (نږدې)، وړاندې کړي. (جهانبخش، ۱۳۹۷: ۱۳م)

**تدوین**

په فرهنگونو کې د تدوین بېلابېلې معناوې راغلي دي، لکه: ټولونه، مرتبول، دیوان جوړونه، د یوې مشخصې موضوع په اړه د بېلابېلو لیکوالو د مقالو یو ځای کېدنه او داسې نور. (روهیال، ۱۴۰۱: ۳۹مخ)

د دې ترڅنگ سرمحقق زلمي هېوادمل د تدوین موارد داسې ښودلي:

- د یو شاعر د اشعارو ټولول؛
- د مکتوباتو راټولول؛
- د مقالو ټولول؛
- د یو شاعر او یا لیکوال د اشعارو، مقالو، مکاتیبو او نورو ادبې توکیو د ټولولو ترڅنگ کېدای شي پر یوه خاصه موضوع د څو تنو لیکوالو لیکل شوې مقالې او یا شعرونه؛ لکه ځانگړې مشاعرې د خپل اهمیت له مخې راټولې شې، دا هم د تدوین تر نامه لاندې راځې. (هېوادمل، ۱۴۰۲: ۱۹- ۲۱مخونه)

**د متن استناد**

د متن د استناد یا مستندوالي مسأله بیخي مهمه ده، که کوم متن څېړونکی پر کوم متن کار کوي، لومړی باید د هغه متن اصلیت وڅېړي. (روهیال، ۱۴۰۱: ۷۴مخ)

متن څېړونکی باید متن د لاندې څلورو مواردو له پلوه مستند کړي: ۱. الحاق: په لغت کې : سره یو ځای کېدل، تړون، ضمیمه کېدل. (آریانا پښتو قاموس، ۱۴۰۲: ۱۰۱مخ) د متنپوهنې په اصطلاح کې الحاق: چې اثر د یو لیکوال او شاعر وي، خو مشهور شوی د یو بل چا په نامه وي، یا د بل چا نوم ته منسوب شوی وي. (هېوادمل،۱۴۰۲: ۲۷مخ)؛ ۲. سرقه: له الحاق سره نږدې بله اصطلاح د انتحال ده. د انتحال معنا متنپوهانو غلط نسبت لیکلې ده. دا اصطلاح په هغه صورت کې استعمالېږي کله چې یو سارق (غل) د بل چا آثار خپل کړي او خلکو ته یې په خپل نامه وړاندې کړي. (هېوادمل،۱۴۰۲: ۳۲مخ)؛ ۳.جعلي متون: د الحاق او جعلي متونو ترمنځ ډېر لږ فرق دی. که چېرې څوک په قصدي او عمدي

ډول د یو خاص هدف په منظور او یا د ځینو سیاسي، مذهبي او قومي مقاصدو پربنا د یو فرضي یا معلوم شخص په نامه کتاب مقاله، شعر او یا بل اثر ولیکي، نو هغه ته جعل وایي. یا په بله وینا یو سړی کتاب لیکي او د بل په نامه یې خپروي. (هېوادمل،۱۴۰۲: ۳۳مخ)؛

۴. غیر متداول او منسوخ متون: که چیرې شاعر د خپل کلام یوه حصه منتخب کړه او پاتې برخه یې منسوخه کړه او د متن څېړونکیو بیا وروسته دغه منسوخ کړې برخه هم پیداکړه، نو دا ډول مجموعو ته منسوخ او غیر متداول مجموعې وایي. (هېوادمل،۱۴۰۲: ۳۳مخ).

د نویو موندونو استناد هم ډېره اړینه موضوع ده. استاد هېوادمل په دې اړه لیکلي دي: متنپوهان په دې عقیده دي چې کله هم متن څېړونکی د یوه متن د ترتیب په وخت کې له هغه متن سره په ارتباط کې نوي مطالب یا د هغه متن ځینې متفرقې برخې پیدا کوي. د دغو نویو موندنو د اصالت او استناد معلومولو لپاره د متن داخلي او خارجی شهادت ته پاملرنه ډېره ضروري ده. د یو متن د خارجي شهادت د بشپړتابه لپاره لاندې پوښتنو ته ځواب برابرول لازم ایسي: دا نوی متن او یا د متن یوه برخه چا، له کومه ځایه، له کومې ذخیرې او له کومې نسخې تر لاسه کړي دي؟ کله چې متن څېړونکی دغو لوړو پوښتنو ته مقنع ځوابونه وړاندې کړي، نو متن د خارجي شهادتونو له مخې مستند شي. په داخلي شهادتونو کې څېړونکی باید د متن موضوع، سبک، د کلماتو انتخاب، ادبي روایت، د لیکوال او شاعر له نورو آثارو سره یې د همآهنګۍ مسایل و څېړي او بیا یې پرا صالت او استناد فیصله وکړي.(هېوادمل، ۱۴۰۲: ۳۴مخ).

**د متن انتخاب**

له ټولو مخکې د متن انتخاب دی، کوم متن چې انتخابېږي، باید وکتل شي چې پخوا چاپ شوی او که نه؟ که چاپ شوی وي بیا تدوین ته یې اړتیا شته؟ زموږ فرهنګ ته به څومره ګټور وي او داسې نورې ډېرې پوښتنې چې د متن ارزښت او د خلکو غوښتنې باید په پام کې ونیول شي.

**د اصل انتخاب**

هر کله چې یو متن د متن څېړنې لپاره انتخاب شو، باید د هغه ټولې نسخې راټولې شي او هغه وکتل شي او له هغه وروسته بله مهمه مسأله د اصل انتخاب دی، چې زموږ څېړونکي په دې برخه کې تر ډېره تېروځي، څنګه چې د متنپوهنې غوښتنه ده، هغسې نسخه د اصل په توګه نه شي ټاکلی. د اصل د انتخاب لپاره ځینې شرایط دي، چې په ډېر لنډ ډول به یې دلته یادونه وشي.

۱. داسې نسخه باید د اصل په توګه انتخاب شي، چې لیکوال او شاعر په خپل لاس

ليکلې وي. محمد معصوم هوتک هم ليکلي دي: ((تر ټولو ډېره ښه نسخه چې د تصحيح او نشر پر وخت بايد د متن په توګه غوره سي، هغه نسخه ده چې په خپله د مؤلف په لاس کښل سوې وي. (هوتک، ۱۳۹۰: ۴۴مخ)

۲. که په خپل لاس ليکلې نسخه نه وي، داسې نسخه چې د ليکوال په غوښتنه بل چا ليکلې وي او ده کتلې وي.

۳. که په پورته شرايطو نسخه نه وي، د يوې داسې نسخې د اصل په توګه ټاکل چې د ليکوال زمانه يا راوروسته زمانه کې کوم شاعر يا ليکوال په خپله ليکلې وي او يا په بل چا ليکلې وي، خو ده اصلاح کړې وي.

٤. که هسې هم نه وي د پاچا، نواب او يا خانانو او راجاګانو لپاره چې کومې نسخې ليکل شوي د هغو غلطۍ هم کمې وي، د هسې نسخې ټاکل.

٥. که هسې هم نه وي، د شاعر يا ليکوال زمانې ته نږدې د يوه باسواده خطاط په لاس ليکلې نسخه.

٦. که نسخې تاريخ نه لري، بايد متن څېړونکی د خط سياهي او کاغذ له پلوه قديمه نسخه پيدا کړي.

٧. که د کاغذ، خط او سياهۍ له اړخه هم معلومه نه شي، په نسخو لګېدلي مهرونه دې وکتل شي او قديمه نسخه دې په کې انتخاب شي.

٨. که پر پورته شرايطو برابره نسخه و نه موندل شوه، بيا دې په ټولو نسخو کې داسې يوه نسخه وموندل شي، چې تحريفات، لاسوهنې او غلطۍ و نه لري او يا کمې وي. (هېوادمل، ۱۴۰۲: ۳۸- ۳۹مخونه).

د اصل نسخې په ټاکلو او انتخاب کې متنڅېړونکي ته په کار ده له ډېر دقت او احتياط څخه کار واخلي، که د اصل په انتخاب کې له احتياط څخه کار وا نه خيستل شي داسې معنا لري لکه يو بنا چې د کوم تعمير اساس کوږ کېږدي او هر وخت د دې تعمير د چپه کېدو او لوېدو امکان وي. د اصل ناسم انتخاب هم دغسې د متن پوه کار ناباوره کوي او د لوستونکو توجه ځنې اړوي. (روهيال، ۱۴۰۱: ٦٦مخ)

**د متن د تصحيح روشونه**

متنپوهانو د متونو د تدوين لپاره په عمومي توګه درې روشونه او ميتودونه ښودلي:

**۱. د تصحيح انتقادي روش:** که چېرې د متن داسې نسخه موجوده وي چې مؤلف په خپله ليکلې وي او د دې نسخې پربنسټ د متن اصل ټاکل شوی وي؛ نو بيا که نورې پيدا شوې،

نورې نسخې په دې نیامت ورسره مقابله کیږي چې ښايي په دې نورو نسخو کې داسې نسخه وي چې مؤلف کتلې وي، زیاتونې یې پکې کړې وي. دا ځکه چې د لیکوال او شاعر طبیعي خاصه ده څومره چې خپل اثر بیا- بیا لولي هرومرو تبدیلۍ پکې راولي. د دغه ډول خصوصیاتو لرونکیو نسخو پر بنسټ تهیه شوي متن د تصحیح روش ته انتقادي تصحیح وایی. (هېوادمل، ۱۴۰۲: ۵۱مخ).

متنپوه مایل هیروي، دغه ډول روش ته «د اساس نسخې پر بنسټ د متونو سمون» وايي، هغه کښلي دي: کله چې مصحّح ته کره او د کاتبانو له عمدي او سهوي تصرفاتو پاکه نسخه یا نسخې لاس ته ورشي، لازمه ده چې د نقد او متونو د تصحیح له دغه روش نه کار واخلي، سره له دې چې دغه روش ډېر سخت نه معلومېږي، خو په عین حال کې د متونو په تصحیح کې تر ټولو معتبر روش ګڼل کېږي.(هروي، ۱۳۷۷: ۴۳۵مخ)

که څه هم اساس نسخه: اصلي نسخه، د لیکوال او شاعر په لاس کښلې نسخه.) (روهیال، ۱۴۰۱: ۱۲مخ) ته ویل کېږي، خو دلته له اساس نسخې نه دا مطلب دی چې یوه نسخه د اصل په توګه انتخاب شوې وي او نورې نسخې ورسره مقابله شوې وي، چې دغه روش خپلې ځانګړتیاوې لري او د اصل نسخې متن په بشپړ ډول انتقالېږي، چې ښکاره غلطي او یا په ډېر قوي احتمال تېروتنه نه وي، د اصل متن له خپل ځایه نه شي ښورېدلی، خو که ښکاره غلطي او یا د اصل نسخې مطلب کمزوری و او د بلې نسخې هغه ترې قوي وي، بیا دا امکان شته چې نسخه بدل اصل متن او د اصل نسخې متن لمنلیک ته راشي.

**۲. د تصحیح التقاطي روش:** د متونو په نقد کې د التقاطي تصحیح روش هغه وخت غوره کېږي چې د متن باوري، زړه، له تحریفاتو او ناسمو پاکه نسخه نه وي موجوده او د متن څو نا سمې او نا ویسا نسخې د محقق په لاس کې وي. په دغسې شرایطو کې متن څېړونکی د متن له موجودو چاپي او خطي نسخو څخه هغه نسخه د اصل په توګه اخلي چې د نسخو د مطالعې په وخت کې ده ته تر ټولو نسخو ښه نسخه ښکاره شوې وي او د متن د ایجاد د زمان د ژبې خصوصیات پکې نه وي مسخ شوي او زوړ روح په کې وچلېږي. (هېوادمل، ۱۴۰۲: ۵۳مخ).

التقاطي روش که په قیاس یا د اساس نخې پر بنسټ وي، هغه مهال د باور او اهمیت وړ کېږي، چې متن څېړونکی له یوا خوا پر هغه موضوع چې متن یې تهیه کوي مسلط وي او له القابو، اصطلاحاتو او د کتاب د منځپانګې له ویینو سره اشنا وي او هغه اثر ته ورته لیکنو ته پاملرنه وکړي او همدارنګه د بیان حدود لکه څنګه چې د مؤلف له خوا و، وڅېړي تر څو وکولای شي هغه څه چې په هغو نسخو کې راجح دي اصل متن ته یوسي او هغه څه چې

کمزوري دي له دلایلو سره له متن څخه وباسي. (هروي، ۱۳۷۷:  ۴۳- ۴۳۶مخونه)

د دغسې متونو تدوین چې باوري او روغې نسخې یې نه وي او متن څېړونکی اړ وي چې له التقاطي روش نه کار واخلي ډېر سخت دی، ځکه اصل متن ته رسېدل ډېرې هڅې غواړي، یوازې تکړه، وړ او استاد متن څېړنکي یې له عهدې څخه وتلی شي.

**۳. د قیاسي تصحیح روش:** که چېرې د یو متن لاس ته راغلې نسخې ټولې ناباورې او له غلطیو ډکې وي، د تحریفاتو امکانات په کې ډېر وي او یا هم د یو متن یوازې یوه نسخه لاس ته راغلې وي چې د مؤلف یا شاعر په خط نه وي د لاسوهنو او تېروتنو شک پرې کېدای شي، نو په دغسې مواردو کې متن څېړونکي د قیاسي تصحیح له روشه کار اخلي. قیاسی تصحیح ته په انګریزی کې emendation وایی. (هېوادمل، ۱۳۷۷: ۵۳ مخ).

د دري ژبې متنپوهانو څلورم ډول روش د «بینابین» یا توأم په نامه ښودلی دی، چې په اصل کې د دغو روشونو ګډوله غوندې ښکاري. متن څېړونکی د روش په انتخاب کې خودمختاره نه دی، بلکې د نسخو شرایط د روش ډول ټاکي، که څوک د روش له شرایطو پرته متن تدوین کړي هغه ته له دغو روشونو څخه د کوم یوه نوم نه شو اخیستی بلکې ازاد روش یې بللی شو، چې هغه په خپله خوښه ځان ته جوړ کړی دی. که چېرې څوک د دغو روشونو په رڼا کې خپل متن تدوین نه کړي او په خپل سر او خوښه متن تهیه کړي، نو متن یې د باور وړ نه شو ګڼلی او ډېرې ستونزې به په کې وي. اصلاً دغه روشونه موږ له کړلېچونو او ښوېدنو څخه ژغوري. دا هغه مسایل وو چې د تحقیقي متونو د کره‌کتنې لپاره یې یادول اړین وو او بې له دغو آرونو د تحقیقي متونو کره‌کتنه شونې نه ده، نو اوس به د همدغو ارزښتونو په پام کې نیولو سره د علومو اکاډمۍ په شل کلن بهیر کې چاپ شوي تحقیقي متون تر کتنې لاندې ونیسو.

## د علومو اکاډمۍ د خپرو شویو تحقیقي متونو کره‌کتنه (۱۳۸۱- ۱۴۰۰ل)

په افغانستان کې د ادبي انجمنونو او بیا وروسته د پښتو ټولنې په رامنځته کېدو سره د پخوانیو متونو د چاپ خوا ته لېوالتیا زیاته شوه له هغه وخته تر اوسه پورې په لسګونه دیوانونه او پخواني متون چاپ او درنو لوستونکو ته ورسېدل. دا چاره په عنعنوي بڼه راپیل او په تدریجي ډول یې ځان داسې یو حالت ته ورساوه چې متون د متنپوهنې د تیورۍ او قانومندۍ تر چوکاټ لاندې راغلل، خو دا په دې معنا هم نه ده، چې عنعنوي روش دې شا ته پرېښودل شوی وي؛ په راوروستو تحقیقي متونو کې اوس هم داسې متون موندلی شو، چې د عنعنوي میتود پر بنسټ دې تدوین شوي وي. د دې لپاره چې د تحقیقي متونو په سمه توګه ارزونه وشي او موږ متون د متنپوهنې له اصولو سره برابر تدوین کړو، متن څېړنې

خپلې اړیکې له کره‌کتنې سره نږدې او د متني کره‌کتنې لاره یې پرانیسته. د دغې کره‌کتنې دنده دا ده چې موږ وکولای شو تر څو هغه پخواني متون چې اوس تدوین شوي هغه وارزوو او د هغو ښېګڼې رابرسېره کړو تر څو په راتلونکو کې متنپوهان ترې ګټه واخلي او هغه نیمګړتیاوې چې موجودې دي، هغه وڅېړو او د هغو حل لارې ومومو. تر څو وکولای شو چې په راتلونکې کې له هره اړخه متون په ښه توګه تدوین او د لیکوال او شاعر د لیکلي اثر ژبې او که هغه نه وي کم تر کمه د هغې زمانې په ژبه یې قدرمنو لوستونکو ته وړاندې کړو. دا نه یوازې موږ د شاعر لیکلي متن ته ور رسوي، بلکې د تاریخي ژبپوهنې لپاره هم مواد برابروي او مرسته کوي چې د ژبې تاریخي تحول په سمه توګه وڅېړل شي. په وروستیو دوو لسیزو کې د تحقیقي متونو د تدوین چاره کمرنګه شوې ده، په دې دوو لسیزو کې موږ له علومو اکاډمۍ څخه د پنځو تحقیقي متونو د چاپ شاهدان یو.

## ګلدسته

د دې اثر نوم په دې شکل «ګلدسته د عبدالقادرخان خټک» چې په قوسونو کې ورسره لیکل شوي (د ګلستان پښتو ژباړه) ورپسې لاندې «د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز» او د محقق سید محي الدین هاشمي په زیار کرښې راغلي دي.

په ورپسې مخ کې پورته معلومات په لږ ډېر تفصیل سره بیا راغلي، دغه اثر د ګلدستې د کتاب د درې سومې کالیزې په ویاړ د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو د بین المللی مرکز له لوري په ۱۳۸۳ل کال کې په ۲۳x۱۵ سانتي قطع چاپ شوی دی.

لومړی د علومو اکاډمۍ د وخت د رئیس لنډه لیکنه د «پیشګفتار» تر سرلیک لاندې، چې د کتاب او د دغې ژباړې د اهمیت په اړه یې په لنډو ټکو کې یادونه کړې راغلي دي، ورپسې د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز رئیس څېړنپوه نعمت الله اندړ لیکنه د «سریزه» تر سرلیک لاندې شوې، چې لومړی د سعدي شیرازي د ګلستان پر اهمیت او د نړۍ په بېلابېلو ژبو د دغه اثر په ژباړو غږېدلی، ورپسې د عبدالقادرخان خټک د ژباړې پر قوت او د دې کتاب په اړه یې خبرې کړي دي.

د «ګلدسته» د دې خپراوي په اړه یې لیکلي دي: «د عبدالقادر خان خټک دغه ژباړلی شاهکار اثر، چې دمخه د پېښور د پښتو اکیډیمۍ له خوا په بېلابېلو کلونو کې درې ځله چاپ او خپور شوی دی او اوس یې چاپي نسخې ډېرې نه موندل کېږي، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو نړیوال مرکز د دې تکل وکړ چې د دغه مرکز له خوا د جوړ شوي د عبدالقادرخان خټک د ګلدستې د درې سومې کالیزې د علمي- څېړنیز سیمینار په ویاړ د پیښور د پښتو اکیډمۍ د چاپي نسخې له مخې بیا چاپ او خپور کړي. نو له همدې امله

يې د مرکز علمي غړي محقق سيد محي الدين هاشمي ته دنده ورکړه چې گلدستې د چاپي نسخې ليکدود له پيښوري پښتو ليکدود څخه د افغانستان په معياري پښتو ليکدود راواړوي او نور دې هغه د يو علمي امانت په توگه کټ مټ چاپ ته چمتو کړي دا چار د نوموړي په زيار او اهتمام ترسره شوه....

... د پښتو څېړنو نړيوال مرکز په داسې حال کې چې په لومړي ځل له قلمي نسخو څخه د اروانباد خيال بخاري په مقابله، تصحيح، سريزه او زيار د پيښور پښتو اکيډيمۍ له خوا د گلدستې چاپ او خپراوي کار ته په درنه سترگه گوري، د يو علمي اکاډميک امانت په توگه د علم پوهې او ادب مينه والو د استفادې له پاره گلدسته د څلورم ځل له پاره يوازې د ليکدود په بدلون او د عبدالقادرخان خټک د هر اړخيزې پيژندگلوۍ په زياتولو سره خپروي. (اندړ، ١٣٨٣: ز-ح مخونه)

په دې پسې د «د عبدالقادرخان خټک ژوند، ادبي- عرفاني لار او آثار» تر سرليک لاندې محقق سيد محي‌الدين هاشمي سريزه ليکلې ده. دغه سريزه بېلابېل سرليکونو لري: لومړی- د ژوند حالات، - زوکړه او کورنۍ، - زده‌کړه، - واده، اولاد او له کورنۍ سره اړيکې، - د ژوند بوختياوې، - د ژوند وروستي حالات او وفات، دويم: ادبي- عرفاني لار، - د خټکو د ادبي مکتب ځانگړنې، - علمي- ادبي مقام او شهرت، درېيم- د عبدالقادرخان خټک د آثارو سرليکونه راغلي ورپسې «د گلدستې دا متن» تر عمومي سرليک لاندې د خپل دغه متن د چاپ په اړه خبرې کړې دي او هم د هغې چاپي نسخې په اړه چې همدا متن ترې نقل شوی کره‌کتنه کړې ده؛ خو ځينې خبرې د يادونې وړ دي. يو ځای يې ليکلي دي: ((د گلدستې چاپي متن ته په کتنه څرگندېږي چې له دوو نسخو څخه چاپ ته برابر شوی دی او اروانباد بخاري د متن لمن ليکونو کې هغه يوه د اسلاميه کالج او بله د برېټيش موزيم د نسخې نقل ښودلې ده))(هاشمي، ١٣٨٣: اته دېرشم مخ)

ښاغلي خيال بخاري چې په لومړي ځل دغه متن د چاپ لپاره تيار کړی دی د سريزې په پای کې يې ليکلي دي: ((پښتو اکيډيمۍ په ډېرو کوښښونو د گلدستې دوه نسخې پيدا کړې او د تصحيح او تنقيح نه پس يې چاپ کړه))(بخاري، ١٩٦١: ٥٣مخ)

ښاغلي مدون په سريزه کې د دغو نسخو په اړه نور څه وضاحت نه دی ورکړی، خو لکه څنگه چې هاشمي صاحب يادونه کړې، په لمنليکونو کې يې څلور ځايه د گلدستې د هغو خطي نسخو يادونه کړې چې ښاغلي مدون او يا پښتو اکاډمۍ موندلي او دا متن يې ترې تيار کړی، خو بيا هم هلته د برېټش موزيم کومه يادونه نه ده شوې چې هغه ټول لمنليکونه به دلته په ترتيب سره را نقل کړو:

((۱. د اکیډیمۍ په نسخه کې دا مصرع داسې لیکلې ده:...(د کابل چاپ: ۱۱۰مخ/ د پېښور چاپ: ۸٦مخ.)؛ ۲. د کالج په نسخه کې «نماستاه» لیکلی دی. (کابل چاپ: ۱٦۲مخ/ پېښور چاپ: ۱۱۹مخ)؛ ۳. دا کلمه د کالج په نسخه کې طینک یعنې ټینګ لیکلې ده. (کابل چاپ: ۱۸۱وخ، پېښور چاپ: ۱۳۲مخ) او ۴. ... ولې دغه عبارت د کالج او د اکیډیمۍ دواړو قلمي نسخو کې نشته....(کابل چاپ: ۳۵۰مخ/ پېښور چاپ: ۲۴۲مخ)

پورته د برېټش موزیم هېڅ یادونه نه ده شوې. پر دې سربېره د نورو نسخو یادونه هم شوې، چې هغه د ګلستان د دري متن په اړه دي چې دلته به یې یوازې د مخونو پر شمېره بسنه وکړو:

۱. کابل چاپ ۱۱۵مخ.[۱]
۲. کابل چاپ: ۱۲۳مخ/ پېښور چاپ: ۹۳ مخ.[۲]
۳. کابل چاپ: ۱۲۴مخ/ پېښور چاپ: ۹۴ مخ.[۳]
٤. کابل چاپ: ۱۷۲مخ/ پېښور چاپ: ۱۲۵مخ.[٤]
۵. کابل چاپ: ۳۳۹مخ/ پېښور چاپ: ۲۳۵مخ.[۵]
٦. کابل چاپ: ۳۴۷مخ/ پېښور چاپ: ۲۴۰مخ.[٦]

د افغانستان د علومو اکاډمۍ په چاپ کړې نسخه کې د پېښور چاپ لمنلیکونه کابو په بشپړ ډول رانقل شوي؛ خو بیا هم د ګوتو په شمار داسې لمنلیکونه شته چې دلته نه دي رانقل شوي.

۱. د کابل چاپ ۲۵۷مخ لمنلیکونو کې د مهتمم له خوا لیکل شوي، چې دلته دې شمېرو ته اشاره نه ده شوې، خو د مدون (خیال بخاري) مقصد ((۲،۳،۴- ز)) نه دا ده چې دا برخې زیاتې شوي.. ۱۸۳مخ.

---

[۱]. دلته چې د کومو جملو ترجمه شوې ده، دغه جملې د پېښور او د «بهارباران» په نسخو کې په دې ځای کې نه دي، بلکې هم د دې باب په شپاړسمه قصه «د سپاه ګوش را ګفتند...» کې راغلي دي. د پلاټس په نسخه کې په دواړو ځایونو کې راغلي دي.

[۲]. په اصل نسخه کې روسپي لیکلی دی، چې ډمې یا بدکارې ښځې ته وایي. (دلته اصل نه مراد ګلستان دی.)

[۳]. په ځینو اصلو نسخو کې د شتران پر ځای شیران هم لیکلي دي.

[٤]. په اصل کې همدغه لفظ راغلی دی، هلته یې معنا د ډاکه‌مار یا شوکمار ده.

[۵]. مردی (لندن نسخه) مردکی (پېښور نسخه)

[٦]. دا عبارت په اصل نسخو کې په طور د عنوان لیکلی شوی دی.

۲. د کابل چاپ ۳۵۰مخ/ پېښور چاپ ۲۴۲مخ: دلته لمنلیک کې هغه دري متن چې له گلستان نه رانقل شوی، راوړی یې دی، مهتمم لیکلي چې نه لوستل کېږي، خو د اکاډمۍ په کتابتون کې چې کومه چاپي نسخه ده لوستل یې سخت نه دي، یعنې د لوستو وړ دي. همدارنگه مهتمم کولای شول چې له گلستان نه دا برخه نقل کړي.

۳. د کابل چاپ: ۳۵۸مخ/ پېښور چاپ: ۲۴٦مخ: دلته د پېښور چاپ نسخې لمنلیک بیا پرېښودل شوی، د اکاډمۍ په کتابتون کې چې د پېښور چاپ کومه نسخه خوندي ده، په هغه کې لوستل کېږي، خو مهتمم له خپلې نسخې شکایت کړی چې نه لوستل کېږي، کېدای شي د دې کتاب له مهتمم سره کومه بله داسې چاپي نسخه وي چې دغه ځای یې د لوستو وړ نه وي.

ښاغلي خیال بخاري د دغه متن لپاره کومه لغت‌نامه/ وییپانگه نه ده ترتیب کړې، ښاغلي هاشمي یوازې یو ځای په لمنلیک کې د یوې کلمې لپاره معنا راوړې ده. د افغانستان د علومو اکاډمۍ چاپ ۲۲۳ مخ.

**د دغه اثر کره کتنه**

تر ټولو مخکې یوه یادونه غواړم وکړم چې دا تدوین شوی متن د لیکدود په تغییر د پېښور د پښتو اکاډمۍ له خوا د خپاره شوي متن چاپ دی. داسې یوه یادونه نه ده شوې چې ایا د چاپ اجازه یې له پښتو اکاډمۍ اخیستل شوې او که نه؟ دویم دا پر پخوانۍ سریزې سربېره پر دې اثر دوه یادښته او یوه بله سریزه هم ورزیاته شوې چې د عبدالقادرخان خټک د ژوند او اثارو په اړه ده.

د متنپوهنې د اصولو له مخې، د یو اثر مؤلف، لیکوال او شاعر که مشهور کس وي، په ادبي تذکرو او ادبي تاریخونو کې پېژندل شوی وي، که کوم اثر یې تدوینېږي اړتیا نشته چې د هغه پر پېژندنې او بیا پر اوږدې پېژندنې باندې اثر وپړسول شي. ((که د متن لیکوال یا شاعر د ادبیاتو تاریخ کې مشهور سړی وي او کتاب یې هم تر دې چاپ دمخه څو ځله چاپ شوی وي او له ځانگړنو یې هم خلک خبر وي نو په دغسې حالاتو کې متن څېړونکي ته ښایي چې مقدمه مختصره ولیکي))[1] عبدالقادرخان خټک د پښتو ژبې مشهور شاعر دی چې هر څوک یې له نوم سره اشنا دي، بل په یادښتونو کې پر دې اثر سربېره پر اصلي اثر چې گلدسته ترې راژباړل شوې (د سعدي گلستان) باندې هم ډېر بحثونه شوي، چې دا

[1]. د استاد هېوادمل لکچر نوټ ((د متن د چاپ د مرحلې پیل)) لکچر: ٦١ مخ.

چاره هم د متنپوهنې د اصولو له مخې اړینه نه وه، ځکه د سعدي ګلستان مشهور اثر دی، زیاترو خلکو په جوماتونو کې لوستی او له نوم سره خو یې ټول اشنا دي.

د دغه چاپ د مهتمم په سریزه کې یوه مهمه برخه چې د پام وړ ده او باید پرې خبرې شوې وای هغه ((د ګلدستې دا متن)) سرلیک دی، چې دلته د دغه متن کره‌کتنه شوې ده او خپل مأخذونه یې هم ښودلي دي.

که څه هم دا متن د یو چاپ شوي متن د لیکدود په تغییر بیاځلې چاپ دی، خو بیا هم غواړم د کتاب پر تدوین هم لنډې خبرې وکړم:

دغه متن ډاکټر عظیم شاه خیال بخاري تدوین کړی دی. متن له نن نه کابو ٦۴ کاله وړاندې په ١٩٦١م کال کې تهیه شوی، هغه وخت په پښتو کې د متنپوهنې د پوهې په اړه کوم اثر او بحث نه و، بلکې متن‌څېړونکو په عنعنوي ډول د ګاونډیو ژبو د متنپوهانو او یا د ختیځپوهانو په تقلید متنونه تهیه کول. له دې سره سره متن په ډېر دقیق ډول تهیه شوی، په لومړي سر کې یوه اوږده سریزه ده، خو د متنپوهنې د اوسنیو اصولو له مخې لږ د غور وړ ده. په دې سریزه کې د ګلستان په اړه ډېر اوږد بحث راغلی دی. چې ورته ډېره اړتیا نه وه، ځکه هغه وخت دا د مسجدونو او مدرسو د درسي نصاب جز و، هر څوک ورسره بلد ول او په ارزښت یې پوهېدل. بل د ګلستان د بېلابېلو چاپونو او نسخو بدلونه هم راوړل شوي چې له دې کتاب سره هېڅ ډول تړاو نه لري. په سریزه کې د متن ژورو ته ننوتی، ځینې برخې یې پرتلیزې راوړي، په متن کې پر تصرفاتو باندې بحث شوی او ځینې ځیزونه چې لرې شوي هم یاد شوي دي. په کیسو کې کمی زیاتی هم ښودل شوی، خو دلته هم اول پارسي چاپ ګلستان او له مدون سره چې د ګلستان کومه خطي او چاپي نسخې دي، د هغوی کمی او زیاتی ښودل شوی او بیا له ګلدستې سره کتل شوي. د ژباړې په اړه هم بحث شوی چې مفصل بحث دی. په نظم او نثر کې ژباړه له بېلابېلو اړخونو له دري متن سره کتل شوې چې دا د سریزې مهمې برخې دي او د متنپوهنې له اصولو سره برابره چاره ده. د سعدي شیرازي او عبدالقادرخان خټک پېژندنې هم را اخیستل شوي. د سریزې په پای کې د هغو دوو نسخو په اړه هم لنډه یادونه شوې چې پښتو اکاډمۍ موندلي دي. که بحث راټول کړو، سریزه له ځینو اضافي خبرو سره سره یو ښه او په زړه پورې سریزه ده، چې لوستونکي سره د دغه کتاب «ګلدسته» په پېژندنه او د ژباړې پر څرنګوالي کې ډېره مرسته کولای شي.

د دغه کتاب د تدوین روش نه دی ښودل شوی او نه هغه وخت زموږ پوهانو په دغه پوهه کې دومره مطالعه لرله. متن له دوو نسخو څخه تهیه شوی دی. له متن نه ښکاري چې دغه نسخې سره ډېرې ورته دي او کېدای شي، د یوې کورنۍ وي، ځکه نسخه بدلونه یې ډېر کم

او په نشت حساب دي او په عنعنوي ډول متن تهیه شوی او کېدای شي التقاطي ته ورته میتود نه یې کار اخیستی وي. په دغو کې د اسلامیه کالج نسخه په ۱۱۲٦هـ.ق کې لیکل شوې، یعنې د «گلدسته» له ژباړلو نه دوه کاله او یا له دوو کالو هم په کم واټن لیکل شوې، د خطي نسخو فهرستونو ته په کتو سره که دا متن هر څوک تیاروي دا نسخه[1] باید د اصل په توگه وټاکل شي، چې له ښه‌مرغه د دې تحقیقي متن په تدوین کې دا نسخه شامله ده.

کتاب لمنلیکونه لري، په لمنلیکونو کې تر ډېره د پښتو او دري متن مقابلوي جاج اخیستل شوی، چې چېرته متن حذف شوی په (ح) ښودل شوی او دري متن په لمنلیک کې ذکر شوی، کوم ځای کې چې متن زیات شوی زایده برخه په (ز) او په کوم ځای کې که پښتو او دري متن سره سر نه خوري په دغه ( ل )ښودل شوي. د کلماتو معنا نه په لمنلیک کې شوې او نه هم د کتاب په اخر کې کومه وییپانگه لري. سره له دې چې په متن کې موږ ډېرې سختې کلمې لرو، چې باید معنا شوې وای. چې دا یې تر ټولو هغه عمده نیمگړتیا گڼلی شو.

مدون د متن په تدوین ډېر سخت زیار گاللی، په ځانگړي ډول د پښتو او دري متن د تطبیقي مقابلې په برخه کې چې ټکي په ټکي یې سره کتلي دي.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ په چاپ کې که فهرست او وییپانگه ورزیاته شوې وای، نو د دې تحقیقي متن هغه نیمگړتیاوې به بشپړې شوې وای.

## د نواب محبت خان پښتو دیوان

دغه دیوان د سرمحقق زلمي هېوادمل په سریزه او سمون د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ادبیاتو انستیتوت له خوا په ۱۳۸۴ل کال کې ((د محبت خان د دوه سوم تلین ۱۲۲۳- ۱۴۲۳هـ ق)) په ویاړ چاپ شوی دی.

د دیوان په پښتۍ، اهدا او کتاب‌پېژندنې پسې پیوسته د «مننه او کوروداني» تر سرلیک لاندې د وخت د علومو اکاډمۍ د علمي منشي د سرڅېړونکي مرستیال نصرالله سوبمن له خوا پیل خبرې/ یادښت ته ورته لیکنه راغلې، ورپسې سریزه راغلې چې له «یو مخ نه پیل تر نهه پنځوس» ام مخ پورې ورپسې د سریزې حواشيې او مأخذونه راغلي، «له نهه پنځوس نه پیل تر څلور شپیته» مخ پورې. په دې پسې د دیوان فهرست راغلی «له پنځه شپېته نه تر اته اتیا» مخ پورې.

په دې پسې دیوان له «۱مخ نه پیل شوی تر ۳۸۳ام» مخ پورې، ورپسې لغتنامه راوړل شوې «له ۳۸۴ نه تر ۴۰۳مخ پورې» چې ټول کتاب کابو په پنځه سوه مخونو کې چاپ شوی دی.

---

[1]. د پېښور اسلامیه کالیج نسخه.

د کتاب په سریزه کې تر ټولو لومړی د دې دیوان د خطي نسخې د راغوښتلو کیسه بیان شوې، ورپسې په مختلفو سرلیکونو سریزه وېشل شوې: «پر محبت خان د شوي کار جاج او د مأخذ ارزیابي» تر سرلیک لاندې د هغو تذکرو او اثارو په اړه بحث شوی چې د نواب محبت خان په اړه یې څه لیکلي دي. دغه برخه هغه ټولې لیکنې راسپړي چې په اردو، فارسي او پښتو کې د نواب محبت خان په اړه شوي؛ ورپسې «کورنۍ او نسب» باندې یې خبرې شوي، له نورو لیکنو سره یې تفاوت په دې کې دی، چې د دیوان له داخلي شهادتونو هم کار اخیستل شوی؛ «هندوستان ته د نواب محبت خان د کورنۍ تګ»، څېړل شوی؛ «زوکړه او نوم» تر سرلیک لاندې د نواب محبت خان د زوکړې نېټه او د هغه په نومونو چې ځینو نواب محبت الله خان او نواب محب الله خان هم ښودلي بحث شوی؛ «د پرورښت محیط» ترسرلیک لاندې هغه چاپیریال چې نواب په کې راغټ شوی بحث شوی؛ «زده کړې او مهارتونه»؛ «سیرت او عادت»؛ «د محبت خان د ژوند بحراني حالات» سرلیکونه راغلي دي. «په لکهنو کې د محبت خان مشاغل»، «۱) عربي اثار، ۲)اردو اثار، ۳)فارسي اثار، ۴) پښتو اثار» بحث شوی، چې کوم چاپ او کوم ناچاپ دي، خطي نسخې یې چېرته موندل کېږي. له دې ټولو وروسته د دیوان د ترتیب په اړه بحث شوی دی. هغه ستونزې چې د دیوان په لیکدود کې وې او هغه څه چې دی یې په ترتیب کې له ستونزو سره مخامخ شوی یادې شوې دي.

د نواب محبت خان د شاعرۍ په اړه یوازې د «پښتو اثار» تر سرلیک لاندې لږ بحث شوی، چې هغه هم په هغو شعرونو چې د ارزاني، دولت لواڼي، خوشحال خان خټک او عبدالرحمان بابا د شعرونو پر ځمکه یې ویلي او یا له فکري اړخه هغو ته نږدې دي، چې ډېر په کې د عبدالرحمان بابا او خوشحال خان خټک د شعرونو ځمکې دي.

د دغه کتاب متن له واحدې نسخې څخه تهیه شوی، د سرمحق زلمي هېوادمل په وینا چې تر اوسه پورې د نواب محبت خان د دیوان همدا یوه نسخه موندل شوې چې د انګلستان د بودلیان د لایبریري د خطي نسخو په مجموعه کې ساتل کېږي.

((د دیوان دا نسخه به غالباً د مؤلف په خپل خط وي دا نسخه یې د ۱۸۰۱م کال د اکتوبر په لومړۍ ورځ سرګور اوزلي ته په لکهنوکې اهداء کړې ده. د نسخې په پای کې د ګور اوزلي یادښت په انګریزي ژبه راغلی او لاندې ترې په فارسي لیکل شوي دي: «دیوان محبت در زبان پښتو، تصنیف نواب صاحب مشفق کرم فرما نواب محبت خان، پسر نواب حافظ رحمت خان مرحوم از دست مصنف به این جانب مرحمت شد» رقیمهٔ ګور اوزلي)) (هېوادمل، ۱۳۸۴: شپږ څلویښت – اوه څلویښت مخونه)

## د دغه متن کره‌کتنه

د کتاب متن له یوې خطي نسخې نقل شوی، نو ځکه نسخه بدلونونه نه لري او تر دې مخکې د نواب محبت خان د پښتو شعر نمونه له یوې ټوټې چې د پلار د مرگ نېټه یې په کې یاده شوې وه، د شعرونو کومه بله بېلگه یې زموږ د ادبپوهانو لاس ته نه ده ورغلې. پوهاند میرحسین شاه چې کله انگلستان ته تللی و، د نواب محبت خان یوه غزله یې له همدې نسخې (د بوډلیان په لایبرري کې چې خوندي ده) څخه رانقل کړې وه، چې بیا په وږمه مجله کې خپره شوه چې په دې سره د دې دیوان له چاپ نه مخکې له موږ سره د نواب محبت خان د پښتو شعر همدا دوه نمونې وې. په لمنلیکونو کې یوازې هغه املایي تغییرات ښودل شوي، چې په اصل نسخه کې د املایي تېروتنې په توگه او یا هم د اوسني لیکدود سره د توپیر له امله کلمې تغییر شوي دي، په لمنلیک کې ورسره دا وړ چلند شوی؛ یا یې هماغه کلمه پرې ایښې او لاندې په لمنلیک کې یې د کلمې اوسنۍ بڼه راوړې. یا سمه کلمه متن ته ولاړه ده، د نسخې کلمه لمنلیک ته راغلې ده. یا ځینې کلمې په لهجوي بڼه راغلي، د هغو معیاري بڼه یا اوسنۍ دود بڼه یې په لمنلیک کې ښودل شوې.

خرڅئ نه څوک شکرې نه څوک پېرې

شیرین لب دې چې بازار د شکر مات کړ(محبت خان،۱۳۸۴:  ٦٧مخ)

په پورته بیت کې (خرڅئ) ته په لمنلیک کې اصلي بڼه: «خرڅوي» لیکل شوې ده.

د مجاز ښایست بې عیبه کله وي

چې و ښپو ته نظر کا ژاړي طاووس(پورته ماخذ، ۷۸مخ)

ښپو: پښو

څو ژوندی یم پدا بحر کې حباب یم

پس له مرگه که مې څوک گوري دریاب یم(هماغه، ۱۲٦مخ)

اصل نسخه کې «پدای» راغلي، چې هغه لمنلیک ته او «پدا» یې پرځای متن ته انتقال شوې.

په همدې توگه په ټول کتاب کې چې اړتیا پېښه شوې د املایي ستونزو له امله لمنلیکونه ورکول شوي، مشکل لغات د کتاب په پای کې د «لغتنامه» تر سرلیک لاندې تشریح شوي دي. دغه لغاتونه د قاموسونو په وسیله حل او ورته لیکل شوي چې له کوم قاموس نه اخیستل شوي. په خپله مدون لیکي: ((د نواب محبت خان دیوان ځینې داسې پښتو، فارسي، هندي او عربي لغتونه لري چې ښایي ځینو لوستونکیو ته پرې پوهېدل گران وي، نو ځکه مې له عامو لوستونکیو سره د مرستې په خاطر د دیوان ځینو لغتونو ته له عامو فرهنگونو څخه معناوې ورکړې دي. همدا

راز دا هم باید یاده کړم چې د نواب په دیوان کې ځینې داسې لغات هم وو، چې ما یې زما تر لاس لاندې فرهنګنو کې معناوې پیدا نه کړې.)) (هېوادمل، ۱۳۸۴: ۳۸۴مخ)

لغات یې د غزل د شمېرې له مخې ترتیب کړي؛ د نمونې په توګه به یې یو راوړم:

- دوشاله (غ ۱): شال، دوپټه شال، دوبره شال، کشمیري شال، ښځینه شال (تشریحي قاموس) (محبت خان، ۳۸۴مخ).

له دې سره- سره ځینې داسې ټایپي تېروتنې هم شوي چې اصل کلمې سمې نه دي لیکل شوي، ما چې کله وییپانګه کتله له یوې داسې ستونزې سره هم مخامخ شوم، چې کلمه راغلې وه، خو په متن کې مې و نه موندله: ((سوره: ۴۰۲مخ، غزل شمېره ۳۸۰ ښودل شوې)) خو هلته دا کلمه نشته. کله مې چې متن په ځیر سره بیا وکوت هغه د «سدره»[1] کلمه وه.

دغه متن له واحدې نسخې څخه تهیه شوی دی، چې د دا ډول تدوین میتود قیاسي بلل کېږي، دا چې غالب ګومان همدا دی چې متن په خپله د لیکوال په قلم لیکل شوی؛ نو متن مستند او یوازې له یوې نسخې نه نقل یې هم د متنپوهنې د اصولو له نظره د پوره ارزښت او باور وړ دی، داسې ډېرې کمې نسخې موندل کېږي چې په خپله د شاعر یا لیکوال په لاس لیکل شوې وي. د متنپوهنې موخه دا نه ده چې متن دې له ډېرو نسخو برابر شي، بلکې موخه یې د شاعر یا لیکوال اصل متن ته ځان رسول دي.

نواب محبت خان زموږ په فرهنګي کړیو کې کم پېژاندی شاعر دی، پښتو دیوان یې هم په لومړي ځل چاپ ته اماده شوی، تر دې مخکې یوازې میر حسین شاه د ده پښتو کلام کتلی او رانقل کړی و؛ نو په سریزه کې  د دې کتاب مدون نوموړی د داخلي او خارجي منابعو په وسیله راپېژندلی دی. هغه منابعې یې ارزیابي کړې چې له دې مخکې د نواب محبت خان پېژندنه په کې راغلې وه. د دیوان د منځپانګې په اړه ډېر څه نه دي ویل شوي، یوازې د مخکنیو شاعرانو لکه میرزاخان انصاري، دولت لواڼي، خوشحال خان او عبدالرحمان بابا د شاعرۍ پر ځمکه یې چې کومه شاعري کړې هغه ښودل شوې او یا یې د فکري ورته والي له اړخه ځینې بېلګې په نښه شوي دي. نسخه روغه او بشپړه ده. د دې سریزې حجم له دې امله چې شاعر یې زموږ په تذکرو او ادب تاریخونو کې ډېر نه دی پېژندل شوی، نو د متنپوهنې له اصولو سره برابره – یعنې اوږده، مفصله او هر اړخیزه- ده. د خپلې سریزې لپاره یې چې له کومو منابعو څخه ګټه اخیستې هغه یې هم ښودلي دي، خو یوه خبره چې باید د سریزې په اړه وویل شي هغه دا ده چې په خپله د دیوان د منځپانګې برخه یې کمه ده، اړتیا وه چې د نواب محبت خان د دیوان پر منځپانګې باندې کافي بحث شوی وای، ځکه دا

[1]. ((ملایک تر هغه ځایه کله رسي- تر سدرې هورته که ښپه ږدي خو آدم ږدي))

یې لومړی ځل چاپېدل و.

د دیوان فهرست هم جوړ شوی، چې د هر غزل د مطلع له لومړۍ نیم‌بیتي سره یې د مخ شمېره راوړې ده. چې دا هم ډېر ګټور کار دی. لوستونکی یا څېړونکی د لټونې پرمهال په اسانه کولی شي چې خپل موخن شعرونه یا بیتونه ومومي. دا چې دیوان له واحدې نسخې اماده شوی، نو نسخه بدلونونه په کې نشته، خو مدون هغه سمونې چې په اصلي متن کې کړي، د اصلي متن کلمې یې لاندې لمنلیک ته را انتقال کړي دي. په پای کې وییپانګه ورکول شوې چې د عامو قاموسونو له مخې کلمات معنا کړل شوي دي.

**فرحت‌المجتبی**

فرحت‌المجتبی د بایزید روښان یوه وړوکې رساله ده چې ټولې ۱۷ رباعي لري، د دې هرې رباعي په پای کې یو بیت په تکراري ډول راغلی دی، چې له دې تکرار سره ټوله رساله ۵۱ بیتونه کېږي. دغه نسخه سرمحقق زلمي هېوادمل د ډیلي د موزیم په خطي نسخو کې موندلې، چې د بایزید له یوې بلې رسالې چې د تذکره علم یا د علم رساله نومېږي په پای کې راغلې ده. د پیر روښان «تذکره علم» رساله د روښانیانو ترمنځ د «تذکره» په نامه مشهوره ده. دغه رساله د ۱۳۵۵ کال په چاپ کې د میاروښان رساله او دویم ځل په ۱۳۶۴ل کال چاپ کې «د علم رساله» په نامه چاپ شوې. د ډیلي د موزیم دغه خطي نسخه وینو خوړلې چې په دې کې درې نیم‌بیتۍ چې په (۸ او ۱۲) رباعي کې په لومړۍ کې یوه او په دویمه کې دوه نیم‌بیتۍ دي د (....) په بڼه ښودل شوي؛ یعنې د لوستو وړ نه وې. همدارنګه ځینې کلمې هم مغشوشې دي.

د کتاب د پېښتۍ، پېژندنې، بسم الله او د فهرست نه وروسته «د بایزید روښان فرحت المجتبی» تر سرلیک لاندې د مدون پیلېزې خبرې راغلي. ورپسې سریزه راغلې چې په سریزه کې د هغې نسخې، چې د فرحت‌المجتبی متن په کې و، په اړه معلومات، «زما تېروتنې» تر سرلیک لاندې د دې رسالې په اړه لومړۍ ناسمه انګېرنه او د سریزې په وروستۍ برخه کې د قلندر مومند د هغو اعتراضونو چې په «د خیرالبیان تنقیدي مطالعه» نومي کتاب کې یې «د علم رساله» او «فرحت‌المجتبی» په اړه کړي وو، ځوابونه ویلي دي.

فرحت المجتبی مخکې تر دې چې د مستقلې رسالې په توګه چاپ شي، په «تلوسه» مجله کې چاپ شوی دی. دغه رساله چې استاد هېوادمل په لومړۍ ځل لیدلې وه، داسې یې انګېرلې وه چې دا «د علم رساله» برخه ده، مدون په خپله لیکي: ((کله چې ما د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې نومي کتاب لپاره د هند د ځینې کتابخانو له پښتو خطي نسخو خپل اخیستي یادښتونه سره ترتیبول نو مې یوه اشتباه دا کړې وه چې هلته مې

فرحت‌المجتبی او (تذکره میا روښان) د یوه کتاب دوه نومه بللي وو او د فرحت المجتبی نوم مې هم د بایزید تذکرې ته راجع بللی و او بله اشتبا مې دا کړې وه، چې د فرحت المجتبی نظمونه مې د نسخې د کتاب گل محمد روښاني بللي وو. زه خپلې اشتبا ته هغه وخت متوجه کړل شوم چې کله ما له دهلي څخه د بایزید د تذکرې راوړی نقل اروانښاد دوست ته ورکړ. څو دوی زما د نسخې او د پښتو ټولنې د نسخې او دغه نقل له مخې د دې رسالې یو تحقیقي متن تیار کړي. که څه هم ما هغه وخت تذکرې سره د فرحت المجتبی رساله گرده نه وه نقل کړې، بلکه د پیل او پای څو رباعي مې یې نقل کړې وې، ښاغلي دوست چې دغه څو رباعي کتلې وې نو یې دا عقیده ښکاره کړه چې د دهلي په نسخه کې چې تر تذکرې وروسته ځینې رباعي راغلي دي دا هم د بایزید دي)) (هېوادمل، ۱۳۸۵: ۱۱- ۱۲مخونه) د کتاب مدون دغه نسخه په لومړي ځل په ۱۹۸۳ کال کې لیدلې وه، خو هغه وخت یې یوازې د سر او پای څو رباعي رانقل کړې وې، بیا چې کله خپلې دغې تېروتنې ته متوجه شو، نو په ۱۹۹۱ز کال کې دغه متن رانقل کړ، خو کله چې په تلوسه مجله کې یې خپرول، متوجه شوی و، چې ځینې کلمې مغشوشې دي، ځکه یې نو په ۲۰۰۵ کال کې دا متن له سره بیا رانقل کړ، چې همدا تحقیقي متن یې د چاپ لپاره ترې اماده کړ. د خطي نسخې د لیکلو کال استاد هېوادمل ۱۱۲۷ هـ.ق ښودلی دی او خطاط یې د رشید اباد اوسېدونکی گل محمد روښاني دی. دا رساله په مستقله توگه په ۱۳۸۵ کال کې د علومو اکاډمۍ د کابل مجلې له خوا په ۲۰٫۵x۱۴٫۵ قطع کې – د اشرف خان هجري د درې سوم تلین (۱۱۰۶- ۱۴۰۶هـ.ق) په ویاړ- چاپ شوې ده.

د کتاب متن: د کتاب اصلي متن له ۲۳ څخه تر ۳۰ مخونو پورې دی. په لمنلیکونو کې هم هغه املایي ستونزې، چې په کتاب کې وې ښودل شوې. مدون د کلمو سمې بڼې اصل متن ته او ناسمې یې لمنلیکونو ته را انتقال کړې دي. د دې تر څنگ د ستونزمنو کلمو معنا او د ځینو موضوعاتو په اړه خیرالبیان ته مراجعه شوې ده.

**د دغه تحقیقي متن کره‌کتنه**

دغه متن له یوې خطي نسخې څخه تدوین شوی، د مدون په وینا چې یوازې همدا یوه نسخه یې معلومه او د کومې بلې نسخې پته یې نه وه. نو په دې توگه له واحدې نسخې دغه متن تهیه شوی چې میتود یې قیاسي راځي، ځینې، املایي او انشایي ستونزې په لمنلیکونو کې حل شوي، مشکل وییونه، معنا شوي او ځینې محدود وضاحتونه هم شوي دي.

سریزه پرې لیکل شوې، د متنپوهنې د اصولو مطابق اول د هغه چاپ په اړه چې مخکې د مدون له خوا شوی و او په هغه کې ستونزې وې او نیمگړتیاوې موجودې وې او له بلې خوا

د مستقل اثر په توګه نه و، بلکې په یوه مجله کې خپور شوی و، ځکه د دویم چاپ لپاره اړتیا وه. د متنپوهنې له مخې سریزه له اصولو سره برابره لیکل شوې ده. د استناد له اړخه یې هم پر دې متن خبرې کړي او د داخلي شهادتونو او هم سبک ته په کتو سره دا متن د بایزید روښان ښکاري، چې مدون په دې اړه اعتراضونه هم قانع کوونکي ځواب کړي دي. د سریزې مأخدونه ښودل شوي دي.

د متنپوهنې له اړخه یې دا تدوین په سمه توګه کړی، خو بیا هم څه ناڅه د تېروتنو ښکار شوی، په ځانګړي توګه سریزه، خو دا تېروتنې ډېرې کمې او ټایپي دي. یو ځای لولو: ((د بایزید د خیرالبیان دوې نسخې هماغه مهال وموندل شوې، یوه د برلین نسخه چې ټوله په څلورو ژبو ده او بله د حیدرآباد د دکن نسخه چې بشپړه ده او د خیرالبیان ټول مطالب پکې په څلورو ژبو راغلي چې تر اوسه نه ده چاپ شوې.)) (هېوادمل، ۱۳۸۵: ۲مخ)

داسې ښکاري چې د وخت د کمښت او یا د مدون د زیات مصروفیت له امله نوموړي دا متن بیرته نه دی لوستلی، اصلاً باید ((... یوه د برلین نسخه چې ټوله په څلورو ژبو نه ده او...)) لیکل شوې وای. یوه بله یادونه هم باید وکړم چې دا دویمه نسخه هم اوس په کندهار کې د معصوم هوتک په اوډنه چاپ شوې ده، حتی له همدې نسخې یوازې پښتو متن هم د یو مستقل کتاب په بڼه چاپ شوی دی.

## یوسف زلیخا

د حضرت یوسف علیه سلام کیسه په قرآنکریم کې د یوسف په سورت کې راغلې او په قرانکریم کې «احسن القصص» بلل شوې. ویل کېږي چې دغه کیسه په تورات کې هم راغلې وه او په یهودو کې له پخوا څخه دا کیسه رانقل شوې وه. لکه څنګه چې په قرآن عظیم الشان کې د «احسن القصص» په نامه بلل شوې له ډېرو پخوا زمانو څخه د خلکو ورسره لېوالتیا ده، ځکه خو د نړۍ په مختلفو ژبو کې په نثر او نظم ویل شوې ده. په پښتو کې هم دا کیسه له ډېرو پخوا زمانو څخه په نظم او نثر ویل شوې او تر موږ پورې رارسېدلې ده. کومې منظومې چې په دې اړه ویل شوي د کیسې د خوند موندلو یا پخوانیو روایتونو له مخې ډېر څه پرې زیات شوي. د «یوسف زلیخا» کومه کیسه چې دلته زموږ موخه ده، هغه د عبدالقادرخان خټک (۱۰۶۳هـ - ۱۱۲۵هـ پورې یقیني) ژباړلې «یوسف زلیخا» ده، دغه ژباړه د مولانا نورالدین عبدالرحمن جامي (۸۱۷- ۸۹۸هـ) له «یوسف زلیخا» څخه شوې. عبدالقادرخان په ۱۱۱۲هـ کال کې بشپړه کړې ده. د عبدالقادرخان خټک د دغه اثر ډېرې نسخې په افغانستان، پښتونخوا، هند، انګلستان او نوره نړۍ کې موندل کېږي.

پر خطي نسخو سربېره دا کتاب تر اوسه پورې څو ځلې چاپ شوی دی؛ لومړی ځل په

۱۲۸۸هـ ق کال (۱۸۷۱م)، دویم ځل په ۱۲۹۸هـ ق کال (۱۸۸۰م) د ډیلي په یوسفي چاپخانه کې، دریم ځل په ۱۳۱۵ هـ ق (۱۸۹۷م) کال د امیر عبدالرحمن خان په حکم د کابل په دارالسلطنه چاپخانه کې د ګل محمد خان محمدزي په اهتمام او څلورم ځل په ۱۳۴۱ هـ ق (۱۹۲۲م) کال د کندهاري سوداګرو ملا بسم الله او فتح محمد په فرمایش په لاهور کې چاپ شوی دی. (هاشمي، ۱۳۹۱: ن – س مخونه)

استاد حبیب الله رفیع هم د دې متن یوه نسخه د چاپ لپاره تیاره کړې وه، خو د ثور د کودتا او غمیزې له امله هغه په سیند لاهو شوه او چاپ نه شوه، په خپله استاد رفیع په دې اړه لیکلي دي: ((...دېرش کاله وړاندې مې یې ګڼې قلمي او چاپي نسخې راغونډې کړې او غوښتل مې چې د چاپ له پاره یې انتقادي متن برابر کړم. د ۱۳۵۷ کال د غوایي خونړۍ کودتا هر څه ګډ وډ کړل چې ورسره زما ژوند هم ګډ وډ شو او زما کارونه هم خواره واره او تس نس شول، چې ورسره د یوسف زلیخا دا کار هم له لاسه ووت)).( رفیع، ۱۳۹۱: و مخ)

پر پورته څلورو چاپونو سربېره د عبدالقادرخان خټک له «یوسف زلیخا» مېجر راورټي په «ګلشن روه» او پروفیسر ډورن په «پښتو منتخبات» کې هم څه برخې را اخیستي دي. د افغانستان د علومو اکاډمۍ غوښتل چې د دې اثر له څو نسخو نه یو بشپړ متن تهیه او چاپ کړي، د دې لپاره یې د یوې علمي پروژې په توګه څېړنوال نورالله ولسپال او څېړندوی عبدالمتین متین ته وسپارله او هغوی په ۱۳۶۰ل کال کې د دې متن د تدوین لپاره هڅې پیل کړې چې ډېر کارونه یې بشپړ شوي وو، خو په هېواد کې د ناخوالو او کورنیو جګړو له امله یې څه برخه له منځه ولاړه. ښاغلي څېړنوال نورالله ولسپال همت وکړ او هماغه برخې یې بشپړې کړې او دا متن یې چاپ ته تیار کړ او په ۱۳۹۱ ل کال کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا خپور شو. چې دایې د مستقل اثر په توګه د چاپ پنځم ځل شو.

زموږ موخن کتاب هم همدغه دی چې غواړو د تهیه شوي تحقیقي متن جاج یې واخلو. په دغه کتاب کې د کتاب لیکلړ، درې تقریظونه، د عبدالقادرخان خټک د یوسف زلیخا د متن نسخې، سریزه، د کتاب متن او وییپانګه راغلي دي، چې په منځ کې یوه نیمه نقاشي هم ورسره په ساده ډول چاپ شوې ده. چې ټولټال (۴۴+۳۹۱) مخونه لري.

**متني کره کتنه**

تر ټولو لومړی چې غواړم خبره وکړم هغه دا ده چې دغه متن له ډېرو نسخو څخه تیار شوی دی. په سریزه کې چې کومې نسخې ښودل شوي هغه دا دي:

## خطي نسخې

### آرشیف

۱. د ملي آرشیف خطي نسخه؛ خطاط او د لیکلو کال یې نه دی معلوم، ناقص الاول او اخر ده. (آ نسخه)

۲. د ملي آرشیف دویمه خطي نسخه؛ خطاط یې ملا ولي محمد، د لیکلو کال یې ۱۲۲۰ د صفرې ۲۹ کشمیر، بشپړه ده. (آ۲ نسخه)

### د افغانستان د علومو اکاډمي

۳. د افغانستان د علومو اکاډمۍ نسخه، بشپړه ده، د خطاط او کال په اړه یې یادونه نه ده کړې. (ع نسخه)

٤. د افغانستان د علومو اکاډمۍ دویمه نسخه، دا هم بشپړه ده. خو د خطاط او کال په اړه یې څه نه دي ویلي (ع۱ نسخه)

٥. د افغانستان د علومو اکاډمۍ دریمه نسخه، له سر او اخر نه نیمگړې، د خطاط او کال په اړه یې څه نه دي ویلي. (ع۲ نسخه)

٦. د افغانستان د علومو اکاډمۍ څلورمه نسخه، د حالت (چې بشپړه ده که نیمگړې) همدارنگه د خطاط او کال په اړه یې هېڅ نه دي ویلي (ع۳ نسخه)

### د پوهاند دوکتور اکاډمیسین عبدالاحمد جاوید نسخې

۷. ج۱ نسخه[1]

۸. ج۲ نسخه

## چاپي نسخې

۱. ع۲: د ۱۲۹۸ کال یوسفي مطبعې چاپ چې خپرونکی یې دیوان چهجو سنگهـ دی. ۱۵۲مخونه.

۲. ع: د ۱۳۱۵ کال د گل محمد په اهتمام، د دارالسلطنه چاپخونه، (۴٦مخونه).

دې ته د افغانستان د علومو اکاډمۍ دویمه چاپي نسخه لیکل شوې. مخکنۍ او دغه دواړې د علومو اکاډمۍ چاپي نسخې بلل شوي او موخه به یې دا وي چې د علومو اکاډمۍ په

[1]. د پوهاند جاوید د نسخو مشخصات یې مخکې لیکلي و، خو د دې تدوین کومې پاڼې چې له منځه تللې وې په هغو کې هغه پاڼې هم وې چې د پوهاند جاوید د نسخو پېژندنه په کې وه، نو ځکه د چاپ پرمهال د نسخو د مشخصاتو په اړه معلومات نشته، خو په متن کې نسخه بدلونونه شته دي.

کتابتون کې خوندي دي.[1] موږ چې مخففات ټاکو په دوو دلايلو وي؛ يو دا چې کار اسانه کړو او بل دا چې د رنګ، کاغذ او وخت سپما بايد وکړو. که د دغو چاپي نسخو لپاره، لومړۍ ته يې (هـ چ) او دويمه يې (ک چ) مخففات ټاکل شوي وای، لا به ښه و، ځکه د (ع) مخفف له دې پرته پنځه ځايه نور د خطي نسخو لپاره کارېدلی دی.

٣. ګ: ګلشن روه، ميجر راورټي، ۱۸٦۰ د هرتفورډ دسيتون آستين مطبعه. (دلته د منتخب منظوم متن په توګه يوه برخه چاپ شوې).

مخکې د پروفيسور ډورن د کتاب يادونه هم شوې، خو په نسخو کې يې نه دی معرفي کړي او ويلي يې دي: ((د پښتو منتخبات د پروفيسور ډورن ليکنه مو په م ډ، د ګلشن روه چاپي نسخه مو په (ګ) نوم ياده کړې ده.))(ولسپال، ۱۳۹۱: ع مخ) د ميجر راورټي د کتاب «ګلشن روه» يادونه شوې، خو د پروفيسور ډورن د «پښتو منتخبات» يادونه نه ده شوې. سره له دې چې په متن کې په لمنليکونو کې د پښتو منتخباتو نسخه بدلونونه را اخيستل شوي، چې بايد دلته يې هم يادونه شوې وای. په متن کې د لاهور چاپ نسخه بدلونونه هم موجود دي، خو په نسخو کې نه ده معرفي شوې. يوه يادونه ضرور ده چې په اول سر کې په لنډون د مخففاتو لپاره نسخې ښودل شوي، په هغو کې د لاهور چاپ نسخه او د ډورن پښتو منتخات دواړه ياد شوي، خو په نسخه پېژندنه کې بيا يادونه نه ده شوې. پر دې سربېره په لمنليکونو کې د داسې نسخو يادونه هم شته چې په سريزه کې يې هيڅ يادونه نشته؛ لکه (ع۴) چې کېدای شي «علومو اکاډمۍ ۴ نسخه» مخفف وي، ډېر کارېدلای خو په نسخه پېژندنه کې يې هېڅ ځای نه دی ورکړی. د بېلګې په توګه د کتاب په ۷۹مخ کې ۲ لمنليک، په ۹۰ مخ کې ۴ لمنليک، ۹۳مخ ۴، ۹ او ۱۱ لمنليکونه.... په دې سره بايد د اکاډمۍ نسخې پنځه شي، ځکه ((ع، ع۱، ع۲، ع۳)) تيار په نسخه پېژندنه کې هم معرفي شوي او هم عملاً په متن کې په ډېرو ځايونو کې کارېدلي دي. يوازې دا نه د کتاب په ۱۵٦مخ کې ۲، ۳ او په ۱۵۷مخ کې ۲، ۱۰ او ۱۱ لمنليکونو کې د وړمې مجلې بدلونونه هم راخيستل شوي چې په سريزه کې ورته هېڅ اشاره نه ده شوې او نه په لمنليک کې دا ويل شوي چې دوړمې د کوم کال کومه ګڼه ده.

له دې نه ښکاري چې د نسخه پېژندنې او لمنليکونو په برخه کې ناهمغږي موجوده ده. په خپله د نسخه پېژندنې برخه هم نيمګړې ده او هم نسخې چې په کوم ډول راپېژندل شوي، دقيقې او هغه معلومات چې بايد د نسخو په اړه له لوستونکي سره موجود وي نه دي ورکول شوي.

---

[1]. د ۱۲۹۸هـ کال د هند يوسفي مطبعې چاپ نسخه ما د علومو اکاډمۍ په کتابتون کې و نه موندله.

د متنپوهنې له نظره کله چې د یوه متن نسخې ډېرې وي هغه کټه‌گوري کېږي، کتل کېږي هغه نسخې چې دا گومان پرې وشي چې دا له کومې پخوانۍ واحدې نسخې څخه رانقل شوې هغه د یوې کورنۍ نسخې بلل کېږي، د دې ښه‌والی دا وي چې زموږ کار اسانه کوي خطاطان ډېرې داسې تېروتنې کوي چې موږ په متن کې له ستونزو سره مخامخوي، د یوې کورنۍ له نسخو نه موږ یوه نسخه له هغو ټولو نه په استازولۍ ټاکو چې تر نورو یې تېروتنې کمې وي او نسخه بشپړه او ښه وي. بیا مو چې کټګورۍ کړې، زموږ کار اسانېږي، کېدای شي هغو ټولو نه دوه یا درې نسخې د بېلابېلو کورنیو په نمایندهگۍ ولرو چې موږ ته به د متن تیارول هم اسانه وي او هم به لوستونکي له ډېرو بدلونو سره نه مخامخ کوو، ((د نسخو د مطالعې بل هدف دا دی چې د میسرو نسخو کورنۍ معلومې کړي. د نسخو د کورنیو معنی دا ده چې په میسرو نسخو کې د دوو، دریوو او حتی زیاتو خطي نسخو منبع یوه وي. یعنې له یوې خطي نسخې په بیلابیلو وختونو کې بیلابیل نقلونه تهیه شوي او یا د همدې نسخې له نقل بل نقل او یا ډیر نقلونه اخیستل شوي وي. متنپوهان دغه ډول نسخې چې منشاء یې یوه وي، د نسخو یوه کورنۍ بولي.)) (هېوادمل، ۱۴۰۲: ۳۸مخ) دلته (د یوسف زلیخا په تحقیقي متن کې) هم له ډېرو نسخو څخه کار اخیستل شوی، ښه به دا وو، چې نسخې په بېلابېلو کورنیو وېشل شوې وای.

المنجد د تحقیقي متن په اړه لیکلي دي: «(د متن) له څېړنې څخه مراد دا دی چې بې له شرحو څخه یو صحیح متن رامنځته سي او هغه راز متن وي چې مؤلف ترتیب کړی او کښلی وي. زیاتره محققین دغه ټکي ته متوجه نه دي او په نتیجه کې لمنلیکونه له بې ځایه شرحو او زوائدو څخه ډکوي.» (هوتک، ۱۳۹۰: ۴۷مخ)

د تحقیقي متن عمده هدف د مؤلف لیکلي او ترتیب کړي متن ته ځان رسول دي، خو ډېرې شرحې او زواید کولای شي چې لوستونکی له لوستو سترې کړي او یا یې هغه تلوسه ورکمه کړي، چې دی د لوستو لپاره لري.

د متن لپاره د اصل د انتخاب هېڅ کومه یادونه په سریزه کې نه لرو، خو زما گومان دا دی چې د ۱۲۹۸هـ ق کال د هند چاپ نسخه د اصل په توگه ټاکل شوې، ځکه د نسخه پېژندنې په برخه کې یاده شوې خو په لمنلیکونو کې یې کوم څرک نه وینو. په ۹۷ مخ کې موږ له یوې کلمې سره مخامخ کېږو چې په ۸ او ۹ گڼه لمنلیک کې لیکل شوي ((۸. اصل: ثونبره.../ ۹. اصل: هونبره...))[1] له دې نه ما ته داسې ښکاري چې اصل انتخاب شوی او دا چې په لمنلیک کې ((ع۲ چ)) نسخې یادونه نه ده شوې، نو همدا به یې اصل ټاکلې وي.

---

[1]. ((خوی خصلت یې د ښو ثومره – شفقت ورباندې هومره)).

که چېرې زما له ګومان سره سم همدا نسخه د اصل په توګه ټاکل شوې وي، نو ښاغلي مدون په دې برخه کې هم د متنپوهنې له نظره په تېروتنه کې واقع شوی؛ ځکه کله چې د يوه متن بشپړې خطي نسخې موجودې وي، نو د متنپوهنې د اصولو له مخې مدون دا نه شي کولای چې کومه چاپي نسخه د اصل په توګه وټاکي. د يوسف زليخا خو الحمدلله په لسګونه خطي نسخې موجودې دي، له هر اړخه پوره او له چاپي هغو نه پخوانۍ هم دي، نو بايد يوه داسې نسخه چې د مدون په نظر د عبدالقادرخان زمانې ته ور نږدې او تر نورو يې قلمي غلطۍ کمې وي د اصل په توګه ټاکل شوې وای.

د پورته لمنليک په اړه غواړم لنډ وضاحت وکړم چې په دې برخه کې زما په نظر مدون تېروتی دی، ځکه د ختېکو په لهجه کې « د ځومره پرځای ځونبره او هومره پرځای هونبره» کارېدلي دي. دا بايد له اصل څخه نه وای لوېدلي، هماغسې په متن کې د اصل په توګه پاتې وای. د خوشحال خان ختک په شعرونو کې «هونبره» کلمه ډېره زياته کارېدلې ده او د کاظم خان شيدا په ديوان کې هم راغلې ده:

د وفا مهر، کرم به يې لا څه وي
په جفا کښې چې دا هونبره عنايت کا
(ختک، ۱۳۹۷: ۱۳۸مخ)

✲✲✲

زار شه ترې هونبره طاوسان زاڼې
لکه د ونو بېشماره پاڼې
(شيدا، ۱۳۹۳: ۱٦۳مخ)

مدون کوښښ کړی هغه بيتونه چې په نورو نسخو کې موندل شوي او ده ته مستند ښکاره شوي متن ته انتقال کړي؛ لکه د ۲۰ مخ ۱۰ لمنليک کې يې چې ويلي ((۱۰. د دوه بيتونه ج نه واخيستل شول.))[1] چې دا کار د مدون لاسبري ښيي او په دې برخه کې يې صلاحيت ښيي همدارنګه په ۱۴٦مخ ۱ لمنليک کې ((۱. دا بيت د ج۱ سره سم وليکل شو او په نورو نسخو کې داسې دی: که مشغول په صنعت شي- له صانعه په غفلت شي))[2]. دلته دواړه واحده معنا رسوي، خو مدون ته دغه د ((ج۱)) متن مستند ښکاره شوی، خو که چېرې متن د ده په نظر مستند را نه شي، نو بايد اصل ته انتقال نه شي، ځکه تر هغه وخته په لمنليک

---

[1]. هغه دوه بيتونه دا دي: ((که دهير که د رانجا و- که جلال و، که بويا و// که پنون و، که سيسی وه- د شهۍ که د دلی و)) وروستۍ نيمبيتي د ټايپي تېروتنې ښکار شوې ((د شهۍ که د دلۍ وه)) بايد راغلې وای.

[2]. اصل متن ته چې انتقال شوی هغه دا دی: ((که مشغول يې په صفت شې – له صانع به په غفلت شې))

کې پاتې شي تر څو د هغه په استناد کوم لاسوند و نه مومو. په ۹۲ مخ کې ٦ لمنلیک کې ((٦. ع۳: تا په خپله له ما سره کړه – د وصال وعده دې وکړه)) راغلی، د مدون زړه پرې اوبه نه دي څښلي او مستند نه دی ورته ښکاری شوی، ځکه په لمنلیک کې یې پرې ایښی دی. داسې نورې بېلګې هم په کتاب کې شته چې مدون دلته تر ډېره حده خپله دنده ترسره کړې ده.

په متن کې یو ځای د شعر د وزن په نامه د کلمې له تغییر سره مخامخ کېږو د ۱۲۳مخ ۱ لمنلیک کې لولو: ((۱. د وزن د سمون په لحاظ ((سجود)) ولیکل شو او په نسخو کې ((سجده)) ده. بیت په دې ډول ده: ((بې له خدایه، وبل چا ته – سجود مه کړه غوږ کړه ما ته/ سجده مه کړه غوږ کړه ما ته)) خو ماچې دواړې کلمې په کې وکتلې، هماغه سجده پرېښودل یې سم ول. مثنوي د اته څپیز د «مفاعیلُ مفاعيلن» په وزن ویل شوې، چې دوه رکنه لري او د هر رکن درېیمه څپه یې خجنه ده. علامه اکاډمېسین پوهاند عبدالشکور رشاد د اته څپیز بحر د دې وزن په اړه لیکلي دي: ((په دغه وزن کې ډېر پښتو کتابونه کښل سوي دي، لکه: د شېرګل سیف الملوک او بدری، د رحمت داوي لیلی و مجنون... د عبدالقادرخان یوسف زلیخا...)).(رشاد، ۱۳۹۵: ۲۳۷مخ)

دې متن ته بیا بیا د انتقادي متن خطاب شوی، له ځینو نیمګړتیاوو سره سره انتقادي متن ته نږدې کار شوی.

له متن څخه که راووځو پر دغه کتاب د رسمي غوښتنو له امله تقریظونه لیکل شوي چې په هغه نه غواړم خبره وکړم، خو لیکوال پرې ((د عبدالقادرخان خټک د یوسف زلیخا د متن نسخې)) او هم د ((سریزه)) تر سرلیک لاندې لیکنې کړې چې په لومړي سرلیک مو مخکې هم ځینې خبرې وکړې، یوازې همدومره به ووایو چې دا برخه ډېره نیمګړې ده او د بېل عنوان په توګه راوړل یې هم اړین نه ول، کولای یې شول د سریزې په پای کې یې یادونه کړې وای او د دویم سرلیک((سریزه)) د متنپوهنې له اړخه خپل اصول لري چې غواړم پرې خبره وکړم. عبدالقادرخان خټک او هم د ده دغه اثر یوسف زلیخا دواړه پېژندل شوي دي، زیاتره خلک یې له نومونو سره اشنا دي، ځکه خو مدون پېژندنه ډېره نه ده اوږده کړې، د متنپوهنې اصول هم همداسې وایي. یو څه چې باید یاد شوي وای هغه د تېرو چاپونو انتقادي کتنه ده، تر څو د ده دغې هڅې ته یې جواز موندل شوی وای. تر کومه چې معلومېږي د یوسف زلیخا پخواني متون بازاري چاپ متون دي، د متنپوهنې له ننیو اصولو سره برابر نه ول، نو اړتیا وه چې له سره یې بل متن برابر شوی وای. همدارنګه د تحقیقي متونو په تهیه کې باید مدون د کتاب د داخلي برخو سپړنو ته هم پاملرنه ولري، خو دلته په دې برخه هم سرسري تېر شوی

دی.

دغه کتاب ته فهرست هم ورکول شوی، چې دا د متنپوهنې له نظره دقیق او سم کار دی تر څو لوستونکو سره د مطالبو په موندلو کې مرسته وکړي. همدارنګه وییپانګه هم لري چې ګرانې کلمې په کې معنا شوي دي، تر ډېره کوښښ شوی چې عربي کلمې معنا شي، خو بیا هم ډېرې داسې کلمې چې عام خلک پرې نه پوهېږي نه دي معنا شوي ، د متن په پوهېدو کې به یې له لوستونکو سره لا ډېره مرسته کړې وه.

که په لنډه توګه د دې متن د څو ښېګڼې بیان وکړو هغه به دا وي:

- دا متن له ډېرو نسخو تیار شوی...؛
- هره برخه یې خپل سرلیک لري؛
- په لمنلیکونو کې نسخه بدلونونه تر ډېره حده په دقت سره ښودل شوي؛
- لیکلړ لري؛
- وییپانګه لري؛
- د مدونو هڅې چې د متن د استناد او بشپړونې په برخه کې کړي ښکاره دي.

د پورته خبرو ترڅنګ ځینو برخو ته باید پاملرنه شوې وای:

- نسخه پېژندنې برخه یې نیمګړې ده
- نسخې په کورنۍ نه دي وېشل شوي، ګڼ نسخه بدلونونه لوستونکی ګنګس کوي.
- اصل انتخاب نه دی ښودل شوی، کوم ګومان چې موږ لرو، که هغسې وي نو د متنپوهنې اصول نه دي مراعات شوي.
- متن انتقادي بلل شوی، خو د انتقادي روش کومې غوښتنې چې دي، په پوره ډول نه دي پالل شوي.
- په لمنلیکونو او مخففاتو کې ستونزې دي.
- وییپانګه که نوره هم غني وای لا به ښه و.

## د مفتي عبدالحنان داعي کلیات

د مفتي عبدالحنان داعي کلیات د ښرمل زرغون په سریزه، اوډنه، پرتلنه او وییپانګه د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست له خوا په ۱۳۹۹ل کال کې په (۴۴+ ۴۹۷مخونو کې) چاپ شوی دی. کتاب په وړه قطع (رقعي / A5) سایز مجلد پوښ کې چاپ شوی دی. پر دغه کتاب باندې لومړۍ د افغانستان د علومو اکاډمۍ د هغه وخت

د رئیس «څېړنپوه عبدالظاهر شکیب» یادښت «د خپرندوی یادښت» تر سرلیک لاندې خپور شوی. ورپسې د محمد سرور سودمند له خوا لیکل شوې د شاعر پېژندګلوي «د داعي مرحوم عبدالحنان اخونزاده کلیات- د داعي عبدالحنان پېژنګلوي» چې په ۱۳۳۴ل کال کې لیکل شوې راغلې ده[1].

په دې پسې د دې کلیاتو دمدون سریزه راغلې چې په بېلابېلو سرلیکونو یې وېشلې، عمومي سرلیک یې «مفتي عبدالحنان داعي» (۱) شاعري یې؛ (۲) شعري لار؛ (۳) د مفتي عبدالحنان داعي اثار؛ (۴) دا کلیات څلور څنګزن سرلیکونه لري. ورپسې د سریزې او وییپانګې مأخذونه ښودل شوي د خطي نسخو څو انځورونه راغلي دي.

په دې پسې اصلي متن راغلی دی: غزلې (له ۳- ۱۳۱مخ پورې) راغلي چې په مردف ډول (الف، ب، ت، ټ، ث، ج، ح،خ، د، ډ، ر، ز، ړ، س، ش، ص، ض، ط، ظ، ع، غ، ف، ق، ک، ګ، ل، م، ن، و، هـ، ی، ي، ې) په قافیه پای ته رسېدلي (۱۱۷) غزلې راغلي دي، خو (پ، چ، څ، ځ، ذ، ژ، ږ، ښ، ڼ، ی/ئ) تورو باندې پای ته رسېدلې غزلې نه لري. مدون د الفبا په ترتیب کې یو ځای ټکنی شوی، /ړ/ یې له /ز/ څخه وروسته راوړې ده. په غزلونو پسې قطعې، مقامونه، داستانونه، چاربیتې، داستاني چاربیتې، زنځیري داستاني چاربیتې، لوبیزې چاربیتې، بګتۍ، لوبې، پارسي وینا او وییپانګه راغلې ده.

**د دغه متن کره کتنه**

د مفتي عبدالحنان داعي کلیات لپاره چې مدون کومه سریزه لیکلې د متنپوهنې له اصولو سره ډېر برابره ښکاري، مفتي عبدالحنان داعي په اړه چې پخوانیو تذکره لیکوالو څه لیکلي د هغو یادونه یې کړې، د ده کوم شعرونه چې چاپ دي، د هغو لنډ جاج یې اخیستی. د شاعرۍ پر منځپانګه او سبک یې هم خبرې کړي دي. هغه نسخې چې ده دلته ترې کار اخیستی دی، د هغوی یادونې یې هم کړې دي. دلته یوه برخه چې زما په نظر نیمګړې بریښي هغه د کیسټونو او د تره د کتابچو برخه ده، چې ده په نسخو کې لنډیزونه نه دي ورکړي، خو په سریزه کې یادونه کړې ده. یوه برخه چې د (ب) نسخې د موندلو او له هماغه نه د دې کلیات د چاپولو انګېزه او لېوالتیا ورته پیدا شوې په سریزه لږ اضافي بار غوندې ښکاري، کاشکې دا د پیل خبرې په توګه په اول سر کې راوړل شوې وای، لا به ښه و. لیکوال په سریزه کې د تصحیح روش نه دی معرفي کړی چې دی په کوم میتود مخکې تللی دی. داسې ښکاري چې ده التقاطي روش کارولی، ځکه د نسخو ځینې شعرونه په یوه کې وو، په

[1]. دغه پېژندنه د هغې قلمې نسخې په سر کې راغلې چې د علومو اکاډمۍ د کتابتون د خطي نسخو په برخه کې خوندي ده.

بله کې نه ول او ځینې بیا له کیسټونو او د کورنۍ د غړو له کتابچو څخه پوره شوي، داسې پوره نسخه ده ته په لاس نه ده ورغلې چې نورې ورسره پرتله کړي، خو بیا هم د علومو اکاډمۍ نسخه چې تر نورو ښه او بشپړه ده، د اصل په توګه ټاکل شوې ده، چې دا کار یې د متنپوهنې اصول هم ایجابوي. یوه بله خبره چې شوې هغه دا چې د علومو اکاډمۍ له نسخې نه ځینې شعرونه اېستل شوي او سانسور شوي، چې دې چارې ده ته یوه بله ستړې ورپېښه کړې. دی یې په دې باوري کړی چې نور شعرونه هم شته خو دلته نشته.

موږ چې کله په نسخو کې اضافي شعرونه او متون ومومو تر ټولو مهمه مسئله د هغو د استناد ده، دلته په دې اړه خبره نه ده شوې، که څه هم متون مستند ښکاري، خو بیا هم د دغو متونو د استناد لپاره باید په سریزه کې له دلایلو سره خبرې شوې وای.

اصل متن چې انتقال شوی، هر ځای چې مدون له نسخه بدلونونو (د فیتو، له ترونو څخه په شفاهي ډول او یا د کومې بلې نسخې له بدلون) سره مخامخ شوی هغه یې په لمنلکونو کې ښودلي چې په اصولي توګه لمنلیکونه منظم او د متنپوهنې له ارونو سره برابر دي، خو په ځینو ځایونو کې یې داسې کلمې کارولي چې التباس رامنځته کوي او لوستونکی په فکر کې اچوي؛ لکه د (آر) کلمه، آر د اصل په معنا ده، ما چې کله په لمنلیکونو کې ولیدله، زه حیران شوم چې ولې یې دا کلمې تغییر کړې؛ لکه په لومړي مخ کې ۲، ۳ او ۴ لمنلیکونه راغلي ((۲: آر، کړ. ۳: آر، کړ. ۴: آر، وکړه)) دغه فعلونه په متن کې په ترتیب ((که، که، وکه)) راغلي. په لومړي ځل ما ته داسې ښکاره شول چې آر، اصل کې کړ/ وکړه راغلي، خو مدون ته سمه دا ښکاره شوې چې متن کې دې ((که/ وکه)) وي. بیا ۱۴۳ مخ مې چې لوسته په دې پوه شوم چې آر نه یې مطلب د کلمې اصلي بڼه ده، نه د نسخې. په داسې وخت کې مدون کولای شي دوه لارې وټاکي، مثلاً د ۱۴۳ مخ ((نیمه شپه کې یې بیاتي ولټوله – مینده نه شوه بیا یې دسې صلا کړله)) دسې ته په لمنلیک کې لیکل شوي ((۲: آر، داسې.)) د دې پر ځای که ((۲. داسې/ ۲. دسې: داسې)) راغلي وای، نو د التباس مخه به یې نیولې وای.

دا چې په هره زمانه کې ځینې کلمې د ارخایزم په لور روانې وي او یا شاعران د نورو ژبو کلمې کاروي، نو عامو خلکو ته پر هغو د پوهېدو ستونزې وي. عبدالحنان داعي، د وخت مروج علوم لوستي وو، لوی عالم او د مفتي درجې ته په کې رسېدلای و. هغه د عربي او پارسي ژبو له ادب سره پوره بلد او پارسي شاعري هم کوله؛ نو حتماً به د ده په شاعرۍ کې ګرانې کلمې موندل کېږي. متنپوهان د دې لپاره چې عام خلک له دې جنجال چې په هره کلمه پسې فرهنګونه او قاموسونه وګوري وژغوري ویپپانګه د پخوانیو متونو په پای کې ضروري

ګڼې. مدون دا ستړې هم پرځان ګاللې او د کتاب په پای کې د الفبا په ترتیب وییپانګه راوړې چې تر ډېره بشپړه او په شعر کې یې چې کومه معنا ده هماغه یې ورسره راوړې ده.

## پایله

د دې علمي څېړنیز مقالې په لیکلو او د دې موضوع په څېړلو کې دې نتیجې ته رسېږو چې په تېرو دوو لسیزو کې هغه امکانات چې د چاپ لپاره موجود وو، د علومو اکاډمۍ د تحقیقي متونو په برخه کې ډېر کم کار کړی او یوازې پنځه تحقیقي متنونه چاپ شوي چې په هغو کې هم یو متن یوازې د لیکدود په تغییر یو پخوانی تهیه شوی متن بیا چاپ شوی دی. بل تر اوسه هم زموږ متنپوهان د متنپوهنې په اصولو سترګې پټوي او د متونو په تهیه کې عنعنوي تقلید له مخې متنونه تدوینوي. زموږ ځینې متون د سرعت ښکار شوي، د وخت د کمښت او یا هم د نورو دلایلو له مخې په بیړه د چاپ لپاره برابر شوي – سره له دې چې د تحقیقي متن د تدوین پر وخت کې له بیړې نه باید په کلکه ځان وساتل شي- دې چارې زموږ د متنونو کیفیت ته زیان رسولی. د لمنلیکونو او وییپانګو په برخه کې هم له بېړې او د ځان خلاصونې چاره تر سترګو کېږي، ځینې داسې کلمات چې عام خلک پرې نه پوهېږي نه دي معنا شوي او په لمنلیکونو کې هم ځینې ستونزې شته، چې د التباساتو تر پیدا کېدو ونیسه آن ځینې دقیق نه برېښي. د تحقیقي متونو سریزه‌لیکنه یوه مهمه چاره ده، چې د متنپوهنې ننیو اصولو او پرنسیپونو د هغې لیکنې لپاره ځینې آرونه ټاکلي، خو زموږ د تحقیقي متونو سریزې هم په دې برخه کې کله کله ټکنۍ کېږي. هغه متون چې زما تر کار لاندې وو، تعلیقات نه و پرې لیکل شوي، فهرستونه د ځینو نه وو او د ځینو نیمګړې وو، خو بیا هم د فرحت المجتبی او د نواب محبت خان پښتو دیوان او یوسف زلیخا فهرستونه بشپړ. د عبدالحنان داعي کلیات لیکلړ نیمګړی او ګلدستې ته هېڅ فهرست نه و ورکول شوی.

## وړاندیزونه

١. د افغانستان د علومو اکاډمۍ او په ځانګړې ډول د ژبو او ادبیاتو مرکز ته مې وړاندیز دی چې د سیمې په هېوادونو کې د پښتو خطي نسخو د لټې او د بشپړو فهرستونو د برابرولو لپاره، ساحوي سفرونو او څېړنې ته دې زمینه مساعده کړي.

٢. د پښتو ژبې او ادبیاتو او د پښتو څېړنو د بین‌المللي مرکزونو علمي غړو ته مې وړاندیز دی، چې د نورو کارونو ترڅنګ د فرهنګ او ژبې د پرمختګ لپاره دې تحقیقي متونو ته هم پاملرنه وکړي، کم ترکمه دې د یو یا دوو متونو د استخراج او تدوین کار پر غاړه واخلي.

۳. د دري ژبې او ادبیاتو انستیتوت ته مې وړاندیز دی، چې د نواب محبت خان دري دیوان دې تدوین او چاپ کړي.

٤. د ژبو او ادبیاتو مرکز ته مې وړاندیز دی ځینې هغه متون چې نن په بازار کې نه موندل کېږي او ورته اړتیا هم ده تشخیص او د چاپ په برخه کې یې هڅې وکړي.

## مأخذونه


۱. آریانا پښتو قاموس لومړی ټوک. (۱۴۰۲). کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

۲. اندړ، نعمت الله. (۱۳۸۳). «سریزه» په ګلدسته (د- ح مخونه). کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي د خپرونو ریاست.

۳. پښتو- پښتو تشریحي قاموس، څلورم ټوک. (۱۳۸۳). کابل: میدیوتیک.

٤. جهانبخش، جویا. (۱۳۹۷). راهنمای تصحیح متون. تهران: مؤسسه پژوهشي میراث مکتوب.

۵. خټک، خوشحال خان. (۱۳۹۷). د خوشحال خان خټک دیوان. سریزه، ترتیب او سمون د څېړنوال حبیب الله رفیع. کابل: د امان کتاب خپرولو مؤسسه.

٦. خټک، عبدالقادرخان. (۱۳۸۳). ګلدسته. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي د خپرونو ریاست.

۷. خټک، عبدالقادرخان. (۱۳۹۱). یوسف زلیخا. د نورالله ولسپال په سریزه، سمون او ویيپانګه. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

۸. خټک، عبدالقادرخان. (۱۹٦۱). ګلدسته. د عظیم شاه خیال بخاري په مقدمه او تدوین. پېښور: پېښور پښتو اکیډیمي.

۹. خیال بخاري، عظیم شاه. (۱۹٦۱). «مقدمه» پر ګلدسته لیکل شوې. (۱-۵۳مخ). پېښور: پښتو اکېډمي.

۱۰. داعي، عبدالحنان. (۱۳۹۹). د مفتي عبدالحنان داعي کلیات. د بشرمل زرغون په سریزه، اوډنه، پرتلنه او ویيپانګه. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست.

۱۱. دهخدا، علي اکبر. (۱۳۷۷). فرهنګ دهخدا. جلد ۱۳. تهران: موسسه انتشارات و چاپ دانشګاه تهران.

۱۲. رشاد، عبدالشکور. (۱۳۹۵). د پښتو نظم عروضي سیستم. کندهار: علامه

رشاد اکاډیمي.

۱۳. رفیع، حبیب الله. (۱۳۹۱). «تقریظ» پر یوسف زلیخا (د- ز مخونه). کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

۱٤. روښان، بایزید. (۱۳۸۵). فرحت المجتبی. د سرمحقق زلمي هېوادمل په سریزه او سمون. کابل: کابل مجله- د ژبو او ادبیاتو مرکز، د افغانستان د علومو اکاډمي.

۱۵. روهیال، مطیع الله. (۱۴۰۱). د متنپوهنې اصطلاحات. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

۱٦. شیدا، کاظم خان. (۱۳۹۳). د کاظم خان شیدا دیوان. د حنیف خلیل په تدوین، سریزه، یادښتونه او ویپپانگه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۷. معین، محمد. (۱۳۸۱). فرهنگ دوجلدی معین. تهران: آدنا.

۱۸. نواب محبت خان. (۱۳۸۴). د نواب محبت خان پښتو دیوان. د سرمحقق زلمي هېوادمل په سریزه او سمون. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

۱۹. ولسپال. نورالله. (۱۳۹۱). «د عبدالقادر خان خټک د یوسف زلیخا د متن نسخې» پر یوسف زلیخا سریزه. (ع- ت مخونه). کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

۲۰. هاشمي، سید محي الدین. (۱۳۸۳). «د عبدالقادرخان خټک ژوند، ادبي- عرفاني لار او آثار. پر گلدسته لیکل شوی (یو- څلوېښتم مخ). کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي د خپرونو ریاست. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

۲۱. هاشمي، سیدمحي الدین. (۱۳۹۱). «تقریظ: د عبدالقادرخان خټک د یوسف زلیخا د پښتو ژبارې ځینې ځانگړنې». پر یوسف زلیخا. (ح- س مخونه). کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

۲۲. هروي، مایل. (۱۳۷۷). تاریخ نسخه پردازی و تصحیح انتقادي نسخه های خطي. تهران: (ـــ).

۲۳. هوتک، محمد معصوم. (۱۳۹۰). پښتو متون سمېدل غواړي. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

۲٤. هېوادمل، زلمی. (۱۳۸۴). «سریزه» د نواب محبت خان پښتو دیوان. (یو- څلور شپېته مخونه). کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

۲٥. هېوادمل، زلمی. (۱۳۸۵). «د بایزید روښان فرحت المجتبی» او «سریزه» په فرحت الجتبی. کابل: کابل مجله- د ژبو او ادبیاتو مرکز، د افغانستان د علومو اکاډمي.

۲٦. هېوادمل، زلمی. (۱۴۰۲). د متنپوهنې میتودولوژي (لکچرنوټ). کابل: د علومو اکاډمی- د سیمه‌ییزو مطالعاتو مرکز. ناچاپ.

دوکتور محمد زرين انځور

# په جرمني ژبه د پښتو آثارو د نوميالۍ ژباړونکې «انګريد فون هايسلر» ياد

# The Memory of "Ingrid von Heiseler," the Renowned Translator of Pashto Works into German

PhD.M. Zaren Anzoor


## Abstract

The German author, professor, and skilled translator of numerous classical and contemporary Pashto literary works into German, Ingrid von Heiseler, passed away at the age of ٨٨. She dedicated her entire life to teaching, writing, and translating. In the later years of her fruitful life, she devoted most of her time to translating works related to Pashtun history, folklore, culture, and several important historical and literary texts.

Ingrid von Heiseler was born on October ٨, ١٩٣٦, in Berlin, the capital of Germany. She studied German studies, pedagogy, and theology in the cities of Göttingen, Tübingen, and Hamburg. In addition to German, she also learned English and French. She wrote several works of her own and translated a number of texts from these languages into German.

## لنډيز

د جرمني ژبې ليکواله، اســتاده او په دې ژبه د پښــتو د ګڼو کلاســيکو او معاصرو ادبياتو تکړه ژباړونکې «انګريد فون هايسـلر» (Ingrid von Heiseler) د (۸۸) کالو

په عمر له نړۍ ســـترګې پټې کړې. هغې خپل ټول ژوند شـــاګردانو ته د پوهې په ورانتقالولو، ليکلو او ژباړو تېر کړ او د خپل له ثمره ډک ژوند په وروســـتيو کلونو کې يې خپل زيات وخت د پښتنو د تاريخ، ولسي ادبياتو، د پښتنو د فرهنګ او د دوی د يو شمېر مهمو تاريخي او ادبي آثارو ژباړې ته وقف کړی و.

انګريد فون هايســـلر د ۱۹۳٦م. کال د اکتوبر پر اتمه د جرمني په پلازمېنه برلين کې زېږېدلې وه. د المان د ګوتينګين، وينګين او هامبورګ په ښارونو کې يې جرمن پوهنه، ښوونه او روزنه او دينپوهنه ولوستل. له جرمني ژبې ور هاخوا يې انګليسي او فرانســـوي ژبې هم زده کړې. خپله يې هم ځينې ليکنې وکړې او له دغو ژبو يې هم يو شمېر آثار الماني ژبې ته راوژباړل.

مېرمن انګريد فون هايســـلر د يوې ښـــوونکې په توګه دېرش کاله (له ۱۹٦۸ څخه تر ۱۹۹۸م. کاله پورې) په «ولفسبورګ» کې خپلو شاګردانو ته د جرمني ژبې او جرمن پېژنـدنې، دينپوهنې او ښـــوونې او روزنې پـه ببلا ببلو برخو کې تـدريس وکړ او د تدريس په څنګ يې کې ليکنې او ژباړې هم وکړې. هغې د (۲۰۲۴) د ســـپټمبر پر (۱٦) نېټه په برلين کې د خپل ژوند پور پرې کړ او د اکتوبر په (۱۴) نېټه په همدغه ښار کې خاورو ته وسپارل شوه.

## سريزه

د هغې خپلې يو شمېر ليکنې هم په ببلا ببلو کلونو کې خپرې شوې دي، لکه: د کيسه ويونکو روايت، د يو بې لارې کس داستان: په ۱۹۹۰م. کال کې کښل شوی دی، په ګواه ښار کې ورک شوی: يو مستند او داستاني تحليلي ګډ روايت دی. دغه اثر لومړی ځل په ۲۰۰۱م. او دويم ځل په ۲۰۱۸م. کې خپور شوی دی.

دغه راز د هغې خپلې ځانپېښې (اټو بيوګرافي) «د ژوند لس لومړيتوبونه» په نوم په ۲۰۱۱ کال کې خپره شوې ده. له ۲۰۰۲ کال راهيسې يې په ځانګړي ډول د کړکېچونو د حل او سولې په اړه يې زياتې څېړنې کړې دي.

«دغه لار ستا نه ده» د هغې لنډې داستاني ليکنې دي چې نومورې په ۲۰۱۸ کال کې کښلې دي. (Elphinstone: ۲۰۲۲ : ۲۷۰ p)

دلته به د هغو آثارو یوه لنډه پېژندنه ستاسو مخې ته کېږدو چې هغې د افغانستان د تاریخ، پښتو او پښتو ادبیاتو په اړه له انګریزي ژبې څخه الماني ژبې ته را اړولي او په دې توګه یې جرمنان او جرمني ژبې، د افغانستان او پښتنو له تاریخ او ادبیاتو سره اشنا کړي دي.

## د مقالې متن

### ۱. د پټې خزانې جرمني ژباړه

انګرید فون هایسلر د پښتو ادبیاتو لرغونې معتبره تذکره پټه خزانه له هغې انګریزي ژباړې څخه الماني ته را ژباړلې ده چې غلام حضرت کوشان تر سره کړې وه. دغه الماني ژباړه په ۲۰۲۱م. کال کې د «افغانیک» د فرهنګي مرکز له لوري خپره شوې ده. د دغه اثر په سریزه کې د افغانیک مرکز مشر ښاغلي ډاکټر یحیی وردګ کښلي دي.

«په ۱۹۸۵ کال کې نظام الدین سلیمانخېل او ولفګانګ شتریل ( Wolfgang Strehl)په ګډه په جرمني ژبه د پټې خزانې لومړنۍ ژباړونکي وو. دغه اثر د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا د یونسکو د نړیوال سازمان په ملاتړ چاپ شوی و. د هغه اثر له چاپه (۲۵) کاله تېر شوي وو، ځینو دوستانو له ما وغوښتل چې که د پټې خزانې یوه نوې ژباړه تر سره شي، نو دا به غوره کار وي. د دې لپاره مو د غلام حضرت کوشان هغه ترجمه غوره کړه چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز له لوري چاپ شوې وه او له مېرمن انګرید فون هایسلر مو دوستانه غوښتنه وکړه چې دغه اثر جرمني ته وژباړي. (Hotak, ۲۰۲۱: ۷ p)

د پټې خزانې دغه ژباړه جرمني ژبو ته د پښتو د لرغوني ادب په ورپېژندلو کې لویه ونډه لري.

### ۲. ملي هینداره

د نومیالي افغان فولکلوریست ارواښاد محمد ګل نوري ملي هینداره، د « Spiegel der Nation» په نوم د مېرمن فون هایسلر یوه بله د ستاینې وړ ژباړه ده. دغه ژباړه له هغه انګریزي متن څخه شوې ده چې د داوید پیت (David Pate) له خوا تر سره شوې وه. د هغې انګریزي ژباړې زیار محمود مرهون تر سره کړی و او محمد معصوم هوتک پرې یوه ارزښتناکه سریزه کښلې وه.

د ملي هیندارې دغه الماني ژباړه په دغو درېیو جلا جلا ټوکو کې تر سره شوې ده: لومړی ټوک (۱۶۳) مخه، دویم ټوک. (۲۶۳) څخه او درېیم ټوک (۲۴۰) مخه دی.

د اروابناد محمد ګل نوري «ملي هینداره» د پښتو د ولسي ادب یوه نه هېرېدونکې پانګه ده او د هغه له مهمو آثارو څخه شمېرل کېږي. په دغو نکلونو او ولسي کیسو کې د پښتنو د ژوند دود، عنعنو، حماسو، جګړو او مینې بېلا بېلې شېبې په ښه توګه انځور شوې دي. د دغو ولسي کیسو له لارې د پښتني ټولنې مطالعه په ښه ډول تر سره کېدلای شي. د الماني ژباړې پر پوښ یې دغه عبارت زموږ د دې خبرې غوره ثبوت دی: « د پښتنو کلتور د دوی په ولسي کیسو کې منعکس شوی دی.» (Noori, ۲۰۲۲: ۳p) دغه اثر په ۲۰۲۲م. کال کې د بن ښار د افغانیک کلتوري مرکز له خوا په ښه قطع او صحافت چاپ شوی دی.

**۳.پښتو متلونه (له بنو یا زموږ افغاني سرحد څخه)**

د دغه اثر لیکوال په انګریزي ژبه د بریتانیا د هغو کلونو د هند د حکومت یو پوځي چارواکي س.س.توربورن (S.S. Thorburn) دی او په ۱۸۷٦م. کال کې په لندن کې خپور شوی و. جرمني ژباړه یې د مېرمن فون هایسلر له خوا تر سره شوې او په (۲۰۲۲) کال کې په (۲۲۳) مخونو کې د جرمني په بن ښار کې د افغانیک مرکز له خوا د پولنډ په وارسا کې چاپ او خپره شوې ده.

د دغه اثر په اړه په سریزه کې لولو: «دغه کتاب دوه برخې لري. لومړۍ برخه شپږ سرلیکه لري چې د بنو د جغرافیې، تاریخ او په هغه سیمه کې د انګرېزانو د حکومتي اداري سیستم په اړه معلومات وړاندې کوي. دویمه برخه چې د کتاب لویه برخه ده، د دې سیمې د فولکلور او دودونو په اړه ده. دغه کتاب د بنو د ولسوالۍ یوه نقشه هم لري چې په ګاونډ کې د افغانستان سره د وزیرستان، کشمیر او هندوستان د اړیکو پر څرنګوالي غږېږي.» (Thorburn, ۲۰۲۲: ٦p)

**۴. د عبدالرحمن بابا دیوان**

د عبدالرحمن بابا دیوان جرمني ژباړه د انګرید فون هایسلر له هغو کارونو څخه ده چې په جرمني ژبه یې د پښتو ادبیاتو د ښې پېژندنې په لړ کې تر سره کړي دي. دغه ژباړه په کتابي بڼه په ۲۰۲۰م. کال کې د جرمني د بن ښار د افغانیک کلتوري مرکز په مرسته په کابل کې چاپ او خپره شوې ده. د جرمني ژباړې د مخونو شمېر (۴۱۱) مخه دی. په پیل کې د افغانیک مرکز لنډه یادښت لیکلی دی او بیا د دیوان د چاپ د تمویلوونکي ډاکټر متین ساپي یادونه راغلې ده. مېرمن فون هایسلر هم یوه لنډه

سریزه کښلې ده او د دیوان د ژباړې په اړه یې څرګندونې کړې دي، یو ځای لیکي: «زما له ډېرو هلو ځلو سره، ما داسې یو څوک پیدا نه کړ چې زما له ژباړې سره د پښتو اصلي متنونه وګوري او ویې ارزوي. که داسې ممکن وای، نو ما به د دوو نیمګړتیاوو مخه نیولې وای. لومړی دا چې له پښتو اصلي متن څخه انګریزي ته په ژباړه کې به ممکنه نیمګړتیاوې ما ته معلومې شوې وای او بل دا چې زما د خپلې ژباړې تېروتنې به هم ماته ښې معلومې شوې وای، له همدې کبله ښایي زما په ژباړه کې ځینې تېروتنې پاتې شوې وي.» (Rahman Baba, ۲۰۲۰: ۱۱ p)

له دې وروسته د دغه دیوان د انګریزي ژباړن رابرت سامپسون (Rabert Sampson) سریزه او بیا د دیوان ژباړه خپره شوې ده. د رابرت سامپسون په سریزه کې پر دغو مسایلو بحث شوی دی: د عبدالرحمن بابا ژوند، نسب، کلی، د زوکړې او مړینې کلونه، زده کړه، د هغه د دیوان ادبي اغېزې، د دیوان موضوعات، عبدالرحمن بابا او شریعت، عبدالرحمن بابا او تصوف او نور اړخونه. د مېرمن فون هایسلر دغه ژباړه هم الماني ژبو ته د پښتو د کلاسیکې شاعرۍ د یو عارف په توګه د عبدالرحمن بابا په ښه ورپېژندنه او د هغه د کلام پر اغېز کافي معلومات وړاندې کولای شي.

**۵. د ګلشن روه جرمني ژباړه**

د مېرمن فون هایسلر یو غوره کار چې زیاته خواري یې هم پرې ګاللې ده، هغه د هانري جورج راورټي د مهم اثر «ګلشن روه» الماني ژباړه ده. دغه اثر په ۲۰۲۲م. کال کې په (۴۵۵) مخونو کې په لویه قطع چاپ او خپور شوی دی. په دغه اثر کې د عبدالرحمن بابا، میرزا خان انصاري، عبدالحمید مومند، خوشحال خان خټک، اشرف خان هجري، عبدالقادر خان خټک، احمد شاه ابدالي، کاظم خان شیدا، خواجه محمد بنګښ او د نورو آثار راغلي دي. (فهرست: Raverty, ۲۰۲۲ )

**۶.د کابل سلطنت بیان**

د مونستورات الفنستون د مشهور اثر «د کابل سلطنت بیان» الماني ژباړه په ۲۰۲۲م. کال کې د مېرمن فون هایسلر له خوا تر سره شوې او په همدغه کال کې په (۲۷۳) مخونو کې د افغانیک له لوري خپره شوې ده. مېرمن فون هایسلر د دغه اثر د منابعو او مأخذونو په اړه په خپل یو لنډ یادښت کې اشاره کوي چې «ما په اصلي متن او هم

په ژباړه کې منابع او مأخذ پیدا نه کړای شول، ځکه خو په دغو یادښتونو کې یاد شوي آثار او منابع مشخصې کېدای نه شي.» (Elphinstone, ۲۰۲۲: 7p)
د کابل سلطنت بیان د افغانستان د معاصر تاریخ او په تېره بیا د امیر دوست محمد خان، شاه شجاع او د افغان ـ انګلیس د شخړو په اړه جالب معلومات وړاندې کوي، خو الفنستون هم کابل ته د خپل سفر د بیان په څنګ کې د افغانستان د تاریخ، ټولنې او نورو بېلا بېلو موضوعاتو په اړه خپل برداشتونه وړاندې کوي او د هغو کسانو لپاره د یو مهم مأخذ په توګه ارزښت لري چې د دې هېواد د تاریخ، ټولنې او سیاست په اړه د پوهېدنې لېوالتیا لري.

## ۷. د پاچا خان د آثارو او د هغه په اړه د خپرو شویو کتابونو د ژباړې لړۍ

مېرمن انګرید فون هایسلر د جنګ جګړې ضد یوه ښځه ده. هغې د سولې په اړه ډېرې لیکنې کړې او د نړۍ د بېلابېلو کړکیچونو د سوله ییز هواري لپاره یې د قلم او وینا له لارې مبارزه کړې ده. د ولسي سوله ییزې مبارزې پلوۍ ده او له همدې امله یې په دې اړه د لیکنو او ژباړو تلوسه زیاته وه. هغه د هند په لویه نیمه وچه او پښتونخوا کې د پاچا خان له آثارو سره علاقمنده شوې وه او د هغه آثار، ویناوې او دغه راز د هغه په اړه یو شمېر مهم آثار یې له انګلیسي ژبې څخه، جرمني ته ژباړلي دي. دلته یې د ځینو دغو آثارو لنډه یادونه کوو:

ـ **دوه خدایي خدمتګار:** دغه اثر مېرمن فون هایسلر د هندي لیکوال مهادیو دیسای د هغه اثر ژباړه ده چې نوموړې په انګریزي ژبه لیکلي او په ډهلي کې خپور شوی و.

ـ **زما ژوند ـ اټوبیوګرافي:** دغه اثر لومړی ځل په ۲۰۱۲ او بیا په ۲۰۲۱ کال کې د بن د افغانیک مرکز له خوا په (۲۵۴) مخونو کې خپور شوی دی. دغه ژباړه له هغه انګریزي متن څخه شوې ده چې په ۲۰۰۸ کال کې په کابل کې د «افغانستان ټایمز» ورځپاڼې له لوري خپره شوې وه.

ـ **زما ژوند او جدو جهد:** دغه کتاب «Mein Leben und kampfen » په نوم انګرید فون هایسلر په جرمني ژبه ژباړلی او په ۲۰۲۳ کال کې خپور شوی دی. دا د پاچا خان د خپل لیکلي مشهور اثر «زما ژوند او جدو جهد» د هغې انګرېزي ژباړې له مخې الماني ته اړول شوی و چې د ښاغلي امتیاز احمد صاحبزاده له خوا تر سره شوې وه.

ـ **غفار خان:** د پښتنو بې وسلې پاچا: دا په انګرېزي ژبه د هندي لیکوال راجموهن ګاندي اثر دی چې په ۲۰۱۷ کال کې مېرمن فون هایسلر الماني ته را اړولی او په همدغه کال کې چاپ شوی دی.

ـ **د پاچا خان تلپاتې ویناوې (خدايي خدمتګار او ملي تحریک):** دا په انګریزي ژبه د پي.ايس. ریمو (P.S. Ramu) لیکل شوی اثر دی چې په ۲۰۲۰ کال کې د مېرمن هایسلر له خوا جرمني ژبې ته ژباړل شوی او په (۳۳۳) مخونو کې په همدغه کال خپور شوی دی.

ـ **د سولې یو زیارت (ګاندي او پاچا خان ـ د پښتنو په منځ کې):** دغه اثر په انګریزي ژبه د پیاري لال (Pyarelal) په قلم لیکل شوی او مېرمن فون هایسلر جرمني ژبې ته ژباړلی دی. یاد کتاب په ۲۰۱۸ کال کې خپور شوی دی.

ـ **خان عبدالغفار خان د نه تاوتریخوالي لاروی:** دغه اثر په انګلیسي ژبه راد کرشنان لیکلی او نوموړې الماني ته را ژباړلی دی.

ـ **په شمال مغربي سرحدي صوبه (پښتونخوا) کې اسلام او هېوادپالنه ( ۱۹۳۷ ـ ۱۹۴۷ ):** دا د ښاغلي پروفیسر ډاکټر وقار علي شاه کاکا خېل څېړنه ده او مېرمن فون هایسلر جرمني ژبې ته را اړولې ده. دغه اثر هم په ۲۰۲۳ کال کې چاپ شوی دی.

ـ **د پاچا خان ویناوې:** په دغه اثر کې د پاچا خان ځینې لنډې لنډې ویناوې د ښاغلي ډاکټر یحیی وردګ له خوا را ټولې شوې او خپرې شوې دي، د دې اثر د لیکوال په ګډه همکارۍ دغه لنډې ویناوې د مېرمن فون هایسلر له خوا الماني ته ژباړل شوې او په ۲۰۲۱ کال کې خپرې شوې دي.

د ډاکټر وردګ په قول: «په تېرو لسو کلونو کې هغې (مېرمن فون هایسلر) د افغانستان، پاچا خان، عدم تشدد او په اسلام کې د زغم د سیاست په اړه ډېر آثار جرمني ژبې ته ژباړلې دي،» (وردګ، ۲۰۲۳: ۱)

په دغو کلونو کې چې په تېره بیا په غرب کې د پښتنو په اړه د هغو ولسونو لید، په تېره بیا د غربي تبلیغاتو په رڼا کې له بده مرغه یو څه منفي دی، د داسې آثارو لیکل، ژباړل او د پښتنو د رښتیني ژوند او کلتور په اړه د داسې آثارو خپرول ښه اغېز لرلای شي او د هغو د لید په بدلون کې مثبت اغېز ښندلای شي.

**۸.سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه**

دا د پښتو لنډیو په اړه د دنمارکي پښتو پوه فقید جینس اینولډسن د هغه اثر الماني ژباړه ده چې نوموړي په انګلیسي ژبه خپره کړې وه. مېرمن فون هایسلر همدغه اثر الماني ژبې ته وژباړه او په دې توګه یې د الماني ژبې لوستونکي د پښتو لنډیو له ښکلاوو سره اشنا کړل.

د دې اثر په اړه ښاغلی وردګ لیکي: «متلونه او ټپې د پښتنو د ژوند او کلتور پر بېلا بېلو اړخونو رڼا اچوي او د دوی د اړیکو، چلندونو او ارزښتونو بېلګې وړاندې کوي. له اتلسمې پېړۍ راهیسې یو شمېر اروپایان پښتنې سیمو ته راغلل او د خپلې استوګنې په وخت کې یې د پښتنو د دودونو، قبیلوي جوړښتونو، سندرو، ژبې، ګرامر او نورو اړخونو په باب لیکنې وکړې او خپرې یې کړې. له دغو کسان څخه یو یې ډنمارکي پوه جینس اینولډسن دی چې له دغه کتاب سربېره یې د «پښتو پېژندنه» او «د پېړۍ پټان» په نوم دوه نور آثار هم د پښتنو او پښتو په اړه لیکلي دي.» (سریزه: Enevoldson)

د اینولډسن د اثر دغه جرمني ژباړه په ۲۰۲۲ کال کې افغانیک خپره کړې ده.

**۹.پښتو لنډۍ**

دا د هغو پښتو لنډیو الماني ژباړه ده چې اروانښاد استاد عبدالرؤف بېنوا انګلیسي ته ژباړلې وې او په یوه ټولګه کې یې له پښتو اصلي لنډیو، دري او انګلیسي ژباړې سره خپرې کړې وې. مېرمن فون هایسلر دغه اثر په ۲۰۲۳ کال کې ژباړلی او همدغه کال افغانیک خپور کړی دی.

**۱۰. جنګیالی شاعر**

دا د خوشحال خان خټک د ژوند او مبارزو په اړه د پرویز اختر خان یو رومان دی چې په اسلام اباد کې خپور شوی. الماني ژباړه یې په ۲۰۲۳ کې په (۴۵۰) مخونو کې خپره شوې ده.

**۱۱. د غني خان د اشعارو انتخاب (د ښکلا زایر)**

دغه اثر مېرمن انګرید فون هایسلر د غني خان د شعرونو له هغو منتخباتو جرمني ته ژباړلی دی چې ښاغلي امتیاز احمد صاحبزاده له پښتو څخه په ۲۰۱۴ کال کې انګلیسي ژبې ته ژباړلی او خپور کړی او سرلیک یې و:

«The Pilgrim of Beauty _ Selection from the poetry of Abdul Ghani khan»

د همدغه اثر جرمني ژباړه په ۲۰۲۳ کال کې د بن د افغانیک مرکز له لوري په (۶۰۰) مخونو کې چاپ شوې ده. په دغه شعري دفتر کې د انگریزي ژباړونکي د سریزې جرمني ژباړه راغلې ده چې د غني خان د ژوند، شعر او له ژباړونکي سره د هغه د اړیکو او لیدو کتو په زړه پورې څرگندونې لري. (Khan, ۲۰۲۳: ۱۹ – ۵۸p)

په الماني ژباړه کې هم، لکه د انگریزي ژباړې په څېر په یو مخ کې د غني خان خپل شعر او په مقابل مخامخ کې یې جرمني ژباړه ورسره راغلې ده. په تېره بیا د خپل عمر په اواخرو کې د داسې لوی کار (په شپږ سوه مخونو کې ژباړه) د انگرید فون هایسلر د همت او حوصلې ستره نمونه ده. د دغې ژباړې په وخت کې هغه (۸۷) کلنه وه.

**۱۲.په افغانستان کې لوړې زده کړې (تجربې او وړاندیزونه)**

د دغه اثر لیکوال ډاکټر یحیی وردگ دی او په لوړو زده کړو وزارت کې یې د خپلو تجربو نچوړ وړاندې کړی او په دې برخه کې یې د سمون او پرمختگ لپاره وړاندیزونه ورسره مله کړي دي. د لیکوال په گډه همکارۍ مېرمن فون هایسلر دغه اثر هم الماني ته ژباړلی دی.

**۱۳. د گل پاچا الفت «غوره نثرونه»**

مېرمن انگرید فون هایسلر د پښتو نومیالي شاعر او لیکوال استاد گل پاچا الفت «غوره نثرونه» د «غوره نثرونه ــ د یو افغان فیلسوف حکمت او نازکخیالي» په نوم ژباړلي او په ۲۰۱۹ کال کې په (۱۸۸) مخونو کې خپاره شوي دي. د دغې ژباړې په پیلامه کې لولو:

«ښاغلی گل پاچا الفت (۱۹۰۹ ــ ۱۹۷۷) یو شاعر، فیلسوف او سیاست پوه و. الفت په شرقي افغانستان کې چې د پښتنو سیمه ده، د لغمان ولایت په یوه کوچني کلي کې زېږېدلی او لوی شوی دی. که څه هم خپل زیات عمر یې د افغانستان په مرکز کابل کې تېر کړی و، خو په خپل کلي کې تجربه شوې خبرې او په کلي کې یاد کړې درس یې پر لیکنه او فکر باندې ډېره اغېزه کړې وه. د دوو مختلفو ولسوالیو په استازیتوب درې ځلې پارلمان ته وټاکل شو. په یوه جریده کې یې کار کاوه او بله یې تأسیس کړه. د کابل پوهنتون په ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې استاد و او د پښتو اکاډمۍ

(پښتو ټولنه) د رياست تر مقام ورسېد. هغه په شعر او نثر کې د دين او مذهب، اخلاقو او ټولنيزو مسايلو په اړه يو لړ کتابونه ليکلي. هغه د افغانستان د شرقي شاعرۍ ستوری بلل کېږي او د شلمې پېړۍ يو نوميالی پښتون اديب دی. شلمه پېړۍ، هغه وخت و چې د پښتنو کلتور له يو نوي پرمختګ او بدلون سره مخامخ کېدونکی و.» (Olfat,۲۰۱۹: ٥p)

د افغانيک مشر هم پر دغه اثر يو لنډ يادښت ليکلی دی.

## ۱۴.د يو افغان کلي يادونه

دغه اثر د زرين انځور د لنډو کيسو يوه ژباړل شوې ټولګه ده. په دغه مجموعه کې د ليکوال (۱۸) کيسې راغلي دي او په (۱۳۱) مخونو کې د بن افغانيک له لوري په ۲۰۱۹ کال کې چاپ شوې ده. دغه اثر هم په انګليسي ژبه د ليکوال د کيسو له هغې ټولګې جرمني ته ژباړل شوې چې د کاناډايي ليکوال ښاغلي ارلي ليون (Arley Loewen) او همايون هوتک له خوا په ۲۰۱۸ کال کې د «آپ مرسي» مؤسسې له لوري په کابل کې چاپ شوی و. مېرمن فون هايسلر د خپلې ژباړې په سريزه کې ليکلي: « ليکوال موږ ته يوه ناليدلې يا پټه نړۍ راښيي. دغه لنډې کيسې د يو نوي کلتور ليدلو ته يوه کړکۍ ده. د ده کيسې پښتني کلي، ښاري سيمې، د غيرت په نوم وژنې او په پښتني ټولنه کې د نجونو او ښځمنو ژوند راځرګندوي.» (Anzor, ۲۰۱۹: ٤p)

## ۱۵: د خوشحال خان خټک د رباعياتو ژباړه

دغه اثر د مېرمن فون هايسلر د ژوند (غالباً) وروستۍ ژباړل شوی آثر دی او له بده مرغه د خوشحال بابا د نورو آثارو د ژباړې لپاره ورسره ژوند ياري ونه کړه. د خوشحال رباعيات له هغې نسخې چې ښاغلي سميع الرحمن په انګليسي ژباړلي او په ۲۰۱٦ کال کې په اسلام اباد کې خپره شوې ده.

## ۱٦.د پښتو معاصر شعر غور چاڼ

په دغه نوم يوه انتخابي مجموعه ښاغلي نجيب منلي انګليسي ژبې ته اړولې وه او مېرمن فون هايسلر له همدغې ژباړې، جرمني ژبې ته په دې وروستيو وختونو کې ژباړلې وه.

**۱۷.د افغانستان لنډ تاریخ**

د ارواښاد پوهاند عبدالحی حبیبي د هغه مغتنم اثر الماني ژباړه ده چې په یو ټوک کې یې په لنډه توگه د افغانستان تاریخ را ټول کړی دی. دغه اثر هم د افغانیک مرکز له خوا چاپ شوی دی.

**پایله**

لازمه ده چې د مېرمن انگرید فون هایسلر په اړه د دغې لیکنې په پای کې دریو ټکو ته خامخا پام واړوو:

۱.د مېرمن فون هایسلر دغه ټول آثار چې د هغې د ژوند په شاوخوا لسو وروستیو کلونو کې ژباړل شوي او خپاره شوي دي، تر شا یې د بن په ښار کې د افغانیک کلتوري مرکز همت او ملاتړ پروت دی. د دغه مرکز او په تېره بیا د مرکز د مشر ډاکټر یحیی وردگ همت او حوصله د ستاینې وړ ده چې د هغوی په بیا بیا ټینگار، سپارښتنو او غوښتنو دغه آثار انتخاب شوي، ژباړل شوي او د چاپ دروند مسؤولیت ته یې اوږه ورکړې ده.

۲.دغه آثار له دویمې یعنې انگلیسي ژبې، الماني ته ژباړل شوي دي، که په مستقیم ډول له پښتو څخه جرمني ته ژباړل شوي وای، لا به غوره کار وای، ځکه چې په تېره بیا د ادبي آثارو (شعر او داستان) ژباړه یوه ستونزمنه مسأله ده او دغه ستونزه به بې له شکه په هغو آثارو کې لا زیاته وي چې له دویمې ژبې یعنې له ژباړې، ژباړل کېږي، خو ژباړونکي په دغو ټولو ژباړو کې هڅه کړې ده چې د اثر د متن امانت ته پوره دقت وکړي او ځکه خو یې په ژباړو کې له پوره غور او حوصلې کار اخیستی دی.

۳. وروستی ټکی دا دی چې مېرمن انگرید فون هایسلر جرمني ژبې ته د پښتو د بېلا بېلو آثارو د ژباړې له لارې یو لوی خدمت کړی دی. هغې په خپله یوه مرکه کې ویلي وو چې «د دغو آثارو له ژباړې زما یو اساسي هدف دا دی چې جرمنانو ته د افغانانو یو سم، مثبت او رښتنی تصویر وړاندې کړم.»

هغه په خپل دغه هدف کې پوره بریالۍ شوه او په رښتیا یې هم د افغانستان او ټولې پښتنې ټولنې یو داسې مثبت تصویر غرب ته وړاندې کړ چې د افغانانو مینه، مهرباني، درنښت، تاریخ، عنعنې او ارزښتونه پکې نغښتي دي. دا د هغې د علمي ـ کلتوري ژوند یو غوره میراث و چې پښتانه یې باید هېر نه کړي.

## مأخذونه

۱__ Hatak, Mohammad, ۲۰۲۱, «Der verborgene Schatz (Pata _ Khazana) Ubersetzerin, Inger von Heiseler, Bonn, Afghanic, Printed in Poland by Amazon.

۲__ Noori, Muhammad gul, ۲۰۲۲, «Spiegel der Nation Ubersetzerin: Ingrid von Heiseler, Bonn, Afghanic.

۳__ Elphinstone, Mounststuart, ۲۰۲۲, «lander und Volkerschaften Des Konigreichs Kabul», Bonn, Afghanic.

۴__ Thorburn,S.S, ۲۰۲۰, «Pashto _ Sprachworter aus Bannu ,or our Afghan Frontier» Ubersetzerin: Ingrid Von Heiseler, Bonn, Afghanic.

۵__ Rahman Baba, ۲۰۲۰, «Der Dewan (Gedichte)» afghanic, Kabul.

٦__ Raverty, Major H.G., «Sae Blumen (Dichtung der Afghanen Vom ١٦ bis zum ١٩.Jahrhundert, Ubersetzerin: Ingrid Von Heiseler, Bonn, Afghanic.

۷ــ وردګ، یحیی، ۲۰۲۳، مېرمن فون هایسلر د کارونو د ستاینې په غونډه کې د هغه د یادښتونو پاڼې، بون، افغانیک. دغه راز د هغې د ژوند او آثارو د بشپړې معرفۍ لپاره نور مواد په دغه انترنتي پته موند کېدای شي:

http:// ingridvonheiseler. Formatiabor.net

۸__ Enevoldson, Jens, (۲۰۲۲) «OH MOND, GEH AUF UND SCHEINE» Bonn, Afghanic.

۹__ Khan, Adul Ghani, ۲۰۲۳, «Pilger der Schonheit» Ubersetzerin: Ingird von Heiseler, Bonn, Afghanic.

۱۰__ Olfat, Gulpacha, ۲۰۱۹, «Ausgewahlte Prose (weisheit und Feingefulleines afghanischen Philosophen) Ubersetzerin: Ingird von Heiseler, Bonn, Afghanic.

۱۱__ Anzor, M.Zarin, ۲۰۱۹,« Erinnerungen aus einem Afghanischen Dorf, ubersetzerin: Ingrid von Heiseler, Bonn Afghanic, Printed in Poland.

پوهنمل رحمت الله حکیمي

# اسلامپاله او برمپاله شاعري

# Islamic and majestically poetry

Assistant Prof. Rahmatullah Hakimi


## Abstract

Poetry art is not just an intoxicating pill, to be addicted to it, it has a heavy social responsibility in addition to spiritual happiness and peace. Literature cannot be studied without studying social values. The highest and highest values of the Islamic community, especially the proud people of Afghanistan, are the blessed religion and rich culture of Islam. Pay attention to this, the Pashto language ghazal and the proud poet Fazl Wali Nagar has written such Islamic and majestically poetry, which the Muslim Ummah is proud of yesterday, today and in the future. In addition to exploring the beautiful aspects of his speech, I have pointed out the aspects that make the heart and soul of every believer feel happy and peaceful.

## لنډیز

شعري هنر یوازې د نشې ګولۍ نه ده چې ځان پرې خمار کړو، پر روحي خوښۍ او سکون سربېره دروند ټولنیز رسالت پر غاړه ولري. د ټولنیزو ارزښتونو له مطالعې پرته ادب نه مطالعه کېږي. د اسلامي ټولنې په ځانګړي ډول د افغان ویاړمن ولس لوړ او علیاء ارزښتونه د اسلام مبارک دین اساسات او دروند فرهنګ دی. همدې ته په پام د پښتو ژبې غزلبول او ویاړمن شاعر فضل ولي ناګار داسې اسلامپاله او برمپاله شاعري

کړې چې د مسلمه امت پرون، نن او راتلونکې پرې ویاړي. ما د نوموړي  په کلام کې پر ښکلاییزو اړخونو سپړلو سربېره هغه خواوو ته اشاره کړې چې د هر مومن زړه  او روح ورسره د خوښۍ او سکون احساس کوي.

## سریزه

شاعر طبعاً د ټولنیزو ارزښتونو او زېګنالونو څخه متأثره وي. پښتنو شاعرانو که له یوه اړخه د شعر خوند ته پام کړی، له بله اړخه یې تخیلي ځواک په خپلو لوړو ټولنیزو ارزښتونو کې سېراب ساتلی.  له دې ډلې استاد ناګار  هغه شاعر دی چې په شاعرۍ کې یې د اسلامي نړۍ پخوانی برم، اسلامپالې هیلې  او د ختیځ نابغه  علامه سید جمال الدین افغان (رح ) ارمانونه غوټه دي. شاعرۍ ته یې د همدې نورمونو تخیلي کولو ځانګړې ښکلا ورکړې ده. ومې غوښتل د «اسلامپالې او برمپالې شاعرۍ» تر سرلیک لاندې د استاد شاعري د خوند او پند په تله وتلم.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د اسلام مبارک دین پولې نه لري. د استاد ناګار شاعري له  دې  اړخه هم  ځانګړی خوند او پند لري   چې د هر مومن د زړه درزا او د ټپ دوا په کې پرته ده. تر ننه د استاد په شاعرۍ‌له دې اړخه د پاموړ کار نه وو شوی. د نوموړي  په شاعرۍ کې د همدې مسایلو سپړنې د څېړنې  اهمیت او مبرمیت  راته په ګوته کاوه چې زه یې سپړنې او څېړنې ته اړ کړم.

## د څېړنې موخې

دا باید روښانه شي چې پښتو شاعري نه یوازې خوند لري، بلکې د مسلمه امت لوړ او برمپال  ارمانونه ورسره غوټه دي. د ناګار په  شاعرۍ کې د اسلامي نړۍ د زړه  درزا اوربدل کېږي. له بله اړخه  ددې وضاحت باید وشي چې ادبیات د ژوند په جوړښت، رغښت او پاینښت، د ملتونو په استقلال او په ځانبسباینه کې ځانګړی رول لري، لکه  د ملالې د خولې ټپې چې د انګرېزي ښکېلاک ماندې را ونړولې.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ د ناګار شاعري څومره د مسلمه امت له ارمانونو څخه ډکه شاعري ده؟

۲ـ د ناګار په شاعرۍ کې د سید جمال الدین افغان افکار څومره ځلېدلي دي؟

۳ـ د استاد شاعري اسلامپاله او برمپاله نومولی شو که نه؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي ـ تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی او د دې څېړنې ډول کتابتوني دی.

## د مقالې متن

پېرمه په سرونو بخارا او سمرقند
ای ترکو! داسې نوي خرابات ته مې زړه شوی
((ناګار))

له پورته بیت سره د مسلمه امت ټولې هیلې، جهادي رونق او اسلامپال ارمانونه غوټه دي. د اسلامي نړۍ د پخواني برم ارمان په کې ځپاند دی. پان‌اسلامېزم د ختیځ د ستر نابغه علامه سیدجمال الدین افغان په افکارو ولاړ هغه سیاسي خوځښت دی چې د مسلمه امت د یووالي او د غربي ښکېلاک پر وړاندې د مبارزې او ځیرکتیا درس راکوي. د سیاسي او ټولنیز فرهنګ اثر لیکوال یې په اړه لیکي: « د علامه سید جمال الدین د سیاسي نهضت بنسټیزه موخه د مسلمه اُمت له یو بل سره نېږدې والی، یووالی او له ښکېلاک سره مبارزه جوړوي. له همدې امله یې په اسلامي هیوادونو کې ډېر پلویان پیداکړل.)) ( همکار، ۱۴۰۰: ۱۸۴)

افغان نابغه ( علیه الرحمه) سید قطب ( رح ) امام حسن البناء ( رح ) ، امام شامل ( رح ) او نور د ختیځ او لوېدیځ روښاندي متدین اسلامپال یې په یوه تغر راټول کړل. لوړ کلام هم د همدې روڼ اندو د اسلامپالو ولولو تفسیروونکی دی. پښتون شاعر چې ګرد مسلمه امت یو بدن ګڼي د بخار او سمرقند څړیکې نه هېروي، د بخارا او سمرقند آهونه یې ارام نه پرېږدي، د خپلو سرونو په بدله کې د بخارا او سمرقند کسات غواړي

او په دې لار کې سر بايلل ورته لوړ خرابات ښکاري. د دې کلام پيغام د مسلمه امت سره د غمشريکۍ او عاطفي څرېکو وروستی حد راښيي، اسلامي نړۍ خپل پخواني برم ته متوجه کوي او ورسره په څنګ کې د خپلو اسلامپالو اسلافو د تاريخ هينداره مو سترګو ته دروي. په ټوله کې له ياد کلام سره د اسلامي نړۍ واحد درد، دبدبه او ځلاند تاريخ غوټه دی. له مفهومي اړخه د ناګار کلام داسې ښکاري لکه د لاندې تاريخي ټپې په ځواب کې چې خپلو خواخوږو ته د ډاډ په خاطر ويل شوی وي:

که پــه مــيوندکـــې شهيـــد نه شوې

خدايږو لاليه! بې ننګۍ ته دې ساتينه

په افغاني ټولنه کې ( ترکې) د ښکلو لپاره هغه استعاره شوې کلمه ده، چې په وسيله يې ګڼ شاعران خپل محبوب ته پرې مخاطب شوي دي. خرابات له مالي اړخه زړه ته راتېر او ګران کس ته کېږي، ليکن ناګار د وطن ښکلو ( ترکو ) ته نوی او معنوي څيز خرابات کوي چې هغه د بخارا او سمرقند لپاره د سرونو خرابات کول دي او د سرونو په بدله کې د برمپالې بخارا او وياړمن سمرقند سودا کوي. دا نو له مفهومي اړخه بېل کيف لري چې شاعر د وطن ښکلو پېغلو ( ترکو ) ته په اسلامي ولولو پسلولی ډاډ او اطمينان ورکوي.

له شکلي اړخه د (ر) توري د بيت په اډانه کې د موسيقيت داسې روح پوره کړی، چې زموږ احساسات او عواطف د سرسپارليو سپاهيانو په څېر د غليم په مقابل کې صف صف دروي. له بلې خوا په دويمه کلمه دې د (نوي) صفت چې د قيد دنده يې تر سره کړه کلام ته ځانګړې ښکلا ورکړې چې لوستونکي ورته متوجه کوي چې دا کوم ډول خرابات دی؟ وروسته فکر کوي چې دا رښتيا زوړ او معمولي خرابات نه دی. د سرونو خرابات بلکل نوې ډالۍ ده چې ترکو ته پرې زېری ورکړل شوی دی. په ټوله کې له تغزلي او مضمون افرينۍ له اړخه بيت لوړ ښکلاييز کيف لري.

د هنر دنده او رسالت څه دی؟ هنر بايد عين وخت هم د انسان استيتيکي حس خړوب کړي او هم ايډيال ولري، يعنې خوند او پند دواړه ولري. يوازې( هنر د هنر لپاره ) تيوري له هنر څخه خپله غايه تري تم کوي. که هنر د ژوند انعکاس وي، بې هدفه ژوند هېڅ معنی نه لري، استاد ښکلي ډېر ښه ويلي:(( هنر د هغه ګولۍ غوندې دی چې

نشه او درملنه په کې دواړه موجود وي، موږ په هنر کې د خپلو واقعي رنځونو علاج هم مومو او ارام هم. )) ( ښکلی، ۱۳۹۶: ۷ )

هنر له ارزښتونو څخه نه جلا مطالعه کېږي او نه ارزښت پیدا کوي، ځکه د هنر منشاء د انسان له سرشت او ختې سره تړاو لري. د مسلمانو فلاسفه وو له ډلې څخه صدرالمتألهین له نورو څخه زیات د هنر د منشاء او هنري تخلیق په اړه خبرې کړې دي، چې حسن هاشم نژاد ایراني لیکوال د نوموړي له لیدلوري څخه د هنر منشاء په یوه مقاله کې څېړلې، ښاغلی نژاد لیکي: « د صدرالمتألهین له انده د الله (جل جلاله) له خوا د انسان خلیفه ګرځول، هغه ته د بېلابېلو هنرونو زده کړه، د لومړني خلقت نښانې، د اثارو او خلاقیتونو د وړاندې کولو په موخه هغه ته د الهام او غریزي تمایلاتو ورکړه، د هنر له منشاء څخه دي. د بېلګې په ډول د الهام په اړه لیکي: ټول مهم لطیفه او غیر لطیفه صنایع په لومړي ځل د الهام له لارې خاصو بندګانو ته القاء شوي دي، چې همدغه منشاء او شروع د هنرونو ده. د هنرونو رامنځته کېدل په الهام سره شوي دي؛ مګر پاتې کېدل او پرمختګ یې په تعلم او تعلیم سره کسب شوی دی. » ( هاشم نژاد، ۱۳۹۵: ۱۱۳)

حسین هاشم نژاد بیا هنر او هنري مشأ په الهي ورکړه پورې تړلې ګڼي، کوم چې الله(جل جلاله) خپل خلیفه او استازي ته ورکړې ده. له دې هم ښکاري، چې هنر د انسان له پیدایښت سره ټینګه اړیکه لري، ځکه هنري ځواک او له پدیدو سره هنري تعامل د انسان په ختہ کې ګډ دی، چې دا نظر مو نور هم له هنر سره نَسبي اړیکه ټینګوي. انسان یو ټولنیز موجود دی، څه چې پنځوي هغه به طبعاً د خپل پنځوونکي چاپیریال ایډیالونه او ارزښتونه معکسوي. همدې ته په پام د استاد ناګار شاعرانه هنر هدفمند او له اسلامي ایډیاله ډک هنر دی. د مسلمه اُمت علیا ارزښتونو ته یې داسې ښکلاییز او هنري رنګ ورکړی دی، چې په لوستونکي ژور اغېز ښندي. ځای ځای یې شاعري یې د ویاړ ، اتلولۍ او برم خبري کوي. بل ځای وایي:

چـــې بیـــا لوړې ، ژورې کـــړمه لاندې تـــر قدم
احساس د لـــېونتوب لـــه بـــوږبوکـــو نـــه ټولوم
یـو بل ( جمال ) ترې غـــواړم چـــې را وښوري جـــهان
کـونړه ! څـــه کـــچکول کې له (( ساپو )) نه ټولـــوم

( ناګار،۱۳۸۹: ۸ )

لوړ کلام کې وینو، چې شاعر په نړۍ باندې د اسلامي حاکمیت د راتلو تنده لري. د بوړبوکۍ غوندې مست او خرامان مزل غواړي چې نه لوړه ګوري نه ژوره. په دویم بیت کې وینو چې له نابغه زېږوونکي ټاټوبي (کونړ) څخه د یو بل جمال غوښتنه شوې چې په خپلو اسلامپالو او برمپالو افکارو سره نړۍ په شور راولي. شاعر په څرګند ډول د سید جمال الدین افغان د ارمانونو پوره کېدل غواړي. لوړ کلام کې د خپلو ویاړلو او روڼ اندو اسلافو د ارمانونو تنده پرته ده. شاعر د خیرات په ځای د نابغه د غوښتلو هیله لري. په کچکول کې خیرات غوښتل کېږي؛ خو ددې اسلامپالې ټولنې شاعر د خیرات په ځای په بل جمال پسې کچکول په غاړه ګرځي. دې خبرو له مفهومي اړخه بیت ته ځانګړې ښکلا ورکړې ده. له شکلي اړخه د (ې) او (و) تورو مکرروالي بیتونه د موزیکالتوب له اړخه د ځپو په څیر روان کړي دي، د داخلي موسقیت روح یې ورکړی دی.

افغانستان بار بار د نیابتي جګړو او لویو قوتونو د سیالۍ په مرکز بدل شوی؛ خو الحمد الله افغان ویاړمن او پتمن ولس په خپل متین هوډ او جهادي برم سره د بلواګرو، استعمارګرو ټغر ورټول کړی او د دوی شومې موخې یې خنثی کړې دي. هر ځل یې دښمن ته شرمېدونکې ماتې ورکړې. استاد ناګار په عاطفي ډول په کابل زړه سوځي او د اسلامي نړۍ د زړه لقب ورکوي، هغه ګل ته یې ورته ګڼي چې هره شېبه په خپل سره رنګ کې تر و تازه وي وایي:

شېبه ـ شېبه په وینو سور لکه د ګل دی زما
ټپـــي زړګـــی د اســـلامي نړۍ کابل دی زما

( ناګار،۱۳۸۹: ۸۹ )

لوړ کلام د دردېدلي او په وینو سور کابل داستان بیانوي، کوم چې اسلامي نړۍ پرې دردمنه ده. د حدیث شریف مفهوم دی چې مسلمانان د یو بدن غړي دي، که یو دردمن شي ټول وجود ورسره نارامه وي. دلته وینو چې د اسلامي نړۍ زړه (کابل) د ګل په څېر ژر ژر د وینو رنګ خپلوي. شاعر پرې خفه نه دی همدا یې ښایست ګڼي، لکه ګل چې په سره رنګ کې ښکلی ښکاري، همدا شان اسلامي نړۍ د کابل په رنګ او

قربانیو رنگینه ښکاري. مسلمه امت یو وجود ګڼل، کابل یې زړه ګڼل او له ګل سره یې ورته والي بیت ته له مفهومي اړخه ځانګړې ښکلا ورکړې. له شکلي اړخه د ( شېبه شېبه ) ترکیب کلام ښکلی کړی چې د لوستونکي توجه په متداوم ډول ښکلي او برمپال کابل ته را اړوي.

د بغداد شور، د کابل لپه دعا

ښېرې پـه لویه هدیره بـه کوو

( ناګار،۱۳۸۹: ۵۱ )

پورته کلام کې د مسلمه امت د توحید او برم رنګ پروت دی. شاعر د اسلامي نهضت، علم او عرفان د مرکز ( بغداد) د زړه درزا اوري او له کابله لپه دعا ورلېږي. د مسلمه امت درد هغه پراخې هدیرې ته ورته دی چې ظالم ته د ښېرا ځوږ په کې چلیږي. اسلامپالو او برمپالو ولولو پورتني کلام ته ځانګړې ښکلا ورکړې. بل دا چې کابل ته پرسنوفیکشني ځانګړنه ورکړل شوې چې د مکنیه استعارې کیفیت لري، دعا ته د ټولو افغانانو د لاسونو لپه کول تري هدف دی. د بل ولایت په نسبت کابل ځکه یاد شوی چې پلازمېنه ده، ګڼ افغان قومونه په کې راټول دي. (د کابل لپې دعا) ترکیب د (ر، ښ او ش) تورو ازانګو او په همدې تورو جوړو شویو کلمو خپملنځي تناسب بیت له شکلي اړخه ښه ښکلی کړی دی.

بل ځای وایي:

که په کابل که په بغداد که فلسطین کې مرمه

مـا د مظلوم د غـم په خپل نوم قواله کړې ده

( ناګار،۱۳۸۹ : ۵۸ )

په لوړ بیت کې د مظلوم غم دومره وېړ او ارزښتناک ګڼل شوی چې د نړۍ په هر کونج کې وي موږ دردولای شي. پښتون شاعر په دې خبره باوري دی چې اسلام سرحد نه لري او مسلمان بېلتون. جغرافیایي پولې د دوی ترمنځ واټن نه شي رامنځته کولای، نو ځکه د ټولې اسلامي نړۍ غم په ځان تماموي، په هر ځای کې د مسلمان مړینه خپله مړینه بولي. همدا علت دی چې د مظلوم د غم قباله ننګیالي افغان په خپل نوم

کړې. له دې ښکارې چې د اسلامي نړۍ برم په اتفاق او همغږۍ کې نغښتی چې په دې برم سره هر چېرې د ظالم لاس نیول کېږي او د مظلوم آه اورېدل کېږي. له شکلي اړخه د (که) تړلي مورفیم کلام د داخلي موسیقیت له اړخه ښکلی کړی دی.

ختیځ چـــې په پاڅون او په توپان ولړزوي
کونـــړه ! سید څه شو چې جهان ولـړزوي
ستانه ؤ، تاسو کې څه شولو احساس د الاهو
ځانورکي چې په شور د خپل ایمان ولړزوي
( ناګار،۱۳۸۹: ٦٢ )

د ختیځ ستر نابغه علامه سید جمال الدین افغان ( ر ح ) په خپلو روڼ اندو او برمپالو هنګامو سره په نړۍ کې داسې سپېڅلی او په اسلامي ولولو پسوللی شور جوړ کړو چې د انګریزانو او یهودي ښکېلاګرو د غوړونو پردو یې تاب را نه وړ. همدا علت وو چې بیا په نړۍ باندې د اسلامي حاکمیت راوستلو ارمانجنه وړمه را تاوه شوه. د اسلامي نظام د پخواني برم پیکه رنګ بیا را تازه شو. ناګار صاحب هم د یوویشتمې پېړۍ په منځ کې په افغان خاوره باندې د استکباري ځواکونو او بلواګرو له یرغل سره سم د بل سید ارمان کوي چې په خپل عقیدوي او متبحر فکر سره جهان په لړزه راولي او په ختیځ کې د یوه داسې پاڅون ارزو لري چې د مسلمه امت د پت او شهامت نړیواله ترجماني وکړي. همدې موضوعاتو ته په پام د استاد ناګار کلام له محتوایي اړخه ښکلي افاقي مزلونه وهي. د بخارا پخواني برم د بېرته را ګرځېدو په اړه وایي:

هر ( اېزم ) ټکنی شو ، راغی وار مې په نړۍ
بقا ته یې پیغام چې همه ګیر ګورم د ځـــان
بیـــرغ د بخـــارا چې ورپېږي پـه سره پـوله
ناګاره! تر هغې محکوم ضمیر ګورم د ځان
( ناګار،۱۳۸۹: ۲۰ )

لوړو بیتونو کې د اسلام مبارک دین د حقانیت او پخواني برم درس پروت دی. د اسلام نړیوال او افاقي دین په وړاندې هر اېزم او ډله په تدریجي ډول باطله کېږي، شاعر

تر هغې پورې خپل ضمیر محکوم ګڼي تر کومه چې اسیره بخارا بېرته خپل پخواني برم ته نه وي را ګرځېدلې. بل ځای وايي:

په دې میوند ـ میوند وطن کې زما
ښې ښکاري چغې د تکبیر چې وي
د انساني نړۍ لمنې ته داغ
د فلسطین بچی اسیر چې وي
د شامل هیلې، بخارا ونیسه
ایوبي پورته کړه اقصی ونیسه
د تکبیرونو د هېواد زامنو!
درنو تپو خورو ورو لمنو
د شهید وینه انتقام غواړي
په ځمکه بیا د خدای نظام غواړي
( ناګار،۱۳۸۹: ۲۳ )

په پورته منظوم کلام کې د اسلام فاتحانه او ویاړمن نظام د استحکام هیله ښکاري، هغه که په هره جغرافیه کې وي. له دې سربېره خپلو اتلانو او سرسپارلو مجاهدینو ته د اسلامي جغرافیې د پراختیا، یووالي او لا غوړېدا سپارښتنه کوي.

د فلسطین بچیو اسیروالی یې بیخي د انسانیت په لمن داغ ګڼلی. امام شامل (رح ) د چیچنیا نامتو روحاني مشر چې د روسي ښکېلاک پر ضد نږدې دېرش کاله وجنګېده. زموږ شاعر د امام شامل (ح) اسلامپالې هیلې د خپلو اتلانو سترګو ته دروي او د اسلامي نظام د مراندو ټینګېدو هیله ترې کوي. د خپلو شهیدانو د وینو قیمت یوازې او یوازې د الله ( ج ) په ځمکه باندې د الهي نظام حاکمیت ګڼي او بس. له محتوايي اړخه لوړ بیتونه عالي او افاقي پیغام لري چې په وسیله یې ګران افغانستان د تکبیرونو هېواد ګڼل شوی؛ نو د تکبیرونو هېواد ته به طبعاً د ګردې اسلامي نړۍ د مسؤلیت دستار ورتړل کېږي. له شکلي اړخه ندايي کلمو او ترکیبونو په بیتونو کې له احساساتو څخه ډک ښکلاییز کیف پو کړی دی. بل ځای یې د استعمارګرو او استثمارګرو له خوا رامنځته شوې باطلې نظریې څخه چې مکتب او مدرسه بېله ګڼي خپلې پرګنې داسې خبروي:

د جــومات او سیاست لاره نړدې کــه
وروستنی حل تل محراب او ممبر بویه
( ناګار،۱۳۸۹: ۷۴ )

د غربي ښکېلاک، استعمار او استثمار یوه هڅه دا وه چې د مکتب او مدرسې تر منځ بریدونه وټاکي. په اسلامي هېوادونو کې یې تر ډېره دا پروژه د خپلو لاسپوڅو په لاس پلې کړه. د اسلام مبارک دین هغه نړیوال دین دی چې د سیاست او نورو عصري علومو مبدا ګڼل کېږي. شاعر هم د دغه غربي مفکورې څخه سر ټکوي. په بشري ټولنه کې یې د معزلې حل یې د جومات او سیاست، مکتب او مدرسې، محراب او ممبر په نږدېوالي کې نغښتی ګڼلی چې له محتوایي اړخه یې زموږ علیاء ارزښتونو ته په پام کلام ته ځانګړی ښکلاییز کیف ورکړی دی . ناګار د افغان ولس په بریاوو ویاړي له ظلم څخه د اسلامي نړۍ د خلاصون وسیله یې ګڼي لکه چې وایي:

بیـا د پامیر له سره پورته ګــردله وخته
د نړۍ بـام ته مـو د فتحې قافلــه وخـته
زما تـکبیر د ورانسازي انقلاب پیـلامه
چې له کشمیر تر کاشغر نوې ولوله وخته
( ناګار،۱۳۸۹: ۴۱ )

بل ځای شاعر د ( تاله درځم ) نظم تر سرلیک لاندې اسلامي نړۍ ته له ظالم څخه د مظلوم د کسات اخیستلو ډاډ ورکوي، د اسلامي نړۍ درد خپل درد ګڼي لکه چې وایي:

محکوم د شرق و غرب مې هر تکبیر کړ بــدرګه
نـــړۍ ځـــان پسې لیکه دروم، تـا لــه درځـم
را نغـــاړي هره چیـــغه مــــې فــریاد د بـخارا
اقصٰی په خپـل پیغام کې ځایـوم، تالــه درځم
هــر ( ایزم ) ورو - ورو ځای پرېږدي نظام ته د قرآن
شپېلـۍ د جهاني پـــاڅون پـــوکم، تا له درځم
(ناګار،۱۳۸۹: ۶۹)

لوړ کلام کې د سپېڅلي جهاني پاڅون هيله نغښتې. شاعر په دې يقيني دی چې زموږ تکبيرونه به ختيځ او لوديځ بدرګه کوي، د نړۍ هر ډول اېزمونه به د قران نظام ته ځای پرېږدي. پورتنيو بيتونو کې د افاقي، اسلامپالو او برمپالو ولولو شور پروت دی، له محتوايي اړخه د اسلامي نړۍ برمناکې هيلې ورسره غوټه دي چې کلام ته يې ښېله ښکلا ورکړې. له شکلي اړخه د ( تاله درځم ) فعلي ترکيب او د (م) توري د لوستونکو او اورېدونکو د احساساتو په وېښولو کې د موسيقيت له اړخه کلام ښکلی کړی. استاد ناګار خپلو وياړمنو شهيدانو ته په شاعرانه ژبه په نړۍ باندې د اسلامي نظام د حاکميت او استحکام راوستلو ډاډ او اطمينان ورکوي وايي:

شهيده! ستا په سر قسم چې را ستنېږو تــرې نه
له ستره عـــزمه نــــه جاروځو بېرته کېږو تــرې نه
سر مـو په لاس کې دی نيـــولی پاک الله له ورځو
افــغــانستــــان آزادوو، بيـــا بخـــارا له ورځـــو
(ناګار،۱۳۸۹: ۱۲۷)

لوړو بيتونو کې د اسلامي نظام د استحکام او پراختيا تومنه پرته ده. د خپلو وياړمنو او سپېڅلو شهيدانو په سر قسم خوړل شوی چې له خپله عزمه به نه راګرځي او د اسلامي جغرافيې لوېشت لوېشت ځمکه به فتحه کوي او د اسلامي استقلال وياړلی توغ به په بخارا رپوي.

استاد ناګار د نړۍ په ظالمانو او د هغوی په لاسپوڅو غږ کوي چې زموږ وينو ته په کمه سترګه مه ګورئ، مه يې د سودا او مه يې د زبېښلو هڅه کوئ وايي:

نر دې شي زما سوداګر بل دې يو قدم واخـــلي
زه د شهيد وينه يم ، چې اور تمام عالم واخلي
ليکې مې د وينو له ختيځ او لوديځ تاوې شوې
پرېدئ چې د عصر تاريخونه ترې رقم واخلي
( ناګار،۱۳۸۹: ۷۹ )

لوړ کلام زموږ د سرسپارلو او مجاهدو شازلمو د وينو په ارزښت خبرې لري. شاعر په دې اند دی چې زموږ د شهيدانو وينو ته په کم نظر مه ګورئ، په دې وينو تاريخ جوړونکې او د ظالم تباه کوونکي داستانونه جوړېږي. بل ځای استاد ناګار د مسلمه

امت د برم، پت او ویاړ جوهر په جهاد او د رسول الله ( صلی الله علیه وسلم) په کړنلاره کې ویني او همدا د یهودي او نصراني ښکېلاک څخه د نجات بهترینه لار ګڼي وايي:

جهاد روښانه خط د پیغمبر ( ص ) دی، ځئ چې ځو
د خدای ( ج) د ازمویني خور ډګر دی، ځئ چې ځو
ماشـوم د بـخـارا بـه تـر څو پټ لولي قـرآن
مؤمن ته بس همدا زنګ د خطر دی، ځئ چې ځو
افغانـه! په شانـه ځې، خو چې ونه خورې تینـدک
حساب د ګرد اسلام نن ستا په سر دی، ځئ چې ځو
( ناګار،۱۳۸۹ : ۲۳ )

پورته بیتونو کې جهاد او مجاهده د مسلمه امت په ځانګړي ډول د افغان میړني ولس لپاره مهمه ګڼل شوې. چېرته چې جهاد وي، هلته بلواکي او غلامي قدم نه شي اېښودلای. د اسلامپال او برمپال افغان په سر باندې د ګردې اسلامي نړۍ حساب کوي چې د بیتونو پیغام او منځپانګه ورسره ښکلې شوې. له شکلي او رغښتي اړخه د ( دی، ځئ چې ځو) ردیف د لوستونکو او اورېدونکو د سپېڅلو او اسلامپالو احساساتو د راوېښولو باعث شوی، د هر مومن روح ورسره خوښ او ارام کېږي. له دې سربېره د (و) توري د بیتونو په داخلي موسقیت کې رغنده رول لوبولی دی.

پښتون روڼ اندی شاعر فضل ولي ناګار خپل تخیلي ځواک په انقلاب کې خوښ او سوکاله ویني. په اړه یې وايي چې همدا تخیل به یا په انقلاب کې انځورېږي یا د وینو په فوارو کې، له دې ښکارې چې شاعر له ویدو او خوبولو فکرونو څخه بد وړي. ناګار د نن او پرون هغه ترجمان شاعر دی چې سبا ته یې د اسلامپالو، عرفاني، برمپالو او ویاړمنو ولولو سره روان کړي یو. استاد بریالی باجوړی یې((د پښتو معاصر تاریخ اوښتون پړاو )) اثر کې په اړه لیکي : (( ناګار د جهاد او مقاومت د دوران هغه نازکخیال شاعر دی چې د لفظونو په ښایست کې د انقلاب او مقاومت غږ ولسونو ته رسوي او د ملي هویت او ویاړونو څخه یوه ذره نه لرې کېږي. د ښکلو کلماتو، ترکیبونو او نویو خیالونو هغه ماهر اوبدونکی دی لکه څوک چې مرغلرې پېیي. )) (باجوړی، ۱۴۰۱: ۱۹۴)

استاد باجوړي يې په شاعرانه هنر لنډې او مهمې خبرې کړي؛ دلته باید یو وضاحت موجود وي هغه دا چې مقاومت ډېرى وخت زموږ په ټولنه کې د خپلمنځي ډلو ټپلو تر منځ يو د بل په مقابل کې د درېدلو لپاره دود شوې کلمه ده؛ ولې د استاد ناګار په هنر کې چې د کوم مقاومت څرک لګي، يا يې څېړونکي شاعري د مقاومت له اړخه ارزوي له هغې څخه په افغان خاوره په ځانګړي ډول په اسلامي نړۍ د جابرو، ښکيلاکګر، طاغوتي يهودو، انګريزانو، بلواکګرو او د دوی د لاسپوڅو په وړاندې د جهاد او سنګر ګرم ساتل او استحکام هدف دی. جهاد او مقاومت تل د غليم او ظالم په وړاندې کېږي، نو ځکه استاد باجوړي استاد ناګار د جهاد او مقاومت د دوران شاعر ګڼلی، کوم وخت چې په ګران هېواد شوروي لښکرو ظالمانه حملې او تيري پيل کړل. د استاد ناګار کلام د مسلمه امت له وياړمنو او تاريخ جوړونکو هيلو څخه ډک دی، د يوه کوچني شاګرد په څېر يې ببرته ورته په خپل بيت کوم چې د خپل هنر ښکلاييز محک يې پرې ټاکلی د تعظيم او احترام مراتب ترسره کوم:

يو ځلـــې بيـا ژوند د اسلام او مسلـمان په نړۍ
ناګار خپل فن ته بس همدغه مکافات اېښی دی
( ناګار،۱۳۸۹: ۵۲ )

## پايله

د شاعرانه هنر د کچ مېچ کولو يوه تله ټولنيز مقبوليت دی. د ټولنيزو ارزښتونو هنري تفسير عالي شاعري ده. اصلي هنر د ژوند ښکلا او مهذبه ترجماني کوي. د استاد ناګار شاعري همداسې ده، د افغاني ټولنې ور ها خوا د ګردې اسلامي نړۍ د زړه درزا او ارمانونه انځوروي. له شعرونو څخه يې د برم، پت، ننګ، وياړ ، اسلامپاله او برمپاله وږمه پورته کېږي چې هر مومن پرې روحاً د خوښۍ او سکون احساس کوي. کومو بيتونو باندې چې په دې څېړنه کې خبرې وشي دا يې روښانه کړه چې استاد ناګار د افغاني ټولنې هغه وياړمن شاعر دی چې د اسلامپالو او برمپالو ولولو نايابه هنري تفسير يې کړی. د افغاني ټولنې برم او د اسلامي ټولنې سپيڅلي آهونه يې په هنري او تغزلي لړ کې پېيلي.

## مأخذونه

١ ـ باجوړی، بریالی. (۱۴۰۱ ل)، د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ اوښتون پړاو، جهان دانش خپرندویه ټولنه: کابل.

۲ ـ همکار، توکل. ( ۱۴۰۰ل)، سیاسي او ټولنیز فرهنګ، لومړی چاپ، سمون خپرندویه ټولنه: کابل.

۳ ـ هاشم نژاد، حسین. ( ۱۳۹۵ ل)، منشاء هنر از منظر صدرالمتالهین، فلسفه:( نشریه علمي ـ شماره ۴۴ ) دانشگاهی جهاد.

۴ ـ ناګار ، فضل ولي. ( ۱۳۸۹ل)، د ناګار شاعري. د نجیب الله نایل په سریزه راټولونه، ناګار خپرندویه ټولنه: ننګرهار.

۵ ـ ښکلی، اجمل. ( ۱۳۹٦ل)، ادبستان، لومړی چاپ، کلاسیک خپرندویه ټولنه: ننګرهار.

څېړندوی شوکت الله عمر

# د ژبې او څېړنې ترمنځ اړیکې

# The relationship between language and research

Assistant.prof.Shukatullah Omar

**Abstract**

Language and research represent two pivotal social constructs that exhibit profound and reciprocal interrelations. Language functions as a fundamental component of social structure and cultural systems, whereas research constitutes an indispensable methodological tool for the systematic and rigorous examination of these constructs. The interplay between language and research can be broadly categorized into two dimensions: language as a methodological instrument in research, and language as the object of scholarly inquiry.

Language as a Research Instrument: In this context, language is regarded as a fundamental tool in the research process. For researchers, language is essential for the exchange of information, the articulation of ideas, and the facilitation of academic discourse. The research process is conducted through language, which provides the basis for communication and coordination among researchers.

In this context, language is regarded as the primary focus of investigation. Comprehensive research on the structure, rules, and usage of language is conducted within the discipline of linguistics. Language represents a

significant subject in the study of social interactions, cultural relationships, and the processes of identity formation. The phenomena of language change, development, and domains of use constitute important areas of research. This article systematically examines the interrelations between these two concepts.

## لنډیز

ژبه او څېړنه دوه مهم ټولنیز مفاهیم دي چې په خپلو کې ژورې متقابلې اړیکې لري. ژبه د ټولنیز جوړښت او فرهنګ اساسي برخه ده، څېړنه د دې مفاهیمو د ژورې او کره پلټنې لپاره اړینه وسیله ده. د دې دواړو مفاهیمو ترمنځ اړیکې په عمومي توګه پر دوو برخو  وېشل کېږي: ژبه د څېړنیزې وسیلې په توګه او ژبه د څېړنې د موضوع په توګه ژبه د څېړنې د وسیلې په توګه: په دې برخه کې ژبه د څېړنې د پروسې یوه بنسټیزه وسیله ګڼل کېږي. د څېړونکو لپاره ژبه د معلوماتو د تبادلې، نظریاتو د بیان او د علمي بحثونو  لپاره اړینه ده. د څېړنې پروسه د ژبې په وسیله ترسره کېږي چې د څېړونکو ترمنځ د اړیکې او همغږۍ زمینه برابروي. ژبه د څېړنې د موضوع په توګه: په دې برخه کې ژبه د څېړنې موضوع ګڼل کیږي. د ژبې د جوړښت، قوانینو  او کارونې په اړه هر اړخیزه څېړنه په ژبپوهنه کې ترسره کیږي. ژبه د ټولنیزو تعاملاتو، کلتوري اړیکو او د هویت جوړونې په پروسه کې یوه مهمه موضوع ده. د ژبې  بدلون، پرمختګ او د کارونې ځایونه د څېړنې یوه مهمه  برخه ده. په دې مقاله کې د دواړو مفاهیمو اړیکې په منظم ډول څېړل شوې دي.

## سریزه

ژبه د انساني اړیکو بنسټ دی، انسان ته د افکارو د اظهار، د پوهې د لېږد او په خبرو اترو کې د استدلال وړتیا ورکوي. د افکارو  اظهار د مسائلو په حل کې رغنده رول لري، د پوهې لېږد د پېښو او پدیدو په پېژندنه کې مرسته کوي، په علمي او څېړنیزو مسائلو خبرې اترې د پوهانو او څېړونکو د شننې، سپړنې او کره کوونې ځواک ته وده ورکوي. د ستونزو حل، د پوهې لېږد، د نویو پېښو او پدیدو پېژندنه د څېړنې له مهمو موخو څخه ده. د ژبې او څېړنې ترمنځ اړیکه څو اړخیزه ده، بېلابیل اړخونه په کې شامل دي، چې د پوهې د رامنځته کولو، خپرولو او سپړلو  پر څرنګوالي اغېزه کوي. څېړنه د فرضیو او

میتودونو په څرګندولو کې پر ژبه تکیه کوي، په سمه توګه د ژبې کارونه د پېچلو افکارو لېږد ته زمینه برابروي. سربېره پردې ژبه په خپله د څېړنې موضوع ده، څېړنه د ژبپوهنې او په ځانګړې توګه د ټولنیزې ژبپوهنې په برخه کې د ژبې د کارونې څرنګوالی، پرمختګ او پر انساني کړنو باندې د ژبې اغېزې څېړي. د ژبې او څېړنې ارزښت ته په کتو په دې مقاله کې د ژبې او څېړنې ترمنځ دوه اړخیزې اړیکې څېړل شوې دي، دا چې ژبه څنګه د څېړنې پروسې ته لوری ورکوي او د څېړنې یو شمېر هغه لارې چارې چې د ژبې په پوهېدو کې مرسته کوي، په دې مقاله کې تر بحث لاندې نیول شوي دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

په پښتو ژبه کې تر اوسه پورې ((د ژبې او څېړنې اړیکې)) ترسرلیک لاندې علمي لیکنه نه ده شوې او نه هم تر اوسه د ژبې او څېړنې ګډې اړیکې څېړل شوې دي، په دې څېړنیزه مقاله کې به یې اړیکې په ډاګه شي.

## د څېړنې موخه

د دې مقالې موخه دا ده چې د ژبې او څېړنې پر اړیکو، پر څېړنیزو اصولو او مېتودونو باندې له ژبنیو اغېزو د څېړونکو، لوستونکو او ژبپوهانو خبرول دي.

## د څېړنې پوښتنه

۱- ژبه د څېړنې له اصولو او مېتودونو سره څه ډول مرسته کوي؟

۲- د ژبې او ژبپوهنې کومې برخې په څېړنیز ډګر کې ځای لري؟

۳-څېړنه په کومو برخو کې پر ژبه تکیه کوي؟

۴-ژبه د څېړنیزې وسیلې په توګه له څېړنې سره په کومو برخو کې مرسته کوي؟

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې مېتود تشریحي، تحلیلي او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

که څه هم ژبه، د ژبې داخلي جوړښت، د ژبې ډولونه، د ژبې قوانین، د ژبې ګړدودونه، ژبنۍ پدیدې او د ژبې د زده کړې لارې چارې د څېړنې د پرنسیپونو او اصولو په واسطه را برسېره کېږي؛ خو له بلې خوا څېړنه د څېړنې اصول، د څېړنې مېتودونه،

څېړنیز مواد او وسایل د ژبې په واسطه څرګندېږي او څېړنې ته د فکر د لېږد وړتیا وربخښي، ژبه او څېړنه نه جلا کېدونکې اړیکې لري، دا چې دا اړیکې کومې او څه ډول دي، دلته پرې غږېږو:

## د ژبې او څېړنې اړیکې

د ژبې او څېړنې ترمنځ د اړیکو ساحه پراخه ده، په عمومي توګه موږ د ژبې او څېړنې اړیکې پر دوو برخو وېشو:

۱ـ ژبه د څېړنې د وسیلې په توګه.

۲ـ ژبه د څېړنې د موضوع په توګه.

## ژبه د څېړنې د وسیلې په توګه

ژبه انسانانو ته پوهې د لېږد اساسي وسیله ده، چې په علمي څېړنو کې ځانګړې اهمیت لري. د څېړنې په پروسه کې ژبه نه یوازې د معلوماتو د راټولولو او شننې لپاره د ارتباط وسیله ګڼل کېږي، بلکې د نظریاتو د څرګندولو، مفاهیمو د جوړولو او د علمي بحث د رامنځته کولو بنسټیزه برخه هم ده. د ژبې له لارې څېړونکي کولای شي خپلې څېړنیزې موخې، مېتودونه او پایلې په منظم او منطقي ډول وړاندې کړي، دا چاره د علمي شفافیت او پوهې د پراختیا لپاره ګټوره ده. سربېره پر دې ژبه د علمي ټولنې د غړو ترمنځ د پوهې د تبادلې او همکارۍ امکانات برابروي، له همدې امله ژبه د څېړنې د وسیلې په توګه د علمي چارو د ټولو پړاوونو لپاره اړینه ده، ځکه چې پرته له اغېزمنې ژبې، د څېړنې موخې په سمه توګه نه شي ترلاسه کېدا او علمي پرمختګونه محدود پاتې کېږي. ژبه د علمي څېړنو د پراختیا لپاره مهمه او اساسي وسیله ګڼل کېږي.

د علمي څېړنو په هر پړاو کې له فرضیې جوړونې نیولې، تر موادو راټولونې، شننې او موندنو پورې، ژبه محوري او اساسي ونډه لري. څېړونکي له ژبې څخه د فکري وسیلې، د ارتباطي پول په توګه کار اخلي، څو خپلې مفکورې، فرضیې، موندنې او علمي پیغامونه نورو ته په اغېزمنه توګه ورسوي.

نامتو ژبپوه سو سور وایي: هغه نظام چې د یوې ژبې د ټولو ویونکو او زده کوونکو له خوا په مشترکه توګه یو ډول زده کېږي، ژبه بلل کېږي.(محبوب، ۱۳۹٦ل: امخ)

څېړنه انساني ځانګړنه ده چې د حقیقتونو د کشف، د ستونزو د حل او د علومو د پراختیا په موخه ترسره کېږي. (ایران پیپر، ۱۳۹۵ل)
ژور آموزان په ویبپاڼه کې د څېړنې پېژندنه په لاندې ډول راوړل شوې ده: څېړنه یوه منظمه علمي، تحلیلي او نوښتګره پروسه ده، چې په کې چې د پېښو، پدیدو، کړنو او متنونو د بیانولو او بیا کتنې لپاره تر سره کېږي. (ژیور آموزان،۱۴۰۰ل)
رسول مرادی د رهمنای تحقیق په حواله تحقیق د هغو کړنو ټولګه بولي چې د واقعبتونو د کشف او موندنې لپاره ترسره کېږي، په دې اړه یې لیکلي دي: ( فعالیت های قدم به قدم فکري است که برای کشف واقعیت ها و منطبق کردن اندیشه با واقعیت، به هدف حل مساله و پاسخ به سوال انجام می شود.) (مرادی، ۱۳۹۲ل:۱۰مخ)
د څېړنې پروسه له مختلفو مرحلو څخه جوړه شوې ده، چې هره مرحله یې د ژبې په مرسته ترسره کېږي. له علمي مقالو او کتابونو څخه د معلوماتو راټولونه، د شواهدو ارزونه او د پایلو وړاندې کول ژبنیو مهارتونو ته اړتیا لري. ژبه د څېړنې د وسیلې په توګه تر ټولو ارزښتمنه وسیله ده. د نړۍ پوهان او څېړونکي د څېړنې پایلې او لاسته‌راوړنې په نړیوالو ژبو لیکي، ژبه د څېړنیزې وسیلې په توګه د نړۍ مختلفو برخو ته د افکارو د لېږد چاره سرته رسوي، همدارنګه ژبه د څېړنې د یوې وسیلې په توګه په ساحوي څېړنو کې د مرکې او پوښتنپاڼې په وسیله د موادو په راټولونه کې رغنده ونډه لري، ژبه د څېړنېزو چارو د اسانتیا او سمون په برخه کې له څېړنې سره په لاندې برخو کې مرسته کوي:
**د فرضیو بیان:** فرضیه د څېړنیزې پروسې مهمه برخه ده، چې د څېړنیزو موخو لپاره یوه اټکل شوې پایله وړاندې کوي، ژبه د فرضیې په جوړولو کې مهم رول لري، ځکه چې ژبه د فکر د انتقال وسیله ده. د ژبې په وسیله پوهان خپل نظریات له نورو سره شریکوي او له ټولنې سره پرې اړیکې ټینګوي، د ژبې جوړښت او د ګرامري قوانینو رعایت له پوهانو سره د فرضیې په وضاحت، بیان او د پیغام په لېږد کې مرسته کوي.
**د څېړنیزو پایلو لېږد**: د څېړنې پایلې باید په واضح او دقیق ډول بیان شي، ځکه چې لوستونکي او څېړونکي باید معلومات په سمه توګه درک کړي. د ژبې د سمو او مناسبو اصطلاحاتو کاروونه د معلوماتو په لېږد کې مهمه ونډه لري، ژبه باید له علمي

معیارونو سره سمون ولري. کله چې د څېړنې پایلې واضح او عام فهمه وي، څېړونکو او پوهانو ته د بحث او مناقشې فرصت برابرېږي.

**د موادو راټولونه**: د موادو راټولونه د څېړنې اساس دی، څومره چې مواد سم او په منظم ډول راټول شي هومره د څېړنې د شننې او سپړنې چاره اسانوي. د څېړنیزو موادو د ارزښت په اړه د ((ادبي څېړنې میتودولوژي)) اثر لیکوال څېړنپوه محمد نبي صلاحی لیکلي دي: ((...لکه یوه ودانۍ چې له ودانیزو توکو پرته نه شي جوړېدلای، په هماغه شان د یوه علمي ـ څېړنیز اثر د لیکلو او جوړښت لپاره هم له ټاکل شوې موضوع سره په تړاو د اړینو موادو راټولول حتمي او لازمي دي)).(صلاحي، ۱۴۰۱ل: ۱۹۴ مخ)

په څېړنېزو چارو کې مواد او معلومات په څلورو طریقو راټولېږي:

مطالعه

مشاهده

مرکه

پوښتنپاڼه(پشتیباني پارس مدیر،۱۳۹۲ل)

له پورتنیو څلورو لارو چې د مواد او معلوماتو د راټولونې لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي، مطالعه، مرکه او پوښتنپاڼه د ژبې پورې تړاو لري، پر ژبه پوهېدنه له متونو او آثارو څخه د ګټې اخیستنې لار پرانیزي، مرکه له مقابل لوري سره په هغه ژبه ترسره کېږي، په کومه ژبه چې پوهېږي. د پوښتنپاڼې په پوښتنو پوهه ترلاسه کول په ژبې پورې تړاو لري، څومره یې چې ژبه اسانه، عام فهمه او د ځواب ورکوونکي د سویې سره سم وي، هومره پوښتنو ته سم ځوابونه وایي، سم ځوابونه څېړونکو او لیکوالانو ته ته کره پایله په لاس ورکوي.

**علمي لیکنې:** ژبه د علمي لیکنو لپاره بنسټیزه وسیله ده. څېړونکي له ژبنیو توکو په ګټه اخیستنې سره د خپلې څېړنې موندنې، لاسته راوړنې او نظرونه په علمي مقالو، کتابونو او ژورنالونو کې له نورو څېړونکو او پوهانو سره شریکوي، په منظم او منطقي ډول له علمي معیارونو سره سم د ژبنیو اصطلاحاتو کارونه د علمي لیکنې تضمین دی.

**په اکاډمیک چاپېریال کې د ژبې ارزښت:** ژبه په اکاډمیک چاپېریال کې د ارتباط یوه مهمه وسیله ده، څېړونکي له خپلو همکارانو، استادانو او محصلینو سره د علمي

بحثونو او ګډو همکاریو لپاره ژبه کاروي، پوهان او څېړونکي خپلې مفکورې او پوښتنې د ژبې په وسیله په علمي سیمینارونو، کنفرانسونو او ورکشاپونو کې په اغېزناکه او واضحه بڼه له نورو سره شریکوي.

**مأخذونو او سرچینو ته لاسرسی:** د څېړنې پر مهال ژبه د مأخذونو او سرچینو په موندنه او لاسرسي کې مهمه ده. څېړونکي د علمي مقالو، کتابونو او نورو منابعو څخه ګټه اخلي د ژبې په وسیله یې مطالعه کوي. د مأخذونو په مرسته، څېړونکي د خپلې څېړنې لپاره اړین معلومات او شواهد راټولوي او شني یې، خو دا چاره هله اسانېږي، چې لیکوال پر ژبه پوه وي.

**د علمي مېتودونو په ټاکنه کې د ژبې اغېزه:** ژبه د علمي میتودونو په ټاکنه کې د ارزښت وړ ده. څېړونکي د خپلې څېړنې لپاره د مناسبې ژبې او اصطلاحاتو په کارونې سره مېتود ټاکي. د کره او مناسبو اصطلاحاتو کارونه د مېتودونو د درک او پلي کېدو لپاره اړین دي، د مثال په توګه که یو څېړونکی وغواړي پوه شي، چې خلک څنګه د انګلیسي ژبې لغتونه زده کوي، هغه ممکن د سروې مېتود وکاروي. په سروې کې داسې پوښتنې کوي، لکه: تاسو د انګلیسي لغتونه څنګه زده کوئ؟ خلک ممکن ځوابونه ورکړي، چې زه له کتابونو یا له انټرنټ څخه، دا سروې به څېړونکي سره مرسته وکړي چې د لغتونو د زده کړې لارې وپېژني.

**د علمي لاسته راوړنو خپرول:** د څېړنې پایلې او لاسته راوړنې د علمي مقالو، کنفرانسونو او نورو فورمونو له لارې د ژبې په وسیله خپرېږي، د ژبې علمي کارونې له لارې څېړونکي خپلې موندنې په اغېزناکه توګه ټولنې او څېړنیزو مرکزونو ته وړاندې کوي.

**اعتبار ورکوونه:** ژبه د اعتبار ورکوونې لپاره هم مهمه ده. که څېړونکي د نورو څېړونکو او پوهانو موندنې او نظریات په واضح ډول بیان کړي، چې دا د ژبې علمي اعتبار ورکوونې لپاره ډېر اړین دی. د آثارو او علمي موندنو د اعتبار لپاره باید څېړونکي د پوهانو او څېړونکو نظرونه او خبرې په سمه توګه نقل کړي او مناسبه علمي ژبه دې ورته وکاروي.

**ژبه د څېړنې د موضوع په توګه**

ژبه پر دې سربېره چې د انسانانو ترمنځ د اړیکو د ټینګښت، د پوهې د لېږد او څېړنیزې پروسې بنسټیزه وسیله ده، په ورته وخت کې په څېړنیز چاپېریال کې ډېره

مهمه موضوع هم ده، د څېړنې په ساحه کې د ژبې بېلابېلې خواوې، لکه: د ژبې جوړښت، کارونه، ډولونه، له نورو علومو سره اړیکې او ګڼې نورې خواوې او ځانګړنې یې هم څېړي. د مختلفو ژبو، لهجو او د هغې د کاروونې په اړه څېړنې د دې سبب ګرځي چې څېړونکي د ټولنې د تاریخ، فرهنګ او د خلکو د افکارو په اړه ژوره پوهه ترلاسه کړي.

د ژبې د مختلفو اړخونو څېړل د علمي څېړنې لپاره یوه مهمه اړتیا ده، چې د نویو نظریاتو او افکارو په رامنځته کولو کې مرسته کوي. د ژبې څېړنه د دې سبب ګرځي چې څېړونکي د ژبې د بدلونونو او د هغې د پلي کولو په اړه فکر وکړي. څېړونکي د ژبې د کارونې په ګڼو لارو او اغېزو د ټولنیزو او فرهنګي اړیکو په اړه کره ارزونه ترسره کوي. د ژبنیو څېړنو له لارې کولای شو د بشري چلند، ټولنیزو اړیکو او فرهنګي توکو په اړه ژور او نوښتګر نظرونه رامنځته کړو، نو په دې توګه ژبه د څېړنې یوه مهمه موضوع ده، چې د بشري پوهې د پراختیا او علمي پرمختګ لپاره د مهم فکتور په توګه عمل کوي.

**د ژبې جوړښت:** څېړنه د ژبې د جوړښت په برخه کې مختلفې دندې سرته رسوي، لکه: د ژبې د ګرامر، د لغتونو او جملو جوړښت او معنا، د غږونو جوړښت او ترمنځ یې اړیکې، د مختلفو ژبو قوانین او یو شمېر نورې اړینې خواوې څېړي.

**د ژبې کارونه:** څېړنه له مختلفو مېتودونو څخه په ګټې اخیستنې سره په بېلابېلو برخو کې ژبني توکي او په یو شمېر ګړدودونو کې د دغو توکو استعمال، بڼې او غږونه څېړي، همدارنګه په مختلفو ټولنیزو ګروپونو او ډلو کې یو شمېر فکتورونه، لکه: جنس، عمر، ټولنیز موقف او ... له مخې د ژبنیو توکو کارونه څېړي، د ژبې سمه کارونه د اشخاصو، ټولنو او هېوادونو ترمنځ د ښو اړیکو سبب ګرځي.

**ژبنۍ اغېزې:** څېړنه له بېلابېلو مېتودونو او روشونو څخه په ګټې اخیستنې سره د ژبې رواني، ټولنیزې او فرهنګي اغېزې څېړي. له بلې خوا د ژبې په بدلون کې اقتصادي، اجتماعي، سیاسي او فرهنګي عوامل هم څېړي. همدارنګه د یوې ژبې اغېزې پر بلې ژبې باندې څېړي، څېړنه د ژبنۍ اغېزې په برخه کې د پوهې پراختیا او ټولنیزو اړیکو د ښه کولو لپاره یوه مهمه وسیله ده.

**د ژبې ډولونه:** د ژبې د ډولونو څېړنه په څېړنه کې مهمه او د پام وړ موضوع ده، چې په څېړنه کې ځانګړی ارزښت لري، ژبه له مختلفو خواوو پر مختلفو ډولونو باندې وېشل شوې ده، لکه: د کارونې له مخې (رسمي، غیر رسمي، محلي، او نړیوالې) ژبې ځانګړنو له مخې (شفاهي، لیکنی او اشاري) ژبې. د ژبې هر ډول د ځانګړنو او کارونې له مختلفو شرایطو سره تړاو لري چې په څېړنه کې په جلا ډول څېړل کېږي.

**د ژبې د زده کړې لارې چارې:** سروې او څېړنه موږ ته دا په ګوته کوي، چې د تدریس کوم مېتودونه د ژبې د زده کړې لپاره ډېر اغېزناک دي، همدارنګه د څېړنې په وسیله دا هم څرګندېږي چې ټکنالوژي، مسلکي ښوونکي، پر لیکه ټولګي او یو شمېر نور عوامل څومره، څنګه او په کومه کچه د ژبې کوم مهارت ته وده ورکولای شي.

**ژبه او ټولنه:** د ارسطو تر زمانې پورې ژبه فطري پدیده ګڼل کېده. ارسطو د افلاتون پر خلاف عقیده درلوده چې ژبه یوه فطري پدیده نه، بلکې ټولنیزه او اتفاقي پدیده ده.(خویشکی، ۱۳۹۵ل: ۳مخ)

ژبه د ټولنیز هویت نښه، د فرهنګي ارزښتونو او دودونو هینداره ده. ژبه او ټولنه سره تړلي دي، ژبه د ټولنیز عدالت او د ژبنیو حقونو د ساتنې لپاره مهمه ده، څېړنه د ټولنې په مختلفو برخو کې د ژبې او ټولنې متقابلې اړیکې، لکه: د ښوونځیو او پوهنتونونو په تعلیمي او تحصیلي نصاب کې د ژبې رول، د ادبیاتو او هنرونو په برخه کې د ژبې ونډه، د سیاسي او نړیوالو اړیکو په جوړولو کې د ژبې رول څېړي.

**د ژبې تاریخ:** ژبې د تاریخ په اوږدو کې بدلون کوي، په ټوله کې د ژبو د بدلون عوامل پر دوو برخو وېشلای شو، لومړی داخلي عوامل په کومو کې چې ژبني توکي پر نورو ژبنیو توکو اغیزه کوي، دویم بهرني عوامل کوم چې له ژبني نظام څخه دباندې وي، خو ژبه په مستقیم او یا غیر مسقیم ډول تر اغیزې لاندې راولي.

## پایله

ژبه او څېړنه دوه جلا مفاهیم دي، چې یو له بل سره نږدې او نه شلېدونکې اړیکې لري، د ژبې او څېړنې اړیکې په عمومي توګه پر دوو برخو ویشل شوي دي، ژبه د څېړنې د وسیلې په توګه، ژبه د څېړنې د موضوع په توګه. دواړه برخې په څو نورو کوچنیو برخو وېشل شوې دي، چې د هرې برخې اړیکې له څېړنې سره په مفصل ډول راوړل شوې دي، د ژبې او څېړنې پر اړیکو د پوهېدو لپاره او د دغو اړیکو د

پېژندنې په موخه د دواړو مفاهیمو بېلابېلې خواوې څېړل شوې دي.  په دې توګه ژبه د څېړنې د موضوع په توګه څېړنې ته خام مواد په لاس ورکوي او د دغو موادو د څېړلو په پایله کې د د اشخاصو د فکر ، هویت، فرهنګي میراثونو او ټولنیزو ارزښتونو په اړه معلومات ترلاسه کېږي. همدارنګه ژبه د څېړنې د وسیلې په توګه د معلوماتو د راټولونې او پایلو د لېږد بنسټیز توکی دی، ژبه د څېړنې په ډګر کې د علمي مېتودونو په ټاکنه، اعتبار ورکوونه او په اکاډمیک چاپېریال او علمي مباحثو کې د افکارو په لېږد را لېږد مرکزي ونډه سرته رسوي، نو په دې اساس ژبه د څېړنې د وسیلې په توګه د علمي تفکر، استدلال او ابلاغ وسیله او  د څېړنیز بهیر د پرمخ وړلو لپاره اساسي شرط دی.

**وړاندیزونه**

۱ـ د افغانستان له علومو اکاډمي څخه مو هیله داده چې په ژبپوهنیزه  برخه کې د څېړنې پر ارزښت باندې سیمینار جوړ کړي، تر څو د نویو څېړنو په برخه کې لیوالتیا زیاته شي.

۲ـ د ژبو او ادبیاتو له څېړونکو څخه مو هیله داده چې د ژبې او  ادب اړیکې دې له نورو علومو سره وڅېړي، ترحو د پښتو ځولی له نویو مفاهیمو ډکه شي.

## مأخذونه


۱ـ خویشکی، محمد صابر. (۱۳۹۵ل) کال، پښتو معاصر ګرامر، جهان دانش خپرندړویه ټولنه: کابل.

۲ـ صلاحي، محمد نبي. (۱۴۰۱ل) کال، د ادبي څېړنې مېتودولوژي، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل.

۳ـ محبوب، محبوب شاه. (۱۳۹٦ل)، پښتو ژبدود، مومند خپرندویه ټولنه: جلال آباد.

٤ـ مرادي، رسول. (۱۳۹۲ل) کال،کتاب روش تحقیق، معاونیت پژوهش، مرکز آموزشهای تخصصي تبلیغ.

۵- ایران پیپر. ((پژوهش چیست؟ انواع و مراحل پژوهش علمی)). د خپرېدو نېټه: ۵/ثور/۱۳۹۵ل کال. لاسرسی:https://iranpaper.ir/blog/research/ . [اخیستنه: ۲۹/ دلو/ ۱۴۰۳ل کال].

٦- پشتیباني پارس مدیر. ((ابزارهای گردآوری اطلاعات))، د خپرېدو نېټه: ۱۰/حمل/ ۱۳۹۲ل کال، لاسرسی: https://parsmodir.com/research/data-collection.php . [اخیستنه: ۲۹/ دلو/ ۱۴۰۳ل کال].

۷- ژیورآموزان، ((پژوهش چیست؟)). دخپرېدو نېټه: ۱۴/جوزا/۱۴۰۰ل کال. لاسرسی: https://zhivaramoozan.com. . [اخیستنه: ۲۲/ حوت/ ۱۴۰۳ل کال].

څېړندوی مروت درد

# د پښتو ګړنو ژبنۍ او مفهومي څېړنه

# A linguistic and conceptual study of Pashto proverbs

Assistant Prof.Marwat Dard

**Abstract**

Culture encompasses the material, and spiritual achievements of human beings, including values, beliefs, ideologies, literary styles and artistic expressions. It is a product of human society, which cannot exist independently of it. Society is the source that creates, nurtures, and transmits culture from one generation to another, establishing order and continuity within human interactions.

Culture is not merely a part of human life; it serves as a vital tool for communication, harmony, mutual understanding and the expression of shared values among individuals. Although culture is unique to each nation or community, it also distinguishes between languages, religions and social groups, thus acting as a key marker of identity and belonging. Therefore, cultural values and elements serve as foundational components in shaping individual and collective identities within societies.

The purpose of this writing is to linguistically and conceptually analyze the meanings behind Pashto idioms, through which Pashtun culture can be understood and the

language can become a means of preserving and promoting the culture.

## لنډیز

کلتور د انسانانو د ژوند مادي او معنوي اړخونه څېړي، په کلتور کې ټولنیز ارزښتونه، باورونه، عقاید، ادبي سبکونه او هنري لاسته راوړنې خوندي وي. کلتور د انساني ټولنې زېږنده دی، که ټولنه نه وي، کلتور نه شته. همدا ټولنه ده، چې کلتور په کې زېږي، په ټولنه کې وده کوي او په پایله کې پر ټولنیزو نورمونو او قراردادونو بدلېږي. څرنګه چې کلتور په یوه انساني ټولنه کې وده کوي، نو د کلتور دا وده له ژبې پرته ممکنه نه ده. ژبه نه یوازې د پوهولو او راپوهولو وسیله ده، بلکې د کلتور او فرهنګ د انتقال تر ټولو مؤثره وسیله هم ده. ژبه ده، چې د یوې ټولنې د خلکو د کلتور او فرهنګ زېرمه په ژبنیو توکونو (اصطلاحاتو) کې راتلونکو نسلونو ته لېږدوي او په دې ډول خپله کلتوري او فرهنګي زېرمه پیاوړې کوي. د ژبې له بقا پرته کلتور څه چې یو قام او د هغې هویت او شناخت مري، ځکه قام یا ولس په ژبه ژوندی دی، ژبه پر کلتور او کلتوري ژبنیو توکو (لنډۍ، ګړنې، متلونه او نکلونه) ولاړه ده او همدا توکي د یوې ژبې فرهنګي زېرمه جوړوي. د دې لیکنې موخه داده، چې د پښتو ژبې د ګړنو تر شا پراته مفاهیم په ژبنۍ او مفهومي بڼه وڅېړل شي، چې له کبله به یې پښتني فرهنګ وپېژندل شي او ژبه به یې د کلتور د ځلونې وسیله شي.

## سریزه

ژبه او ټولنه یو له بل سره لازم او ملزوم دي، د ژبې د زېږېدلو ځای ټولنه ده. که ټولنه نه وي، ژبه نه شته او چې ژبه نه وي، نو د ننني موډرنې نړۍ هیڅ راز پرمختګ نه شته. ژبه په ټولنه کې زېږي، په ټولنه کې پرمختګ کوي او بېرته د قام له مړینې سره ژبه هم مري. همدا ژبه ده، چې یو قوم له بل او یو هېواد له بل هېواد نه او حتی یو وګړی له بل وګړي جلا کوي. که ټولنه وروسته پاتې وي، نو د دې ټولنې د ژبې پرمختګ هم ورو وي او یا په نشت حساب وي، خو که ټولنې د ژوند په بېلابېلو برخو کې پرمختګ کړی وي، نو طبیعي خبره ده، چې ژبه هم ورسره غوړېږي او پر مخ ځي. په ژبه کې د علم او پوهې د انتقال تر څنګ دا متره هم شته، چې د یوې بشري ټولنې ټول کلتوري توکي په ځان کې ځای کړي، د هغوی د هویت، دودونو، هنرونو،

کلامي ښکلاوو، منطق، د مفهامې د سلاست او روانۍ سبب وګرځي او د غوره افهام او استدلال په توګه يې اورېدونکو ته انتقال کړي. په ژبه کې ګړنې او اصطلاحات شته، دا ګړنې اسمي هم راځي او فعلي هم، سربلونه او اوستربلونه هم په کې دخيل دي، دا ځکه چې ګړنې ثابت لنډ عبارتونه دي او يوه مشخصه مستعاره معنا لېږدوي. دا ثابت عبارتونه په اجزاوو د ويش وړ نه دي، په ثابت عبارت کې راغلی هر يو جز خپله تحت لفظي او نږدې معنا ورکوي، خو بعيده او مستعاره معنا يې د ويشنې په اساس له منځه ځي.د ګړنو په اړه تر ټولو مهمه خبره داده، چې ووايو، ګړنې د ولسي تجربو او په ولس کې د حاکم فرهنګ، نرخونو او دودونو څخه سرچينه اخلي. ګړنې د وګړو تر منځ د ډېرې کارونې له امله په مشخصو او ثابتو عبارتونو اوښتي دي او په ولس کې يې د عام پوهاوي په دليل ثابتې مستعارې معناوې ټاکل شوي دي. ژبه يوازې د افهام و تفهيم وسيله نه ده، بلکې ژبه يوه کلتوري او فرهنګي خزانه ده، چې د يوې ژبې د ويونکو دودونه، اندونه او ارزښتونه ژوندي ساتي او د ټولنې د وګړو د ټولنيزو ارزښتونو د ځلونې، ساتنې او پالنې وړ ګرځي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دې مقالې اهميت دادی، چې وپوهېږو، ژبه يوازې د ټولنې د وګړو تر منځ د عامه پوهاوي وسيله نه ده، بلکې د يوې ټولنې د وګړو د ګډو ارزښتونو يو داسې ګډ نغری دی، چې په ژبه وړاندې کېږي. معنا ژبه د ارزښتونو د بيان وسيله ده، دا وسيله ورو ورو وده مومي او بالاخره په يوه فرهنګ اوړي. د دغه فرهنګ تر شا د انسان ټولنيزې، ذهني او نفسي تجربې پرتې دي، دا تجربې د لوړاوي په ترڅ کې په يوه فرهنګ اوړي. پر ګړنو بېلابېلو ليکوالو خپل قلم چلولی، ګړنې چا د مرکو له لارې راټولې کړي او چا پر ګړنو تيوريکي بحثونه کړي دي، چې په خپل ځای کې د يادونې او قدرونې وړ کار دی، د دې مقالې مبرميت د ګړنو تر شا د بډايه فرهنګي زېرمې راسپړل دي. که د ګړنو تر شا د پښتني فرهنګي زېرمې مدلولونه واضح شي او هغه مفاهيم روښانه شي، چې له امله يې ژبني توکونه په ثابتو عبارتونو، ترکيبونو او ولسي سېمبولونو اووښتي دي، نو له خپل فرهنګ او فولکلور سره به مو انصاف کړی وي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه داده، چې کلتوري ژبني توکي (ګړنې، محاورې او اصطلاحات) وپېژندل شي، د هغوی بېلګې راوړل شي، تر څو د دغو توکونو تر شا پروت فرهنګ وڅلول شي او د متلونو او يا اصطلاحاتو غوندې د ژبپوهانو او عامو ويونکو په خولو کې پربوځي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. کلتور څه ته وايي؟

۲. کلتوري ژبني توکي (ګړنې او اصطلاحات) څه ته وايي؟

۳. د متل او کلتوري اصطلاح (ګړنو) تر منځ د توپير بريدونه څنګه ټاکل کېږي؟

۴. ايا د ګړنو (اصطلاحات او محاورې) تر شا د ولسي وګړو مشترک فرهنګ پروت دی؟

## د څېړنې ميتود

د دې څېړنې ميتود تشريحي - تحليلي او د څېړنې ډول يې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

مخکې له دې چې ژبني توکي وپېژنو او بيا يې د ژبپوهنې په رڼا کې په کلتوري توکونو کې څېړو، لازمه بولم، چې لومړی کلتور وپېژنو او بيا د ژبې په کلتوري توکو (ګړنو) ځان وپوهوو.

**کلتور:** کلتور هغه جامع يووالی دی، چې په هغې کې علم، عقيده، فن، قانون، اخلاقيات، رواج او نور ټول هغه صلاحيتونه او عادتونه شامل وي، چې انسان د ټولنې د يوه غړي په حيث ترلاسه کړې وي. (ديناخېل ۱۳۹۹: ۱۱ مخ)

کلتور، ثقافت، تهذيب، مدنيت او هځوب د لغت له مخې د بېلابېلو ژبو کلمې دي، خو په دغو کلمو کې د شاملو اجزاوو د بريدونو د تعريف پر بنسټ کله مترادفې، کله هممعنا او کله هم په معنا کې سره نږدې کلمې ګڼل شوې دي، چې د ملتونو د ولسي ژوند مادي او معنوي اړخونه څېړي. په انګرېزي کې د عربي ژبې تهذيب او تمدن دواړو ته (Civilization) او ثقافت ته کلچر (Culture) کارول کېږي، خو په ځينو قاموسونو کې

د تهذیب لپاره هم د کلچر کلمه کارول شوې ده، له دې امله چې دواړه کلمې له انساني ژوند سره اړیکه لري، جلا کول یې ګران دي. (نیازی، ۱۳۹۹ل: ۴مخ)

کلتور (کلچر) او یا ثقافت په بنسټیز ډول د جرمني ژبې له (Culture) څخه اخیستل شوی او چې دقیقه معنا یې (Civilization) تهذیب او ثقافت دی. تهذیب او ثقافت په یو بل کې دومره ننوتي دي، چې له یو بل څخه یې جلا کول ګران دي، خو د دواړو تعلق له انساني ژوند او انساني ټولنې سره دی. د تهذیب او ثقافت تعریف د یو بل له ذکر پرته نه کېږي، ځکه پوهانو د تهذیب او ثقافت په تعریف کې دواړه اصطلاح ګانې استعمال کړې دي. اکثره پوهان په دې متفق دي، چې د ثقافت پرمختللې بڼه تهذیب دی، د تهذیب او ثقافت ترکیبي توکي یو شان دي، کله چې دا ترکیبي اجزاء د ارتقاء په لومړیو مرحلو کې وي، نو دا ثقافت دی او کله چې په پرمختللې بڼه کې راشي، نو بیا تهذیب شي. د ثقافت ترکیبي توکي (ټولنیز نظام، رسمونه، رواجونه، مذهب، ژبه، فنون او ادب، طرز حکومت، معاشي نظام) او داسې نور دي خو د تهذیب په ترکیبي توکو کې (کرکیله، تحریري نظام، د پېښو ویش، فنون او تعمیرات، ښار، ټولنیزه ګروه بندي) او نور شامل دي.

د تهذیب په ځینو اجزاوو کې دا اجزا شامل دي: سکه، مواصلات، تحریري ژبه، عدالتي نظام، لرغوني آثار، ادب او د بیان انداز، د تحلیل او ارزونې نظام او آسمانپوهه (فلکیات). (دیناخېل، ۱۳۹۹: ۱۴-۱۵م)

د کلتور په اړه د پورته څرګندونو په رڼا کې ویلای شو، چې د بشري ټولنې ټول مادي او معنوي مواد او آثار د کلتور برخه دي، په دې کلتور کې ژبه هم یو داسې توک دی، چې په وسیله یې فرهنګ، دودونه، ویاړنې، تورې، فولکلور او د یوې ځانګړې ټولنې ټول کړه وړه خوندي کېږي او د ویونکو تر منځ دا توکونه د خبرو اترو او پوهاوي راپوهاوي له لارې یو بل ته انتقالېږي. د یوې بشري ټولنې د وګړو تر منځ کله کله یوه ګړنیزه پدیده په وینګ کې وشاربل شي، چې هغه د هماغې ژبې د وګړو تر منځ په سمبول بدله شي. دغه ګړنیزې پدیدې په «ژبنیو کلتوري توکونو» بدلې شي او د یوې ژبې د فرهنګي زېرمې د غني کېدلو او په اسانه د ویونکو تر منځ د لېږدېدلو سبب وګرځي.

د فرهنګ په اړه د آریانا دایرة المعارف په پنځم ټوک کې داسې لیکل شوي دي: فرهنګ یوه آرياني ترکیبي اصطلاح ده، له دوو کلمو څخه جوړه شوې، چې فره (Fra)

د (لوړتیا) او هنګ (د پوهې، معرفت) په معنا دي. اوستایي ریښه یې ثنګ = Thang (θang) له کلمو سره انډول دي، چې په لاتیني کې د لوړتیا، ښوونې او روزنې په معنا دی او په عربي ژبه کې ثقافت ورته وایي.

د لرغونو متونو له مطالعې څخه څرګندېږي، چې زموږ په هېواد کې د «فرهنګ» اصطلاح له لرغونې دورې رواج موندلی دی او آن له اوستا وروسته د نورو ژبو لکه سغدي، مانوي او ختني په متونو کې د فرهنګ کلمه پیدا کولای شو. همدارنګه د فردوسي په شاهنامه، د سعدي، مولانا او خوشحال خان خټک په آثارو کې دغه اصطلاح شته دی. (آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل: ۴۷۹ م)

د کلتور له لغوي او اصطلاحي تعریف او مفهومي شننو نه وروسته باید په دې وپوهېږو، چې ژبه څه ده او له کلتور او کلتوري ژبنیو توکونو (اصطلاحاتو) سره څه ډول اړیکې لري!؟ مخکې له دې چې د ژبې او کلتور په اړیکو تم شم، غواړم په لنډ ډول د ژبې تعریف راوړم: ژبه په خاص مفهوم سره د یو لړ وییزو، سمبولونو یوه داسې مجموعه او یو داسې اکتسابي سیستم دی، کوم چې هر یو سمبول یې زموږ د یوه ذهني انځور ښکارندویي کوي. دا انځورونه د انساني چاپېریال او مهال څیزونه، پېښې او کړه وړه را اخلي او په دې توګه د انسانانو تر منځ د پوهولو یوه آله او وسیله ګرځي. (زیار، ۱۳۴۷ل: ۲۰۵ م)

یا ژبه د یو لړ وییزو او اختیاري غږونو څخه جوړ یو سیستم دی، چې د یوې ټولنې وګړي یې په خپلو منځونو کې د مفاهمې (پوهاوي راپوهاوي) په موخه کاروي. د بشر نننی عصري تمدن او د ژوند پراخه امکانات د ژبې په وسیله منځته راغلي دي. په دې معنا که ژبه نه وای او د بشري ټولنې د وګړو تر منځ مفاهمه نه وای، د نننۍ نړۍ دا عالي او عصري پرمختګ به نه وای! د ژبې د تعریف او پېژندنې په اړه له څرګندونو وروسته پکار ده چې لومړی د ژبې په رغښت کې د ژبني توک پر تعریف او موقعیت رڼا واچوم او بیا د پښتو ژبې د کلتوري ژبنیو توکونو (اصلاحاتو) پر مفهوم خپله څېړنه بشپړه کړم. هر هغه غږ چې د ژبې د معنا په لیکلو کې ونډه واخلي، ژبنی توک بلل کېږي. ژبنی توک له تګمیم لوی خو له جملې کوچنی دی. ژبنی توک په یوه کلمه کې هم خلاصه کېدای شي او په دوه داسې کلمو کې هم، چې تر منځ یې اړیکه نحوي (ګرامري) وي. کېدای شي، داسې هم ووایو، چې ژبنی توک هغه قراردادي ترکیب دی، چې په مشخص ډول معینه او ټاکل شوې معنا لېږدوي او که د

ترکیب دوه یا یوه برخه یې حذف شي، نو د ترکیب لومړنۍ معنا نه ترلاسه کېږي. اوس چې مو د ترکیب یادونه وکړه، پکار ده، چې د ترکیب په اړه ځینې څرګندونې وکړم: «ترکیب د ځانګړو او ناځانګړو یا خپلواکو او ناخپلواکو کلمو او غړونو ټولګه ده. خپلواکې کلمې هغه دي، چې معنوي ارزښت ولري. ناخپلواکې هغه دي، چې معنا نه لري، خو د نورو کلمو او جملو تر منځ د تړښت او معنوي ادلون ـ بدلون او مفهوم وړاندې کولو سبب ګرځي. ترکیب کې دوه نومونه (خپلواک او ناخپلواک) کارنده دي، یا به یوه کلمه خپلواکه وي او یوه به ناخپلواکه، یا به دواړه کلمې یا غړونه خپلواک وي.

سورګل، سور ګل دوه خپلواک نومونه دي. صفت + نوم. سور صفت دی، سور د رنګ نوم دی او ګل د بوټي نوم دی، دا په لومړیو کې دوه خپلواک نومونه دي، سور د مفهومي سېمبول او مجاز (استعاره ـ مرسل مجاز) په توګه بېلابېل مفاهیم وړاندې کوي. سور یو خپلواک نوم دی، کله چې له بل نوم سره یو ځای شي، نو په صفت یا قید بدلېږي. سور چې کله له بل نوم سره راشي نو صفت شي، څکه د دویم نوم څرګندونه کوي. سورګل په دوو مفاهیمو کې کارېږي، د سور ګل، معنا د ګل سوروالی یا د ګل ذاتي ځانګړنه ښیي. سورګل چې کله په یو ترکیبي نوم اوړي، نو په یوه خپلواک نوم یا د یوه شخص لپاره کارېږي، دلته سورګل د یو شخص ترکیبي نوم دی». (ازمون، ۱۴۰۳ل: ۸۰ مخ)

وړاندې تر دې چې د ګړنو او اصطلاحاتو پر کلتوري مفاهیمو څېړنه وکړم، غوره ده، چې یو ځل ګړنه وپېژنو: « دګړنې عربي انډول (محاوره) او د څرګندنې (اصطلاح) ده، انګرېزي (idiom) له یو ناني (idios) (خپل، ځانتنی، شخصي) څخه سرچینه اخلي. الماني یې په یوناني (idioma) پسې وړي، چې معنا یې (ځانګړتیا) راځي او هغه په (idios) (خپل، ځانتنی، شخصي) پسې چې د (idiom) ترڅنګ خپل انډول (Redewendung) (وینا اړونه) او (Redensart) (ځانګړې ویناتوګه) رادود کړی دی. زموږ (څرګندنه) د انګرېزي (idio _ matic expression) او یا تش (expression) انډول ده او په دې ډول (expression) پښتو انډول هم (څرګندونه) ده. په دې توګه موږ دنورو دودیزو پښتو ـ عربي ترمونو په لړ کې ورسره ((محاورې او اصطلاحات))، نه جولیز اړخ لګولای شي او نه منځپانګیز، نو دېته اړوتو، چې د جاج، مانا او موخې له مخې (آیډیم) پر (ګړنه) او (اېکسپرېشن) پر (څرګند نه) را واړوو. (زیار، ۲۰۱۸م، ۵ م)

حبیب الله جاج پښتونزوی ګړنه له متل نه په معنا رسونه کې کمزوري بولي، دلیل یې دادی، چې د ټولو اتفاق پرې نه دی راغلی او د متل غوندې په ټولو پښتنو کې مشهور نه دی. نوموړی وايي: «ګړنه کوچنۍ جمله یا خبره او یا ترکیب دی، چې د یوې معنا او مفهوم دپاره په غیر مستقیم صورت سره استعمالېږي، له یو لړ جریانونو څخه وروسته د یوه مقصد د بیانولو دپاره یوه وړه جمله یا خبره وضه شوې او اصطلاح بلل شوې ده، اصطلاح یو محلي رنګ لري، د متل او لنډۍ غوندې شهرت نه لري، مګر کله چې مشهوره شي، بیا نو د متل شکل غوره کوي، په اصطلاح باندې د ټولو اتفاق نه وي راغلی، بلکې د یوې ډلې اتفاق پرې راغلی وي، مګر متلونه او لنډۍ ارت ډګر لري». (پښتونزوی، ۲۰۲۳م: ۱۱۷ مخ).

کلتوري ژبني توکي یا اصطلاحات په ژبني لحاظ پوره جمله نه وي او له متل سره څرګند توپیر لري. اصطلاح له دوو خپلواکو او یا یوې خپلواکې او ناخپلواکې کلمې له ترکیب نه رامنځته شوې وي، چې مستعاره معنا لېږدوي. د دې لپاره چې د کلتوري ژبني توک (اصطلاح) او متل تر منځ مو توپیر کړی وي، نو دلته به د متل او اصطلاح په توپیرونو تم شم.

لعل پاچا ازمون کلتوري اصطلاحات ځکه مهم بولي، چې تر شا یې کلتوري انګېرنې او توهمات پراته وي او دا توهمات د یوې ټولنې د وګړو د هویت او پېژندنې لپاره ډېر مهم دي، نوموړی وايي: «توهمات د هر قوم او ولس خپلې تجربې دي، چې له مخې یې د قام یا ولس ذهني او فکري کچه څرګندېږي. توهم د ولسي ذهنیت هغه لنډه ګنډه، له تجربو ډکه وینا ده، چې د یوه قام، قبیلې او ملت مذهبي، قامي او ملي تفکر او ذهنیت ښیي. د هرې انګېرنې او توهم تر شا یو دود ښکاري، د توهمات او انګېرنو تر شا د یو ولس او په ټوله کې د یوه ملت د لومړني ژوند چې د ګډ ژوند یو ګډ نغری و او په همدې انګېرنو او توهماتو یې د ژوند چارې پر مخ وړلې، رانښيي. (ازمون،۱۴۰۳ل:۲۱۱ ـ ۲۱۲)

اصطلاحات او محاورې په ولس کې د متل غوندې صیقل شوي او تراشل شوي دي، خو له متل سره څرګند توپیر لري، «تر ټولو څرګند توپیر چې متل او اصطلاح یو له بله توپیروي، هغه دادی، چې متل بشپړه جمله ده او اصطلاح نیمګړې. زیاتره متلونه د ژباړل کېدو وړ دي، خو ځینې اصطلاحات نه ژباړل کېږي. هغه داسې که ځینې

اصطلاحات وژباړل شي، نو خپله مستعاره معنا له لاسه ورکوي. متل په اوږدو ټکو کې راځي او اصطلاح په لنډو ټکو کې.

له متل څخه زیاتره خپله معنا مراد وي، خو له اصطلاح څخه په ځینو مواردو کې خپله معنا نه، بلکې مستعاره معنا اخیستل کېږي؛ خو له ځینو اصطلاحاتو څخه بیا دواړه معناوې اخیستل کېږي. متل کې فکري تمرکز موجود وي او استدلال پرې کېدای شي، خو په اصطلاحاتو کې تر ډېره بریده پورې فکري تمرکز موجود نه وي او استدلال پرې نه شي کېدای. د ځینو متلونو تر شا کیسې موجودې دي، مګر د اصطلاحاتو تر شا کیسې موجودې نه وي». (شینواري، ۱۳۹۲ل: ۲۰۰مخ)

د اصطلاحاتو تر شا به د متلونو په څېر کیسې سل سلنه نه وي موجودې، خو د اصطلاحاتو جوړښتونو ته په کتلو داسې ښکاري، چې دا محاورې د متل غوندې د ولس تر منځ په خبرو اترو کې تراشل شوي، صیقل شوي او سینه په سینه له یوه نسل نه بل نسل ته په شفاهي بڼه لېږدېدلي دي. لکه څرنګه چې متلونه ولسي شریکه پانګه او د ولس د هیلو، دردونو او آرمانونو ترجمان توکونه دي، همدغسې دغه اصطلاحات د پښتني کلتور او فرهنګ په بډاینه او ځلونه کې کارنده توکونه دي او د ګڼو ولسي تجربو په پایله کې رامنځته شوي دي. ځینې داسې اصطلاحات هم شته، چې تر شا یې یوه ولسي رښتینې کیسه تېره شوې وي، خو دا کیسې ښایي، په دومره لوړه کچه نه وي، چې موږ په ټولو اصطلاحاتو دا اطلاق وکړو، چې ټول به ګنې تر شا کیسې لري. د اصطلاحاتو شاته د کیسو نه شتون دا معنا هیڅکله نه لري، چې ځوک ووایي، دا بې معنا شی دی او یا دا توکونه د ولس د ژبې او فرهنګ له غنامندۍ سره مرسته نه کوي، بلکې رښتیا خبره خو داده، چې د دغو اصطلاحاتو تر شا د یوې ټولنې د وګړو عنعنه، دود، دستور او فرهنګ پروت دی او د همدغه توکو په وسیله پښتنو خپل شناخت او هویت ترلاسه کړی دی. تر دې ځایه مو د ژبې، کلتور، اصطلاح او له متل سره د اصطلاح توپیرونه وڅېړل، اوس غواړم چې د پښتو ژبې د کلتوري ژبنیو توکو (اصطلاحاتو) محتوا په ژبنۍ او مفهومي بڼه تر څېړنې لاندې ونیسم.

### اوبه خړول

دا اصطلاح په ولسي محاوره کې د «بهانې جوړلو» په موخه په استعاري ژبه کارول کېږي. د (اوبه خړولو) اصطلاح (اسم+فعل) نه ترکیب شوې ده، اوبه اسم دی،

چې د ژوند د دوام ماده ده او د څښلو لپاره پکارېږي، خړول د (کول) په مصدر جوړه شوې کلمه ده، چې فعلي معنا ښندي، دا ترکیب اسمي دی او د دواړو خپلواکو کلمو تر منځ اړیکه ګرامري (نحوي) ده. اوبه سپینه مایع ده، چې ټاکلی رنګ لري، له اوبو سره د خړولو فعلي وروستاړی راتلل ځکه منطقي دي، چې په لښتي یا ویاله کې روانې اوبه د کومې بلې مادې پر اساس خړېدلای او بدرنګېدلای شي. اوبه کوم جامد شی نه دی، چې فعلي وروستاړی د (خړېدلو) پر ځای (ماتېدل یا قېچي کېدل) راشي. پر دې اساس د اوبو او خړېدلو تر منځ اړیکه مستدلله، روانه او منطقي ده. د اوبو خړول وینو، چې په خپلې لومړنۍ معنا نه دي کارېدلي، بلکې د اوبو له خړولو منظور استعاري دی. دا اصطلاح په پښتني ټولنه کې تل د محاورې د یوه نسبتاً کمزوري طرف له خوا ویل شوې، یا هغه چا ته ویل کېږي، چې غواړي د یوه کار د نه کولو لپاره بهانه جوړه کړي: «زړه دې کار نه غواړي، هسې اوبه خړوې». (نوري، ۱۳۲۰ل: ۱۱م)

پښتني کلتور که له یوې خوا په خپله لمن کې ډېر مثبت ټکي لري، ځینې منفي ټکي هم لري، څرنګه چې پښتني ټولنه یوه قبیلوي ټولنه ده او په خپلو کې د لانجو کونجو د حل و فصل کولو لپاره خپلې لارې، ترې او ګرګې لري، نو د دوی تر منځ په مفاهمه او ټولنیز ژوند کې لوړې ژورې راځي، په دې خلکو کې ځینې توانمند وي او ځینې کمزوري، د انساني فطرت له مخې څرنګه چې زورور تل پر کمزورو خپله بادشاهي کول غواړي، نو کمزوري ته د هغه د رټلو، تحقیرولو او آن وهلو ته بهانې جوړوي. کله چې کمزوری پوه شي، چې زورور مې په رټلو یا وهلو پسې متې را بډوهلي دي، نو بیا ورته ټولې هغه ناروا‌وې خبرې کوي، چې یوه د منلو نه وي، نو کمزوری زورور ته په مخاطبه کې وایي: (اوبه ولې خړوې!؟) یا (هسې اوبه مه خړوه!) نو که مخاطب له عقلانیت کار واخلي، لانجه خلاصوي، ګنې د کمزوري او بېچاره انسان همدغه اصطلاح هم د هغه د رټلو یا وهلو لپاره بس ده. د زورورو له خوا د کمزورو رټل او وهل یا ورته ګواښ کول د پښتني ټولنې یو منفي کلتوري توک دی، دا ځکه چې دغه اصطلاح د ولس له عامې ژبې را ټوکېدلې ده او د پښتنو په عنعنوي ټولنه کې دا په زبات رسېدلې ده، چې پر کمزورو تل د زورورو حاکمیت چلېږي او ټولې ناروا‌وې پرې منل کېږي.

**سترگه په بڼو نه درنېدل**

دغه اصطلاح او محاوره په ژبني ډول یوه نابشپړه استعاري جمله ده، چې د /پر/ له سربل او /نه/ اوستربل په شمول له اسم او فعلي مصدر (یدل) په وزن جوړه شوې ده. دا محاوره راته د پښتو له دغه متل (سترگې په بڼو نه درنېږي) څخه اقتباس شوې ښکاري، دا هم ترې جوتېږي، چې د متل په نسبت پښتو محاورې او اصطلاح گانې په عامه ولسي ژبه کې ډېرې تراشل شوي او د تراشل کېدلو په سبب یې څه ناڅه برخې غورځولي دي، ځکه خو د متل او اصطلاح تر منځ یوازینی مهم توپیر دادی، چې متل بشپړه جمله ده، خو اصطلاح بشپړه نه ده او د نه بشپړتیا لامل یې هم دادی، چې دا د ولس په خولو کې ډېرې اووښتي را اووښتي او تراشل شوي دي، د تراشل کېدلو په سبب یې ځینې نا اوربېدلې برخې غورځولي دي.

میلمه پالنه په پښتنو کې یو داسې دود دی، چې په نوره نړۍ کې ساری نه لري، محمدگل نوري کندهاري چې ولسي اصطلاحات راټول کړي او د یوه کتاب په بڼه د «پښتو اصطلاحات او محاورې» نومولې، د خپل اثر په (۲۵) مخ کې یې یادې اصطلاح ته په بېلگه کې داسې لیکلي: «هر مسلمان پښتون زما ورور دی، چې گرده مال مې یوسي، ولاکه مې بانه لا په دروند سي» (نوري، ۱۳۲۰ل: ۲۵م)

«سترگه په بڼو نه درنېدل» تشبیهي ترکیب دی او دا ترکیب له هغه مېلمه سره تشبه شوی، چې پر یوه کوربه ورځي او هغه یې مېمستیا ته څنې غورځوي، یا پرې نه جوړېږي، چې څنگه یې عزت وکړي یا داسې کوم کار وکړي، چې د مېلمه د خوشحالۍ او ارامۍ سبب وگرځي. سترگه پر بڼو نه درنېدل یو داسې تشبیهي اصطلاح ده، چې تر شا یې د مېلمستیا غوندې یو ویاړلی کلتور پروت دی. په پښتنو کې مېلمه ته «د خدای دوست» هم وایي او چې د پښتنو دېرې او هوجرې ته چا یو ځل پناه ور وړه، نو بیا یې کوربه د نړۍ له ټولو بلاوو ژغوري، بیا مېلمه د کوربه ننگ او غیرت وي او هیچا ته یې سپکاوي، رټلو، وهلو، وژلو او آن ویشتلو ته نه پرېږدي.

تر دې ځایه خو مې د کوربه په صفت خوله خلاصه وه، چې د مېلمستیا ډېر عالي صفت په ځان کې لري، خو په پښتون مېلمه کې هم یو صفت شته او هغه دا چې پښتون مېلمه به له کوربه نه د سرو کړو غوښو، پلاوونو، کبابونو او کړایانو غوښتنه نه کوي او چې کوربه مېلمه ته د خوراک لپاره څه په دسترخوان کېښودل، نو مېلمه

به يې په مينه خوري، هو د كوربه لپاره دا مهمه ده، چې د دسترخوان له غوړولو سره خپل تندی هم وغوړوي او په پوره اخلاص، مينه او درناوي سره د مېلمه كوربتوب وكړي.

**پلو نيول**

پلو نيول له (اسم او مصدر) نه جوړ تركيب دی، چې لومړی اسم او دويم د (ل والا) مصدر په وزن جوړ شوی فعل دی. د پلو او نيولو تر منځ اړيكه نحوي ده، پلو نيولو ته محمد ګل نوري كندهاري په خپل اثر «د پښتو اصطلاحات او محاورې» كې داسې ليكلي: «گوشه چادر گرفتن، روی گيری كردن زن، طرفداری كسی كردن. و يا عفو خواستن زن از كسی و زاری كردن او (افغانها پهلو زن را محترم می دانند). زينبې و احمد خان ته پلو ونيو، چې زوی مې وبخښه». (نوري، ۱۳۲۰ل: ۷۴م)

په پښتنو كې د يوې ښځې پلو نيول او پلو غوړول يو داسې فرهنګي دود دی، چې ټول پښتانه ورته درنښت لري. د پلو نيول په ځانګړو مواردو كې كارول كېږي، د بېلګې په توګه كله چې په پښتنو كې تربګني پيدا شي او دا بدي تر ډېرو ورسېږي، نو د دې لپاره چې د دواړو تر منځ سوله او پخلاينه وشي، د كلي يو څو سپين سرې مېندې د دواړو طرفونو منځ ته ورځي، په داسې بڼه چې يې د الله ﷻ كلام په خپلو سرونو ايښی وي او د جګړې ډګر ته ځان رسوي. هلته په رسېدلو خپل پلوونه له سره ښكته كوي او پر ځمكه يې اچوي. د پلو را اچولو سره د جګړې دواړه لوري خپلې وسلې پر ځمكه ږدي، د سپين سرو مېندو پړوني را اخلي او بېرته يې په ډېر عزت او درناوي مېندو ته په سرونو ور اچوي. له دې سره د دواړو لورو تر منځ جګړه پای مومي او په دې قانع كېږي، چې جګړه د حل لاره نه ده او هره ستونزه چې دواړو ته ور پېښه ده، بايد د خبرو اترو او مفاهمې له لارې يې حل را وباسي.

پلو نيول نه يوازې د جګړې د مخنيوي په غرض كارول كېږي، د عذر او منت غوښتلو پر مهال هم كارول كېږي. د بېلګې په ډول، كله چې له يوه پښتون انسان نه په خطا يا قصد سره بل انسان په قتل ورسېږي او په دې قتل د مقتول كورنۍ پښېمانه وي، نو له پېښې وروسته سمدستي د مقتول كورنۍ د قاتل كورنۍ ته ننواتې يا عذر ور وړي، په عذر كې د قاتل مور يا نيا ابۍ د مقتول د كورنۍ نارينه او ښځينه وو ته خپل پلو غورځوي او په دې ډول منت او زارۍ كوي، چې قاتل وبخښل شي او په دې

ډول د قاتل کورنۍ له یوې بدې بدۍ وژغورل شي. پلو نیول یوازې یوه اصطلاح او ژبنی توک نه دی، د دې اصطلاح تر شا یوه بډایه فرهنگي ذېرمه پرته ده، دا کلتور او عنعنه تر ننه په پښتون ټبر کې شته، که له یوه اړخه د قاتل کورنۍ د مقتول کورنۍ ته په دې بڼه ننواتې ورځي، د مقتول په کورنۍ کې هم دا متره وي، چې د یوې پښتنې کورنۍ عذر خواهي او ننواتې نادیده ونه نیسي او دا له دې کبله چې پښتنو ته د یوې مور پړونی (پلو) ډېر ارزښت لري او دا کله هم نه شي زغملای، چې د یوې پښتنې ادې له سره دې پلو پر ځمکه پرېوځي او د یوې مور بې حرمتي دې وشي.

**پګړۍ له سره پرېوتل**

په پښتنو کې پګړۍ ځانګړی ارزښت لري، پګړۍ په سرول نه یوازې یو دود دی، تر څنګ یې یوه معنوي شتمني هم ده او په پښتنو کې پګړۍ هر چاته نه په سر کېږي. ستر خان خوشحال خان خټک په خپل مشهور اثر «دستارنامه» کې د پښتنو د مشرۍ لپاره شل هنره او شل خصلتونه وضع کړي، د دستارنامې لومړی څپرکی «د دستار په حقیقت» باندې لیکل شوی دی، خان د دستار د حقیقت او فضلت په اړه لیکي: «خبر شه، چې دستار په سر کول د ښېوې او نمای له پاره نه دی، دستار د مرد شرم او عزت دی. تمامي شرم د مرد په دستار کښې دی ـ هر چه په حکم د حدیث د دستار په باب ما څه لیدلي دي، هغه به هم درته ووایم، ولې په عرف په عادت کښې هم نظر وکړه، هر کله چې سرتاج یا امیر په ابتدا په تخت یا په مسند د لویي کښېني، د بادشاه په سر تاج یا د امیر په سر دستار کېښود شي.

هر چه قابل او لایق دی، دا کار په هغه پسنده، په ناقابل پسنده نه ، هر چه په اتفاق دستار د هغه په سر کښېږدي، هغه اطاعت اختیار کا، د دستار شرم په دواړه لوریه لازم شي، اول په هغو چې دستار د هغه شخص په سر کښېږدي، بیا په هغه چه دستار د لویۍ په سر کا، د بل په ځای کښېني. که قابل وي، ثنا تعریف شي، که ناقابل وي، پورې ریشخند کېږي. پس د دستار کار سهل او اسان نه دی». (خټک، ۱۳۴۵ل: ۲ م)

د خان علیین مکان د خبرې په استناد «د دستار سړي په شمار دي» او هر څوک د دې جوګه نه دی، چې پګړۍ په سر کړي. که له یوې خوا باید د پګړۍ لپاره سرونه د ګوتو په شمېر وي، د دستار په سر کوونکی باید د دستار حرمت وساتي او په اسانه باید دا حرمت ضایع نه شي. د دستار حرمت همدا اصطلاح ده، چې پورته راغلې ده،

(پګړۍ له سره پرېوتل) معنا دا چې د پښتو کلتوري کوډونو خلاف داسې کار کول، چې د پګړۍ بې حرمتي ثابته کړي. پګړۍ هغه وخت بې حرمته شي، چې په سيالانو کې د پګړۍ په سر کوونکي بې عزتي وشي او بې عزتي تر فزيکي شخړې ورسېږي.
پګړۍ له سره پرېوتل کولای شو، داسې توجيه کړو، چې وواېو، که يو عام وګړی د يوه نظامي انسان لباس (دربشی) ته لاس واچوي او په فزيکي شخړه کې يې نظامي رتبو او يا د لباس کومې بلې برخې ته تاوان ورسېږي، نو جزا يې سنګينه وي، قانون عام وګړي ته د فزيکي برخورد تر څنګ د نظامي لباس د خرابوالي له کبله درنه جزا ورکوي. کټ مټ همدغسې که په پښتنو کې د يوه مشر د دستار بې عزتي وشي او هغه په ځمکه راپرېوځي، نو جزا يې ځکه سنګينه وي، چې د پګړۍ بې حرمتي شوې وي.
(پګړۍ له سره پرېوتل) اصطلاح تر شا فرهنګي شاليد پروت دی، چې دا شاليد په ولس کې ريښه لري، د پګړۍ حرمت ساتل په پښتنو کې يو عام منل شوی دود دی او که څوک له دغه کلتوري کوډ نه سرغړونه وکړي، نو په ولسي نرخونو کې يې مجرم ملامت حسابېږي او مجرم يې په جزا محکومېږي. د دې جرم سزا په پښتنو کې داده، چې مجرم به د پګړۍ بې حرمته کوونکي کورته ننواتې ورځي، سېرلی يا پسه (وری) به په ناغه کې وروړي او هغه مېړه چې د پګړۍ بې حرمتي يې شوې وي، په دې ډول به يې د پښتنو تر منځ سترګه لوړېږي او ببرته به بخښل کېږي. د پګړۍ له سره پرېوتلو په هکله يو متل هم شته، چې وايي: «پګړۍ له سره پرېوته، پر اوږو تم شوه».

## تر زنې نيول

تر زنې نيول يوه داسې ژبنۍ اصطلاح ده، چې له (سربل+نوم+مصدر) نه جوړه شوې ده. دا اصطلاح هم تحت لفظي معنا نه لېږدوي، بلکې په پښتنو کې د ويلو او کارولو لپاره خپل ځانګړي موارد لري او په مستعاره معنا کارول کېږي. د دې پښتو اصطلاح په پيل کې سربل راغلی، چې ګرامري معنا لري، سربلونه هغه ناخپلواک مورفيمونه دي، چې په يوازې ځان معنا نه ورکوي، بلکې له نورو خپلواکو او آزادو مورفيمونو سره يوځای کېږي او معنا ښندي يا دا مورفيمونه د آزادو مورفيمونو ملا تړي او د معنا په لېږدولو کې يې اسانتيا پېښوي.
دلته وينو چې د (زنې) خپلواک مورفيم اصلي بڼه (زنه) ده او دلته په مغيره حالت کې راغلی دی او دا له دې کبله چې له مصدر سره يې خپل حالت سم کړی دی. نيول د

(لام والا) په وزن جوړ شوی مصدر دی، چې زمانه ترې نه ښکاري، خو پر مټ يې موږ کولای شو، د کومکي فعلونو په وسيله ترې د بېلابېلو زمانو جملې جوړې کړو، لکه نيونه، نيول کېدل، نيولی و، وبه يې نيسي، په غاړې پورې نيول او داسې نور.
کلتوري ژبني توکي (اصطلاحات) د عامو ولسي وګړو له خولې اقتباس شوي دي او دا اصطلاح ګانې تر شا کلتوري مخينه لري. پښتانه په لوی اکثريت قبايلي خلک دي او ډېره لويه کتله خلک يې په اطرافونو او غرنيو سيمو کې استوګنه لري. د هرې سيمې پښتانه د خپلو ستونزو د هواري او حل و فصل په موخه په خپلو منځونو کې ځانګړې ترې او نرخونه لري، چې دا نرخونه او لارې له يوې سيمې نه بلې ته توپير لري. د پښتو اصطلاحاتو د کلتوري څېړنه دا راښيي، چې د ژبې دغو توکونو له حاکمو فرهنګي او کلتوري کوډونو سرچينه اخيستې او له ولسي ترو او نرخونو نه اغېزمن شوي دي. (تر زنې نيول) په پښتنو کې د عذرخواهۍ او ننواتې غوښتلو سېمبول دی، د دې اصطلاح په اړه د محمد ګل نوري کندهاري په اثر کې لولو: «از زنخ ګرفتن، شفاعت کردن، عفو خواستن. سنک مې تر زنه ونيوه، چې د ولو جان سره بد مه کوه. سنک را از زنخ ګرفتم، يعنې عذر کردم و عفو خواستم که با ولوجان بد مکن». (نوري، ۱۳۲۰ل: ۱۱۷م)

يو د ننواتو او بخښنې کلتور او دود دی او يو تر زنې نيول، خو دواړه په مفهومي ډول يو له بله توپير لري، ننواتې ورتلل هم اصطلاح ده، خو دا هغه وخت ممکنه ده، چې کله يو چا په فزيکي شخړه کې خپل مقابل ژوبل کړی او يا وژلی وي، دا عذرخواهي تر پېښې وروسته د سپين ږيرو مشرانو په خوله غوښتل کېږي، خو د زنه نيولو اصطلاح ډېر کله داسې مهال تر خوله راوځي، چې د دوه اړخونو تر منځ خبره تر فزيکي برخورده نه وي رسېدلې او يا د دواړو تر منځ خپګان د ننواتې د غوښتلو په کچه نه وي. خو دا هم نه شي ردېدلای، چې له فزيکي برخورد وروسته دې دا اصطلاح ونه کارول شي، ځکه په داسې پېښو کې چې خبره تر فزيکي شخړې رسېدلې وي او متضرر د ضرر رسوونکي عذر او ننواتې نه مني، نو متضرر ته د خپلې کورنۍ يو څوک ور نږدې کېږي او په ټينګار ورته وايي، چې «زنه دې نيسم، هغه خلکو عذر راوړی، وې منه او جنګ مه خوښوه، په بخښنه کولو او سوله کولو کې خير دی او خدای ﷻ د غچ اخيستنې په پرتله خپل بنده ته په بخښنه کولو ډېر خوشحالېږي».

په پښتو محاورو او اصطلاحاتو کې نه یوازې د پښتنو د کلتور او دود و دستور ډېر روڼ فرهنګ ځلېدلی، دا اصطلاحات د پښتنو د منفي کلتور هینداري هم دي. خو دا هم ترې ثابتېږي، چې دغو اصطلاحاتو د ولسي وګړو له فردي تجربو نه ګټه اخیستې او د جمعي خرد (ټولنیز عقل) له لارې په یوه داسې مفهوم بدلې شوې دي، چې هغه په ټولنه کې د پښتنو تر منځ استعاري او کنایوي معناوې ولېږدوي. د بېلګې په ډول: په خپل خره سپرېدل، بابېړی کول، بلا وهل، په جامو کې مینځل، بې مخه سړی، بېځایه ګډېدل، بې سره او بې ښکره، بې خولې کېدل، پوستکی کښل، پزه پرې کول، په پزه خط کښل او په سپکه سترګه کتل داسې اصطلاحات دي، چې هر یو یې یو منفي انځور له ځانه سره لېږدوي او دا د دې ښکارندویي کوي، چې په پښتني ټولنه کې له مثبتو دودونو سره منفي دودونه هم شته، چې د ولسي عامه ذهنیت ښودنه کوي.

ازمون ګړنې، متلونه، ولسي حکایتونه او لنډۍ د ولسي انګېرنو د رامنځته کېدلو هینداري بولي او په وینا یې که د کلتوري ژبپوهنې له مخې متلونه او ګړنې وڅېړل شي، د یوه ولس د فردي تجربو تر څنګ پکې د عامو ولسي وګړو سلوک، چال چلند، اخلاق او اداب له ورایه ښکاري. نوموړی لیکي: «دا هغه رمزونه دي چې په یوه ژبه کې د کولتوري ارزښت، د خلکو ذهنیت، سلوک، چال چلن، کړو وړو او تفکر له مخې یو متن یا یوه وینا را پېژني، هغه ژبني مفاهیم چې د ترکیبونو او جملو په څېر له ولسي کیسو، ویناوو، متلونو راخیستل شوي، دا ټول د ظاهري ټکو او کلمو تر شا نور ګڼ مفاهیم وړاندې کوي، دغه مفاهیم کېدای شي، په استعاري، سېمبولي، کنایي او اسطوروي بڼه وي، خو په ټوله کې د خلکو په کولتور اووښتي، انګېرنې او توهمات په حکایاتو، ګړنو، متلونو او ټېپو کې وړاندې کېږي، ګړنې د انګېرنو او توهماتو لنډ بیان دی». (ازمون، ۱۴۰۳ل: ۲۱۴)

آسمان ته کتل، خوله کې اور وړل، له اوره پیدا کېدل، اوړې سپکېدل، اوړه په اوړه کېدل، خوړه خبره، تریخ خلق، پګړۍ له سره پرېوتل، په غوږ وهل، پر اوږه ګرځول، پر زړه زور تېرول، پر سر لاس ور تېرول، پر لاس و پښو پرېوتل، پړسول، پښې ټینګې لګول، پښې تناکې کېدل، پوست کښل (پوستکی ویستل)، په خوله پورې خاورې مُښل (په خولې پورې ځیېره شړی مږل)، په جېب د لړم کښېناستل، په درنه

سترگه کتل، په سپکه سترگه کتل، په کمیسه کې نه ځایېدل، پر مځکه خولې لګول او ورته نور ډېر ژبني توکي له ولسي ذهنیت نه سرچینه اخلي، د هغوی فردي تجربې او د ژوند لوړې ژورې بیانوي او په ټولنه کې له حاکمو کلتوري کوډونو نه اوبه څښي، که د دغه اصطلاحاتو تر شا کلتور نه وای، دا اصطلاحات ښايي دومره منلي او د څېړنې وړ نه وای.

د پښتني ټولنې د پېژندنې لپاره که څه هم لنډۍ او متلونه ډېر معتبر او مهم فولکلوري فورمونه رادبره شوي دي، خو له دغو کلتوري او فولکلوري توکو وروسته ګړنې او محاورې ځکه مهمې دي، چې په مستقیم ډول له ولسي ذهنیته رامنځته شوي دي. همدا ګړنې او اصطلاحات دي، چې د ولسي انګېرنو خام مواد تشکیلوي او د پښتني کلتور انعکاس کېدلو ته شرایط برابروي. څرنګه چې د مقالې لمن تنګه او کلتوري ژبني توکي (ګړنې، اصطلاحات او محاورې) ډېر دي، نو د ټولو سپړنه په دې لنډ او تنګ چوکاټ کې نه شي ځایېدلای، د اوس لپاره يې دغه څو بېلګې د «مشت نمونه خروار» په دود ستاسو مخې ته راوړل شوې. به هڅه وکړم، چې په راتلونکې مقاله کې د پښتني فرهنګي چاپېریال د ګړنو پر نورو خواوو تم شم او ستاسې لپاره ترې یو څه کوچ راوباسم.

## پایله

ګړنې د عام ولسي تفکر، تجاربو، محاورو، دودونو او عام ولسي ذهنیت نه په لاس راغلي توکي دي، چې د یوه قام یا ولس د شناخت او هویت په ځلونه کې ګټندوی دي او د قام پېژندنه ترې په اسانه کېدلای شي. ګړنې نه یوازې د فردي ولسي تجربو زېږنده دي، د ولس یا قام د کلتور او فرهنګ رڼې هینداړې هم دي. که موږ غواړو چې د یوه قام، قبیلې، ولس او خېل دودونه، عنعنې او کلتور وپېژنو، نو د هغه قام یا ولس فولکلور ته به پناه وړو او په فولکلور کې به د نورو ګڼو ژانرونو تر څنګ ګړنې مطالعه کوو. ګړنې لکه لنډۍ، متلونه یا کاکړۍ د عام ولس د فکري، ذهني او حسي ژوند تجربې دي، چې ببرته ولس خپل ځان پکې ګوري او د ټولنې د وګړو له روزمره تجربو نه پکې ګټه اخلي. د ګړنو د ژبنۍ او مفهومي څېړنې په پایله کې دا خبره جوته شوه، چې چې د پښتو ګړنو تر شا یوه بډایه فرهنګي او کلتوري پښتني

زېرمه پرته ده، د ګړنو سرچینه د پښتني قام دودونه، نرخونه او ټولنیز کوډونه دي، چې پښتانه یې په رعایتولو او خیال ساتلو پابند دي.

پښتني کلتور دومره پراخ ټولمنلی دی، چې د دوی د ټولنیزو ربړو لپاره په کې د حل لارې شته او د ربړو دا حل لارې په ولس کې د سپین ږیرو، مشرانو او یا ملکانو په وسیله پیدا کېږي، چې عموماً نرخیان یا مرکچیان ورته وایي. که د ګړنو په مفهوم څېړنه کېږي، نو نرخونه او ترې ورسره خود به خوده څېړل کېږي او د رسمونو او رواجونو له څېړلو پرته به ګړنې هیڅکله هغسې ونه څېړل شي، څنګه چې دغه غونډونه د یوې مستعارې معنا د لېږد لپاره د عامې ولسي ټولنې په مفاهیمو او خبرو اترو کې کارول کېږي.

بله مهمه خبره داده، چې پر ګړنو د متل غوندې استدلال کېدای شي او د خپلو ګړنیو اهدافو د ژور او اغېزناک بیان لپاره ترې کار اخیستل کېدای شي. ټولې هغه خبرې چې په عامه ژبه او محاوره کې نه شي بیانېدلای، د ګړنو په وسیله په اسانه ویل کېدای شي او دا ځکه چې د ګړنو په وسیله ډېرې ژورې، استعاري او کنایوې معناوې په ساده، مهینه او ادبي ژبه خپلو مخاطبانو ته لېږدېدلای شي. د ګړنو طبیعي ځانګړنه داده، چې هغه په ادبي ژبه استعاري مفاهیم انتقال کړي او لوستونکي ته ډېره ستوغه خبره په ادبي پیرایه کې وړاندې کړي. ټول هغه ټولنیز رازونه چې چې د بیان پېچلتیا ولري او یا موضوع ډېره حساسه وي، دغه استعاري شوي توکي (ګړنې) د رمز یا اشارې په توګه کاروو او په دې ډول د ژبني نزاکت او کلتوري ارزښت خیال ساتو.

## وړاندیزونه

په کلتوري توکو کې پر ګړنو سربېره ګڼ نور ژانرونه لکه (متلونه، لنډۍ، کاکړۍ، د مروتو کسرونه او ...) هم شته، که فولکلور پوهان د پښتني ټولنې پر دغو ژانرو یوه مقاله ولیکي او د متلونو، لنډیو او کاکړیو شاته د پراته پښتني فرهنګ خزانه راوسپړي، هم به د پښتنو له روایاتو یو مشروع روایت شوی وي او هم به مو د خپلې ژبې یاد فولکلوریک توکونه سپړلي او د قلم او کاغذ مخې ته رسولي وي.

## مأخذونه

۱. قران کریم.
۲. آریانا دایرة المعارف.(۱۳۹۳ل)، ((پښتو))، پنځم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دایرة المعارف ریاست، نبراسکا مطبعه: کابل.
۳. ازمون، لعل پاچا. (۱۴۰۳)، کلتوري ژبپوهنه، ازمون اکاډمي: کابل.
۴. جاج پښتونزوی، حبیب الله. (۲۰۲۳)، خاموشه سمندر، تکتو خپرندویه ټولنه: کوېټه.
۵. خټک، خوشحال خان. (۱۳۴۵) دستارنامه، پښتو ټولنه: کابل.
٦. دیناخېل، محمد علي. (۱۳۹۹)، د سوات پښتو ادب او ثقافت، د افغانستان د علومو اکاډمي، د نشراتو او عامه اړیکو ریاست: الهام نبي زاده مطبعه: کابل.
۷. زیار، مجاوراحمد. (۱۳۷۹)، پښتو څېړنې، پښتو ټولنه: کابل.
۸. شینواري، خاطره. (۱۳۹۲)، ((اصطلاح او له متل سره یې توپیر))، کابل «مجله»، ۱۱-۱۲ گڼه.
۹. نوري، محمد گل. (۱۳۲۰)، د پښتو اصطلاحات او محاورې، پښتو ټولنه: کابل.
۱۰. نیازی، رفیع الله. (۱۳۹۹)، ((په پښتو لنډیو کې د پښتني کلتور انعکاس))، کابل «مجله»، ۲ گڼه.

**انټرنټي مأخذ**

۱۱. زیار، مجاوراحمد. (۲۰۱۸م)، ((گړنې او څرگندنې))، دعوت مېډیا، د خپرېدو نېټه: (د مۍ ۱، ۲۰۱۸)، د گټې اخیستنې نېټه: (۱۴۰۴/۲۷/۳) لمریز کال، لاسرسی: **https://dawatmedia۲٤.com**

څېړندوی محب الله همتیار

# د ویېونو او ریونوګنجې ته کتنه

# Review of the (Etymology) book

Assistant Prof. Mohibullah Hematyar

**Abstract**

This research article introduces the Pashto language book “waiona and raiona” to the readers and mentions the shortcomings of the book, which are urgently needed in light of the current scientific standards. The entire text of the book is divided into two parts, the first part of which discusses the roots of Pashto words, and the second part discusses English words that, according to the author, have their roots in Pashto. The book examines the roots of Pashto words in the following three frameworks: First: Words that have changed only in meaning according to traditional etymology, but not much change in form. Second: Words that have changed in form and meaning according to etymology, so they try to find a meaning that is acceptable to the heart after these necessary changes. The third type is words that, according to traditional etymology, have only undergone a change in form.

**لنډیز**

دا څېړنیزه مقاله د پښتو ژبې «د ویېونو او ریونو» کتاب لوستونکو ته په سم ډول ورپېژني او د کتاب هغه نیمګړتیاوې په کې ذکر شوې دي چې نن ورځ د علمي موازنو په نظر کې نیولو سره یې پوره کول د وخت اړتیا ده. د کتاب ټول متن په دوو برخو

وېشل شوی دی چې په لومړۍ برخه کې یې د پښتو ژبې د ویپونو پر ریښه باندې خبرې شوې دي او په دویمه برخه کې د انګرېزي ژبې پر هغو ویپو باندې خبرې شوې دي چې د لیکوال په اند یې ریښه په پښتو ژبه کې پرته ده. په کتاب کې د پښتو ژبې د ویپونو د ریښې موندلو برخه په لاندې درېو چوکاټونو کې څېړل شوې ده: لومړی، هغه ویپونه دي چې د دوديزې ریښه پوهنې له مخې یې یوازې په معنا کې بدلون راغلی، خو په شکل کې یې زیات بدلون نه لیدل کېږي. دویم، هغه ویپونه دي چې د ریښه پوهنې له مخې یې په شکل او معنا کې تغییر راغلی وي، نو دوی هڅه کوي چې له دې اړو دوړو وروسته یوه زړه ته منلې معنا پیدا کړي. درېیم، هغه ډول ویپونه دي چې د دوديزې ریښه پوهنې له مخې یې یوازې په شکل کې بدلون را منځته شوی وي.

## سریزه

ویونه او ریونه اثر څېړونکي استاد لطیف جان بابی لیکلی دی، په دغه کتاب کې د پښتو ژبې د ډېرو نومونو د ریښې موندلو هڅه شوې ده، چې تر ډېره بریده په خپل کړې کار کې بریالی دی. کتاب دوه برخې لري، یوه برخه یې د پښتو ژبې د نومونو ریښې، په ارياني ژبو کې پلټل شوې او په دویمه برخه کې یې د انګرېزي ژبې ویپونه راوړي دي چې ریښه یې له پښتو ژبې څخه انګرېزي ته تللې بولي. په کتاب کې هڅه شوې، چې د پښتو ژبې لرغونتوب ثابت کړي او تر ډېره کچې یې دا کار سرته رسولی هم دی. په کتاب کې هغه نومونه راوړل شوي دي چې اوس د پښتو ژبې یوه ستره زېرمه ګڼل کېدای شي او دغه زېرمه به د راتلونکو څېړنو لپاره نوې لار خلاصه کړي. د کتاب په ځينو برخو کې داسې ویپونه هم راغلي دي چې د نن ورځې علمي میتودولوژي او آرپوهنه یې ریښه نه مني. د ویپونو د اصلي ریښې او د کتاب ارزښت ته په کتو دا څېړنیزه مقاله لیکم ، البته دا پښتو ژبې د بډاینې لپاره یوه نیمګړې هڅه وي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

له دې څېړنې سره به د پښتو ژبې هغه ویپونه کره شي چې اوسمهال یې موږ پر معنا نه پوهېږو او نه یې له آرې ریښې څخه خبر یوو. تر ټولو د ارزښت وړ خبره دا ده چې د پوهانو او څېړونکو به د پښتو ژبې پورته ذکر شوې ستونزې ته پام شي او د سمون لپاره به یې رغنده ګامونه واخلي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې د پښتو ژبې هغه ویيونه را برسېره شي چې ریښه یې د دوديزې آرپوهنې پر مټ را سپړل شوې، اوس یوې نوې څېړنې ته اړتیا لري تر څو یې نیمګړتیاوې کره شي. له دې څېړنیزې مقالې سره به څرګنده شي چې اوسمهال هم په پښتو ژبه کې د علمي او نوې آرپوهنې له علمي موازنو سره د څېړنیزو چارو کمښت احساس کېږي او د دې نیمګړتیا د پوره کولو لپاره د څېړنې غوره میتودولوژي کارونې ته اړتیا ده.

## د څېړنې پوښتنې

۱- «د ویيونو او ریونو» کتاب څومره د نوې علمي ایتمولوژۍ په رڼا کې لیکل شوی دی؟
۲- لیکوال د دوديزې آرپوهنې له مخې په ویيونو کې کوم بدلونو راوړي دي؟
۳- په کتاب کې په کومه کچه د نوې آرپوهنې له مخې د ویيونو د ریښې لټه شوې ده؟

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې میتود تشریحي ـ توصیفي او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

«د ویيونو او ریونو ګنجې» اثر لیکوال او څېړونکي استاد لطیف جان بابي لیکلی دی. د پښتې سکښت یې غرځني بابي تر سره کړی. دغه کتاب په ۱۳۹۸ل کال کې صداقت خپرندویې ټولنې په کندهار کې خپور کړی. کتاب ټول ۱۴۰ مخونه لري چې په لومړي او دویم مخ کې یې د کتاب پېژندنه او په درېیم مخ کې یې د (لومړنۍ خبرې) تر سرلیک لاندې د لیکوال خپلې خبرې راغلې دي. له دې وروسته د کتاب اصلي متن پیل کېږي او تر ۱۳۹ مخ پورې د کتاب پاڼې پرې ښکلې شوې دي، خو له دې وروسته اخځلیکونه او نور اړین توکي چې په نورو څېړنیزو کتابونو کې لیدل کېږي په یاد کتاب کې نه دي راغلي.
زما په اند لیکوال د کتاب لیکنې په بېلابېلو وختونو کې له هرې مطالعې وروسته د یادښت په بڼه له ځان سره خوندي کړي؛ ځکه یې اخځلیکونه نه لیدل کېږي. د اخځلیکونو راوړل زیات اړین وو، دا چې لیکوال نه دي راوړي ښایي کوم لامل ولري، خو په متن کې داسې ویيونه هم راغلي، چې اخځلیکونه یې معلوم دي. د استاد د

کتاب په اړه چې زما په ذهن کې د اخځلیکونو د نه راوړلو کوم دلیل دی، هغه دا دی چې ښايي لیکوال خپله او یا بل کس داسې سلا ورکړې وي چې دا خو ټول ستا د ذهن محصول دي، نو اخځ راوړلو ته يې اړتیا نه شته. که ورته ځیر شو په متن کې داسې ویيونه لیدل کېږي چې له سرچینې پرته يې په گوته کول ناشوني دي لکه: د ارین او جنی ویيونه چې په دغه کتاب کې را سپړل شوي دي؛ ځکه هیچا ته دا نه ده څرگنده چې په اویستا کې د ارین او جینی وینگ او د لیکبڼه څه ډول وه؟ د دې ویيونو سپیناوی به هغه وخت کېږي چې موږ همدا ویي په اویستا او یا له هغه څخه په را اخیستل شوي متن کې لیدلی وي. د لیکوال لیکل شوي متن ته که ځیر شو، له لسگونو داسې ویيونو سره به مخامخ شو چې له یوې سرچینې را اخیستل شوي، خو لیکوال يې اخځ نه دی په گوته کړی.

د کتاب په لومړی پښتی «د ویونو او ریؤنو گنجی» تر دې لاندې ویيپوهنه، ورسره په لندیو کې لغات شناسي او په انگرېزي ژبه ورسره Etymology لیکل شوې. لومړی که د کتاب نوم ته وکتل شي نو په ښکاره ډول يې د (ویيونو) پر ځای (ویؤنو ) راوړي او (ریؤنو) يې د فکر پښتو بڼه لیکلې ده. (گنجی) د گنج اوښتې بڼه ده، چې د خزانې په معنا کارول شوې ده. د (ویی) کومه لیکبڼه چې لیکوال راوړې ده، هغه په خپل ځای له ځان سره یوه تېروتنه لري، خو (ویی) د ویلو له ریښې اخیستل شوی. که پوره په غور سره ورته وکتل شي، نو آره بڼه يې (ویی) سم دی، نه (وی)؛ ځکه چې د (وی) خپله د ژبې په هغو غږونو نومونو کې راځي چې موږ يې د درد او حیرانتیا په حال کې له خولې څخه باسو. له بلې خوا که ورته وگورو نو ښکاري چې په پښتو ژبه کې په انفرادي ویيرغونه کې دا ستونزه زیاته لیدل کېږي ځکه چې ( وی) او (ویی) دواړه خپل، خپل توجیهات لري. تر اوسه پورې لا دا خبره نه ده یقیني شوې چې موږ يې (وی) سم وبولو او که (ویی)؟ څنگه مو چې پورته یادونه وکړه په ویي کارولو کې یوه ښېگڼه دا ده چې ویل يې اسانه او هم له (وی) طبیعي نوم سره د ټکر مخه نیسي. یوازې دا لیکوال نه دی چې( وی) يې په دا ډول وینگ د خپلې لهجې له مخې لیکلی، بلکې نن ورځ په بره پښتونخوا کې له دې ډول(ویی) لیکبڼې سره مخالف دي. د (ریونو) ویی هم له اره د (ری) د پښتو ژبې کلمه ده چې کله موږ چاته وایو: (دومره ستونزمنه خبره نه ده ری پرې مه وهه.) (ری )موږ هم په همدې وینگ د فکر

لپاره کاروو، نو د استاد دا کلمه د پوهاند زیار له ویېپونو سره چې د (فکر) لپاره یې (اند) ویې کارولی دی، خپله لار بېلوي. که هر څومره یوې او بلې خواته لاړ شو، نو بیا هم په لوی کندهار پورې د اړوندو سیمو د ویېرغونې او د مرکزي سیمو د لیکوالو ترمنځ د ویېرغونې یووالی نه لیدل کېږي. هر لیکوال چې د کوم بهرني ویې لپاره یو معادل پیداکړی، هغه یې په خپلو لیکنو کې راوړي یعنې هر کس پر خپل سر لګیا دی. دا چارې نه یوازې د پښتو ژبې د ودې لامل نه ګرځي، بلکې په لوی لاس د پښتو ژبې او پښتنو پردي کول دي. د بابي صاحب د کتاب په لومړي وار لیدلو سره باور وکړئ چې زه خپله پر دې نوم نه پوهېدم چې دا اوس څه معنا لري؟ یوازې د انګرېزي او دري ژبې نومونې وي، چې زه یې د کتاب د منځپانګې په اړه پوهولم او زموږ په خپله پښتو پوه نه شوم.

له بلې خوا که د استاد لغات شناسي ویې وګورو، هغه یې له ایتمولوژي یا ریښه پېژندنې سره معادل راوړی دی، چې په اصل کې ویېپوهنه او لغات شناسي یو د بل معادل دي او په انګرېزي ژبه کې یې معادل نومونه لکسیکالوژي او د ریښه پېژندنې معادل نومونه ایتمولوژي ده. د کتاب په لومړۍ پښتۍ کې د ریښه پېژندنې او ویېپوهنې اصطلاحات یو له بل سره ورته راوړل شوي چې په اوسمهال کې د یوې سترې تېروتنې په سترګه ورته کتل کېدای شي.

استاد بابي د لومړنۍ خبرې تر سرلیک لاندې د پښتو ژبې پر لرغونتوب او له اویستا او ویدا سره یې د پښتو ریښو په ورته والي خبرې کړې دي او هم یې ویلي دي:(انګریزي هم آریایي ژبه ده؛ ځکه نو نه یوازې دا چې د پښتنو د هیواد شاوخوا سیمې ژبې ځینې برخمنې سوې دي بلکې په انګرېزي ژبه کښې یې هم خورا پخوانۍ ریښې خوندي دي)(بابی. ۱۳۹۸ل، ۳مخ) دا چې د پښتو ژبې پر لرغونتوب باندې زیات پوهان تر اوسه پورې په یوه خوله دي، خو تر اوسه پورې چا لا په دې اړه خبره نه ده کړې چې د انګریزي ژبې د ځینو ویېونو ریښې په پښتو ژبه کې لیدل کېږي. د لیکوال دا خبرې پر خپل ځای زیاتې درنې او نن ورځ نوې دي، له دې سره هممهال پورته ادعا ځکه نه شي ردېدای چې پښتو او انګرېزي ژبو د هندو اروپایي کورنۍ ژبې دي، نو حتمي به یې ریښې تر لرغونې ژبې پورې رسېږي او په ورته والي کې یې شک نه شته. دلته د یوې خبرې یادول راته ځکه اړین ښکاري چې ایا هغه ریښې چې د پښتو

او انګرېزي ژبې ترمنځ ورته دي، له پښتو انګرېزي اخيستې دي او که له انګرېزي پښتو؟ د ليکوال ليکنه کې داسې ښکاري چې پښتو ريښې انګريزي ته تللې بولي، خو زما په اند د دواړو ژبو ريښې په لرغوني وخت کې د يوې ورته ژبې له وييونو را زېږېدلې دي، خود به يې ريښې سره ورته وي او همدا يې د ورته والي لامل دی.

په دې اثر کې د ژبې د وييونو د اوښتون لاملونه او هغه برخې راغلې دي چې د وخت په تېرېدو سره د يوې ژبې وييونه له خپلې لرغونې بڼې او ريښې څخه څنګه شکل او معنا بدلوي. دا لاملونه چې په ياد سرليک کې راوړل شوي دي، د ژبپوهنې په اډانه کې هغه سکالو ده چې نن ورځ د نړۍ يو عالم هم ورسره مخالفت نه لري او د ژبو د بدلون لاملونه يې بولي.

تر اوسه پورې مو د کتاب په پېژندنه او د ليکوال په هغو خبرو باندې خبرې وکړې چې زموږ لپاره نوې او د اوسمهال د ژبې له اصولو سره برابرې وې. دا چې کتاب څومره ښېګڼې لري هغه نو پر خپل ځای د درنښت وړ دي، ځکه ليکوال د کتاب په منځپانګه کې د ايتمولوژي يو ستره پانګه راټوله کړې چې نن ورځ په پښتو ژبه کې يوه ستره زېرمه بلل کېدای شي. په ياده ګنجې کې ځينې د پام وړ ټکي هم شته چې بايد ورته يوه لنډه څېړنه وشي. ليکوال د زياترو وييونو د ريښې په برخه کې له دوديزې يا عاميانه ريښه پېژندنې څخه کار اخيستی دی. لومړی غواړم د دوديزې ايتمولوژي پر پېژندنه او اصولو باندې رڼا واچوم، وروسته به د ويؤنو او ريؤنو له ګنجې څخه ځينې لغات يا وييونه را واخلم چې د دوديزې ريښه پېژندنې پر مټ يې ريښه را پېژندل شوې. له شک پرته په دغه کتاب کې داسې وييونه هم راغلي دي چې له علمي او نوې ريښه پوهنې سره يې سمې ريښې څېړل شوې دي او دا چاره يې په علمي څېړنو کې کومه ستونزه نه لري، بلکې د درناوي وړ ده.

**دوديزه ريښه پېژندنه (ايتمولوژي)**

دوديزه ريښه پوهنه له تاريخي پلوه د کلمو پر ريښو باندې غږېږي، کله چې د ريښې بحث منځ ته راځي، نو تاريخ هم را ننوځي. دوديزه ريښه پوهنه د يوې کلمې په ټولنيز علت بحث کوي او بالعموم ورته داستانونه جوړوي، چې له دې زاويې يوه کلمه رامنځته شوې ده. دا کلمې يا د ځايونو نومونه دي يا د شيانو او اشخاصو او نورو؛ خو څرنګه چې دوديزه ريښه پوهنه د تاريخي ژبپوهنې له علمي اصولو استفاده نه کوي؛

نو په علمي مباحثو کې يې استدلال د منلو نه دی.(ښکلی،۱۴۰۱ل: ۱۲مخ ) د ښاغلي ښکلي له خبرو ښکاري چې دوديزه ريښه پوهنه له تاريخي ژبپوهنې سره څنگ په څنگ روانه ده، خو دا چې يو له بل سره څه توپير لري دلته يې د د ژبپوهنې له نظريو اثر څخه لنډيز را واړو: د تاريخي ژبپوهنې او دوديزې ريښه پوهنې ترمنځ مهم توپيرونه موجود دي. تاريخي ژبپوهنه علم دی، چې د علمي اصولو له مخې عمل کوي. تاريخي ژبپوهنه د کلمو ريښه په داستانونو او کيسو کې نه گوري؛ ځکه چې کلمې د پيښنو ايجاد نه دي، بلکې داسې ټولنيز ترون دی چې خلکو پرې هوکړه کړې. پر دې بنسټ تاريخي ژبپوهنه د کلمو او گرامري جوړښتونو پر تاريخ په مجرده توگه غږيږي. تاريخي ژبپوهنه د علمي آرونو په رڼا کې د بېلگو له مخې د کلمو د بڼو او معناوو يا دواړو پر بدولون غږيږي. خو دا بدلون يوازې تر يوې بيلگې محدود نه وي، بلکې د څو مهالي نظام پر ډېرو بېلگو مسلط وي او د يوه منظم سيستم په توگه په ډېرو بېلگو کې ځای نيسي. دوديزه ريښه پوهنه د تاريخي ژبپوهنې علمي اصول نه مني او د کلمو د بڼې او معنا بدلون ته علمي پاملرنه، نه کوي. په دې هره بېلگه کې البته منطق لري؛ خو دا منطق علمي نه، ولسي بنسټ لري. دوديزه ريښه پوهنه د زياترو بېلگو تر شا لکه متلونو غوندې کېسې هم موجودې وي. په دې توگه ويلای شو چې دوديزه ريښه پوهنه د کلمو په اړه ولسي پوهه او پانگه ده نو ځرنگه چې ورته پانگه وايو، د فولکلوري توکو په څېر ارزښت لري او په کار ده چې خوندي شي.(ښکلی، ۱۴۰۱ل:۱۳مخ) پورته خبرو ته په کتو رينښتيا هم دوديزه ريښه پوهنه دومره کم ارزښته ده چې يوازې د ولسي پوهې په کچه بايد خوندي شي او که نوره کومه گټه هم ژبې ته رسوي؟ د دې پوښتنې ځواب خپله د استاد ښکلي په کتاب کې ليکل شوی دی هغه د ايراني ليکوال محمد رضا باطني له قوله وايي:(د کلمې د تسميې وجې د معنا له پلوه په دوه ډوله دي يو يې رڼې کلمې دي او بل يې تتې کلمې دي. د رڼو کلمو څخه موخه هغه کلمې دي چې د غږ يا بڼې له مخې يې پر معنا وپوهېږو، لکه: د سپين غر له کلمې موږ پوهېږو چې سپين غر ورته ځکه وايي چې سر او کال يې پر سر واورې پرتې وي. برعکس تتې کلمې هغه دي چې بڼه يا غږ يې راسره د معنا په پوهېدو کې مرسته ونه کړي. په پيل کې هر توري د جوړېدو په وخت کې څه نا څه معنا درلوده خو د وخت په تېرېدو سره له خلکو د ځينو تورو معنا هېره شوه، چې اوس يې هم ځينې

الفاظ یا نومونه موجود دي، لاکن خلک یې په معنا نه پوهیږي؛ ځکه د وخت په تېرېدو یې په بڼه کې بدلون راغلی دی.)(ښکلی،۱۴۰۱ل:۱۳مخ) تر دې ځایه خو ښکاره شوه چې د رڼو کلمو په برخه کې چې بڼه او وینګ یې معنا په لاس راکوي نو دودیزه ژبپوهنه که په دې برخه کې کوم وییونه را اخلي معنا او ریښې ته یې ځان رسوي نو بې له شکه چې یو ګټور کار دی او په چورلټ ډول یې موږ له دې نه شو بې برخې کولای چې یوازې ولسي پوهه ده. وروسته یې په خپل روان بحث کې ویلي دي چې ځینې نومونه وروسته اېښودل شوي دي لکه هسکه مېنه او شینډنډ چې معنا او ریښې یې څرګندې دي نو دا برخه هم په خپل وار سره د رڼو کلمو په برخه کې داخلېږي چې بیا هم د دودیزې آرپوهنې ارزښت را په ګوته کوي. د استاد بابي کتاب که له سره تر پایه وکتل شي، نو ښکاره خبره ده چې ځینې کلمې چې ریښې یې رڼې دي هم په کې راغلي او هم یې د ریښې پېژندنې په برخه کې ستونزه نه لیدل کېږي. له بلې خوا داسې کلمې هم په کې شته چې د تیوري له مخې تتې کلمې دي چې زیاتره وخت یې ستونزه په همدې کلمو کې لیدل کېږی نو هغه چې په ریښه پېژندنه کې یې ستونزې درلودې، هغه یې د نمونې په ډول دلته راوړل شوې دي او اوږد بحث پرې شوی دی. ولې هغه تتې کلمې چې ریښې یې له علمي ریښه پوهنې سره توپیر نه لري، په پوره ډول د منلو وړ دي. له دې پورته خبرو او د لیکوالو له نقلي قولونو داسې څرګندېږي چې د لیکوال کتاب که په علمي لحاظ وکتل شي، په یو څه برخه کې یې ستونزه لیدل کېږي، خو ټول کتاب له دې ټکو څخه نه دی ډک، بلکې په اوس وخت کې یو ارزښتمن او پر ځای کار دی؛ ځکه چې د پښتو ژبې د ایتمولوژي برخه کې چې کومه تشه یا د انګرېزي په اصطلاح (ګپ) لیدل کېږي تر خپله وسه یې پوره کړی. د لیکوال کار په ریښتیا سره په خپله ژبه (پښتو) کې یو نوی کار دی چې له دې مخکې ډېرو کمو خلکو کار پرې کړی او وروسته دا کار پاتې شوی دی چې هغه لامل یې له شک پرته سختوالی او ستونزمنتوب دی.

دلته به د لیکوال او څېړونکي استاد لطیف جان بابي له اثر څخه هغه وییونه را واخلو چې د دودیزې ریښه پېژندنې له مخې یې ریښې را سپړل شوې دي. د یادونې وړه ده چې په دودیزه ریښه پېژندنه کې کلمو یا وییو په درې ډوله تغییر موندلی دی چې یو یې یوازې د کلمې معنا ته بدلون ورکړ، دویم یې د کلمې شکل او معنا ته تغییر ورکړی

دی او درېيم يې يوازې د کلمې شکل ور بدل کړی دی. دا چې ولې دا پورته ياد شوي بدلونونه په په کلمو کې راغلي دي؟ لامل يې دا دی چې هر کس د يو نوم يا کلمې د معنا د بدلون لپاره د کلمې شکل هم په هغه ډول برابر کړي او يا يې هڅه کړې چې د مانا د اخيستلو لپاره يې د اصلي معنا له پوهېدو پرته نوې معنا پيدا کړي. دلته به د استاد لطيف جان بابي له اثر څخه د بيلګې پر ډول په ځينو وييونو او د هغو پر رېښو باندې خبرې وکړو تر څو روښانه شي چې ريښتيا هم د وييونو د دوديزې ريښه پوهنې له مخې څېړل شوي دي او که نه؟ وروسته به پر هغو وييو باندې بحث وکړو چې اوس مهال يې شکلونه راڼه دي او له جوړښت څخه يې معنا موندل کېدای شي.

**اپګان (افغان)**

(( اپ، اپه (غټ، لوی، مشر)+ګان (ټول). اپه (مشره خور،چې په کندهار کښې دادا ورته وايي) اپه ګان مانا د ټولو مشر، غټ او لوی، پخوا يې پښتانه ټبر ته اپګان وايه، دا ځکه چې تر ټولو اريايي ټبرونو مشر او لوی ؤ. چې دا کلمه د مهالونو او زمانو په تېرېدولو او د بېلابېلو ژبو ، لهجو او ليکنو د توپير له کبله نن ورځ په اپغان او افغان باندې واوښت، دا ځکه چې په عربي ژبه کښې(پ) او (ګ) نسته او عربان همېشه(پ) په(ف) يا(ب) او همدارنګه (ګ)په (غ) يا (خ) باندې اوړي.))( بابی،۱۳۹۸ :۴مخ)

د شپږمې ميلادي پېړۍ هندي ستور پېژندونکي وارا هامي هيرا په خپل کتاب برهات سامهيتا کې د (اوګانا) کليمه قوم ته کارولې ده، چې د دې ويي(اوګانا) مانا جګړن او جګړې دي او د دې قوم خلک به پر اسانو سپرېدل. ليکوال زياتوي چې دا خلک د افغانستان په اوسنۍ جغرافيه کې اوسېدل. (افغان،۱۴۰۴: ويب)

له پورته هندي کتاب څخه داسې ښکاري چې دا خلک اوسني افغانان دي چې کلونه کلونه يې په دې خاوره ژوند ته ادامه ورکړې او تر اوسه لا دا خاوره پرې ودانه ده.

د افغان کلمه د لومړۍ شاپور د نقش رستم په ډبرليک کې په (ابګان) ليکل شوې ده چې د وخت په تېرېدو سره يې بېلابېل شکلونه غوره کړي دي او دې شکلونو يې دو زره کاله وخت نيولی دی لکه:(اوګان)، (اپګان)، (آپکان) چې د لوړ مقام او عزت معنا لري. (مياخيل،۱۴۰۴: ويب) دا چې د ابګان کلمه څنګه تر اوسني شکله پورې را ورسېده، غږيز بدلون يې په لاندې ډول سپړل شوی دی:

(ب) پر (و) اوښتون مومي چې په پایله کې یې (ابگان) په (اوگان) بدل شوی دی. دا ډول تغییر په دري ژبه کې اوس هم لیدل کېږي لکه: (اب) په (او) ویل کېږي. (ب ) اواز پر (پ) بدل شوی چې په پایله کې یې (ابگان) په (اپگان) راغلی دی. د (اپگان) دا نوم په هغه ډول دی، په کوم ډول چې د شاپور په ډبرلیک کې لیدل شوی دی. له دې وروسته د عربي ژبې د پور وییونو د قاعدې له مخې هغه غږونه چې په عربي ژبه کې نه وو، عربانو ورته د خپلې ژبې نږدې غږونه وکارول لکه: د (پ) لپاره د (ف) غږ او د( گ) لپاره د (غ) غږ. په پای کې د (اپگان) کلمه پر افغان باندې بدل شوه.( ستانیزی،۱۴۰۰: ویب )

له دې پورته ټولو خبرو داسې ښکاري چې د افغان کلمه په پښتو او په دري ژبه کې یو ډول توجیه کېدای شي نو هر ډول چې لیکوال وغواړي په دواړو ژبو کې ترې گټه اخیستلی شي. د افغان د کلمې په اړه دومره دقیق مالومات نه شته چې ریښه څه او له کومې ژبې څخه را وتلې ده، خو په پښتو او دري ژبه کې یې غږیز بدلون یو ډول دی، نو معلومه خبره ده چې دا ویی به له هغې ژبې څخه راوتلی ویی وي چې پښتو او دري ژبې ترې را زېږېدلې دي. د استاد ځدراڼ په خبرو کې یې ریښه په اویستا کې گوري خو ولې ما ته د افغان کلمې ریښه له دې هم مخکې ښکاریږي. تر دې دمه چې یو خبره تر ټول ښه ښکاره او څرگنده ده هغه دا ده چې افغان کلمه په لومړیو کې یا د هغه چا لپاره کارول کېده چې تورزن او جگړن به و. وروسته دا کلمې د یوه ټبر لپاره کارول شوې.

څېړنپوه محمد شریف ځدراڼ په خپل اثر: ( پښتانه په تاریخي اثارو کې) لیکلي دي چې په مهابهاراته کې د افغان نوم د اسوکا په بڼه راغلی او بري هت سمیتها کې د اوگانا په بڼه راغلی دی. (اسو) او (او) دواړه کلمې د اس لپاره کارول شوې دي چې گان یا غان یې د وطن او هېواد مانا لري. پورته دواړه ترکیبي برخو ته په کتو سره ښکاري چې د سوارکاروانو یا د سورو د هېواد معنا ترې اخیستل کېږي.(ځدراڼ، ۱۴۰۰ل: ٦٩ مخ)

له پورته خبرو داسې ښکاري چې د اس د سورو یا د جگړنو د هېواد معنا او مفهوم په کې پروت دی، دا چې وروسته د یو قوم لپاره دا نوم کارول شوی، اصلي لامل یې هم د دې قوم د جگړو او زړورتیاوو داستان دی.

**اویستا (ویستا)**

او (پت او درناوی) + يې + ستا

((اویستا مانا پت او درناوی يې ستا په برخه، ياندي که اويستا د زرتښتيانو ديني کتاب ولولي نو د پت خاوند به يي.))( بابی،۱۳۹۸ :۱٦مخ)

اويستا دوه کلمې دي چې (آ- ويستا) لومړی جز يې (همزه) او (واو) دي چې (همزه) حلقي توری دی چې ډېر ځله په زور(هـ) سره بدلېږي، لکه (هلک) په (الک) چې ويل کېږي. د سانسکريت ژبې (سو) کلمه چې د (ښه) معنا لري، په (هو) سره بدليږي؛ ځکه چې د سانسکريت ژبې (س) توری په اويستا کې زيات وخت په (هـ) سره بدليږي نو (سو) په او يستا ژبه کې (هو) شو چې هوستا په اوستا، (هو)(سو) چې د (ښه) معنا لري په پښتو کې پر (او) بدل شوی. د اويستا دويم جز (ستا) دی چې ( س، ت) توري دي چې د پښتو ژبې له (ستايل، ستاينه او د دري ژبې له ستايش) څخه عبارت دي. (اويستا، ويب)له دې پورته عبارت څخه ښکاري چې د اويستا کلمه په لرغونو ژبو کې وه چې د وخت په تېرېدو سره (سوستا)، په (هوستا) او بيا په (اوستا) بدله شوې کلمه ده چې د (ښې ستاينې) معنا لري. پوهاند استاد حبيبي هم د اويستا کلمه له همدې ريښې څخه بللې ده. (حبيبي، ۱۳۲۵: ۱۲٦مخ) له پورته اويستا ويي څه ښکاري چې په لومړيو کې دا يو ترکيبي لغت و چې د (ښې ستاينې) معنا يې درلوده خو د وخت په تېرېدو سره د زردښت کتاب په دې نوم ونومول شو.

**اوستازد (استاد)**

اوس + تا، ستا+ زده

اوستازد مانا ياندي (اوس نو ستا زده) او په هر څه باندي پوهېږې چې اوسنۍ ښه يې استاد ده. زده او زده کړه د پښتو ډېره لرغونې ريښه ده چې په مزدا او اهورمزدا کښې هم خوندي ده.( بابی،۱۳۹۸ ،۱٦مخ) استاد هغه چاته ويل کېږي چې د زده کوونکو مخ ته درېږي. د استاد کلمه په اويستا کې په دې شکل نه ده راغلې بلکې هلته ورته لنډې کلمې شته لکه ( ستا، شتي او شتا) چې هغه کس ته ويل کېږي چې په دوو پښو له حرکت پرته ولاړ وي. (فرهاد،۱۴۰۴: ټويټر) دې ويي هم د وخت په تېريدو سره د نن ورځ شکل غوره کړی دی او هم يې معنا د معنا پوهنې له مخې را تنګه شوې او شکل يې تغير کړی خو په معنا کې يې بدلون نه ليدل کېږي، بلکې يوازې معنا

محدوده شوې ده. د پښتو په زیاتره لهجو کې اوسمهال هم د استاد معادل کلمه شته چې خلک یې په خپلو خبرو کې کاروي. د لوګر په خروار ولسوالي کې د (استاد) کلمې معادل (وستا کار) دی. د غزني په بېلابېلو سیمو کې بیا د (وستا) کلمه اوسمهال هم کارول کېږي. البته په دومره تغییر چې موږ اوس د ترکانې او نورو کسبګرو لپاره د (وستا) کلمه کارو او په غزني کې هم په عین شکل کارول کېږي. دا چې د استاد اصلي ریښه په اویستا ژبه کې (ستا) دی، نو موږ یې ریښه اوس په پښتو ژوندیو ویېونو کې وینو نو د استاد بابي له ریښې پېژندنې سر سري معنا اخیستل شوې.

**پلار (په- لار)**

((پلار معنا هغه څوک چې خپل بچوړي یا اولاد پر لار کوي.))(بابی، ۱۳۹۸: ۱۷مخ)

د پلار کلمه چې په دري ژبه کې یې معادل (پدر) دی له آره یوه هندو آریایي کلمه ده چې د وخت په تېرېدو سره یې خپله بڼه په بېلابېلو ژبو کې بدله کړې ده. په اویستا ژبه کې د (پلار) کلمې معادل یا پخوانی شکل (پیتر) دی چې وروسته په (پلار) باندې تغییر شوی دی. ( اخک، ۱۳۹۹: ۱۴۰ مخ) ( حبیبي، ۱۳۲۵: ۲۱مخ). د (پلار) کلمې آر او ریښه (پي) ده چې د سپین معنا لري او (پیتر) هغه چاته ویل کېدل چې ویښته به یې سپین و، نو وروسته د پلار کلمه له همدې (پیتر) ریښې څخه را وتلې ده. لیکوال په خپل کتاب کې د پښتو ژبې ویی( پلار) په سر سري ورته والي را سپړلی دی، نو اصلي ریښه یې اوسنۍ پښتو، نه بلکې له لرغونې ژبې څخه اخیستل شوې چې پښتو ترې را زېږېدلې.

**کندوز:** (کندوز دوي برخې لري چې(کند- دیس«مینه، ټاټوبی)

((کندیس هغه مینه او اویجه ده چې د کندو غوندې خوږه او شیرینه وي لکه کندوزي خټکیان. (کندیس) ډېر لرغونی پښتو ویی دی چې د پهلوي او فارسي تر اغیز لاندې (کندیږ، کندژ او کندوز) سوی دی.)) (بابی، ۱۳۹۸: ٦۸ مخ)

د استاد محمد انور فایز په وینا چې د (کندوز) نوم له (کهن دژ) څخه راوتلی دی چې د (زړې کلا) معنا یې درلوده، د وخت په تېریدو سره یې معنا له دې (زړې کلا) څخه (ښار) ته معنا بدله کړه.(محمد انور فایز، مرکه،۲۵/۴/۱۴۰۴) زما په اند که چېرې موږ د (دیس، دیش او دیز) روستاړي وګورو نو په هغه کې د ځای معنا پرته ده. له پورته (کهندوس) د (کهن دیس) اوښتی شکل دی چې د (زاړه ځای) معنا لري

چې د استاد محمد انور فايز له نظر سره سمون خوري.د کندوس کلمه اوسمهال زموږ په خپله لهجه کې کارول کېږي، نو داسې ښکاري چې اصلا د (کن)(دوس) چې د (کن)(ديس) اوښتى شکل دى. د (ديس) په معنا کې ستونزه نه شته ولې پاتې شوه د (کن) کلمه چې دا نورې څېړنې ته اړتيا لري ځکه چې په دري ژبه کې ترې د (زاړه) او استاد بابي (کند) چې د خواږه معنا لري په خپلو ليکنو کې را اخيستې ده. ان که ترکيب يې بېرته د ژبې د اصولو له مخې ووېشل شي بيا هم د (کند) معنا په کې نه پاتې کېږي.

**کابورا( خيبر)**

((کابورا(خيبر) او همدارنگه(ز، س، ت)اوړيدونکي توري لکه اراکوزي/ اراخوسي/ اراخوتی/ کتل/کسل، روزتم/ روتسم.)) (بابی، ۱۳۹۸: ۵ مخ)

دا چې د افغانستان د سهيل د خلکو ژبه له نورواريايي او هند ژبو سره گډه شوې دي، نو له دې سره د کابل نوم هم د سانسکريت له کها( سمڅه، درز، ښار) ويی څخه اخيستل شوی چې دويم جز يې پهلوي ژبې(کوی)د (ځای) معنا لري او بل يې د پهلوي ژبې(ئول) ويي( د پراخ، لوړ) معنا لري. د دې دواړو برخو له ترښت څخه (د غره په لوړه کې پروت ښار) معنا راځي. په ځينو ځايونو کې نوم (کابورا) هم ليکل شوی دی چې د سانسکريت ژبې له کها پوره څخه اخيستل شوی چې پورته معنا ورکوي. (درباره مشخصات و معنی اسامي تاريخي و جغرافيوي، معنی نام کابل - ويب)

کابورا بطليموس په ۱۷٦ ميلادي کال کې کابل د کابورا، کارورا په نوم ياد کړی او اوسيدونکي يې د کابولتيا په نوم نومولي دي. کابل په بېلابېلو وختونو کې (کاپل، کوفن، کابورا) په نومونو ياد شوی دی چې د ژبپوهنې له مخې دا ټول نومونه يوه ريښه لري. (يمين، ۱۳۸۸: ۲۱۲-۲۱۳مخ)

محمد انور فايز په خپله علمي – څېړنيزه رساله کې وايي: (د ريگويدا په سندرو کې کابل د کوبها په شکل راغلی دی چې(کو) د اوبو معنا لري او په اويستا کې د ديکاراتا په نوم ياد شوی دی. يوناني جغرافيه ليکونکي بطلموس کابل د (کارورا) او يا (کابورا) په نوم ياد کړی دی. په لنډ ډول د تاريخ په اوږدو کې کابل، په بېلابېلو نومونو لکه: (کوبها، کوفن، ديکاراتا، کپاتيروس، کارورا او کابورا) په نومونو ياد شوی دی. (فايز. ۱۳۷۷ل: ۱ مخ)

د لیکوال پورته خبرې که له نورو سرچینو سره په ګډه تر نظر لاندې تېرې کړو نو له ورایه په کې ښکاري چې (کابورا) د اوسني کابل نوم دی او له خیبر سره هېڅ تړاو نه لري. دا چې لیکوال د ژبې په کومو اصولو دا ریښه تر خیبره رسولې ده، په څرګند ډول یې څه نه دي ویلي. لیکوال په دې ځای کې د (کابورا) شکل او معنا دواړو ته بدلون ورکړی دی چې د دودیزې آرپوهنې یوه لویه ځانګړنه بل کېدای شي.

**پتنوس**

((پیت نس: هغه لوښی دی چې (پیت نس) لري، دا ویی په روسي ژبه کې ورته کارول کېږي.)) ( بابی، ۱۳۹۸: ۲۹ مخ)

ایراني لیکوال په خپل تهریډ باندې لیکلي وه، پتنوس روسي کلمه ده چې روسان یې د هغه لوښي لپاره کاروي چې زی یې را جګې او منځ یې ژور وي او ایرانیان بیا همدې لوښي ته چې روسان یې پتونس بولي دوي (سیني) وایي. (کلمه پتنوس روسی است، ۱۴۰۴، تهریډ ) پرته له شکه چې د پتنوس کلمه موږ ته له روسي ژبې څخه راغلې ده. استاد میراجان غوربندی هم په خپله مقایسوي ژبپوهنه کې د پتنوس نوم روسي بولي(غوربندی، ۱۳۹۸: ٦٠ مخ) دا چې د دې کلمې اصلي ریښه له کومې ژبې روسي ته راغلې ده، په څرګند ډول نه معلومېږي. سره له دې چې زیاته هڅه مې وکړه چې د پتنوس روسي ریښه و مومم، خو پیدا نه شوه. یو شی چې زه پرې باوري شوم، هغه دا چې دا ویی پښتو نه دی او په دې ډول یې پښتو کول هم سم نه بولم.

**پرمایل**

( پر+ما+ ویل) ماته د یو څه ویل یا غوښتل

د فرمایل کلمه له دوو برخو څخه رغېدلې کلمه ده چې لومړۍ برخه یې (فرمودن) له پهلوي ریښې څخه را وتلې چې د (ویلو) معنا لري او له دې سره یې پاتې د (ایل) کلمه ده چې د پښتو ژبې له (ویل) ویی څخه یوازې یې د( واو) خپلواک غږ پر ( الف) بدل شوی دی، را وتلې. دغه ویی داسې یو شکل لري چې لومړی جز یې دري او دویم جز یې پښتو دی او سوچه پښتو کښل یې د ژبې او آرپوهنې له اصولو خلاف کار دی.

**ستالیپ**

(( ستا لپه) ستالیپ له اصله پښتو ویی دی،که دغه ویي دوهمې برخې ته په پاملرنه سره وکتل شي نو په لیدلو سره به یې د شکل له پلوه داسې سوچ وشي چې د لپې بڼه لري ځکه نوم یې همداسې جوړښت لري.)) (بابی،۱۳۹۸: ۴۷مخ)

د استالف کلمه له اره استافیل وه چې په رومي ژبه کې د انګور په معنا وه. ښایي دا نوم یوناني- باختري په واکمني کې د انګورو د تاکو د روزنې په پار ورکول شوی وي. وروسته به د استافیل کلمې غړونه او ګرافیمونه سره وروسته او وړاندې شوي وي او استالف به ترې جوړ شوی وي.(یمین، ۱۳۸۸: ۲۱٦مخ)

پورته د استالف ویی چې د پښتو ژبې سره د ورته والي له مخې (ستا لپه) معنا شوی دی، په اصل کې سم نه دی او له دې لارې د ژبې د ویپونو د ریښو را سپړل د نوې میتودولوژي مخالفه کړنه ده.

**ځمان**

( زمان) (ځم+ ان)مهال: ځمان (زمان) یاندې تلونکی مهال ( بابی،۱۳۹۸ : ۳۷ مخ) د مهر میهن په نوم انټرنیټي پاڼې بیا د زمان کلمې د ریښې په اړه لیکلي دي: (زمان ویی یو ایراني ویی دی چې عربي ژبې ته یې هم لار موندلې ده. اوسمهال دا ویی د عربي او دري ژبې تر منځ ګډ ریښه او ورته والی لري، چې د دې کلمې په دري ګڼلو باندې زیات ګومان کېږي.) له دې ورسته زیاتوي چې په لږ ځیرکتیا سره کولای شو چې د عربي او پارسي ژبې د مشترکو ریښو ترمنځ فرق وکړو او اصلي ریښې ته یې ځان ورسو، لکه: د دین ویی چې له آره اویستایي دی او اوس له عربي او پارسي سره ګډه ریښه لري، خو له آره اوستایي ویی دی عربي ژبې ته تللی دی. (زمان،۱۴۰۴: ویبلاګ) له دې پورته ټولو ویلو سره دې پایلې ته رسېږو چې د زمان ویی که عربي نه وي، نو بیا یو لرغونی آریاني ویی دی چې په اوسمهال کې یې پښتو ته په دې ډول راوړل سم نه بریښي. که چېرې لیکوال د ایراني لیکوالو غوندې ورته یوه ریښه موندلې وای او د هغې اوړن یې تر اوسه را سپړلی وای، چې نن ورځ یې معادل ویی کوم یو دی، نو دا به له دې پورته یاد شوي کار ښخه غوره و. ښنګه مو چې پورته یادونه وکړه چې د استاد بابي په کتاب کې داسې کلمې هم راغلې دي چې جوړښت یې روڼ دی او له وینګ او بڼې ښخه یې موږ په معنا پوهېدای شو. همدا ویپونه دي چې د وخت

په تېرېدو يې معنا له خلکو هېرېږي او ښايي د وخت په تېرېدو سره يې اوسنی شکل او معنا له خلکو هیره شي. دا اوسنۍ ساده کلمې دي چې وروسته د تتو کلمو بڼه غوره کوي او پر معنا پوهېدل به يې هم ستونزمن شي.

**ايره تان(حيرتان)**

((ايرتان و هغه ځای ته ويل کيږي چې پخوا به اريايان يا زرتښتيان پکښې ايره کيدل، مقصد چې مړي به يې پکښې ښخيدل يا سوځل کېدل او په دواړو صورتونو کښې به ايره کېدل، په پښتنو کښې تر اوسه پورې هغه زوړ دود خوندي دی چې هر چېرې يې مړی وسي نو تر خپلې پلارنۍ مينې پورې يې رسوي، زړو اريايانو همدغسې کول مړي به يې تر خپلې ارې سيمې پورې رسول چې هلته به سوځيدل او يا به ښخيدل.)) (بابی،۱۳۹۸ :۱۷مخ)

د حيرتان د کلمې د ريښې په اړه استاد کتاب خان فيضي وايي: ((د حيرتان کليمه په دري ژبې پورې اړونده کليمه ده، چې احتمال لري له ارياتان څخه اخيستل شوې وې؛ ځکه چې حيرتان له دوه کلمو څخه راغېدلی ويی دی چې (تان) يې د ځای او مکان معنا لري او (حير) به يې له (آريا) څخه اخيستل شوی وي. د دواړو کلمو له يو ځای کولو سره ترې د اريايانو د ځای معنا اخيستل کېږي)).(فيضي، مرکه، ۲۰/۴/۱۴۰۴)

که موږ د دواړو پوهانو خبرو ته پام وکړو نو له پرتلې څخه يې داسې پايله په لاس را ځي، چې (حيرتان) اصلي (ايرتان) دی، چې په پښتو ژبه کې( ايرې) خاکستر ته وايي. (تان) په لرغونبو آريايي ژبو کې د ځای معنا لري. دا چې بلخ اصلا د آريايي زردشتيانو ټاټوبی دی او دوی به د خپل عبادت لپاره اورونه بلول او ايرې يې مقدسې شمېرل کېدې، نو په يوه معلوم ځای کې اچولې، ځکه د (ايرتان) په نوم نومول شوی دی.

دا چې د آريايانو ټاټوبی يې وبولو نو دا خو يو څه د تامل وړ ده؛ ځکه چې اريايي خاوره يوه پراخه سيمه وه، نو ولې يې دومره کم او تنګ ځای د آريايانو د ټاټوبي په نوم نوماوه؟ اصلی خبره دا ده چې دلته کوشش شوی دی چې د دې کلمې معنا له پښتو ژبې څخه لرې يوسي، نو هېڅ علمي دليل ورته نه شته چې په دې نوم دي ونومول شي.

**بټوه (پټوه)**

((دا ويی د آره څخه پټوه ده ياندي هغه څه چې پيسې پکښې پټيږي چې به کندهار کښې پټاکيدنه ورته وايي.)) ( بابی،۱۳۹۸ :۱۲مخ) د دې ويي په اړه تر اوسه پورې

داسې معلومات ما تر لاسه نه کړل، چې د دې ویې اصلي ریښه به څه شی وي؟ ما ته یې هم شکل د استاد په شان روڼ ښکاري، ښایی همدا معنا ولري چې موږ یې د استاد په کتاب کې وینو.

**چکچکه (چکو«لاس» چکو«لاس»)**

((چکچکه: هغه لاس پړکونو ته ویل کېږي، کوم چې د دواړو لاسونو (چکوګانو) په ټکولو سره کیږي( بابی،۱۳۹۸ : ۳۵مخ)

زما په اند د (لاس) لپاره تر اوسه پورې په پښتو ژبه کې د (چکو) کلمه نه ده کارول شوې او که چېرې دا نوم په کومه لهجه کې وي، نو هغه به هم د (لاس) لپاره د چک، چک له غږ یا صوت څخه اخیستل شوی وي. دلته داسې ښکاري چې چکچکې له آره یو غږ نوم دی او د هغه اواز لپاره کارول کېږي چې د لاسونو یو له بل سره له وهلو وروسته رامنځته کېږي.

**پیرنۍ (پۍ+ رڼ، روښانه)**

((هغه رڼې پۍ چې ایشېدلې او پېړپۍ سوې وي. پیروی، پیالې، پیمانې، او پیستان لومړۍ برخې هم (پۍ) دي او همداسې د ګلپي دوهمه برخه هم (پۍ) دي)). (بابی،۱۳۹۸ :۲۹مخ ) له ډېرو هڅو وروسته په دې و نه توانېدم چې پیرني ویی له آره د کومې ژبې دی؟ په دري دري بریښنایي پاڼو کې چې د پیرني په اړه څومره لیکل شوي وو، په ټولو کې یې دا خوراک، په هند او پاکستان پورې اړوند بللی و. وروسته یې لیکلي و چې د فرني په نوم یوه اله ده چې ډوډۍ پکې پخیږي او د وخت په تېرېدو سره همدا نوم د خوراک لپاره کارول شوی دی. دا چې دا نو له هندي فرهنګ څخه راغلی خوراک دی او وروسته نورو فرهنګونو ته لیږدلی دی، نو بیا به څنګه فرني دري نوم لرغوني هندی ژبو ته تللی وي؟ ځکه چې زموږ ژبې له لرغونو اریایي ژبو راوتلې دي، نو امکان نه لري چې پیرني ویی دي له فرني لوښي اخیستل شوی وي. له لټون وروسته څرګنده شوه چې په لرغوني هندي ژبو کې د فیرني معادل ویی نه شته، بلکې یو ډول خواړه د (بایسم) په نوم وه، خو په دې نوم څه شی نه و. ښایي د لیکوال خبره سمه وي چې دا به د پښتو ژبې ویی وي، وروسته به دري ژبې ته تللی وي.

## پایله

د ویونو او ریونو اثر په خپل وخت کې یو لوی او غني اثر دی، چې د پښتو ژبې هغه وییونه یې را سپړلي دي چې معناوې او ریښې یې تر دې مهاله له موږ څخه پټې وې او یا ښه ده چې

ووایو: مور وربانديې نه پوهېدو. لیکوال هڅه کړې چې له هر آریایي ریښه لرونکي ویي سره د اوسمهالې پښتو ژبې ریښه برابره کړي او یا یې معادل راوړي. دا هڅه په ځینو ځایونو کې د دې لامل شوې چې لیکوال له ځینو تېروتنو سره مخامخ کړي، چې بېلګه مور د (پلار) په ویي کې وینو. لیکوال یې د اصلي ریښې پر ځای د پښتو ژبې اوسنی شکل تجزیه کړی او د (پلار) ویي یې (په لار باندې) راوړی دی. د دې ویي اصل بڼه (پیتر) دی چې په لرغونې اریایي ژبو کې په همدې بڼه راغلی دی. د وخت په تېریدو د (پیتر ) بڼه بدل- او معنا یې پر خپل حال پاتې ده.

له بله اړخه په کتاب کې د پښتو ژبې او انګرېزي ژبې تر منځ د وییونو پر ریښه غږېدلی دی، تر ډېره یې هڅه کړې چې پښتو ژبې څخه انګرېزي ژبې ته د وییونو ریښه تللې وښيي. په اثر کې یې زیاتره داسې وییونه هم راوړي، چې ریښه یې پښتو بللې ده. که حقیقت ته ځېر شو، نو پښتو او انګرېزي ژبې د هندو اروپایي کورنۍ غړې ژبې دي، هېڅوک هم نه شي ویلای چې ریښه په کومه ژبه پورې اړوند ده.

## مأخذونه


۱ -یمین، محمد حسن. افغانستان تاریخي، پنځم چاپ، انتشارات سعید، کابل، ۱۳۸۸ل.

۲-بابی، لطف جان. ویونه او ریونه، صداقت خپرندویه ټولنه: کندهار، ۱۳۹۸ل.

۳ -ښکلی، اجمل. د ژبپوهنې نظریې، لومړی ټوک، پکتوس خپرندویه ټولنه: کابل،۱۴۰۱ل .

۴ -فلیپ، وینفرد. ژباړن: بایزید اخک. د تاریخي ژبپوهنې مبادي. صداقت خپرندویه ټولنه،کندهار، ۱۳۹۹ل.

۵ -غوربندی، میراجان، مقایسوي ژبپوهنه، دانش یار خپروندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۰ل

٦ـ ځدراڼ، محمد شریف. پښتانه په تاریخي آثارو کې، چهار دهي مطبعه: کابل، ۱۴۰۰ل

۷ -فایز، محمد انور. بر رسی برخی از ساحات باستانی تاریخي کابل، رساله علمي ـ تحقیقي، مرکز باستانشناسی ۱۳۷۷ل .

**انټرنیټي پاڼې**

پرلیکه نیټه ۱۳۹۱/عقرب ۱۳ https://tarikhema.org ۱۴۰۴/ ۱۵/۲د اخیستو ځای

۸ـ کابل: درباره مشخصات و معنی اسامي تاریخي و جغرافیوي، معنی نام کابل

۹- فریان، پتنوس، کلمه ی روسی ست،اخیستنه ۱۲/۴/۱۴۰۴ (https:/www.threads.com/@ebrahobergپرلیکه ۱۴۰۱عقرب ۱۷

۱۰ـ). دوکتور زمان ستانیزی، افغانستان یا خراسان، اخیستنه ۲/۵/۱۴۰۴. اخیستځای(https://madanyat.media پرلیکه ۲۰۲۲/نومبر/۲۰

۱۱- لیکوال(...)، زمان، اخیستنه، ۱/۱/۱۴۰۴.اخیستځای www.mehremihan.ir.پرلیکه. ۲۰۱٦مارچ ۱۷

۱۲- لیکوال(...)اوستایي مدنیت، اخیستنه، ۲۰/۳/۱۴۰۴ اخیستځای(www.ketabton.com)پرلیکه ۱۲/۴/۲۰۱۸

۱۳ـ (معنی افغان)، اخیستنه،۱۲/۲/۱۴۰۴ اخیستځای https://lamtakam.com (پرلیکه۱۲/۳/۱۳۹۸

۱۴- عطامحمد میاخیل. افغان، اخیستنه ۱۵/۳/۱۴۰۴. اخیستځای س https//www.nann.asia.comپرلیکه(....)

پرلیکه،۲۰۱۹ https://www.iranicaonline.org ۱۵ـ(....) اراکوزی. اخیستنه: ۱۴۰۴/۲/۱۸

**مرکې**

۱٦ـ محمد انور، فایض. د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړی، ٦۰کلن، لیسانس ((مانا کندوز))، ځېړندوی محب الله، د افغاانستان د علومو اکاډمۍ، کابل، ۲۵/۴/۱۴۰۴ل کال.

۱۷ـ کتاب خان، فیضي، د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړی، ۵۸کلن، ماسټر، ((حیرتان))، ځېړندوی محب الله، د افغانستان د علومو اکاډمۍ، کابل۲۰/۴/۱۴۰۴ل کال.

څېړنوال دوکتور عبدالاحد منګل

# په پکتیا کې د ولسي فورمونو ولسي نومونه

# Folk names of folk genres in paktia

Associate Prof.phD Abdul Ahad Mangal

**Abstract**

This study examines the folk names of literary genres in Paktia, focusing on genres that have been documented in books—some under their original names, while others are attributed artificial names coined by writers. These genres possess distinct local names in Paktia. The study explores a range of literary forms, including Landay, Tappaezy, kriwalotappo, sarukay, sharu bachkau, loghat and aro, analyzing the essential aspects of each for the purpose of this research. Additionally, after identifying each genre, relevant examples are provided to support the discussion.

**لنډیز**

((په پکتیا کې د ولسي فورمونو ولسي نومونه)) څېړنه په هغو فورمونو شوې چې په کتابونو کې ځینې په خپل اصلي نوم او ځینې د لیکوالو له خوا په مصنوعي نوم سره ثبت شوي، چې په پکتیا کې خپل ځانګړي نومونه لري. په دغه څېړنه کې د لنډیو، ټپیزو، کړیوالو ټپو، سروکو، شېریو، بچکیو، لغاتو او اړو په اړه بحث شوی، ټول هغه اړخونه چې د څېړنې اړتیا ورته لیدل کېده څېړل شوي، د هر فورم تر پېژندنې وروسته د استناد لپاره بېلګې وړاندې شوې دي.

**سریزه**

پښتني ټولنه په نړۍ کې له سترو فولکلوري ټولنو څخه حسابېږي، دغه ټولنه د فولکلور له اړخه دومره بډایه ده چې د نړۍ ډېرې ټولنې ورسره په ټول نه دي برابرې، د پښتني ټولنې د فولکلور غښتلتیا په دې کې ده چې، لمن یې د نورو منظومو فورمونو ترڅنګ له ګڼو لنډیو او

متلونو نه ډکه ده. لاندې به په هغو ولسي فورمونو لنډ بحث وکړو چې په پکتیا کې ځانګړې ولسي نومونه لري.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې موضوع د څېړنې اهمیت په دې کې دی، هغه فورمونه چې په کتابونو کې په یو نوم او د ولس په منځ کې په بل نوم سره مشهور دي اصلي ولسي نومونه یې ثبت او و پېژندل شي. مبرمیت یې په دې کې دی چې د ولسي فورمونو د ثبت په وخت کې له خپلسرۍ مخنیوی شوی وي او د لیکوالو او فولکلورستانو لپاره به یو لارښود شي تر څو د فورمونو په ثبت کې د ولس رایه او حق په نظر کې ونیسي، فورمونه په خپل اصلي نوم ثبت کړي، ځکه چې ولسي فورمونه ملي شتمني ده، د ولس مال دی، د بیت المال حیثیت لري او په حقیقیت کې به د خپلسرۍ مخه نیول شوي وي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه د هغو ولسي فورمونو پېژندنه او کره کتنه ده، چې لیکوالو په یو نوم ثبت کړي او په پکتیا کې د ولس په منځ کې په بل نوم سره مشهور دي.

## د څېړنې پوښتنې

۱- کوم فورمونه ونه په پکتیا کې ولسي نومونه لري؟

۲- لنډۍ په پکتیا کې په کومو نومونو یادېږي؟

۳- سروکي، ټپيزې او کیسۍ په پکتیا کې په کومو ولسي نومونو یادېږي؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنیزه مقاله کې له تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

## د مقالې متن

په نړۍ کې هر ډول ملموسې، ناملموسې، معنوي او مادي پدیدې د جوړښت، څرنګوالي، برېښنېدو (لیدو)، رنګونو، اوازونو او نورو ځانګړنو له مخې نومول شوي دي، هره پدیده چې په کومو ځانګړنو و پېژندل شوه، هغه پېژندنه یې په انساني ټولنه کې قراردادي شي، پر همدې اساس په دې څېړنه کې په پکتیا کې د ولسي ادبیاتو د ناملموسو معنوي پدیدو (فورمونو) ولسي نومونه چې د خپلو ځانګړنو له مخې په ولس کې پېژندل کېږي او پېژندنه یې یوازې د ایجاد په سیمې پورې محدوده وه تر بحث او څېړنې لاندې نیول شوي دي.

الف) لنډۍ: نوموړی فورم په پښتني ټولنه کې ګڼ نومونه لري؛ لکه: لنډۍ، ټپې، مسرۍ، ټیکۍ، ټکۍ، د جګو غرو سندرې، غرنۍ سندرې، غړانګې، د ویرغړانګې، بدلې، سندرې، غریبۍ، رواني ټپې، کړۍ کړۍ ټپې یا کړیوالې ټپې، ځنځیري ټپې او ټپیزې؛ سربېره پر دغو نومونو استاد عبدالشکور رشاد او استاد علي محمد منګل د ټپې د ځانګړو خصوصیاتو له مخې چې یو سرټړلی بیت دی او بشپړه معنا د مثنوي په شان لېږدوي نوم هم ورکړی، همدا شان د «خلکو سندرې» لیکوال استاد رفیع د (غریبۍ) نوم هم راوړی دی وایي: ((غریبۍ هم د لنډیو یوه آهنګ ته وایي دا هم یو مخصوص وزن دی چې پښتانه او پښتنې یې د غمجنۍ په وخت کې له ځانه سره وایي او خپل غم پرې غلطوي.)) (رفیع، ۱۳۴۹: ۱۰۸مخ)

۱. د لنډۍ نومونه: په پورته نومونو کې لنډۍ، ټپه، مسرۍ، ټکۍ (ټیکۍ)، د جګو غرو سندرې، غرنۍ سندرې، غړانګې او د ویرغړانګې، بدلې، سندرې، غریبۍ، رواني ټپې په یوه ټاکلي فورم لنډۍ باندې اطلاق کېږي. لنډۍ د پښتو د ولسي ادب تر ټولو عام او سوچه منظوم فورم دی چې تر نورو منظومو فورمونو زیات کارول کېږي، دې ته د خپل لنډ جوړښت له مخې لنډۍ ویل کېږي، ځکه چې په لنډیو کې د لنډیو نوم موجود دی او بیا په خپله د لنډیو فني جوړښت موږ ته خپل نوم را پېژني، سیال کاکړ وایي: ((د (مار) سره د لنډۍ نوم تړل ساختګي قصه ده بې ځایه ښکاري او ما ته دغه ادبي تعبیر ناسم او بېخي اشتباه ښکاري، چې د منلو او قبلولو وړ نه دی.)) (کاکړ، ۲۰۱۷: ۳۵مخ)

لنډۍ یا ټپه د پښتو ژبې او پښتون ولس د ولسي اصنافو له ډلې څخه هغه لنډ یو بیتي او دوه مصریز صنف دی، چې د ادا له مخې موزونه دایروي بڼه لري، خو هره مسره یې ځانته ویل کېږي، د دواړو مسریو ترمنځ یې د وزن او قافیې سکښت له یو بل سره نه دی برابر.

لنډۍ د پښتو د ولسي ادب سرتاج دي چې په منظوم ادب کې یې نړیوال حیثیت غوره کړی، پخوا به که د لوی افغانستان په غرونو، کلیو، بانډو، درو او سردرو کې زمزمه کېدې اوس د یوروپ په لوړو ښیښه یي محلونو کې هم زمزمه کېږي، خو موږ پښتانه پوهان او لوستي لنډۍ ته پاتې راغلي یو، څرنګه چې باید وي، هغه شان حق مو یې نه دی ادا کړی، په کار ده، چې موږ د لنډۍ لپاره منظم کار او د لنډیو د را ټولونې او څېړنې مرکز ولرو، تر څو دغه شهکار په هر اړخیزه توګه مطالعه او د یوه دایرة المعارف یا تشریحي قاموس په توګه خوندي شي. د لنډۍ بېلګې وګورئ:

ستا د لنډۍ اواز مې واورېد
صبر مې خلاص شو په بلۍ در وختمه

★★★

یار مې شېرگر دی لنډۍ لیکي
په زړه مې لیکې تېروي زخمي یې کړمه
★★★
لنډۍ مې ډېرې ورته وکړې
په زړه ظالمه پلو نه لري کوینه
(منگل، د پښتو لنډیو ناچاپ ټولگه)

په دې څېړنه کې کوښښ شوی، هغه لنډۍ یا نور ولسي نظمونه چې د هر فورم د نوم انعکاس په کې شوی را وړې او څېړنه پرې مستنده شوې ده، بل دا چې د څېړنې په اوږدو کې به د ولسي فورمونو ټول هغه نومونه چې په پکتیا کې دود دي هر نوم په خپلواک ډول و څېړل شي.

۲. ټکۍ/ ṭəkəy) ټیکی :(/ṭikəy په پکتیا کې لنډۍ ته ټکۍ وايي، دا چې ځینې پښتانه ولې لنډۍ ته ټکۍ وايي؟ د دې اصلي وجه څه ده؟ په دې بحث کې به روښانه شي چې ټکۍ د لنډۍ تر معنا ورهاخوا د جرگو او مرکو په دغه لرغونې سیمه کې ځانگړې اصلي معنا هم لري، چې په وجه یې لنډۍ ته ټکۍ ویل شوې ده. ټکۍ یا یو څوک وایي او یا یو چاته ویل کېږي، دغه اصطلاح هم په جمع باندې دلالت کوي او هم په مفرد، لکه: ټکۍ یې ورته وکړې\جمع، ټکۍ یې ورته وکړه\مفرد. ټکۍ په جرگو کې دوه مفهومه لري، لومړی هغو ځانگړو شرطونو ته ویل کېږي چې مقابل لوري ته وړاندې کېږي. دویم هغه مادې دي چې د (برمتې ترون پرې کېږي)، د دعوې دواړه اړخه له هغو څخه سرغړونه نه شي کولی، سرغړوونکی بایلونکی دی.

۳. ټکی/ :ṭakay مفرد مذکر لفظ دی چې په جرگه کې په یوه شرط او ماده دلالت کوي.
د ټکۍ کلمه د لنډۍ لپاره هم په مفرد او هم په جمع دلالت کوي خو کله کله د یوې لنډۍ لپاره یوه ټکۍ عددي نوم هم جوړوي او له یوې نه زیاتو لپاره بیا عددي نومونه نشته یوازې د جمعې په بڼه ټکۍ استعمالېږي؛ لکه: یوه ټکۍ خو وکه یا پلانی ښې ټکۍ کوي، د ټکۍ /ṭəkəy او ټیکی /ṭikəy د کلمو جوړښت لهجوي دی نه معنوي، ټیکی وردگی لهجه ده چې ډېر ځای (غبرگ ژبیزو بې غږه اوازونو ته حرکت ورکوي)، لکه: ټکی = ټیکی، ټکاله = ټیکاله. لنډۍ ته ځکه ټکۍ وایي چې د مطلب ټکی په کې پروت دی او د موضوع اصلي موخه په گوته کوي. د «خلکو سندرې» لیکوال لیکي: (دا خو عمومي قاعده ده چې څوک کوم لیک یا مکتوب لولي نو مخاطب ورته وایي (د غرض ټکی په کې ووایه نور نو ولې سر پرې خوږوې!!)) (رفیع، ۱۳۴۹: ۱۰۸مخ)

استاد رفیع په همدغه اثر په همدغه مخ کې د ټکی بېلګې راوړې دي، چې د دې ټکیو ṭKəyu\شکل په منګلو کې لږ توپیر لري، لکه:
د خلکو سندرې:

((ټیکی)) مې ډېرې درته وکړې
په لا اله الا الله یې ختمومه
(رفیع، ۱۳۴۹: ۱۰۸مخ)

په منګلو کې:
په بسم الله مې ((ټکی)) شروع کړې
په لا اله الا الله یې ختمومه
((ټکی)) خو مې ډېرې درته وکړې
په لا اله یې ختموم زه درنه ځمه (ځمه)
(شخصي مرکه، ۱۴۰۱مرغومی۲، میرزاخان)

★★★

په ګودر(( ټکی)) کولی نه شم
پېغلې شکمنې دي رسوو (رسوا) به شو مینه
د دړې شوته (شاته) درته پټ یم
مو (ما) ته د مینې ((ټکی)) کووه روغلی (راغلی) یمه
(منګل، عبدالاحد، د پښتو لنډیو ناچاپ ټولګه)

۴. ټپې: په پښتونخوا کې لنډی ته ټپه وایي چې دغه نوم اوس په ټولو پښتنو کې تر یوه بریده عام شوی، که څه هم په بېلابېلو آثارو کې د لنډی اړوند د ځینو نومونو پېژندنه شوې ده، خو د دې څېړنیزې (موضوع) فرضیه په پکتیا کې د ولسي فورمونو ولسي نومونه دي، که څه هم د لنډی نوم او د ټپې نوم د بېلو تعریفونو له مخې جوړ شوي دي، خو اره معنا یې یوه، فورم یې یو، موخه یې یوه او په یوه پښتني ټولنه پورې اړه لري.
مثال یې دا دی:

لږ یې په زوره رو (را) ته وایه
زه زخمي زړه ستا په ((ټپو)) ټکور ومه
(شخصي مرکه، ۱۳۹۹مرغومی۳، ظریف خان)

۵. مسرۍ: د لنډیو، ټپو او ټکیو ترڅنگ یو شمېر پښتانه لنډیو ته مسرۍ وایي، په پکتیا کې د لنډۍ او ټپې په پیمانه د ټکۍ او مسرۍ نومونه ډېر استعمالېږي. د مسرۍ د نوم په اړه په ډېرو فولکلوري کتابونو کې تعریفونه او معلومات راغلي دي، ډېرو لیکوالو د لنډیو لپاره دغه صفت د «مسرۍ تورې» گڼلی، دلیل یې دادی چې مسرۍ توره (لنډه) وي او گوزار یې تېز وي. د مسرۍ تورې یادونه زیاته په پښتو ولسي او لیکني ادب کې شوې، ښایي وجه یې دا وي چې پخوا په پښتنو کې مسرۍ تورې ډېرې مشهورې وې، لکه اوس چې کلاشینکوف او «اېمفور٤M» مشهور دي، خو له مسرۍ تورې سره د لنډۍ مشترکه وجه دا غیر علمي توجیه ده، معقولیت په کې نه ښکاري، په حقیقت کې د لنډۍ لپاره مسرۍ ویل د عربي ژبې د (مصرع) مفغن شکل دی، د بېلگې په توگه دواړه ډوله لنډۍ راوړو چې د (مسرۍ تورې) او لنډۍ (مسرۍ) په نوم ویل شوي دي:

مسرۍ توره:

مورې مسرۍ توره را واخله

په وطن جنگ دی وړکي ځي(ځي) په بیرغونه

★★★

یاره مسرۍ توره رو(را) واخله

په وطن جنگ دی زه جوړه در سره ځمه

★★★

مسرۍ:

تا د منطق په باب رضا کړم

ما د مسریو په باب ورک کړې له وطنه

★★★

د ویجره گۍ طالبه واوره

زه به مسرۍ درته کوم ته تاویزونه (تعویذونه)

(منگل، عبدالاحد، د پښتو لنډیو ناچاپ ټولگه)

٦. د جگو غرو سندرې، غرنۍ سندرې: په منگلو کې د جگو غرو سندرې، غرنۍ سندرې، د آهنگ له مخې لنډیو ته ورکړ شوی نوم دی، د «غرنۍ سندرې» لیکوال وایي: ((څه وخت چې لنډۍ د غرنیو سندرو په طرز ویل کېږي)) (غروال،۱۳٦۰: ۱۲۲ مخ)، له دې نه څرگندېږي، چې د غرنۍ سندرې نوم د یوه ځانگړي آواز او آهنگ له مخې ورکړ شوی دی، چې لاندې به پرې لنډ بحث وکړو.

د جگو غرو د سندرې آهنگ یوه ځانگړې اصطلاح لري چې (کړنگولی) اواز ورته وايي او د نورو سندرو بللو (ویلو) لپاره نه استعمالېږي، لکه: په کلیواله لهجه یو څوک وايي: (داسې کړنگولی اواز لري چې زړه یې رانه یووړ) یا (د جگو غرو سندره په وکړنگوه!)، د جگو غرو سندرې په زړه راښکونکي لوړ اواز د یوه کس او یا د څو کسو له خوا ور سره غبرگېږي، معمولاً یو، دوه او درې تنه وي. په یوه ټاکلي آهنگ ویل کېږي، خو قاعده یې داده چې لومړی پیل د کړنگولي اواز کس کوي او نور یې ورسره غبرگوي یا یې یوه مسرۍ لومړی کس او دویمه یې دویم کس وايي، کړنگولی آهنگ بېلابېل طرزونه لري، هغه آهنگ چې ډېر کارېږي داسې دی، چې لومړۍ (۹) څپېزه مسره په لوړ غږ په روانه توگه پیل او په اخري څپه یې ټول فشار اچوي، اواز دومره لوړوي چې څومره یې وسه وي. د دویمې مسرې پیل په (وه او وۍ) کوي او د مسرۍ په (۵) څپه فشار راوړي اواز یو څه تموي او بې له ساه اخیستلو پاتې مسرۍ لولي، کله چې (۱۲مې) څپې ته ورسېږي پاتې نور فشار په همدغه (۱۲مه) څپه را ولي، د لاندې لنډیو د فشار لپاره ډېر ساده سیمبولونه ټاکل شوي چې د لومړۍ مسرۍ په اخر کې دوې کرښې(--) د ډېر فشار لپاره، د دویمې مسرې له (۵مې) څپې نه وروسته یوه(-)کرښه د لږ فشار لپاره؛ او (۱۲مې) څپې باندې د ښه ډېر فشار لپاره درې(---) کرښې ټاکل شوي دي، لکه په لاندې بېلگو کې:

د جگو غرو کجیر یې مړکی –
وه، بلبلې ژوړي(ژاړي)-، چې خالي شول کړنگو--- نه

★★★

په جگو غرو کې دې مرگی شه –
وۍ، چې جنازه دې-، د ښنتر څونگې(څانگې) وینه

★★★

په جگو غرو کې مې مرگی کې –
وه، چې جنوزه(جنازه) مې-، د ښنترڅونگې وایـ--- نه

★★★

په جگو غروکې مې مرگی کې—
وۍ، چې جنوزه مې-، ښه ځونون(ځوانان) په مټووړیـ--- نه

★★★

غگ (غږ) د یې برې مېلې (مېښې) وورم(اورم) --
وۍ، رو (را) نه پنا (فنا) یې-، په کمر(★) وېلوړه (ولاړه)یـ--- مه

★★★

چې زه د پرېښوم (پرېښودم) ته راوون (راوان) شوې ــ
وی، جانانه چېرې-، د بونډې(★★)یاستلیې (ایستلې) دیـ--- نه
(منګل، عبدالاحد، د پښتو لنډیو ناچاپ ټولګه)

۷. د ویرغړانګې، غړانګې یا کوکې: د ویر غړانګې هغه تراژیدي لنډۍ دي، چې په واقعي او عیني پېښه مخامخ ویل کېږي، اورېدل یې اورېدونکی له ځانه سره ملګری کوي، د دویر غړانګې ډېرې اغېزناکې او زړه را ښکونکې دي، اورېدونکی یو داسې تخیل ته وړي چې ګواکې دا ټول ماته ویل کېږي، په ویر کې ځان شامل ګڼي او حتا ځان مړی احساسوي، عاطفي احساسات یې په ځپو راځي، سترګې یې له اوښکو ډکېږي او ژاړي.

د «فولکلوري ګېډۍ» لیکوال وایي: ((ساندو ته د پښتنو په بېلو بېلو سیمو کې ټیکۍ، چیغې، نارې، کړیکې، او غرغړې هم وایي. منګل ساندو ته غړانګې او د ویر کوکې وایي چې د ښځو له خوا په مړه باندې د کټ سر ته په خورا غمجن غږ د لنډیو او ځینو خاصو نظمونو په ډول تر سره کېږي.)) (منګل، علي محمد، ۱۳۵۵: ۱۸۱مخ) د ویر غړانګې یا غړانګې تر ډېره د ښځو له خوا هغه مهال ویل کېږي، چې ورته ګران کس، د کلي او قوم مشر، ملتړلی (ملاتړلی)، سرغندی (سرپرست) او د کور کوم غړی یې چې مړ وي پرې ویل کېږي.

غړانګې یا د ویر غړانګې په پکتیا او په ځانګړې توګه منګلو کې له ژړا سره مل په ګنګروپ غږ په زوره یا لوړ غږ ویل کېږي، دغه لوړ غږ د جګو غرو سندرو څخه هم په اهنګ کې توپیر لري او هم یې غږ ترې ټیټ دی، خو له ټیټ اواز څخه لوړ دی او پر جنازه یا ویر ته ناست د کلي او قوم خلک یې ټول اوري، خو که په کوم مړي چا د ویر غړانګې ونه کړې د خلکو تر منځ دا اندېښنه پیدا شي، چې ښايي دا مړی بې قدره وو. هر څوک کوښښ کوي، چې خپل مړی د ویر په غړانګو و ژړوي (ماتم پرې وکړي).

د ویر غړانګې د آهنګ جوړښت: ویر غړانګې هم لنډۍ دي او هم لنډۍ ته ورته دوه مسریزې نارې دي، د آهنګ جوړښت یې داسې دی چې د لومړۍ مسرۍ په اخري څپه یو څه دروند فشار راوړي او په اخر کې (وی) ورسره یوځای کوي او د ژړا په (هه، هه، هه) یا (هي، هي، هي) اواز یې بدرګه کوي.

دویمه مسره په لوړ ژړغوني ګنګروپ اواز روانه وایي، که لنډۍ وي، په (۱۲مه) څپه کې یې خپل غږ ورو کوي او په ډېره ژړا یې بدلوي او په (۱۳مه) څپه فشار راوړي د ژړا د (هه، هه، هه) یا (هي، هي، هي) اواز په ملګرتیا تر ویر غړانګې را ووځي؛ بېلګې یې دا دي:

که خون کور(کار) وي خون بو (به) وکي
که په ګل خان؟ د اخترخان؟ زېری څوک وکي

★★★

جانان يې (د) خوورو (خاورو) لويک (لايق) نه دی
په لوړ يې کيږدوی(دئ) چې نری بود(باد) يې واينه

★★★

که روڅې(راځې) بوړه (بيړه) رو وکه (راوکه)
ختې يې کړي دي ديدن کړکي تپينه

★★★

په ورور مې سپين کفن غوړېږي
په مو (ما) وربېږي د سکروټو برانو نه
(شخصي مرکه، ۱۴۰۲وږی۵، مرغی)

د پورته موضوعاتو تشريح ما په پکتيا (پښتيا) کې د بېلابېلو پښتني ټبرونو د سترګو ليدلی حال (مشاهدې) او د ساحوي څېړنې له مخې کړی او ورسره مې د فولکلور پوهانو له آثارو څخه هم ګټه پورته کړې ده. بنده تر خپله وسه پر دی، په دې برخه کې ډېر کار ته اړتيا شته.
۸. درېکړيزې لنډۍ، کړۍ والې لنډۍ يا رواني ټپې: د نوموړو ټپو شعري فورم لنډۍ ده، کله چې لنډۍ خلاصه شوه، په پای کې (۷) څپيزه مسره ور سره تړي. د دغې (۷) څپېز بچکي وزن، نه له لومړۍ مسرۍ سره او نه له دويمې مسرۍ سره برابر دی بلکې يو ځانګړی وزن لري، چې ټوله هغه موضوع په کې څرګندېږي، په کومه چې لنډۍ ويل شوې ده، يعنې دغه وړه (۷) څپيزه موزونه جمله د لنډۍ د منځپانګې پوره جاج اخلي او هغه موضوع، چې په لنډۍ کې په کنايي او يا تلميحي ډول راغلې وي په همدغه درېيمه مسره کې په ډاګه د مطلب پر ټکي ګوته ږدي، لکه:

نن به بانه درته لوګی کړم
وی- نن دې دا توري سترګې ډېرې ښکلې دينه

ښکليه په نظير به شې

★★★

ډېر غرور مه کوه جانه

وی- لړ د غریبو خلکو اخله سلامونه
ستر به شې بدرنګ به شې

★★★

دومره زیاتی رو (را) سره مه کړه
وی- اول دیار کړم بیا د راکړل ځوابونه
پړ مې کړه نو مړ مې که

★★★

ګوره چې سترګې تورې نه کړې
وی- د غه ساده حسن دې ډېر مزه کوینه
ډېر ښکلی یې ډېر ښه یې
(منګل، ۱۳۹۷: ٦۲مخ)

د لنډیو د ویلو کمپوز د دوو سروکو تر منځ شپږ دی، له شپږو لنډیو څخه وروسته بیا یو سروکی وایي او له سروکي نه وروسته بیا شپږ لنډۍ تکرارېږي، تر پایه دا لړۍ دوام لري، لکه:
سروکی :

خلک ویده د کلي منځ د کوڅې شنګ دی
بنګړي دې په رومال و تړه د مینې جنګ دی

(منګل، ۱۳۹۷: ٦۳مخ)

کړۍ کړۍ ټپې، ځنځیري ټپې او ټپیزې: دغه نومونه د یوه شعري فورم ټپیزې دي، چې اصلي بنسټ او زړی یې لنډۍ یا ټپه ده.

۹. کړۍ کړۍ ټپې: د دغو ټپو او نوم په اړه چې کوم معلومات ما تر لاسه کړي دي، له ستاسو سره یې شریکوم. کله چې نومورې ټپې ما واورېدې په ۱۳۸۸ل ژمي کې مې ګل نذیر منګل ته چې په کوزه پښتونخوا پېښور کې مېشته دی ټلفون وکړ او د دغه شعري فورم د نوم غوښتنه مې ترې وکړه، ده په ځواب کې راته وویل؛ کړۍ کړۍ ټپې یادوې او که رواني ټپې؟ نو زه پوه شوم چې ټپیزو ته کړۍ کړۍ ټپې وایي او ما ورته وویل؛ ټپیزې. ده وویل: ښه کړۍ کړۍ ټپې؛ (شخصي مرکه، ۱۳۸۸تله۱٦، ګل نذیز)

۱۰. ځنځیري ټپې: د ۱۳۸۹کال غبرګولي د (میرزکه) مجلې لومړۍ ګڼه مې ایډیټوله د (ستاسو لیک) برخې ته چې را ورسېدم، د خلکو را لېږلو لیکونو کې مې ولوستل چې د

عبدالحی گردیزي لېسې زده کوونکو په خپل لیک کې لیکلي و چې زموږ د خوښې ځنځیري ټپې خپرې کړئ، ما چې له نورو پکتیا مېشتو څخه پوښتنه وکړه، هغوی هم له ځنځیري ټپې سره اشنا وو او هم له کړیوالو ټپو سره خو د ټپیزې نوم سره یوازې څو کسه فرهنګیان اشنا وو. د ځنځیري ټپو نوم له ټپیزې نه بغیر د لنډیو د یو بل جوړښت لپاره هم قید شوی، د دې جوړښت لومړۍ مسره (۹) سیلابه، دویمه مسره یې له (۱۳تر۲۰) څپو پورې رسېږي، لکه:

یار مسافر را نه روان دی

باران دی خفګان دی، ارمان دی، نم زما د سترګو ځینه

د ښکلو هر ځای کې مېلې دي

مزې دي چړچې دي، نخرې دي، هر سړی ور پسې ځینه

یار مې په مینه نه پوهېږي

وېرېږي، شرمېږي، درزېږي زړه زما وهي ټوپونه

(یوسفزی۲۰۱۷: ۱۰۰، ۱۰۱مخونه)

۱۱. ټپیزه: که څه هم د ټپیزې په وزن ولسي شاعري شوې ده چې بېلا بېل ډولونه یې د پکتیا (پښتیا) په شېریو کې پیدا کولی شو، خو په ټپیز ډوله شېریو کې د بچکیو او د هغو د څپو قید نه دی مرعات شوی.

د لنډۍ دغه نوم په لره پښتونخوا کې د (ټپه ییز) په بڼه دود دی، د ټپو دغه بڼه په کوزه پښتونخوا کې د ځینو شاعرانو له خوا بې له څپیز فورمي قید نه جوړېدې، خو په وروستیو کې یو پکتیاوال ځوان د طب ډاکټر حنیف حیران (طوطاخیل) په یوه قید شوي ښایسته فورم کې څه نوي او څه ولسي ټپو ته؛ په پیل کې درې داسې کړۍ واچولې چې د اصلي لنډۍ موضوع په خپل ځان کې په هر اړخیزه توګه را غونډوي، دغه درې کړۍ د لنډۍ له لومړۍ مسرې سره چې (۹) څپې ده، هم وزنه او هم څپې دي او پنځمه مسرۍ یې په یوازې توګه هم هغه د لنډۍ (۱۳) څپیزه مسرۍ ده، له اصلي لنډۍ نه سیوا نور بچکي په کې قید نه دي، د شاعر خپله خوښه ده چې هر څو بچکي یا کړۍ ور اچوي کولی شي، خو اصلي شکل چې اوس یې د یو فورم په توګه عمومیت موندلی او سندریز ترون یې هم شوی پنځه مسریزې دي.

نوټ: د ټپیزې شکل بدلېدلی شي، سړی کولی شي چې د لومړیو کړیو یا مسریو په شان د ټپې د اخري مسرۍ یعنې(۱۳) څپیزې مسرۍ څخه وروسته ور واچوي، د ټپې تر مخ او وروسته مسرۍ قید نه دي چې څومره وي خو څپې یې باید قید وي، هرومرو به هره کړۍ یا مسرۍ (۹) څپې وي، د نمونې په توګه لاندې بېلګې وګورئ :

په عزت لاړو رسوا راغی
ډک ملا بند تر ملا راغی
په ټیټو سترګو تر ما را غی
جانان له جنګ نه په شا راغی
په پرونی ورکړې خوله پښېمانه یمه

★★★

د آزادۍ جګړه اوږده شوه
لاړله ورځ را باندې شپه شوه
له هر ځای جوړه هدیره شوه
که د زلمو نه پوره نه شوه
افغانستانه جینکۍ به دې ګټینه
(حیران، ۱۳۸۹: ۱، ۲، ٦ مخونه)

ب) پامونه او سروکي: دغه فورم چې زیات ډولونه یې په بېلا بېلو بڼو ویل شوي او ویل کېږي ما د د غو دواړو (پامونو او سروکو) نومونه په ځانته والي پسې تر خپل وسه د فولکلور او ولسي ادب اړوند آثار ولټول خو څه مې چې تر لاسه کړه هغه دا دي چې په پکتیا کې عموماً سروکو ته پام وايي او دغه پام په سروکي شروع کېږي، د پام سروکی ولسي، عروضي او د هر شعر یا شېرۍ مطلع کېدی شي، د دې لپاره چې د پامونو مطلب ته ورسېږو لومړی په سروکي لنډې خبرې کوو.

۱. سروکی: نومورۍ فورم د پښتو ادبیاتو ولسي سندرې جوړوي چې یو سروکی له یوه نه نیولې تر څو مسریو پورې غځېږي. استاد هیوادمل وايي: ((داسې ښکاري چې سروکي د پښتو د خاصو سندرو، لکه: چاربیتو، بدلو، بګتیو او لوبو پاتې شوني دي)) (هېوادمل، ۱۳۷۹، ۸ مخ).

استاد حبیب الله رفیع وايي: ((د پښتو سروکي په عمومي توګه په دوو لویو برخو وېشل شوي دي: لومړی هغه سروکي چې خاص په اتڼ کې ویل کېږي چې د ((اتڼ سر)) یې هم بولي. دویم – هغه سروکي چې له اتڼ څخه پرته په نورو مجلسو او ښادیو کې ویل کېږي چې دې ته ((عام سر)) او یا خو تش سروکی او نیمکۍ وايي.)) (رفیع، ۱۳۴۹: ۱۲۴مخ)

د سروکو بېلګې:

د ښکیه راغلل د بلبلو کتارونه، ډېر خوند کوي ګلونه ★ موسم د پسرلي دی

یا:

ببړۍ د ووړه (واوړه) په تمبه ویلوړه (ولاړه)یمه
درپورې مې که – وۍ ببړۍ د ووړه (واوړه)
یا:
منه را ټوټه که چې گل وشکومه
سردارو ما ته گل – گل د منې را وړه

(منگل، ۱۳۵٦: ۳۴، ۳۸، ۳۹ مخونه)

سروکی د ولسي سندرو هغه مطلع ده چې ورپسې د موضوع مطابق بچکي، لنډۍ، بندۍ، پړاکي او نور بیتونه تړل کېږي او یا د سروکي پر محور څرخي، خو لکه مخکې مو چې یادونه وکړه سروکي په مختلفو ډولونو موندل کېږي.

۲. پامونه: پام کول، پام غلطول، توجه کول، خیال بدلول، د فکر بدلول او تفریح کول هغه مترادفات دي چې په بېلا بېلو ځایونو کې خپلې معناوې لري.

په پښتو کې د پام کلمې استعمال زیات موارد لري، په ځینو ځایونو کې د توجه معنا لري، لکه: پر ما پام نه کوې، لږ پام ساته، پام کوه غلیمه زموږ ټاټوبی زموږ کور دی، چې دلته د توجه، خیال او فکر معنا لري.

پام د تفریح په معنا؛ لکه: پام غلطول، تفریح او د ساعتیري په معنا هم استعمالېږي، په اختر او واده کې چې ښځې سره را ټولې شي او بیا سندرې وایي، دې ته په پکتیا کې پام غلطول وایي، پام هم هغه مجلس ته وایي چې پامونه یې جمع ده.

پامونه په (ستره) کې سروکي دي، چې په دوه ډوله ویل کېږي؛ یو ډول هغه سروکي دي چې د ولس په سینو کې خوندي دي، د ودونو او خوښیو پر مهال یې وایي.

دویم ډول سروکي هغه دي چې شاعر یا شېرگر (شاعر) یې في البدیهه وایي، موضوع په دې را نغاړو چې په پکتیا کې سندرو ته پامونه وایي.

د پامونو بېلگې:

شین راکیټ په شگه کې پنچر دی
موږ ته نووۍ(ناوې) روکۍ (راکۍ) موزدیگر (مازدیگر) دی

★★★

شنو ونو سرونه - د شنو
مات که ځنځیرونه کلابنده ناسته یمه – د شنو

(شخصي مرکه،۱۴۰۲مرغومې۷، مریم)

ج) بدلې او سندرې: په یو ټاکلي فورم پورې اړه نه لري، خو په پکتیا کې یې د استعمال ځایونه لږ توپیر لري، چې لنډ بحث به پرې وشي.

۱. بدلې: په پکتیا کې بدلې هغو کیسو ته وایي چې ولسي نظمونه/نارې په کې وي، لکه: لنډۍ، بولۍ، نارې، سورې، سروکي. دا چې هر پښتون تر ټولو زیات لنډۍ زمزمه کوي نو ځکه په ځینو ځایو کې پښتانه یوازې لنډیو ته بدلې وایي.

۲. سندرې: زما په نظر د سندرې نوم له (ساندې) څخه اخیستل شوی، سانده هغه موزون اواز دی چې په زوره یا لوړ غږ ویل کېږي، ویونکی او اورېدونکی د زړه غم پرې کموي او له دې لارې خپل ځان ته قناعت پرې ورکوي. په پښتو کې د سندرې نوم زیات اورېدل کېږي، خو سندرې یا سندره کوم ځانګړی شعري فورم نه دی، هر شعري فورم که هغه ولسي وي یا عروضي چې په ترنمي اصولو برابر زمزمه شي پښتانه ورته سندره وایي؛ لکه لاندې سروکي:

بي بي شېرینې – زېړې ګلې
راباندې وا چوه سور شال جوړه لاسونه – بي بي شېرینې

(شخصي مرکه، ۱۳۹۸لړم۲۳، صنمه)

یا:

په دا وړو شګو مې مه وله چې مرمه
ششپوی (ششپای) کې درغلمه

(شخصي مرکه، ۱۳۹۹وری۲۹، نفیسه)

د) شېرى: په پکتیا کې شېرۍ ډېر مشهور نوم دی، هرووړ، ستر، ښځه او نر یې پېژني. شېرۍ عموماً دوه ډوله پیدا کېږي یا د شېریو شته والی په دوو بڼو دی: یو هغه ډول شېرۍ دي چې مخکې ویل شوي وي یوازې مطلع یا سروکی یې پاتې وي؛ دا شېرۍ هم په دوو برخو ویشل کېږي.

۱. د لویانو شېرۍ: هغه شېرۍ دي چې د لویانو له خوا لویانو ته ویل شوي وي، په ودونو، ښادیو، د زوی زېږېدو په خوښۍ او اخترونو کې ویل کېږي.

۲:- د ماشومانو شېرۍ: دغه ډول شېرۍ په پکتیا کې په پراخه پیمانه پیدا کېږي، داسې ماشومان شته چې في البدهه شېرۍ وایي او هم جوړې شوې شېرۍ؛ ماشومانو شېرۍ د

سروکو او موزونو جملو په شان وي، نور بیتونه نه ورتړل کېږي. که ور وتړل شي سروکی نه په کې تکرارېږي.

لاندې بېلګې وګورئ:

ټل ته درته لوړ(لار) شم - درته رو وړمه چاینکې
جګه شه زما میناکې

★★★

زما په څنک کې لیسیني دی
ستا په څنګ کې ماشینګړه ده
ولې دې خوله خړه ده

(منګل، ۱۳۸۷: ۱۲مخ)

د شېریو بېلګې:
خبره کمه تاته
ته غوږ ونیسه ماته
چې ونه تښتې شاته
میدان ته یم را غلی د شېریو پهلوان یم
پښتون غښتلی ځوان یم
(منګل، ولسي شاعري، ناچاپ ټولګه)

۳. لغات: دا هم في البدیهه شېری دي خو توپیر یې دا دی چې لغات هغه شېری دي چې دوه شاعران د یوه او بل د ماتولو کوښښ کوي، په بله معنا شعر جنګي کوي، په لغات کې دواړه شاعران پر یوه موضوع لغات سره کوي، ژبه یې د جالبیت لپاره ډېر وخت نااندریزه وي، یا له یو بل نه پوښتنې کوي، هر یو چې په ځواب کې بند شو نو مات شو، همداشان په لغات کې یو شاعر بل شاعر ته زېړل، مخی، پېغور، ښکننې، غورې او غندنې کوي.

لکه:

داسې دې خوله دو دا لغات دی نه دی وېر ته
که خبر مې شې خپل زېر ته
یې مېلګې خبر نه یې ښه پرېمونه خوره مړی شایره
نه یې د شېری شایره

دویم ځواب ورکوي:
لغات به وي کېتوبه کې
داسې تېز پېکر بونه کې
زه د نسم ورمبېره کې
لومړی شاعر وايي:
لګ (لړ) د خلک شي خاشول (خوشحال)
څوک چا ته نکي سول (سوال)
د لغات داسې جنجول (جنجال)
(منګل، د پښتو ولسي ادبیاتو تنقیدي مطالعه: ناچاپ)

په پورته نظمونو کې لغات په خپله تعریف شوی، لکه: خوله لغات ته نه ورته کېدل، لغات به وي کتاب کې، د لغات جنجال، چې تشریح یې د مقالې له حوصلې څخه و وځي.

هـ) بچکي: د سروکو، مطلوع، پامونو، نارو، بابولالو او نورو ډولونو سره که لنډۍ اضافه کېږي او یا کوم بیت او مسره؛ دې ټولو ته بچکی ویلی شو، خو اصلي بچکی هغه بیت ته وايي چې د شېریو په (سر) پسې تړل کېږي یا د شېرۍ له بیت نه وروسته بیتونو ته بچکي ویل کېږي.

د «فولکلوري ورمې» لیکوال علي محمد منګل بچکي په درېیو برخو وېشلي دي:

- نیم بچکی، لکه: ګل بو بریبه چېرې رونه لوړې
- نیم بیتي بچکی، لکه: شین خولۍ (خالۍ) د جونو میرې ښکلې بابو جانې
- یو بیتي بچکی، لکه: وه پاچا وزیره یاره! – کورمې ته مه ځه چابه لیار نیولې وینه

(منګل، علي محمد، ۱۳۸۷: ۴۹ـ ۵۰ مخونه)

و) پړوکي (پړاکي)، بندۍ، سورې او لنډکۍ: پړاکی ډېر خوندور څوارلس څپیزه نیم بیتی دی چې په یوازې توګه هغه موضوع چې په ویل شوی وي په لمن کې را نغاړي، د «غرنۍ سندرې» لیکوال، د لنډوالي په وجه د لنډکۍ نوم ورکړی خو په پکتیا کې ورته (پړوکی، بندۍ او سورې) وايي.

دلته به یو څو نمونې وګورو:

سر په مړوند کېږده خوبیاولی شه مینه
مات مې بنګړي نکړې مور مې ټول ګنډلې دینه
یار مې ملنګي کړي خیرات شونډې ور کومه
سیوری روته نسه سپوږمۍ ډک کړه کړنګونه
جنګ د مینې شوی بنګړي ټول مات شوي دینه

یار مې شیندي گل دی په اور بل یې گرځومه
(منگل، (د لنډکی، بولی او کړی پرتلیز جاج) مقاله: ناچاپ)

ز) اړې: کیسی، لغز، اړه یا اړې، اړونه، دوښی او ټکونه د پښتو ولسي ادبیاتو یو ډول ته ویل کېږي، چې ډېر په زړه پورې موضوعات لري، په دري کې ورته چیستان او په عربي کې ورته لغز یا معما وایي. (اړه) په اصل کې ذهني لوبه ده چې په ځانگړې توگه د ماشومانو ذهني قوې ته انکشاف ورکوي، په یوه موضوع کې د فکر کولو لپاره ښه تمرین دی.

«د خلکو سندرې» لیکوال لیکي: ((کیسی چې په دري کې یې چیستان بولي او ځینې خلک ټکونه او اړونه هم ورته وایي.)) (رفیع، ۱۳۴۹: ٦۰ مخ)

د «فولکلوري گېډۍ» لیکوال وایي: ((کیسی یا اړونه چې په عربي او دري کې یې لغز او چستان بولي)) (منگل، علي محمد، ۱۳۵۵ل کال، ۸۳ مخ)، په پکتیا کې کیسی مؤنث معنا نوم دی چې مفرد ته یې (اړه) او جمع یې (اړې) دي، د دې نوم مطلب د مخاطب شخص اړ ایستل دي یا اورېدونکی دې ته اړ کوي چې هرومرو به ځواب پیدا کوي او که حل یې پیدا نه کړ نو لوبه یې بایلوده.

که پورته نومؤنو (نومښود) ته د مفهوم او معنا په لحاظ ځیر شو تر ټولو غوره او جامع نومؤنه (نوم ینښه) د پښتو د مفرد ((اړه)) جمع ((اړې)) په شان هر اړخیز مفهوم نه لېږدوي، په پکتیا (پښتیا) کې عام خلک هم دا نوم په خبرو کې کاروي، لکه: ((په هره خبره کې اړه مه اچوه)) یا ((پلانی په سمه خبره کې اړه پیدا کوي)) نو وایو چې د دوښي او ټکونو په لفظ کې پورتنی مفهوم نه لیدل کېږي، اړونه تر یو ځایه پورې سمه ده خو فولکلور د ولس مال د ولس په ژبه او له ولس څخه را زېږېدلی دی، د یوه ولس ملکیت د یوه شخص نه شي کېدی.

اړې په منظوم او منثور دواړو ډولونو پیدا کېږي او بېلا بېل ډولونه لري، د اړو نمونې وگورئ:
((ونه دو، ونه کې منځوله دو، منځوله کې لټکه دو، د ټول کلي ملکه دو.)) – ځواب: ژبه ده.
په معیاري پښتو: ونه ده، ونه کې ځاله ده، ځاله کې لټکه ده، د ټول کلي ملکه ده.

۱- یوه بلا راغله له کوزه، پنځه سره څوارلس پښې، تر حساب تېرې یې کلمې – دا به څه وي؟ ځواب: جنازه

۲- مږی په دریاب کې شلغم خوري – دا څنگه؟– ځواب: شلغم مطلب معیوب غم خوري.

څرنگه چې د پښتني فولکلور په برخه کې زیات انفرادي کار شوی، د پښتو ادبیاتو ځینو خواریکښو ځیرکو فولکلورستانو د هېواد له بېلابېلو سیمو څخه مواد را ټول کړي، تبصرې او څېړنې یې پرې کړې دي، د دوی کار او زیار په درنه تله تلو، خو سره د دومره څېړنو بیا هم پښتني فولکلور یوې منظمې او سیستماتیکې را ټولونې او څېړنې ته اړتیا لري، ځکه چې

پښتني ټولنه دومره غني فولکلور لري چې لابکر پروت دی، نو په کار ده چې پښتانه ځوانان په خپله متې ونغاړو او را ټول یې کړو.

## پایله

په دې مقاله کې په پکتیا کې د ولسي فورمونو هغه نومونه، تشریح شوي چې په پکتیا، خوست، وزیرستا او کورمه کې دود دي، دې چې زیات یې په پکتیا او خوست کې را منځته شوي، وزیرستان له خوست او کورمه له پکتیا متأثره ده او دا څلور واړه سیمې د یو بل تر فرهنګي اغېز لاندې دي او دواړو خواوو ته عین قومونه استوګن دي، مرۍ، ژوند، پوله پټی یې سره شریک دي، دود او دوستور یې یو دی، په ډېرو کلیو کې یې یوه کورنۍ په دوو برخو وېشل شوې، نیمه دېخوا ته ژوند کوي او نیمه هغې خواته، بله ستره ځانګړنه یې داده چې ټول په کرلانۍ لهجه خبرې کوي.

ولسي فورمونه هغه ولسي ادبیات دي چې د ولس له خوا پنځېدلي دي، شاعران یې ولسي وي، تر ډېره یې شاعران نالوستي وي، په ابتدا کې د یو شخص له خوا ویل شوي وي، دا چې خوله په خوله، سیمه په سیمه، وخت په وخت، میاشتې، کلونه، لسیزې او پېړۍ د ولس په سینه کې ساتل کېږي له یو نه بل ته لېږدول کېږي، د خود رویه ګلانو په څېر یې له هرې سینې خپل رنګ اخیستی وي، په همدې وجه د ټولنې مشترک مال ګڼل کېږي، خو دا چې همدغه ولسي فورمونه د پښتني ټولنې په بېلابېلو سیمو او ټېرونو کې بېل بېل نومونه لري، نو د دې څېړنې موخه په پکتیا کې د ولسي فورمونو ولسي نومونو څېړل وو، لکه: لنډۍ، ټکۍ (ټیکۍ)، ټپې، مسرۍ، جګو غرو سندرې/اغرنۍ سندرې، ویرغړانګې/اغړانګې/کوکې، دریکړیزې لنډۍ/کړیوالې لنډۍ/ کړۍ کړۍ ټپې، څنځیري ټپې، ټپیزې، پامونه، سروکي، بدلې، سندرې، شبرۍ، د لویانو شبرۍ، د ماشومانو شبرۍ، لغات، بچکي، پړوکي/ پړاکي/ بندۍ/ سورې/ لنډکۍ او اړې تر بحث لاندې نیول شوي، په دې نوملړ کې له ځینو نومونو سره ټول پښتانه اشنا دي او په کتابونو کې د معیار او قرارداد په ډول عام شوي دي، خو ځینې یې تر اوسه پورې منحصر په سیمه یا پکتیا دي، چې په وروستیو کې د تګ راتګ، مشاعرو، خواله رسنیو او نورو فعالیتونو په سبب ځینې فرهنګیان ورسره اشنا شوي دي.

## مأخذونه


۱. حيران، حنيف. ۱۳۸۹، یو ځلې بیا په دې لار راشه، ټيپيزې، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور.
۲. رفيع، حبیب الله. ۱۳۴۹، د خلکو سندرې، د تاریخ او ادب ټولنه، دولتي مطبعه: کابل.
۳. غروال، محمدعارف. ۱۳۶۰، غزنۍ سندرې، د افغانستان د علومو اکاډمي، پښتوټولنه، دولتي مطبعه: کابل.
٤. منگل، عبدالاحد. د پښتو لنډیو ناچاپ ټولگه.
۵. منگل، عبدالاحد. د پښتو ولسي ادبیاتو تنقیدي مطالعه، (ډوکتورا ډېزرټېشن)، ناچاپ، پېښور پوهنتون.
٦. منگل، عبدالاحد. د لنډکۍ او کړۍ پرتلیزجاج مقاله، ناچاپ.
۷. منگل، عبدالاحد. ۱۳۹۷ل، کړۍ، د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل مجله، څلورمه گڼه، کابل.
۸. منگل، عبدالاحد. ولسي شاعري، ناچاپ ټولگه.
۹. منگل، علي محمد. ۱۳۵۵، فولکلوري گېډۍ، پښتوټولنه، دولتي مطبعه: کابل.
۱۰. منگل، علي محمد. ۱۳۸۷، د وړو ماشومانو رنگینې شېرۍ، پوهنې مطبعه: کابل.
۱۱. منگل، علي محمد. ۱۳۸۷، فولکلوري وړمې، نعماني مطبعه: کابل.
۱۲. منگل، علي محمد.۱۳۵٦، ولسي پوهه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د فولکلور او ادب آمریت، دولتي مطبعه: کابل.
۱۳. کاکړ، ولي محمد سیال. ۲۰۱۷، ملي انځور، پښتو فولکلور اکاډمي کوټه، یونایټېډ پرنټرز مطبعه: کوټه.
۱٤. هیوادمل، زلمی. ۱۳۷۹، د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دورې)، لومړی ټوک، دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور.
۱۵. یوسفزی، فرهاد علي. ۲۰۱۷، فولکلوري ادب، اعراف پرنټرز: پېښور.
**۱٦. مرکې**
۱۷. صنمه، نالوستې، ۱۳۹۸، ۸۰ کلنه، پکتیا، اریوب، قوم، ځاځی، مصاحبه کوونکی: عبدالاحد منگل.
۱۸. ظریف خان، ۱۳۹۹، ولسي شاعر، نالوستی، خوست، علي شېرو ولسوالي، بوخونې کلی، مصاحبه کوونکی: عبدالاحدمنگل.

۱۹. گل نذیز، ۱۳۸۸، دولس پاس، پښتونخوا، کورمه، تریې منگل، مصاحبه کوونکی: عبدالاحد منگل.

۲۰. مرغۍ بي بي، ۱۴۰۲، نالوستې، خوست، موسی خیل، زوړ کوټ، مصاحبه کوونکی: عبدالاحد منگل.

۲۱. مریم، ۱۴۰۱، ۴۵ کلنه، نالوستې، پکتیا، میرزکه، مصاحبه کوونکی: عبدالاحد منگل.

۲۲. مېرزاخان، ۱۴۰۱، ٦٦کالن، نالوستی، لوگر، څرخ، دښتې منگلو کلی، مصاحبه کوونکی: عبدالاحد منگل.

۲۳. نفیسه، ۱۳۹۹، نالوستې، ٦۰ کالنه، خوست، موسی خیل، زوړکوټ، سیدگي کلی، مصاحبه کوونکی: عبدالاحد منگل.

څېړندوی بشرمل زرغون

# د مولوي شېرګل رشيد کامه وال د شاعرۍ لغوي خوا

# The Linguistic Dimension of Maulavi Shergul Rashid Kamawal's Poetry

Assitant Prof. Basharmal Zarghoon

## Abstract

Maulavi Shergul Rashid Kamawal is a distinguished contemporary literary figure, recognized for his work as a writer, grammarian, poet, and translator. Although his scholarship mainly focuses on writing and grammar, he has also contributed significantly to poetry. His poetic form is a semi-ghazal, and all of his other poetry is a Masnavi-style stories.

This poet was the first to be introduced by Siddiqullah Rishtin to the literary world, publishing a few concise yet thoughtful lines about him in Pashto, a print publication issued by the Kandahar Literary Association in Kandahar.

Rashid Kamwal placed significant attention on the use of neologisms in his poetry, thoughtfully incorporating newly coined terms, all of which are reflected in his poetic works.

## لنډیز

مولوي شېرګل رشید کامه وال د اوسنۍ دورې یو مخکښ لیکوال، ژبپوه، شاعر او ژباړن دی، ده د لیکوالۍ او ګرامرلیکنې تر څنګ شاعري هم کړې ده، د شاعرۍ فورم یې یو نیم غزل او نوره ټوله مثنوي ډوله داستانونه دي. ادبي دنیا ته لومړی ځل پوهاند صدیق الله رښتین راپېژندلی او په اړه یې لنډې کرښې د هغه وخت په یوې چاپي خپرونه کې خپرې کړې چې دغه خپرونه د (کابل کالنۍ، ۱۳۱۹ ل) په نامه له کابله د (پښتو ټولنې) له خوا

چاپېده. رشيد کامه وال په خپلې شاعرۍ کې د نيولوګېزم کارونې ته ډېر پام کړی چې په شاعرۍ کې يې د هغه وخت وييونه موندلی شو.

## سريزه

يوه ژبه هله غني کېږي چې هغه له هر اړخه تر وسې وسې پوره شي، هر څوک ورته له هرې خوا په سيستماتيک ډول کار وکړي، ويې پالي او مينه ورسره وکړي. مولوي شېرګل رشيد کامه وال يو له هغو ليکوالو او شاعرانو څخه دی چې په خپل وخت کې دی ډېر ناچاره و؛ خو له مورنۍ ژبې سره يې بې احسانه مينه وه او دغه مينه يې تر اخره پاللې ده، نوموړي د خپلې ژبې يوې تشې ته ډېر پام کړی چې هغه د پښتو ژبې ګرامر ليکل و، ده پر ګرامرليکنې سربېره شاعري هم کړې او په شاعرۍ کې يې د خپل وخت ډېر وييونه په مناسب ډول کارولي دي. ده قاموس يا سيند کښنې لوري ته هم پام کړی؛ خو په مکتوبي بڼه ترې څه راپاتې نه دي؛ يواځې يو لوی سيند چې د (پښتو مصادر) نومېږي؛ ترې راپاتې دی او لا چاپ نه دی.

دی د پښتو ژبې ګرامرپوه او ګرامر ليکوال دی، د موضوع د تړاو په خاطر به ووايو چې په ده تر دې دمه ډېر څه ليکل کېږي او بايد وليکل شي. له دې ليکنې پرته چې په مولوي شېرګل رشيد کامه وال څه ليکل شوي او خپاره شوي؛ هغه دا دي چې دی لومړی ادبي دنيا ته پوهاند صديق الله رښتين معرفي کړی او په اړه يې څو کرښې په (پښتو مجله) کې خپرې شوې دي، د رښتين دغه تذکره ليکنه اوس اوس د کندهار پوهنتون استاد مطيع الله روهيال په کتابي بڼه راټوله او چاپ کړې ده، کتاب د علومو اکاډمۍ د نشراتو رياست په ۱۴۰۲ ل چاپ او خپور کړی، همدغه ليکل بيا لال پاچا ازمون په (رښتينې هڅې) چې د صديق الله رښتين د ناچاپو ليکنو دويم ټوک دی؛ رااخيستي دي. ورپسې همدغه ليکل په کابل کالنۍ کې هم خپاره شوي، په دې وروستيو کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ متقاعد استاد څېړندوی صاحب ګل مموزي هم پرې يوه نسبي بشپړه د څېړنوالۍ علمي پروژه ليکلې چې لا چاپ نه ده.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د يادې څېړنې اهميت او مبرميت په دې کې دی چې د مولوي شېرګل رشيد د شاعرۍ ډول او هم يې په شاعرۍ کې چې کوم وييونه کارولي؛ د هغو رابرسېره کول او څان ترې خبرول دي. بل مولوي شېرګل تر ډېره د يوه ليکوال او ګرامرپوه په حيث راپېژندل شوی، د شاعرۍ خوا او په شاعرۍ کې يې د نيولوګېزم د کارونې اړخ ته دومره پام نه و شوی چې دغه اړخ د څېړنې يو مهم او غوره اهميت را په ګوته کوي.

## د څېړنې پوښتنې

- مولوي شېرګل رشيد کامه وال د کومې دورې شاعر دی؟

- مولوي شېرګل کوم ډول شاعري کړې او لغويي خوا څه بيانوي؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تحليلي او تشريحي ميتود څخه کار اخيستل شوی دی.

## د مقالې متن

تر دې دمه په ادبیاتو کې د ادبیاتو د تاریخ دورې هر چا بېلې او جلا راپېژندلې دي، هر چا د خپل ذوق او ځینو د نورو عواملو پر اساس وېشلې چې زه یې نورو خواو ته نه ځم او نه دلته پرې بحث کوم، یواځې د صدیق الله رښتین دغه یادونه کوم چې هغه د خپل وخت او دور پر بنیاد په یوه ادبي تاریخ ډوله ادبي تاریخ کې ادبي دورې په څلور ډوله وېشلې او په څلورمه دوره کې یې یو جلا عنوان د اوسنۍ دورې په نوم نومولې چې نوموړې ویلې دغه دوره له ۱۳۵۰ هـ. ق/ ۱۹۳۱ ز. کاله را په دېخوا پیلېږي، دا یې د پاچاهانو په پاچاهۍ پورې اړوند کړې او پیل یې د نادرشاه او ظاهرشاه له پاچاهیو کړی، د همدغې دورې په اړه کاږي: «دا دوره که څه هم په څلورمه دوره کې حسابېږي؛ مگر هر کله چې له ۱۳۵۰ هـ. ق. څخه را په ایسته د پښتو د ژوند په لاره کې یو نوی حرکت لیدل کېږي او دا لږه موده د پښتو د خدمت او آثارو د زیاتوالي له حیثه د پخواني وخت په ډېره موده غوره ایسي؛ په دې لحاظ ښایي چې د دې وخت د پښتو پالنې او پښتو ادب په شاوخوا کې څه ناڅه وواېو؛ مگر لومړی غواړو چې د دې عصر پښتانه پاچاهان بیان کړو». (رښتین، ۱۳۹۱ ل: ۳۱۵ مخ)

ویل کېږي چې دغه دوره د انګرېزانو د درېیم جنګ له پای ته رسېدو وروسته پیل شوې چې د پوهانو په وینا د درېواړو جګړو په پایله کې د ادبیاتو په ټولو برخو یې بېل او ځانګړی اغېز ښندلی، د پښتنې سیمې په ټولو برخو یې اغېز جوت دی چې د ادبیاتو برخه یې ښه بډایه او غني کړې، هغه که په نثر کې ده او که په نظم کې، د ژوند په نورو خواو یې هم پوره او بشپړ اغېز ښندلی دی. (زېور، ۱۳۹۷ ل: ۳۴ مخ)

موخه مې له دغو خبرو دا ده چې زموږ د اوسنۍ دورې یو پیاوړی، عالم، ژبپوه، ګرامرپوه، شاعر، لیکوال او ژباړن اروانښاد مولوي محمد شېرګل رشید کامه وال دی چې په دې دوره کې یې د ادبیاتو په برخه کې بشپړه ونډه اخیستې او د زړه په وینو یې دې ژبې ته کار کړی، متې یې رابډ وهلي او د زړه له تله یې ورته هر اړخیز زیار ایستلی دی.

دی ادبي دنيا ته لومړی ځل (د پښتو ننني ليکوال) په نامه يوې تذکرې راپېژندلی، يادې تذکرې د همغه وخت په يوې چاپي خپرونې (کابل کالنۍ، پرله پسې درېو ګڼو کې، ۱۳۱۹ ل) کې په پرله پسې ډول د همغه وخت د شاعرانو او ليکوالو لنډه؛ خو هر اړخيزه پېژندنه وړاندې کړې او خپره کړې ده چې مولوي محمد شېرګل رشيد کامه وال په دې ډول راپېژني: «دی په قام يوسفزی، له رنګه پوخ، په عمر پنځوس کلن معلومېږي، نور برابر، ميانه قد، د خبرو تکړه او چالاک سړی دی، دی په يوسفزو کې (يارو سين ډاګۍ) ته منسوبېږي، ګومان کوم چې هلته به پيدا شوی وي، د عربي مروج کتابونه يې لوستي دي او په عربي علومو کې اصطلاحي ملا دی، دی د هجرت په کال دې وطن ته راغلی او د مشرقي په کامه کې متوطن شوی دی، له دې وجې نه دی اوس ځان کامې ته منسوبوي، ده په اشعارو کې تخلص (رشيد) غوره کړی، دا د ده د مشر زوی نوم دی؛ البته د هغه له ډېرې مينې او زيات محبت نه يې د هغه نوم په خپل تخلص قبول کړی دی.

د ده د عمر زياته برخه په نوکرۍ کې تېره شوې ده، د انقلاب دمخه يې د معلمۍ او سرمعلمۍ دورې تېرې کړې وې او له انقلابه وروسته څه موده په (انيس) کې و او بيا په دارالمعلمين کې معلم مقرر شو، دا دوه کاله کېږي چې د ښېوې د مکتب په سرمعلمۍ تللی دی، اوس اورو چې په جلال آباد کې د رشيديې معلم دی.

شېرګل خان د پښتو يو پخوانی شاعر او ليکونکی دی، د کندهار د پښتو انجمن د اول کال په مجلو کې د ده ښه ښه نظمونه شته دي، دا رنګ د وطن په نورو جرايدو کې هم د ده ښکلي آثار پيدا کېږي، دی خواږه او خوندور اشعار وايي، شعر يې متوسطه درجه لري؛ مګر د پښتو نثر يې کم ليدل شوی دی، د نظم برخه يې نسبت نثر ته زياته معلومېږي، له اردو او عربي هم استفاده کولی شي، اوس يې پښتنو ته (د بيدارۍ غږ) په نوم يو کتاب جوړ کړی دی، پرته له دې دی د پښتو د آثارو د جمع کولو شوق هم لري، اوس هم ورسره د پښتو قلمي آثار، کتابونه نور زيات قابل قدر اشيا شته او په دې شيانو کې د يو خاص ذوق او فکر خاوند دی». (رښتين، ۱۴۰۲ ل: ۱۴۵- ۱۴۶ مخونه)

د رښتين دغه پېژندګلوي چې «د پښتو ننني ليکوال» په تذکره کې خپره شوې، بل ډول ده، مهمې خبرې يې رااخيستي او نور يې ټول بشپړ آثار، د ژوند کړه وړه او... يې نه دي معرفي کړي؛ نو له دې پېژندنې ور هاخوا کامه وال په خپل يوه ګرامري اثر کې ځان بشپړ داسې راپېژني: «زه مولوي محمد شېرګل کامه وال رشيد د مرحوم عبدالقيوم زوی او د محمد يونس مرحوم نوسی(لمسی)، په قام يوسفزی چې د مردان ضلعې په ډاګۍ کلي کې زېږېدلی يم، د څلورو کلونو او اوو مياشتو په عمر خپلو مشرانو په سبق کېنولم، بيا ورسره

ورسره په لمړني ښوونځي کې مې ځان داخل کړ او لمړنۍ دوره مې په اردو ژبه پای ته ورسوله او شهادتنامه مې واخستله، بیا مې په خصوصي ډول له لوړو عالمانو څخه په نحوه کې تر شرح جامي پورې او ورسره ورسره نور علوم ولوستل، بیا د [لا]هور په مدرسۀ حمیدیه کې داخل شوم او د مولوي فاضل په درجه له دې مدرسې نه فارغ التحصیل شوم، شهادتنامه مې واخستله.

له فراغت نه وروسته د بنګال د راجشاهي ضلعې په (شېریه مدرسه) کې د مدرس په حیث مقرر شوم، بیا د ۱۲۹۹ ش، د سنبلې په میاشت کې د جلالکوټ په (راستي ښوونځي) کې معلم مقرر شوم او په دغې سلسله کې څلور کاله خدمت [مې] وکړ او په ۱۳۰۳ کال کې د جمعیت العلماء عالمانو د پادشاه په امر او اجازه د یوې فتاوې چې د درې ګونو محکمو لپاره کفایت وکړي؛ په درېیو ژبو (عربي، فارسي او پښتو) ولیکې، د دې درېیو ژبو د تطبیق لپاره یې زه د دارالتحریر شاهي په فرمان د پوهنې له وزارت نه وغوښتم او کار مې کاوه، بیا په کومو عوارضو د فتاوې تألیف وځنډېده او زه د جلالکوټ د مرافعې محکمې د اول مفتي په حیث انتخاب شوم؛ خو دا ډېره درنه وظیفه مې قبوله نه کړه او عذر مې وغوښت، بیا د پوهنې وزارت د سرمعلم په حیث ننګرهار ته مقرر کړم، بیا کوم وخت چې انقلاب پای ته ورسېد او اعلیحضرت محمدنادرخان پادشاه شو؛ نو زه د اصلاح د محرر او مصحح په حیث مقرر شوم، له یو وخت نه وروسته د عالي دارالمعلمین په مکتب کې د معلم په حیث مقرر شوم، بیا په پښتو ټولنه کې د عضو او د قواعدو په مدیریت کې په څلورمه رتبه مدیر وټاکل شوم.

په ۱۳۲٦ کال کې د ځینو معاذیرو په سبب تقاعد مې وغوښت، د تقاعد له منظورېدلو نه وروسته د هغه [وخت] د صدراعظم په امر د قراردادي معلم په حیث تر اوسه پورې د معلمۍ په وظیفه مشغول یم. په پای کې د ټولو پښتنو د لوړتیا لپاره د پښتو ژبې د خدمت ډېر توفیق غواړم». (کامه وال، ۱۳۳۲ ل: ۴ مخ)

له دغو خبرو موخه دا ده چې مولوي محمد شېرګل که ګرامرپوه او ژبپوه و؛ نو ورسره ورسره یو ښه لیکوال او شاعر هم تېر شوی، د شاعرۍ یوه ټولګه یې تیاره کړې وه، هوډ یې لاره چې چاپ او خپره یې کړي؛ خو تشه لاسه ته مې دښمن یې، کوم آثار یې چې راپاتې دي؛ هغه ټول د واحدو قلمي نسخو په شان دمګړۍ د علومو اکاډمۍ په کتابتون کې خوندي دي. نوموړي که ګرامر لیکلی؛ نو ورسره یې لیکوالي هم کړې او له لیکوالۍ سره سره یې شاعري هم کړې ده، د شاعرۍ ډول یې اکثره مثنویات دي، پخوانۍ کیسې یې په مثنوي قالب کې رااخیستي، نور فورمونه یې دومره نه دي پاللي، د ګرامر په کتابونو کې یې یو نیم

غزل موندل شوی چې ما يې شاعري ټوله کمپيوټر ته سپارلې، که د چاپ زمينه برابره شوه؛ نو ان شاءالله چې چاپ او خپره به شي.

د شاعرۍ ټولګه يې (د بيدارۍ غږ) په نامه نومولې، په دې نامه يو لوی مثنوي ډوله نظم دی چې په ياده ټولګه کې بشپړ راغلی دی. په پورته خبرو کې وويل شول چې مولوي شېرګل له ډېرو ستونزو ګاللو وروسته له هغې خوا دې لوري ته راغلی او د خپل ذوق او شوق له مخې يې پښتو ته له زړه کار کړی، ومو ويل چې دی ليکوال، شاعر، ژبپوه او... دی، د دغو ټولو ځانګړنو له يادونې يې زه يواځې د ده د شاعرۍ پر لغوي خوا لږو ډېر يوه يادونه کوم چې د هغه وخت له پرمختګ او پرمختلنې چې د ده په وينا دې وخت کې هر څه په منډه وو، نوموړی د ويي جوړونې او بيا دودولو په نيت کې شوی، وييونه يې موندلي او بيا يې په خپلې شاعرۍ کې په بېل بېل ډول کارولي دي.

دغه وييونه د ده د دورې دي او کېدای شي مخکې هم وو؛ خو مولوي شېرګل په شاعرۍ کې تر ممکنه حده کارولي او شاعري يې پرې ښه خوږه او رنګينه کړې ده، دغه وييونه له شعري بېلګو سره يوځای راوړل شوي او بايد وويل شي چې مولوي شېرګل خان رشيد په شاعرۍ کې تر ډېره همدې ټکي ته پام کړی چې د هغه وخت دوديز وييونه څنګه په شاعرۍ کې وکاروي؟ نو دغه خواري او دغه کار يې تر ډېره په شاعرۍ کې څرګند او روښانه ښکاري.

يوه يادونه بايد وشي او هغه دا چې دغه وييونه چې معنیٰ شوي؛ نو د مولوي شېرګل د شاعرۍ ته په کتو معنیٰ شوي؛ يعنې د ده په شاعرۍ کې چې کومه معنیٰ ښندي؛ همغه رااخيستل شوې، ممکن په قاموسونو کې يې يوه نيمه معنیٰ توپير سره ولري او لري يې هم؛ خو د شاعر د ځای او کارونې په اساس معنیٰ شوې دي.

هغه وييونه چې مولوي شېرګل رشيد کامه وال په شاعرۍ کې راغلي؛ دا دي:

**اخته/ axtá**: ککړ، بوخت، چنګاو، په يوه شي کې ښتی، په کې لګيا.

تل ترتله له طبيب څنې نفرت وي
**اخته** شوی په دا بدرنګه خصلت وي

* * *

چې هېڅ نه مومي ځيره خراب خسته دي
په سل عيبه بد ګذران کړو کې **اخته** دي

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۲۴۳ مخ)

**ارتينه/ artiná**: ښځه، مېرمن.

خوږ زوزات هم **ارتينه** ترېنه شي پاتې

مال، متاع او خزانې یې شي میراتې

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ٦٢ مخ)

**اریان/ aryān**: تعجب، حیرانتیا؛ ګڼه: اریان دریان.

بحروبر دواړه انسان باندې ودان شول

ملایک د انسان توان ته دي **اریان**

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۴۵مخ)

***

د کوهي په غاړه سرې ودرېده **اریان**

خو یې فکر په پګړۍ شو د خپل ځان

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ٦٩مخ)

**بې دو/ bedo**: بې دلیله، بې حجته، نه دلیل توب.

ټول الفاظ یې وو **بې دو** دُر او مرجان

د جادو په څېر یې و هر یو بیان

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۱۳۹ مخ)

**پرهارژلي/ parhāržəli**: پرهارخوړلي، په زړه زخم.

مولوي شېرګل دغه ویی په دواړو بڼو کارولی، هم یې اوښتې بڼه او هم یې مفرد او جمع.

که د سرو شونډو ملهم په ژوبل زړه کړې

ښه به وګټې ژوندون د **پرهارژلي**

**پړ/ pər**: ملامت، ناځوابی.

دغه ویی هم په دواړو بڼو راغلی چې دلته یې جمع شکل رااخیستل شوی دی:

**پړه** ګڼې چې یو ساعت ترې شي خراب

پانګه ګڼې د بضاعت سوی کباب

په هر ځل به یې کړه **پړه** د هلک مور

چې ته څنګه بده مور یې نه اورې شور

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۱۲۹- ۱۳۰ مخونه)

**تېزل/ tezəl**: دغه مصدري فعل دی او مولوي شېرګل د زغلول، زغاستل، په منډه کول، تېزول، چالاک، ګړندي او چټک په معنا راوړی. دوست شینواري په (زړه پانګه) کې دغه ډول تشریح او تفسیر کړی دی: «تېځل یا تېزل په (ځ او ز دواړو غږونو) د پښتو زړو ادبیاتو په چاپي او قلمي نسخو کې زښت ډېر راغلی، په قاموسونو کې هم په دواړو غږونو قید دی، له لفظي

شباهت نه په لومړي نظر داسې ښکاري چې ريښه به يې د دري يا فارسي له تير- ۱= تيره. ۲- ګړندي سره يوه وي؛ خو په لږ څه ژور نظر موږ بلې نتيجې ته رسېږو او هغه دا چې: دلته د موضوع په ارتباط دوه آرياني ريښې په نظر کې نيسو:

۱- تېز چې آرياني ريښه يې تيغر teğar ده چې د پښتو او ساکي ژبې (تيره) او همدارنګه د (تير) او (تيغ) کلمې ورڅخه جوړې دي.

۲- يوه بله آرياني ريښه (تچ- تک tač- tak اندو اروپايي تيک هم شته چې په دري کې يې ماضي اساس (تاختن) د حال اساس (تاز) دی او په پښتو کې (تېځ او تېز) ورسره ګډه ريښه لري. ګومان کوم زموږ د پښتو قاموس ليکونکو به دغه فعل ته له لومړي اساس (تېز) سره ربط ورکړی وي، د هغه مجازي معنا چالاک، ګړندی، چټک به يې په نظر کې نيولی وي؛ نو هغه تفسير چې د دغه فعل په تشريح کې مثلاً زموږ پښتو تشريحي قاموس او يا خپله پښتو قاموس په ترجمه کې وړاندې کړی؛ زما په خيال د زيات غور او د تأمل وړ دی. پښتو قاموس (تېځل، تېزل) په (دواندن) ترجمه کړی او تشريحي قاموس دغه فعل د (تېځل او تېزل) په فورم اخيستی او په تشريح کې يې ليکي: تېځ= زغل، ځغاسته، منډه. تېځل= ځغلول، په ځغاسته کول، تېزل او بيا د (تېزل) حواله په (تېځل)، دلته نو که څوک يو ماشوم يا مېږه يا بل څه زغلوي؛ دغه فعل ته دغو قاموسونو د تشريح او تعبير له مخې بايد (تېځل) وويل شي؛ خو دا سمه نه ده. د تېځل فعل له پورته يادې شوې دويمې ريښې سره چې په فارسي کې (تاخت، تاز) دی؛ اړه لري، په پښتو زړو متونو کې د دغه فعل معنا (پرې سپرېدل، رکوب پرې کول، تېځونی= مرکب، د سپرلۍ څاروی) معناوې لري...». (شينواری، ۱۳٦۳ ل: ۵۹- ٦۰ مخونه)

په **تېزلو** د آسونو به جګړې وې
په **تېزلو** د آسونو به ربړې وې

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۳۱ مخ)

**ځير/ ǰɪr**: متوجه، پام کول، مخامخ ورکتل.

څوک که وګوري اوس دغه حالت
په **ځير** وګوري په سترګو د عبرت
نظر وکړي ښکته پورته د عبرت
وګوري اقوام په **ځير** او په دقت

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۱۴۸ مخ)

**چرچې/ čarče**: مزې، خوندونه، د چړچې په بڼه هم ليکل شوی.

زمورږ په کور به تباهي نه وه راغلې

ښې **چرچې** به په نېستۍ کې مورږ کولې

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۲۱۲ مخ)

**خور/** xor: تیت و پرک، خپرېدل، خورېدل، شیندل شوی، پاشل شوی.

د دغه ویي دواړه بڼې هم راغلي چې دلته دواړه مثاله راوړل شوې دي:

د حکمتو په کې رڼا شمس او قمر و

هم ترې **خور** په هر خوا هر رنګ هنر و

په هر لور د رسالت شغلې **خورې** شوې

د بوتپرستو په کورو خاورې ایرې شوې

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۴۷- ۴۸ مخونه)

**درومي/** drumi: ځي، تګ، روانېږي، روانېدل، تلل.

سرۍ سم کړي د قیامت په لور سفر

د قیامت په لوري **درومي** برابر

چې څوک شي په دې مرض باندې دوچار

هغه **درومي** د قیامت په لویه لار

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۱۳- ۱۴ مخونه)

**رسا/** rasā: سیخ، سیده، کره، صحیح، درست.

په جمعیت کې به کېدې **رسا** خبرې

ورکېدلې په کې رای مرغلرې

اندلس پر لور روان ابو موسیٰ شو

دی اول اول دې غره ته ور **رسا** شو

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۱۱۲- ۱۱۳ مخونه)

**روڼ/** ruṇ: شفاف، روښانه، پاک، صاف سوتره:

د ځښتن تندی به یې **روڼ** شولو روښانه

چې ژوندی ماشوم به یې لرې کړ له ځانه

په **روڼ** مخ به شي په ورځې د قیامت

د الله دربار ته وړاندې په شوکت

**زوزات/** zozāt: بچې، اولاد، کورنۍ، کوړمه.

وزګار نه دي د **زوزات** له تربیته

مرستیالان دي د خپل قام له ښکلي نیته

د هغو **زوزات** به ژوند کړي خواروزار نن

ځای پر ځای ګرځي بې ژونده او بېکار نن

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۱۵۷- ۱٦٦ مخونه)

**سپړدلی/** spəṛdəlay: پرانېستلی، خلاصول، بشپړول، تمامول، سپخول، سپخېدلی.

یا په امام باندې کوم داغ به و لګېدلی

همدوی به هغه وخت کې و **سپړدلی**

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۱۳۴ مخ)

**سکوړ/** skor: تک تور، سکاره، تورواله، توروالی، د سوي دویم حالت:

خوږ بیان به یې په تېزوالي لکه اور و

د هر چا زړه پرې وریت شوی سوی **سکوړ** و

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۱۳۹ مخ)

**سوب/** sawab: دلیل، حجت، علت:

چې چرته نه لري علاج دا کوم مرض دی

د نه لرلو یې کوم **سوب** او کوم غرض دی

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۱۲ مخ)

**ښاد/** ṣād: اباد، جوړېدل، پوره کېدل، خوښي:

کوم ملت چې یې رسا وي اقتصاد

هغه وي په خپل ژوندون کې یاد او **ښاد**

* * *

طراوت هلته کې هېڅ نه و وړی باد

نه په اثر یې هلته شوی و څوک **ښاد**

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۲۰- ۲۷ مخونه)

**لګبګ/** lagbag: همغاړی، څنګ پر څنګ، یوځای، خوا په خوا.

مدنیت پورې تړلی وړاندې تګ دی

اقتصاد [له] مدنیت سره **لګبګ** دی

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۲۰ مخ)

**میرات/** mirāt: پاتې کېدل، مړه کېدل.

د دغه ویې دواړه حالته راغلي، مولوي شېرګل په شاعرۍ کې دواړه شکله راوړي دي:

خوږ زوزات هم ارتینه ترینه شي پاتې
مال، متاع او خزانې یې شي **میراتې**
ښځه او لوڼې یې ورته ګڼي **میرات**
پردي خلک یې غمخوري کړي د خیرات

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ٦۲ مخ)

**میره/ mayrá**: بیدیا، دښته، بیابان، صحرا.

عربستان لویه **میره** ده عالي شان
ډېره برخه په کې شته دی رېګستان
د قدرت په لاس ښه جوړه جزیره ده
چې زېبا مخ یې ښاېسته ښکلې **میره** ده

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۲۴- ۲۵ مخونه)

**نسکور/ naskor**: سرچپه، پړمخې، راپرېوتې:

په درست جهان باندې ډېر هیبت شو خپور
دښمنان یې له هیبت نه شول **نسکور**
د ګنګا په دهانه کې شول **نسکور**
په دهانه کې د ګنګا رسوا شول نور

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۱۵۰ مخ)

**وریت/ wərit**: سورکړی، پوخ شوی، ښه نرم، ستي، کباب.

خوږ بیان به یې په تېزوالي لکه اور و
د هر چا زړه پرې **وریت** شوی سوی سکور و
پرې سینه به د غمخور **وریته** ستي شي
ټول وجود به یې له غمه ډېر سوختي شي

(کامه وال، ۱۳۳۵ ل: ۱۳۹- ۱۴۹ مخونه)

همداسې مولوي شېرګل خان ډېر نور وییونه هم کارولي چې ما یوازې د بېلګې په ډول یو څه راواخیستل، دغه رااخیستنه موږ ته دا په ګوته کوي چې د مولوي شېرګل په دوره کې د دغو نومیالیو ټولو اړخونو ته پام و.

## پایله

معلومه شوه چې مولوي شېرګل د هغه وخت مروج لغتونه او یا وییونه په مناسب ډول په خپلې شاعرۍ کې ګډ او استعمال کړي چې هم یې شاعري خوږه کړې او هم یې د نیولوګېزم لوري

ته په پوره او شعوري ډول فکر او سوچ کړی او بیا یې په پوره پوره ډول کارولي دي. نوموړی د همدغې دورې یو مخکښ لیکوال او ګرامرپوه دی، ده په نثر کې کتابونه هم لیکلي چې ټول ګرامر ته ځانګړي شوي او شاعري یې له دغو اړخونو جلا ده چې د شاعرۍ محتوا یې داستان ډوله مثنوي ده، د وییونو د کارونې لوري ته یې بشپړ پام کړی او شاعري یې له همدې اړخه ډېره رنګینه ده.

## مأخذونه


۱- ترکی، محمدقدیر، (۱۳۱۹ ل)، کابل کالنۍ، د صحافت څانګه، کابل.

۲- خادم، قیام الدین، (۱۳۳۵ ل)، رښتین، صدیق الله. د پښتو نثني لیکوال، د مطیع الله روهیال په زیار، کابل.

۳- رشید کامه وال، مولوي شېرګل، (۱۳۳۵ ل)، د بیدارۍ غږ، د علومو اکاډمۍ د قلمي نسخو مدیریت، کابل.

۴- رښتین، صدیق الله، (۱۳۹۱ ل)، د پښتو ادب تاریخ، څلورم چاپ، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار.

۵- رښتین، صدیق الله، (۱۳۹۸ ل)، رښتینې هڅې، دویم ټوک، د لال پاچا ازمون په زیار، کابل.

٦- زېور، زېورالدین، (۱۳۹۷ ل)، د پښتو ادبیاتو تاریخ، اوسنۍ دوره، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار.

۷- شینواری، دوست محمد، (۱۳٦۳ ل)، زړه پانګه، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل.

۸- نیازی، رفیع الله، (۱۳۹۰ ل)، په پښتو کې د ګرامر لیکنې تاریخي بهیر، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل.

پوهندوی گل رحمن رحماني

# د کتابتون کتلاک او د ادبي آثارو موضوعي ډلبندي

# Library catalog and subject classification of literary works

Assistant Prof. Gul Rahman Rahmani


## Abstract

Throughout human history, the library has been a helpful and important place for scientific studies, research, and writings, which is needed at all times and in every field for the enrichment of the mind, the solution of questions, and the intellectual and scientific advancement. The more organized and cataloged and classified a library is with a modern system of library management and maintenance, the more it helps readers and researchers to find their desired sources and materials in less time, because time is very valuable for library users and researchers. On the contrary, the presence of uncategorized and uncatalogued libraries has a negative impact on the minds of writers and readers and on the image of the library. There are various methods of cataloging and classifying libraries in the world, the oldest of which was the card system, then the subject catalog, and now the digital catalog method is very popular, but current technology has also changed the form of library management and the nature of the classification of works. In this article, the classification of literary works in the light of cataloging and classification is also discussed, because literary works are a part of the general catalog, libraries can be organized into different categories according to theoretical and practical classification, which will make the work of literary readers and a literary researcher systematic and organized, they will have easy

access to the relevant sources of their research, and the order and order of the library subject will be observed. Since not much has been written about this in the Pashto language, the article has relied heavily on foreign sources.

**لنډیز**

کتابتون د بشري تاریخ په اوږدو کې د مطالعې علمي کارونو، څېړنو او لیکنو لپاره هغه مرستندوی او مهم ځای دی چې د ذهنې بډاینې، پوښتنو د حل، فکري او علمي ارتقا لپاره هر وخت او په هره برخه کې ورته اړتیا لیدل کېږي، کتابتون چې څومره منظم او د کتابتون سمبالونې او ساتنې په معاصر سیسټم سره کتلاک او ډلبندي شوی وي، په همغه اندازه له لوستونکو او څېړونکو سره مرسته کوي چې خپل مطلوب ماخذونه او مطالب په کم وخت کې پیدا کړي، ځکه چې د کتابتون د مراجعینو او څېړونکي لپاره وخت ډېر ارزښت لري، برعکس بیا د بې ډلبندي او نا کتلاک شوو کتابتونونو شتون د لیکوال او لوستونکي پر ذهن او د کتابتون پر څېره هم منفي اغېز لري. په نړۍ کې د کتابتون کتلاک کولو او ډلبندۍ بېلابېلې طریقې موجودې دي، چې تر ټولو پخوانۍ یې کارټ سیسټم وه، بیا د موضوعي کتلاک او اوس هم د ډیجیټل کتلاک طریقه ډېره دود ده، خو اوسنۍ ټکنالوژۍ د کتابتون مدیریت ښه او د اثارو د ډلبندۍ نوعیت ته هم بدلون ورکړی دی. په دې مقاله کې د کتلاک او ډلبندۍ په رڼا کې د ادبي اثارو پر ډلبندۍ هم بحث شوی، ځکه چې ادبي اثار د عمومي کتلاک یوه برخه ده، په ټوله کې کتابتونونه په بېلابېلو کتګوریو کې د نظري او عملي ډلبندۍ له مخې تنظیم کېدلی شي، چې دا به د ادب لوستونکو او د یوه ادبي څېړونکي کار سیسټماټیک او منظم کړي، د خپلې څېړنې اړوندو ماخذونو ته به اسانه لاس رسی ومومي او هم به د کتابتون موضوع نظم او ترتیب رعایت شوی وي. دا چې په پښتو ژبه کې په دې اړه ډېر څه نه دي لیکل شوي، د مقالې زیاته تکیه پر بهرنیو ماخذونو شوې ده.

**سریزه**

کتابتون یوازې د کتابونو د زېرمه کولو ځای یا ګودام نه، بلکې د علم، افکارو او پرمختګونو مرکز دی، خو دا مرکز باید په خپله معیاري او منظمه بڼه ولري او د خپلو مراجعینو ښه هر کلی وکړي، علم او معلومات د یو لړ داسې لارو او لارښوونو له مخې خپلو لوستونکو ته وړاندې کړي چې د زرګونو او لکونو کتابتونونو په منځ کې د اصلي او کره مطلب د موندلو لپاره سرګردانه دی. نړیوالو پوهانو او د کتابتون مدیرانو د دې چارې د ښه تنظیم لپاره د کتاب د کتلاک کولو نظریه رامنځه او د څه باندې یوې پېړۍ په ترڅ کې وپاللـه چې په دې برخه کې چارلس ام کټر تر ټولو مخکښ دی، هغه په ۱۸۷۶م کال کې د کتابتون د قاموسي

کتلاک د موخو په برخه کې موخې ځرګندې کړې چې د پېژندلو موخه، د ټولګې موخه او د موخو ارزونه په کې شامل وو، هغه وويل چې کتلاک يو شخص د دې وړ ګرځوي چې کتاب ومومي (ليکوال، سرليک، موضوع، کټه‌ګوري)، ددې ښوونه کوي چې کتابتون څه لري؟ ( د ورکړل شويو ليکوالو له خوا، په ورکړل شوې موضوع کې، په ورکړل شويو ځانګړو ادبياتو کې) او بل هم د کتاب په انتخاب کې ورسره مرسته کوي (ببيلو ګرافي يا د ګڼې ډول، د ځانګړتيا ډول يعنې ادبي يا موضوعي)، البته چې د کتلاک جوړونې دغه ډول تر اوسه پورې هم دود دی. نن سبا د کتابتونونو تر منځ سيالي د کتابونو په ډېرښت کې نه ده، بلکې د خپلو شته اثارو په غوره مديريت، اغېزناکې ډلبندۍ او تر ټولو ساده کتلاک کولو کې ده. همداسې ادبي اثار د هر کتابتون طلايي او ارزښتمنه برخه جوړوي، چې د جلا او غوره ډلبندۍ مستحق دي.

**د څېړنې اهميت او مبرميت**

دا چې په هېواد کې له نېکمرغه ورځ تر بلې عامه او شخصي کتابتونونه مخ پر زياتېدو دي، د څېړونکو او عامو لوستونکو د ورتګ کچه لوړېږي او له بلې خوا د معلوماتي ټکنالوژۍ پر مټ د کتابتون پانګه او مديريت هم مخ پر بدلېدو دی، کتابتونونه لوېږي او هره ورځ په داخلي او بهرنيو ژبو بېلابېل نوي اثار ور زياتېږي، اړينه ده چې د کتابتون د کتلاک، ډلبندۍ او په کې د ادبي اثارو دريځ او د موقعيت مناسب ځه نا څه روښانه شي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱. د افغانستان په کتابتونونو کې کتلاک کېدنه څومره ممکنه ده؟

۲. بې کتلاکه کتابتونونه د څېړنې پر کاري بهير څه اغېز لري؟

۳. ادبي اثار بايد د کومې کټه‌ګورۍ له مخې کتلاک شي؟

**د څېړنې ميتود**

په دې څېړنه کې له تشريحي ـ تحليلي مېتود څخه کار اخيستل شوی دی او د څېړنې ډول يې کتابتوني دی.

**اصلي موضوع**

د ټولو کتابونو اساسي دنده د معلوماتو زېرمه کول او بېرته تر لاسه کول دي. کتلاک کول او نومښودل کول د کتابتون د فعاليتونو هغه ځانګړې برخې دي چې د معلوماتو د زېرمه کولو لپاره تر سره کېږي. غوره کتلاک کول هغه پروسه ده چې له مخې يې کولی شو معلومات په ډېر دقيق او بشپړ ډول بېرته په اسانۍ سره تر لاسه کړو. تشريحي کتلاک دا امکان برابروي چې د کتابتون مواد د سرليک، ليکوال، چاپ نېټې او نورو د لټون وړ عناصرو له لارې چې

کتلاک انټري کې شتون ولري، له موضوعاتو پرته کولی شو، پیدا کړو. ښه به وي چې د موضوع مرکزیت ته تر ورتګ وړاندې د کتلاک ډولونه هم یو څه وپېژنو. په دودیز ډول د کتابتون کتلاک کول لاندې ډولونه لري: د لیکوال کارټ: دا یو رسمي کتلاک دی چې د الفبا په ترتیب سره جوړ شوی دی، چې ثبت یې د لیکوالو یا سمونګرو (اېډېټرانو) نومونو پر بنسټ کېږي. د سرلیک کتلاک: دا هم رسمي کتلاک دی چې د الفبا په ترتیب سره جوړ شوی او کتابونه د سرلیک پر بنسټ په کې ثبت کېږي.

قاموسي کتلاک: دا هغه کتلاک دی چې ټولې انټریانې (ثبتونې) د الفبا په ترتیب سره (لیکوال، سرلیک، موضوع او لړۍ) پر بنسټ ترتیبوي. دا د کارت کتلاک لومړۍ بڼه وه چې د شمالي امریکا په کتابتونونو کې د کمپیوټر پر بنسټ له کتلاک پېژندنې وړاندې کارېدله.

د کلیدي کلماتو کتلاک: یو موضوعي کتلاک دی چې د کلیدي کلماتو د سیستم له لوري په الفبایي ترتیب سره جوړ شوی دی.

ګډ الفبایي کتلاک: ځینې وختونه کتلاک د ګډ لیکوال/ سرلیک یا د یوه لیکوال، سرلیک او کلیدي کلمو له لارې موندل کېږي. سیستماتیک کتلاک: یو موضوعي کتلاک چې د مضامینو فرعي وېش یې د سیستماتیک ترتیب پر بنسټ شوی وي، چې د ډلبندي شوي کتلاک په نامه هم یادېږي. شلیف لېست کتلاک: یو رسمي کتلاک دی چې د منظم ترتیب له مخې ثبت شوی وی، ببیلوګرافیک توکي په کې اېښودل کېږي، دا کتلاک ښایي د کتابتون د لومړني لېست په توګه هم وکارول شي. (چودري، ۱۴۰۴: ۴مخ)

په پورتنیو وېشنو کې نږدې هر کتلاک د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو کتابتونونو کې دود دی. څېړونکو همدا راز د کتابتون کتلاک موخې په لاندې ډول څرګندې کړې دي: د کتابتوني کتلاک موخه دا ده چې کارونکي د دې وړ وګرځوي چې یو کتاب د لیکوال، سرلیک یا مضمون له لارې پیدا کړي.

د کتلاک اصلي دنده دا ده چې د کتابتون کاروونکي ددې وړ ګرځوي څو د خپلې خوښې مواد وټاکي او پوهېږي چې: ایا دا کتابتون ځانګړي توکي لري؟ کوم اثار یا لیکنې د کوم ځانګړي لیکوال په کومو ټولګو کې شته دي؟ یو کتابتون د یوه ځانګړي اثر کومې ګڼې یا نسخې لري؟ کتابتون په یوه ځانګړې موضوع کې کوم کتابونه لري؟

البته کتابتوني کتلاکونه په لومړیو کې د لاسي نسخو د لېست په توګه رامنځته شوي وو، چې د تنظیم شوې بڼه یې پاڼه، ربعه پاڼه او داسې نور...وو یا د لیکوال له لوري یو غیر الفبایي ترتیب و. چاپ شوي کتلاکونه اکثره وخت د قاموسي کتلاکونو په نامه هم یادېږي. دا کتلاکونه له کتابتون نه بهر خلکو ته دا وړتیا ورکوي چې د کتابتون منځپانګه وګوري. په

کتلاک کې به وخت ناوخت خالي پاڼې زیاتېدلې چې په دې پاڼو کې د کتابتون مواد ثبت یا انټري کېدل، که به د کتاب کومه پاڼه کې تېروتنه وشوه، دې خالي پاڼو کې به له سره ترتیب کېدله او د تېروتنو پاڼې به په کلکو کاغذي کڅوړو او قطي ډوله بکسونو کې خوندي کېدې. لومړی کتلاک کارت په نولسمه پېړۍ کې را څرګند شو چې زیات بدلون منونکی و او د شلمې پېړۍ په پای کې (OPAC) رامنځته شو. د کتلاک کولو لومړی ملي کوډ د فرانسې کوډ و چې په ۱۹۹۱ کال کې د فرانسې د انقلاب پایله کې رامنځته شو او د لیکوال ثبت یې حتمی ګرځولی و، تر څنګ یې لومړی ځل کارټ بڼه، د کتابونو د لاس رسي لاربښود او قواعد هم جوړ کړل. (چودري، ۱۴۰۴: ۵ مخ)

د نولسمې پېړۍ تر دویمې نیمایي پورې یوازې تشریحي کتلاک کول د کتابتون لپاره د اړتیا وړ کتلاک ګڼل کېده. د هغه وخت کتابتونونه د نن ورځې په پرتله خورا کوچني وو او علمي کتابتونونه د چاپ شویو بیبلوګرافیانو په مرسته د یوې ځانګړې موضوع ټولو شته موادو سره بلد وو او کولی یې شول چې کاروونکو ته لارښوونه وکړي. د نولسمې پېړۍ په اوږدو کې د پوهې بېلابېلو برخو کې چټک پرمختګ راغی او د کتابونو ټوکونو کې د زیاتوالي له امله دا اړتیا پیدا شوه چې ددې موادو لومړنی موضوعي تحلیل وشي او دا مواد په کتلاک یا چاپ شویو نومښودونو کې په داسې ډول وړاندې شي چې د موضوع له مخې یې بیا تر لاسه کول اسانه وي. (Black، ۱۹۷٦: ۱٦٥م)

د کتابتون د تنظیم او مدیریت په اړه لومړی کتاب په ۱٦٦۱ کال انګلستان کې جان ایولین « د کتابتون د جوړولو په اړه لارښوونې» په نوم لیکلی دی. په دې کتاب کې د زېرمو د تنظیم په اړه یو څپرکی شامل دی چې د کتابتون د تنظیم په اړه یې نظرونه وړاندې کړي دي. په دې اثر کې د کتابتون د ډلبندۍ یوه خاکه موجوده وه. د کتابتون د ډلبندۍ پخوانی او اوسنی سیستم سره ورته او بنسټیزې موخې لري. د دواړو هڅه دا ده چې د علومو نړۍ ساده کړي او په خورا مهم ډول یې له تاسو سره د شیانو د موقعیت په موندلو کې مرسته کوي. د کتابتون ډلبندي ددې لپاره کار کوي چې ورته توکي سره یو ځای وساتي او هغه توکي چې سره ورته نه وي، جلا یې کړي. د ډلبندۍ سیستم هڅه دا ده چې کتابتون کارونکي په ساده ډول خپل اړین مواد تر لاسه کړي او وخت یې ضایع نه شي. (سو، ۱۴۰۴: ۷م)

موضوعي کتلاک د یوه کتاب او یا کتابتون د توکو په اړه بحث کوي، موخه یې دا ده څو ټول هغه مواد چې په یوې ځانګړې موضوع پورې اړه لري، د یو ډول کلمې یا عبارت لاندې د کتابتون په ټولګه کې ثبت کړي. موضوعي سرلیک هغه ورته کلمې یا عبارتونه دي چې د کتابتوني کتلاک د روښانه کولو لپاره کارول کېږي. د غیر تصویب شویو مترادفونو کراس

ریفرنسونو سره د موضوعي کتلاک کولو د ببیلوگرافیک کنټرول اساس دی. د دوو دلایلو په سبب موضوعي کتلاک کول پېچلي دي، یو دا چې نړی او زیاتره شیان پېچلي دي، دویم دا چې انگلیسي ژبه ډېره ځانگړې ده. د ښو موضوعي سرلیکونو دوې غوښتنې دي: یو دا چې باید له عامه کارونې سره سمون ولري او بله دا چې دا باید واضح او نا مبهم وي. یوازینی ستونزه دا ده چې عامه کارونه هر وخت ځرگند او نا مهمه نه وه، په انگلیسي کې ډېرې کلمې دوه یا درې معناگانې لري. سي مویر ټین د موضوع د سرلیکونو اړوندو لیکنو کې درې بنسټیز موضوعات په گوته کړي دي. دا ادعا چې موضوعي سرلیکونه باید د یوې ځانگړنې ببیلوگرافیکې دندې ځانگړې اړتیاوې پوره کړي.

ددې اصل ملاتړ چې موضوعي سرلیکونه باید تر ممکنه حده ځانگړي وي. دا استدلال چې موضوعي کتلاکونه د موضوعي سرلیکونو لېستونه او موضوعي نومښودونه باید د ټولو خلکو د اړتیاوو د پوره کولو هڅه ونه کړي. ټین زیاتوي چې ددې موضوعاتو تر څنگ پاتې لیکنې په تفصیل سره بحث کوي، لکه دا چې سرلیکونه باید په مفرد یا جمعه بڼه، په ځانگړي ډول مستقیم یا غیرمستقیم وي او څنگه په موضوعي سرلیکونو کې تېروتنې شوي. (چودري، ۱۴۰۴: ۱۶۷مخ)

البته په نړی کې د هر کتاب تلپاتې والی او علمي موقف د هغه کتاب د اړوندې موضوع پر بنسټ تثبتېږي. گڼ داسې کتابونه شته چې د خپلو موضوعاتو له مخې یې د کتابتونونو په اوچتو ډلبندیو او الماریو کې د غوره پلورل شویو او کتل شویو اثارو ځای خپل کړی او حتی په تکراري ډول د جایزو او ستاینو وړ گرځېدلي دي. (رحماني، ۱۴۰۴: ۴۷م)

د همدې اهمیت له مخې هم کتابتونونو ته د کتابتون موضوعي ډلبندي مهمه ښکاري، ځکه چې لوستونکی د لیکوال له نوم او د خپرندوی له اعتبار وړاندې د خپلې خوښې او اړتیا په موضوع پسې گرځي. هایکین د موضوعي کتلاک د موخو په اړه وایي: د موضوعي کتلاک کولو هدف دا دی چې د کتابتون له لارې دا وښودل شي چې په ځانگړې موضوع کې کوم کتابونه موجود دي. د کتلاک جوړښت باید داسې وي چې یوازې ځانگړي موضوعات جلا کړي او باید بل هېڅ هدف ونه لري. د موضوعي کتلاک کولو یوه بنسټیزه فرضیه دا ده، څو هغه کتابتونونه چې په ځانگړي موضوعاتو یا ځانگو تمرکز کوي، یا عمومي کتابتونونو په پرتله ځانگړي او دقیق خدمتونه وړاندې کوي، ممکن دې ته اړتیا ولري چې د موضوعي سرلیکونو یو ځانگړی لېست وړاندې کړي او ښایي چې د ډلبندی ځانگړی سیستم هم وغواړي چې د خپلو کاروونکو ځانگړې اړتیاوې پوره کړي. (Works، ۱۹۲۷: ۱۸۱م)

دا خبره هم باید هېره نه کړو چې د موضوعي کتلاک په سرلیکونو کې لا هم د کتابدارانو اتفاق نشته، ځینې یې د لیکوال، ځینې د خپرندوی، ژباړن، موضوع او حتی ابدېتر په نامه

ډلبندي کوي، چې ښايي د کتابتونونو په پاليسي او اصولو ورته پام شوی وي. په دې اړه یوې عمومي هوکړې او همنظرۍ ته اړتیا پېښېږي. پورتنۍ ستونزې ته په پام سره مېرمن بولف په نیویارک کې په خپله ترسره شوې څېړنه کې د ځانګړو کتابتونونو د کتلاک لپاره د موضوعي سرلیکونو په پار لاندې معیارونه وړاندې کوي:

- سرلیک باید د هغو ځانګړو موادو سره بشپړ تړاو ولري چې ورسره مطابقت ښيي.
- سرلیک باید د هغو ځانګړو موادو سره بشپړ تړاو ولري او که اړتیا وي، نو اصطلاحات باید په روښانه توګه توپیر ولري، څو د ګډوډۍ مخنیوی وشي.
- سرلیکونه باید د کاروونکو اړتیاوې او غوره والی په پام کې ونیسي او د کاروونکو په خوښه علمي یا عامه اصطلاحات وکارول شي.
- سرلیکونه باید یو ډول او یو شان وي.
- سرچپه او فرعي سرلیکونه باید تر ممکن حده کم شي.
- هر کراس ریفرنس باید یوه ځانګړې دنده تر سره کړي.
- معیاري فرعي برخې باید یوازې هغه وخت وکارول شي، کله چې ورته اړتیا وي او په منطقي توګه د سرلیکونو د بیا تنظیم کولو لپاره مناسب وي.
- د سرلیکونو لوی بلاکونه باید د کتابتون د اصلي موضوع لپاره د نوم یا نومونو سره پیل نه شي، یعنې هغه سرلیکونه چې د کتابتون اصلي موضوع ته اشاره کوي، باید په داسې ډول تنظیم شي چې لوی بلاکونه یا ټوله برخه یوازې د یوه نوم سره پیل نه کړي، بلکې د موضوع په نورو اړخونو یا جزییاتو باندې هم تمرکز وکړي. (چودري، ۱۴۰۴: ۱۸۳م)

د کتابتون د تنظیم بله لار هم د کتابتون ډلبندي ده، ډلبندي د شیانو په تنظیم کې له موږ سره مرسته کوي او د همدغه شیانو څخه معنا اخیستلی او هم لیدلی شو، هغه لار چې موږ د دواړو ځانګړي یا شخصي شیانو احساس کوو، یا د یوې ډلې نورو غړو سره شریک کېدلی شي چې موږ یې هم برخه یو، لکه ټولنیز، کلتوري، مسلکي او نور مسایل. د کتابتون ننني چاپېریال چې د ډیوي اعشاریوي او د کانګریس کتابتون د ډلبندۍ په وسیله کنټرولېږي، د علومو د تنظیم داسې محدود معیاري کول نسبتاً یوه نوې پدیده ده چې په اسانۍ سره له یاده وتلی شي. پخوانیو وختونو کې د ډلبندي سیسټمونه زیات وو او هغه چې د ثبت بېلګې یې پاتې دي موږ ته د هغه تېرو وخت د علمي، ټولنیزو او کلتوري شالید په اړه پوهه راکوي.

د کتابتون د ډلبندۍ سیستم په اصل کې د کتابتون د موضوعاتو یو منطقي ترتیب او د سمبولونو سیستم دی، چې د کتابتون د موضوعاتو استازیتوب کوي. د کتابتون ډلبندي کولی شي د جلا موضوعاتو تر منځ فاصله د کتابتون په الماریو کې د دغو موضوعاتو د کتابتونو تر منځ واټن وښي. د کتابتون علمي جوړښت په فزیکي شکل بدلېږي، د کتابتون په الماریو کې خپل ځای مشخصول د کتاب موضوع ده، په ځینو مواردو کې د اثر موضوع څرګنده وي، د بېلګې په ډول کتاب چې ډلبندي کېږي، ممکن د فزیک په اړه یو عمومي معرفتي متن وي، ځینې وختونه د موضوع ټاکل کېدای شي ډېر ګران وي، د بېلګې په ډول د ۱۹ مه بېلادي پېړۍ کې په سکاټلیند کې د سیاحت پر وده د ربل پټلۍ اغېزې.( Sayers، ۱۹۵۰: ۲۷)

د مقالې د موضوع بله برخه پر ادبي اثارو او په کتابتون کې د هغو پر ډلبندۍ باندې را څرخېږي، د نړۍ د کتابتونونو په اډانه کې ادبي او فرهنګي اثار مهمه ونډه لري او د ادبي اثارو د شتون په سبب د کتابتونونو د کاروونکو یوه زیاته برخه هم د ادبي اثارو مینه وال دي، په عمومي ډول خو ویلی شو چې ادبي اثار هم د ځایي او نړیوالو کتابتونونو کورنۍ د نورو عمومي اثارو په څېر د ډلبندۍ او کتلاک په وړاندې یادو کړو معیارونو کې راځي، خو ددې لپاره چې اوسنی ادب تر ډېره د تخصص خواته روان دی او حتی د ادبیاتو یو جلا مضمون هم په ځینو ادب پوهنځیو کې د جلا ډیپارټمنټ (څانګې) ځای خپلوي؛ نو اړینه ده چې په کتابتون کې یې ځای ځایګی او دریځ نور هم مشخص شي. د ادبیاتو د پخوانیو وېشنو له مخې د فورم یا جولې له اړخه ټول ادبي اثار په منظوم او منثور باندې وېشل کېږي، په منظومه برخه کې بیا لسګونه بېلابېل شعري ژانرونه شامل دي، خو موږ یې په عمومیاتو کې راولو او یوازې شعري اثار ورته وایو، ځکه چې نه شو کولی چې غزلیزې او د نظمونو ټولګې سره جلا کړو، خو په کتابتون کې د کټه‌ګورۍ او ډلبندۍ له مخې کولی شو چې په یوه کتابتون کې د شاعرانو اثار په لاندې ډلبندۍ سره جلا کړو:

**الف:** د ادبي تاریخ د دورو له مخې شعري ټولګې چې په دې کې باید لاندې کټه‌ګورۍ شاملې وي.

۱.د لرغونې دورې شاعري

۲. د منځنۍ یا کلاسیکې دورې شاعري

۳. د معاصرې دورې شاعري ( دا کټه‌ګوري بیا د خپلو پړاوونو له مخې جلا الماری او کتلاک خپلولی شي)

**ب: د مفکورې له مخې د شاعرانو ډلبندي.**

په دې شاعرۍ کې کولی شو اثار په لاندې ډول ډلبندي کړو:

۱. عرفاني او تصوفي شاعري
۲.اخلاقي، مزاحمتي او ټولنيزه شاعري
۳. روماني او تخيلي شاعري، چې تر ډېره پر مينه او مجازي عشق را څرخېږي.
۴.سياسي او حماسي شاعري

**ج:** په دې کټګورۍ کې د يوې ژبې په شاعرۍ کې د بېلابېلو سبکونو د اغېز له مخې شعري اثار سره بېلولی او ډلبندي کولی شو.

**د: د ژانر له مخې**

لکه مخکې مو چې وويل موږ په پښتو ادب کې د ځانګړو ژانرونو ټولګې ډېرې کمې لرو، خو د نورو هېوادونو په شاعرۍ کې د سپين يا ازاد شعر او نورو مشخصو ژانرونو جلا ټولګې هم موندل کېږي چې د شتون په صورت کې يې کتابتون د ادبياتو برخې جلا کتلاک اخيستلی شي.

**هـ : ليکلې او نا ليکلې شاعري**

په پښتو ادبياتو کې د ادبي اثارو يو وېش هم د شفاهي او غير شفاهي شاعرۍ په بڼه هم شوی دی، چې شاعري هم ورڅخه مستثنی نه ده. د ولسي او عروضي شاعرۍ نوم يې ورکړی دی. په کتابتون کې د ادبي اثارو منظومه برخه له دې وېشه هم ډلبندي کېدلی شي. خو ددې وروستي وېش سره بيا کره کتونکی او ادب څېړونکی استاد نجيب منلی مخالف دی. نوموړی د ادبياتو دنيا اثر په يوه بحث کې وايي: په شلمه پېړۍ کې د پښتو ادبپوهانو ددغه ادب د ډلبندۍ په اړه بېلابېلې ليکنې کړې دي، دوی له لويه سره دغه ادب په ولسي او ديواني ادب يا مکتوب او نا مکتوب ادب وېشلی دی، خو استاد نجيب منلی ددې وېش مخالفت کړی او په تاوان يې بولي، هغه وايي چې د فولکوريکو ژانرونو او کتابي ژانرونو ډلبندي د ټولنې واقعيت نه څرګندوي، پښتو ادب يو څو ژانرونه لري، دا ژنرونه ولسي دي او که کتابي دي، د پښتو ادب ژانرونه دي، ټول يو حيثيت لري، تر منځ يې تکفيک کومه عملي جنبه نه لري، د دوی تر منځ تفکيک کول په يوه ډول ددغه دوو اصنافو پې ارزښته کول ښکاري. (غضنفر، منلی، ۱۳۹۹: ٦٥م)

**و: ژباړلې شاعري**

په پښتو ادب کې د شعر انفرادي ژباړې زياتې شوې دي، خو په کتابي بڼه چې د يوې بلې ژبې يا د نورو ژبو د ژباړل شويو شعرونو مستقله ټولګه دې خپره شي، موارد يې کم دي، په دې برخه کې د عبدالباري جهاني د خيام رباعياتو پښتو مستقله ژباړه او همداسې غربي ګلونه شرقي لمنې شعري بحثونه يادولی شو، خو ضرور ده چې د کتابتون د ادبي اثارو

کتلاک کې ورته پام وشي. په پورتنیو ټولو ډلبندیو کې د یوه شاعر د جلا ټولګو کټه‌ګوري هم رعایت کېدلی شي.

**ز: مناسبتي شاعري**

په دې وروستیو کې مور، هېواد، ښوونکي، طبیعي مناظرو او مشاهیرو ته د ځانګړو شعري ټولګو سره مخ شوی یم، حتی د افغانستان د معاصر تاریخ منظومه بڼه هم چاپ شوې ده. کېدای شي چې د مناسبتي شاعرۍ په نوم د کتابتون د ډلبندۍ یوه برخه کې ورته پاملرنه وشي.

په ژبو او ادبیاتو پوهنځیو کې یوه برخه مضامین د ژبې او بله هم د ادبیاتو اړوندېږي. د کتابتون په کتلاک یا کټه‌ګورۍ کې ممکن دا تر ټولو ستره وېشنه وي چې د ژبې او ژبپوهنې مضامین له خپلو ټولو ګرامري څانګو سره جلا ډلبندي شي او د ادبیاتو یا ادبپوهنې هم جلا کتلاک ولري.

ادب څېړونکي په عمومي ادبپوهنیز اثار په شپږو برخو وېشي چې درې یې اصلي او درې هم فرعي یا مرستیال او مرستندوی دي، خو مرستندویه څانګې یې په ځینو څېړنو کې زیاتې هم ښودل شوې دي. د ادب پوهنې د څانګو په اړه دوکتور محمد رفیق رفیق لیکي: په ادب پوهنه کې په ټولیزه توګه د ادبیاتو په هکله څېړنې او ګروېږنې تر سره کېږي، چې ورته ادبپوهنه ویل کېږي. په دې برخه کې مور ددې پوهنې په اساساتو یا بنسټونو بحث کوو. د ادب پوهنې عمده او اصلي څانګې په لاندې ډول وېشل کېږي چې اصلي یې عبارت دي له ادب تاریخ، ادب تیوري، ادبي کره کتنه او په مرستیالو یا فرعي څانګو کې یې شفاهي ادبیات، کتابښودنه، متن پېژندنه او ادب تاریخ لیکنه. (رفیق، ۱۳۹۵: ۲۵م)

د پورتني وېش له مخې په کتابتوني کتلاک کې د ادبي اثارو ډلبندي په لاندې ډول کولی شو:

الف: ادب تاریخ اثار

ب: ادبي تیوري اثار

ج: ادبي کره کتنه اثار

د پورتنیو درېو واړو څانګو په ځانګړي ډول د کره کتنې په برخه کې بیا هم د جلا ژانرونو کره کتنې، د کره کتنې د نړیوالو مکتبونو یا خپله د کره کتنې د څانګو په تړاو جلا کوډونه هم د کتلاک برخې جوړولی شي.

د: متن پوهنه اثار

هـ : ادبي تذکرې

و: کتابښود اثار

**ز: لغتپوهنه او ادبي څېړنې**

د فرعي څانگو په توگه د پورتنیو برخو اثار هم د موضوع او زمان د تنوع له مخې د کتابتون کتلاک کې جلا برخې غواړي، خو هغه مهال چې په یوه ژبه او بیا کتابتون کې ددې برخو د جلا او محدودو لارښودو اثارو تر څنگ نور څېړنیز او پراخه اثار هم وجود وي. ددې تر څنگ په ټولو څانگو کې د خپلې ژبې اثار او اړونده برخه کې ورته د نورو ژبو را ژباړلي شوي اثار هم په جلا ډول ډلبندي کېږي.  د ادبي اثارو د غیر تدریسي کتابونو یعنې د ازادې مطالعې برخه په جلا ډول د ډلبندۍ وړ ده، مثلا د داستاني یا تخیلي ادبیاتو (کیسه پوهنې) جلا کتلاک کولی شي چې د داستاني ادبیاتو لوستونکی له تخیلي – داستاني اثارو لکه لنډه کیسه، ناول او رومانونو سره وصل کړي، ځکه چې دا ډول اثار د خپل رواني کیفیت او له ژوند سره مستقیمه اړیکه لري او د نورې مطالعې لپاره غوره محرک یا هڅونکي بلل کېږي.

هېره دې نه وي چې د کتابتوني مدیریت په اوسنۍ بڼه کې د بېلابېلو علومو د جلا الماریو او کوډېنگ سیستم هم مروج دی چې له نړیوال ستنډرډ سره د کتاب مینه وال د خپلې مطالعې اړوند اثار په الماریو کې په اسانۍ موندلی شي. همداسې د انلاین کتابتونونو او ډیجیټل سیستم له لارې د انټرنېټ په مرسته هم کتاب تر لاسه کېږي چې بیا هم د لیکوال، ژباړن، خپرندوی او موضوعي ډلبندۍ په مرسته کتاب د انټرنټي سرچ (لټون) له لارې تر لاسه کېږي او حتی د یوه کتاب مشخصو برخو ته هم لاس رسی ممکنوي.

**پایله**

په نړۍ کې د چاپ صنعت له پراختیا او بیا د کتابتونونو له عامېدو سره ددې اړتیا هم ډېرېږي چې کتابتونونه باید خپل مراجعین یا لوستونکی له ځان سره وساتي او د زرگونو یا لکونو کتابونو په منځ کې د هغه کتاب د موندلو لپاره ورته د موندنې چارې اسانه کړي چې ورپسې سرگردانه دی. له بل اړخه کتابونه لومړی د لیکوال او بیا د کتابتون معنوي پانگه ده، د خوندیتوب لپاره یې باید کتابتونونه منظمې الماری او د ساتنې معیاري اصول ولري چې کتلاک او ډلبندي یې غوره لاره ده. ددې لپاره چې کتابونه په الماریو کې په سم ډول ترتیب او وساتل شي، باید دا په پام کې ولرو چې د دوی ترتیب د لیکوال یا عنوان په ځای پر موضوع پورې اړه لري او همدا رنگه کتابونه باید په یوه ډول نښه شي او نښه باید د موضوع پېژندنه وکړي. په ځینو مواردو کې به دا ممکنه وي چې د په نخښه کولو کار په ساده ډول د مضمون په نوم یعنې په فزیک ونومول شي، خو په ډېرو مواردو کې بیا دا کار ممکن نه دی، که د موضوع نومونه د الماریٖ د ترتیب د رامنځته کولو لپاره وکارول شي، په دې حالت کې به منطقي ترتیب د الفبا مطابق وي، نو فزیک به د میخانیکي انجینري، طب او مایکرو

بیولوژي په وسیله له اړوندو موضوعاتو لکه ریاضاتو څخه جلا شي، د کتابتون په الماریو کې د موادو د ګټور ترتیب لپاره باید د کتابتون موضوعات د یو کوډ یا نخښو په سیستم سره وپېژندل شي. دا چې کتاب لیکنه او ساتنه خپله یوه فرهنګي او د ادبیاتو سره تړلې موضوع ده، کولی شو چې ادبي اثار د کتابتونونو د غوره اثارو په توګه د موضوعي ډلبندۍ له مخې په کتابتون کې کتلاک کړو، څو له نورو اثارو څخه په دې تفاوت چې مطالعې او کتابتون ته هڅونکي دي، منظم او داسې وساتل شي چې د موندنې او لاس رسي تر ټولو ساده لار ولري.

## مأخذونه


۱. اېس، کا. چودري. (۱۴۰۴ل)، کتابتون کتلاک کول، د مائیل نعیمي ژباړه، د لوړو زده کړو وزارت: کابل.

۲. بېټلي، سو. (۱۴۰۴ل)، نظري او عملي ډلبندي، د عمادالدین شهاب ژباړه، لوړو زده کړو وزارت او لغمان پوهنتون.

۳. غضنفر، اسدالله او منلی، نجیب. (۱۳۹۹ل)، د ادبیاتو دنیا، ارګ فرهنګي مشاوریت، کابل.

٤. رحماني، ګل رحمن. (۱۴۰۴لمریز)، اکسون مجله، لومړۍ ګڼه، (کتاب ته ځانګړې ګڼه)، د کتاب نړیوالې جایزې، اکسوس کتابپلورنځی: کابل.

۵. رفیق، محمد رفیق. (۱۳۹۷ل)، د ادبپوهنې بنسټونه، سمون خپرندویه ټولنه: کابل.

٦. Black, I T.: Approach to a theory of subject headings. College and research libraries, ٧: ٢٤٤-٢٤٨+, July ١٩٤٦.

٧. Works, G.A.: College and university library problems. Chicago, American library association, ١٩٢٧, p.١١٤.

٨. Sayers, W.C.B.: An introduction to library classification. ١٨th ed.London Grafton and Co., ١٩٥٠.